


Download more from Libtoon.com
Download more from Libtoon.com

بسم الله الرحمن الرحیم

JALAL
جلال بنسټ

**د کتاب ځانګړنې:**


د کتاب نوم: **۱۵ دقیقې**

لیکوال: **خالد ځدراڼ**

ډیزاین: **عبدالحکیم حکمت**

پښتې ډیزاین: **جاوید اشنا**

خپرندوی: **جلال بنسټ**

شمېر: **۲۰۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ کال: **۱۴۰۴-۲۰۲۵**

بیه: **۳۰۰ افغانۍ**



**د دې کتاب د چاپ، پر ویبپاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.**



Download more from Libtoon.com

# لړلیک

سریزه ........................................ ۹
ماشومتوب تر الوتکو لاندې .......................... ۱۷
نوي څرکونه ........................................ ۱۹
مېلمه او امریکايي ټانکونه ............................ ۲۳
امریکایانو ته تمه ................................... ۲۸
تجاران ............................................ ۳۱
شهید لوبغاړی ....................................... ۳۶
ډینجر ځدراڼ ....................................... ۳۹
دروغجن عیني شاهدان ................................. ۴۲
د جهاد پیل ......................................... ۴۴
د دوو خویندو مېړه؛ .................................. ۵۰
نوې نړۍ ........................................... ۵۶
سترې چریکیان ..................................... ۵۹
د وزیرستان شپه ..................................... ۶۳
څلور سوه کلدارې ................................... ۷۱

Download more from Libtoon.com

ټلیفون په صندوق کې ........................ ۷۶
خیانت ........................ ۷۹
په تیارو کې پټ لټون ........................ ۸۷
زه پر خدای باور لرم! ........................ ۹۰
د لټون اوونی ........................ ۹۳
د ډانګ کره د برګډال د شتون اوازه ........................ ۹۶
د ډانګ پر کور د پاکستاني پوځیانو چاپه ........................ ۹۹
په یوه ورځ کې د ټول شوال تصفیه ........................ ۱۰۱
ډزې نه کرارېدې ........................ ۱۰۳
له مرمیو خالي ججورې ........................ ۱۰۷
د برګډال پر مخ زما کلکه څپېړه ........................ ۱۱۰
برګډال چېرې پټ و؟ ........................ ۱۱۳
د برګډال معشوقه ........................ ۱۱۶
په قفس کې ........................ ۱۲۲
د سرو زرو چرګ ........................ ۱۲۷
۱۵ دقیقې ........................ ۱۴۶
د مومن خان ښامار ........................ ۱۵۲
کور ته د برګډال انتقال ........................ ۱۵۵
د خنګله په منځ کې د ابو سراقه بې‌پامي ........................ ۱۵۸
د «ابا» دویم واده ........................ ۱۶۵
د نیمې شپې هواخوري ........................ ۱۶۸
احتجاج ........................ ۱۷۰

Download more from Libtoon.com

غبرګ ...................................................................... ۱۷۲
ډار ...................................................................... ۱۷۳
د خطر یوه ورځ ...................................................................... ۱۷۵
بېرته کور ته زما تګ ...................................................................... ۱۷۹
په خوست کې زموږ پټ چریکي عملیات ...................................................................... ۱۸۵
له وطنه هجرت ...................................................................... ۲۰۳
په وزیرستان کې زما نوی ژوند ...................................................................... ۲۱۳
زنګنه دروازه ...................................................................... ۲۱۸
وزیرستان؛ ...................................................................... ۲۲۵
د مرګونو ګرم بازار ...................................................................... ۲۲۵
په پاکستان کې مې مه وژنئ ...................................................................... ۲۳۵
سور لسګون ...................................................................... ۲۴٦
د یوه شاعر د مور نارې ...................................................................... ۲۴۹
د چاړې څوکه ...................................................................... ۲۵۲
وېرېږم چې غله به شئ! ...................................................................... ۲٦۰
یو بل مسیر ...................................................................... ۲٦۲
سړی شهید شو ...................................................................... ۲۸۳
له کابله خوست ته ...................................................................... ۲۹٦
په کور کې ...................................................................... ۲۹۸
د ډاکټر نصیرالدین شهادت ...................................................................... ۳۰۳
د بلال قیادت ...................................................................... ۳۱۱
د افغانستان د بې‌ثباتۍ دوه ستر لاملونه ...................................................................... ۳۱۵

Download more from Libtoon.com

جنګ ته تیاری ............................................ ۳۱۹
د اور او وینو افق ............................................ ۳۲۲
د زېړوک پر کمپاین تعرضي برید ............................................ ۳۲۷
د نیول شویو عسکرو برخلیک ............................................ ۳۴۵
انتقام ............................................ ۳۴۸
د لالا امریکانی ............................................ ۳۵۲
د برګډال تبادله ............................................ ۳۵٦
پنځه مجاهدین ............................................ ۳٦۴
مخ په ختمېدو رخصتي ............................................ ۳٦٦
ضرب عضب عملیات ............................................ ۳۷۵
جوشېدلې وینې ............................................ ۳۸۲
ګنډلي وښتان ............................................ ۳۹۰
پر جومات زما لګېدلې مرمی ............................................ ۳۹۴
بې اوبو بیرغ ............................................ ۳۹۸
درې کسان ............................................ ۴۰۰
زلزلې ............................................ ۴۰٦
رمه ............................................ ۴۱۱
د پنجاب زامن ............................................ ۴۱۷
ژړانده مور او بوډا شوی پلار ............................................ ۴۳۲
ښاري رڼاوې او د څنو زولنې ............................................ ۴۴۲
یخ مزل ............................................ ۴۴٦
وانه ............................................ ۴۵۳

Download more from Libtoon.com

بوړنوونکی غبر........................۴۶۳
کاشکې مې آمین نه ویلای ....................۴۷۳
بندېدونکې خلاصېدونکې لارې ..................۴۷۷
مالگین شیرچای.......................۴۸۱
د خیر غونډۍ ......................۴۸۴
د لوړې اتڼ.......................۴۹۱
د اوسپنې خلک.......................۴۹۳
په جنتي وانه کې دوزخي ژوند...................۵۰۰
د ارادې بدلون.......................۵۰۳
پر چارباران برید ......................۵۰۷
د سپینه پر قرارگاه تعرضي برید ..................۵۰۹
نهیلې پرېکړه.......................۵۱۹
اوښلنه موسکا.......................۵۲۴
د تیارو لارې.......................۵۲۶
زه یوازې شهید کېږم ....................۵۳۴
له دښتو تر ښارونو......................۵۵۲
د جوماتونو وطن ......................۵۶۰
په پرې کړې سر پسې روان خلک ..................۵۶۳
مطبوعاتي مبارزه .....................۵۷۱
د انس حقاني غوسه.....................۵۷۷
وروستۍ ورځې ......................۵۷۹
د خوني کمپ فتح......................۵۸۲

Download more from Libtoon.com

له امریکایي اشغاله د افغانستان ازادي ......................................۵۹۲
د غرمې ډوډۍ له منظور پښتین سره ......................................۵۹۵
افغانستان ته زما تګ ......................................۶۰۳

Download more from Libtoon.com

# سریزه

چا چې جګړه کړې وي په دې پوهېږي چې اسانه نه ده. هغه مهال لا سخته شي چې دښمن دې د وسلو، تجهیزاتو، وسایلو او امکاناتو په لحاظ تر تا غښتلی وي. موږ په همداسې یوه جنګ کې راګیر وو چې دښمن مو د اسبابو په لحاظ دومره قوي و چې په هیڅ وجهه پرتله کېدای نه شو. که څه هم زموږ خاوره اشغال شوې وه، موږ د خپل دین او ازادۍ لپاره جنګېدو، اخلاقي موقف باید زموږ زورور وای، خو مقابل لوري سره د دنیا تر ټولو غټې رسنۍ، بنسټونه او د پروپاګند وسایل وو چې په عامه ذهنیت کې یې برعکس موږ بد معرفي کولو. تر ټولو سخته لا دا وه چې اشغالګرو زموږ له منځه، له خپلو خلکو راته د ۳۵۰ زرو کسانو لښکر جوړ کړی و، داسې چې په یوه کلي کې به یو څوک د ازادۍ لپاره جنګېده او بل کس به په مقابل لښکر کې ولاړ و.

موږ ته یوازې دین راپاتې و او هغه علماء او اشخاص چې زموږ دې سختې مبارزې ته یې جهاد وایه[1] او په دې کې راسره موافق وو. دا سخته مبارزه چې

---

۱. دلته منظور دا نه دی چې مقابل لوری مو ټول بې دینه و؛ په کور دننه مو مقابل کې داسې خلک هم ولاړ وو چې د روسانو په مقابل کې جنګېدلي وو (پخواني مجاهدین وو)، مګر اوس د اشغالګرو تر څنګ ولاړ وو او په دې کې علماء هم ورسره وو، د کابل حکومت د علماو غټه شورا لرله چې البته د امریکې او ناټو نظامي حضور د دوی موقف کمزوری کاوه او دا یې نه شو توجیه کولای.

Download more from Libtoon.com

هر ساعت او دقیقه یې له مرګونو سره مله وه، همدې ایمان او باور راته اسانه کوله چې الله جل جلاله له موږ سره دی، موږ مجاهدین یو، برحقه یو او چې دلته مو سترګې پټې شي، په جنت کې رڼېږي.
زموږ په کچه له مجاهدینو سره د تاریخ د قضاوت غم ځکه نه و چې یو خو د جګړې په لیکو کې چې د جنګیالیو سطحې خلک وي، ځوک په دې مفهوم نه پوهېده او که استثناءً چا درک درلود، نو دا به هم ورته واضح وه چې تاریخ یوازې غټ خلک په خپله حافظه کې ساتي، په هغوی قضاوت کوي، په موږ یې نه کوي. بیا تاریخ داسې عادل قاضي هم نه دی، هر چا چې وګټله، حکم هم د هغه په نفع صادروي، مګر هو! باور مو دا و چې موږ د چا په کور او کلي نه یو ورغلي، په چا مو تېری نه دی کړی، په خپل کلي کې، په خپلو کوځو کې، د خپلو دیني او وطني ارزښتونو په ننګه ولاړ یو، دې حس راته یو اطمینان او د اخلاقي موقف د لرلو ډاډ راکاوه.
ما په تېر شل کلن جهاد کې (له کومې نېټې چې له اسلامي امارت سره یو ځای شوی یم) د یوه ادنی مجاهد په توګه وخت تېر کړی دی. مانا دا چې د جنګ په لومړۍ کرښه کې وم. په تعرضي حالاتو کې معمولاً زموږ د جنګي تاکتیک له مخې درې ساحې وې چې یو مجاهد به پکې سهم اخیست: یوه دفاعي ډله وه چې معمولاً به یې ځان هدف ته د ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ مترو ځان نږدې ور رساوه او ډزې به یې پیلولې، دویمه ډله به تعرضي وه چې هغه به تر دفاعي مخکې ځان هدف ته ډېر نږدې رسولی و، همدا چې به دفاعي ګروپ ډزې پیل کړې او دښمن به له هغو سره ونښت، تعرضي ډله به لنډه ور پورته کېده او دښمن به یې غافلګیره کاوه. درېیم کار چې اکثر ډلې نه کاوه، دوه یا درې کسانو به مسؤلیت واخیست، هغه د قتال له میدانه د شهیدانو او ټپیانو ایستل وو. په وروستیو کې چې

Download more from Libtoon.com

زموږ امکانات نسبتاً ډېر شول، څلورم جنګي اقدام به هم کله په کې شامل و چې نیمه ثقیله وسله به (اراضي ته په کتو، کله په لنډه او کله لږه لرې) په یو کیلومتر ساحه کې ځای پر ځای شوه او مقابل لوری به يې تر اور لاندې نیوه. ما د جهاد په کلونو کې لومړی په دفاعي، وروسته په تعرضي او په اخېر کې دریم نقش تر سره کاوه[۲]، ځکه خو د جګړې د واقعي شدت او سختۍ تر ټولو ښه عیني شاهد پاتې شوی یم.

د بشر تاریخ له جګړو ډک دی؛ نو د جګړې روایات او کیسې هم کمې نه دي، خو اکثر لیکل شوي آثار د هغو دي چې مهم کسان پاتې شوي دي.

د جنګ روایات د قوماندانانو، جنرالانو او نورو لوړ پوړو مقاماتو له خولې را نقل شوي چې هغوی معمولاً د جګړې لومړی کرښې ته نه ځي. که کیسې او ناولونه هم لیکل شوي دي، مرکزي کرکټرونه يې اکثر «نوموړکي سپاهیان» نه دي، بلکې د جګړو مشران دي. زه داسې فکر کوم چې له دې مظلومې او د فشار په نقطه کې له واقع طبقې تاریخي هویت هم تروړل شوی دی او وروسته وروسته نسلونو هم د دوی په اړه قضاوت د انسانانو په توګه نه، بلکې د اعدادو په توګه کړی دی. د ډېرو مطالعو څېړنتانو په ګڼو کتابونو، کیسو او ناولونو کې د جنګ د لومړی کرښې د انسان احساسات نه دي لوستي او له هغې سختۍ سره په خیال کې هم نه دي مواجه شوي چې د خدای دغه مخلوقات يې په رګ رګ حس کوي.

په طبیعي ډول هم هغوی چې د جګړې لومړی لیکې ته ځي، د خپل احساس او فکر د بیانولو وس نه لري یا هغوی چې دا هنر لري، د دښمن د ټوپک خولې ته

---

۲. تر دې دوو فعالیتونو سربېره نښه ویشتونکی هم پاتې شوی یم، خو دا فعالیت معمولاً په انفرادي ډول یا د ګوتو په شمېر کسانو کاوه چې د ښکار ښه يې لرله او د جګړې د میدان په شان شدت یا خطر يې نه درلود.

Download more from Libtoon.com

تـر ټولـو لنـډې فاصلې ته نه ورځـي او که بیا څوك ور هم شـي، ډېر بخـت او اقبال بایـد ولـري چـې بېرتـه ژوندی راسـتون شـي. ښـایي یـو لامل یـې همدا هـم وي چې د «نوموړکـو سـپاهیانو» یـا د سـرتېرو روایـات د ملتونـو پـه تاریـخ او ادبیاتو کـې لږ تر سـترگو کېږي. زه یو له همداسـې سـپاهیانو څخه یـم چې خپل حواس مـې د معرکې پـه تـر ټولو سـره ځمکـه گرځولـي دي او پـه دې کتاب کې مې تاسـې تـه رانقل کړي دي. زمـا د یـوه ملگـري خبـره: «ښـایي تقدیـر د همدې لپـاره ژوندی سـاتلی یې چې دا یادښـتونه دې د تاریـخ تر حافظې ورسـوې».

کوښـښ مـې کـړی هـر څـه پـه نهایـت امانتـدارۍ انتقـال کـړم، د همـدې لپـاره خـو مـې ځینـې هغـه واقعیتونـه هـم راوړي دي چـې اوس پـرې خوشـاله نـه یـم او مسـؤلیت راتـه راجـع کېـږي. جگـړه کـه هـر څومـره مقدسـه هـم شـي، خپـل طبیعـت لـري، بیـا یـې چـې تناسـب د جنـگ د یـوه لـوري پـه نفـع رنـگ وي، جنگـي جنایـات او اشـتباهات پکـې ډېـر کېـږي، ځکـه چـې یـو لـوری یـې لـه بې‌پروایـي او ډېـره زوره تـر سـره کـوي او بـل لـوری یـې د کمـزورۍ او بې‌وسـۍ لـه املـه د اشـتباهاتو او سـرغړونو مرتکـب شـي.

کـه څـه هـم د اسـلامي امـارت پالیسـۍ او مشـرانو همېـش تاکیـد کـړی دی چـې د جهـاد سـپېڅلتیا، د اسـلام سـپېڅلي دیـن احـکام او پـر جگـړې حاکـم قواعـد رعایـت کـړو، خـو کلـه بـه پـه عملـي میـدان کـې داسـې سـرغړونې راځخـه کېـدې چـې لـه هغـو اوامـرو او اصولـو سـره بـه یـې مطابقـت نـه درلـود. لـه دې املـه د درنـو لوسـتونکو پـام دې تکـي تـه راگرځـوم چـې کـه داسـې مـوارد لولـي، مسـؤلیت یـې زمـوږ دی او ځـای یـې دی چـې دلتـه لـه خپلـو هغـو جهـادي مشـرانو ښـنه وغـواړم چـې کـه مـې کلـه خپـل مـزاج تطبیـق کـړی وي او اصـول او د دوی اوامـر مـې لـه پامـه غورځولـي وي.

Download more from Libtoon.com

ما چې دې تـه ورتـه د خاطراتـو کتابونـه لوسـتي پـه ډېـرو کـې مـې د کتابونـو لیکوال د خپـل داسـتان قهرمانـان موندلـي او دې کار یـې خونـد نـه دی راکـړی؛ نـو ځکـه مـې پـه دې روایـت کـې هڅـه کـړې چـې د دې کیسـې مرکـزي کرکټـر او اتـل خپلـه ونـه اوسـم، خـو کـه بیـا هـم پـه ناپامـۍ کـې داسـې شـوي وي، بایـد ووایـم چـې سـنګر د ټولـو لپـاره سـخت ځـای و، نـه پـه هغـه محیـط کـې چـې زه وم او نـه لـه هغـه دباندې تـر ټولـو سـخت بـار زمـا پـر اوږو و، مـا د دې روایـت مرکـزي اتـل مـه ګڼـئ.

کـه رښـتیا ووایـم، نـه پوهېـږم چـې دا واقعیتونـه بـه تاسـې تـه څومـره جالـب وي، ځکـه چـې دا مهـال شـاوخوا ۸ میلیـارده ژونـدي انسـانان دي، مانـا ۸ میلیارده کیسـې روانـې دي، د هـر چـا خپـل غـم، خپلـې سـختۍ او خپـل خاطـرات دي. هـر څوک غـواړي د ژونـد کیسـه یـې ډېـر اورېدونکـي او لوسـتونکي ولـري، خـو نـه پوهېـږم زه ولـې داسـې احسـاس لـرم لکـه پـر مـا چـې د تاریـخ پـور وي، زه بایـد دا کیسـې تاریـخ تـه وکـړم، خلکـو تـه یـې ووایـم چـې مـوږ پـه هغـه نامتناسـبه جګـړه او زموږ پـه تعریـف «سـپېڅلي جهـاد» کـې یـا پـر هغـه سـره تېـۍ څـه تېرېـدل.

د دې روایـت د نقلولـو یـوه انګېـزه دا هـم ده چـې مـوږ تـر دې دمخـه انګرېزانـو سـره درې جګـړې وکـړې؛ د اول جنـګ د ازادۍ لـه اتلانـو محـدود کسـان پېژنـو چـې هغـوی هـم راتـه څـه پـه لیکلـي ډول نـه دي پرېښـي. لـه دویمـې جګـړې هـم د ملالـۍ ټپـه راپاتـې ده، خـو نـور یـې حتـی قبـر هـم سـم مشـخص نـه دی او د دریـم جنـګ تاریـخ چـې ډېـر رالنـډ دی، زیـات د نـورو لـه خـوا روایـت شـوی دی. د روسـانو پـه مقابـل کـې جهـاد هـم همداسـې در واخلـئ، کـه کـوم جهـادي مشـر یـا محـدودو کسـانو څـه ویلـي یـا لیکلـي وي، هغـه دي، نـور څـه راتـه پـه میـراث پاتـې نـه دي. دا ضـرورت مـا د جهـاد پـه سـنګر کـې احسـاس کـړ. زه دومره

Download more from Libtoon.com

پوهېدم چې وزیر محمد اکبر خان، عبدالله خان اڅکزی، میر مسجدي خان، امین الله خان لوګری او نور غازیان د انګریزانو په مقابل کې ودرېدل، خو په جزئیاتو کې یې د جنګ تجربې راته را انتقال شوې نه دي. مورږ ته د ملا مشک عالم، غازي محمد جان خان وردګ او ایوب خان کیسې نورو کړې دي، دوی خپله راته څه نه دي ویلي. حتی د دوی ډېره معرفي د ویلیام دالریمپل[۳] په شان اروپايي لیکوالو کړې چې د انګریزانو په مقابل کې یې زمورږ د دې مشرانو د مخالفت انګېزې ډېرې ټیټې تعریف کړې دي. یعنې، که دې خپل تاریخ خپله و نه لیکه، نور به دې تاریخ ولیکي، البته درپسې و به یې لیکي. د دې تمه خو لا سخته ده چې له انګریزانو سره د جګړو جزئیات یا له روسانو سره د ویاړمنې مقابلې د سنګر کیسې دې نومورکو سپاهیانو (عادي مجاهدینو) لیکلې وي، خو دا ځل د دې هیله شته چې مشران د ناټو او امریکا په مقابل کې د دې سختې مبارزې خاطرې ولیکي. په کشرانو کې هم ډېر باسواده او مستعد مجاهدین شته چې تمه کېږي خپل خاطرات د تاریخ برخه کړي. هغه مجاهدین چې د لیکلو وس نه لري، ښه ده د شفاهي تاریخ په بڼه خپل خاطرات له نورو مستعدو لیکوالو سره شریک کړي چې خوندي شي، ځکه د ژوندیو او راتلونکو نسلونو حق دی چې مورږ د خپلې مبارزې تاریخ ورته بیان او ور انتقال کړو.

په پای کې دا توري شهید مولوي سنګین فاتح ته ډالۍ کوم چې ما ته یې زما له وجوده دنګ ارمانونه راوپېژندل، داسې چې د هغو لپاره مې د سر او مال قرباني راته خورا اسانه شوه او ژوند مې ځانګړې مانا ومونده.

یو وار بیا هم باید یاده کړم چې که په دې کتاب کې کومه پېښه د اخلاقي

۳. William Dalrymple سکاټلندی (انګریز) لیکوال دی چې د افغانستان په اړه یې د Return of a king کتاب لیکلی دی.

Download more from Libtoon.com

جرأت د لرلو په تمه بیانېږي، د یوه ادني جنګیالي اعتراف یې وګڼئ، داسې نه ده چې ګواکې زما د اشتباه تر شا د اسلامي امارت د لایحې ملاتړ موجود و. که له فرده ور پورته کوم تاریخي قضاوت کېږي، هغه بیا د راتلونکي نسل په انصاف پورې اړه لري چې زموږ شرایط او د جبر و اختیار دایرې څومره سره بېلولای شي. د اشتباهاتو یوه بله لویه وجه دا هم وه چې د جنګ په جریان کې د احتیاط، قانون او اخلاقي توصیو کلمې د بشپړ تطبیق وړ نه شوای ګرځېدای.

ژوند یو روان سین دی، هره شېبه یې څپې اوړي را اوړي، دغه یادښتونه ما په سختو او بېړنیو حالتونو کې نیولي دي، هغسې حالات چې د سر ساتل هم پکې سخت وي، اوس د تاریخ یوه بله پاڼه را اوښتې ده. دا کتاب چې په کوم ځای کې پای ته رسېږي، له هغه وروسته د نویو یادښتونو د جریان تفصیل راځي او په خپل وخت به یې درسره شریکوم.

له جلال بنسټ څخه مننه کوم چې زما د کتاب د ژبې په سمون، چاپ او نشر کې یې مرسته راسره وکړه.

درنښت

خالد ځدراڼ

Download more from Libtoon.com

ooo

ټانګونه په پوره سپیلۍ زموږ پر خوا را روان شول، موږ منډه نوره هم تېزه کړه، خو د حوصلې په وروستي حد کې وو، نږدې وه چې ولوېږو. شا ته مې بار بار کتل، ټانګونه وار په وار غځېدل، بالاخره زموږ تر شا مجاهد ملګري ته را ورسېدل، ما یو نیم وار شا ته ور کتل او منډه مې هم وهله چې زغره وال امریکایي ټانګ خپل غټ ټایر مجاهد ته برابر کړ او پرې وخوت، د مجاهد چیغه وختله چې لا مې هم په غوږونو کې پاتې ده، نه پوهېږم چې څه یې وویل، خو ډېره سخته چیغه یې وکړه او شهید شو.
د مجاهد پر جسد یې بریک ونیو، د خونخوار ټانګ بانتې داسې پرې خوځېده لکه قهرجن او کینه کښ اوښ چې یو څوک تر تنې لاندې کړی وي.
موږ په دې منډو کې د یوه لوی پاڼ غاړې ته ورسېدو، پر ځای د دې چې لار وګورو، ما او خالقیار دواړو لاندې پاڼ ته ور توپ کړل، کښته په خاورو کې ورغړېدلو، پورې مخامخ توت او د شنو اوبو ویاله وه، هغې ته مو منډه کړه، توت ته رسېدلو چې ټانګونو د پاڼ پر سر خپلې پزې را ښکاره کړې او خپل لېټونه یې دوه ځلې را ولګول...

Download more from Libtoon.com

## ماشومتوب تر الوتکو لاندې

د پنځو شپږو کلونو وم، کله مو تازه له شمالي وزیرستانه خوست ته راغله. مور هم د هغو مهاجرانو له ډلې وو چې د روسي یرغل په وخت کې کډوال شوي وو. دا وخت د افغانستان پر غرونو او دښتو د امریکایي تاړاک د تندرونو د را ټیټېدو کلونه وو. فضا به د رنګارنګ بوږنوونکو الوتکو شور نیولې وه، د خونخوارو جنګي الوتکو غږ به داسې وېره خپروله لکه زموږ د برخې اسمان چې را لوېدلی وي.

مور به مې د روسانو کیسې راته کولې، د روس د وخت کیسو په زړه کې د جهاد او انقلاب غوندې کلمې راته را شنې کړې وې، مینه به نه ورته وایم، خو اوس مې هم چې را یادېږي خوند یې راکاوه.

مور به د روسانو کیسې داسې ځای ته هم ورسولې چې د شپې به مې تر ډېره خوب ورسره الوتی و. زه به مجاهد شوی وم، جګړه به وار په وار ګرمېده او زه به هغه اتل وم چې نه ماتېږي.

د ماښام له ډوډۍ وروسته به د کور ماشومان په کوټه کې غلي کېناستو او له مور و پلاره به مو له روسي ځواکونو سره چې دوی به یرغلګر تکی هم ورسره وایه، د مجاهدینو د ګرمو جګړو کیسې په خوند اورېدې، د

Download more from Libtoon.com

همدې کیسو په لړ کې مور یو ماښام د خپل شهید زوی کیسه هم کړې وه. دې ویلي وو:

-زویه! ته کوچنی وې، ستا مشر ورور طاهرشاه له سرو شوروریانو سره جنګ ته ته، یوه ورځ یې ته په غېږ کې ور واخیستې، په ناز یې درته وویل چې لوی شې مجاهد به یې، د ازادۍ لپاره به جنګېږې. بیا به یې په سینه پورې ټینګ ونیوې او د رخصتی پر مهال به یې جیب له وچې مېوې در ډک کړ، پر دواړه مخه به یې ښکل کړې... څو ورځې وروسته طاهرشاه په خوست کې له شوروریانو سره په مخامخ جګړه کې شهید شو، تابوت یې د حجرې په انګړ کې پر پالنګ کېښودل شو، تا یې په پالنګ لوبې کولې او کله به دې پر برېتونو لاسونه ور وهل...

په همدې شپه چې کله مورکی زما د ورور د شهادت کیسه بشپړه کړه، ما بېرته د خیال او فکر نړۍ ته کډه یووړه. د شپې تر ناوخته مې له خپل شهید ورور سره د فکر پر تال یو ځای زانګل. کله به مې د روسي یرغلګرو پر خلاف ګډه جګړه ورسره کوله او کله به نورو فکرونو په مخه کړی وم. شپه پخه او نیمایي ته رسېدلې وه، همداسې د خیال په نړۍ کې ګرځېدم او بیا خوب وړی وم.

Download more from Libtoon.com

# نوي څرکونه

یوه شپه لا سهار شوی نه و چې زموږ د کور دروازه وټکېده.
زموږ کور د خوست مرکز اړوند د مردیخېلو په سیمه کې د شمل سیند پر غاړه پروت و، د دروازې له تک تک وروسته موټر پرله‌پسې هارنونه وکړل، ما له وېرې مور له خوبه نه شوای پاڅولای، نه پوهېدم چې له څه وېرېدم، خو وېره مې درلوده.
-که مور یا پلار مې په دې نیمه شپه دروازې ته ورشي څوک به یې ووژني....!
دروازه یو ځل بیا تر پخوا لا تېزه وټکېده او موټر بیا هارنونه وکړل. پلار مې را ویښ شو، پر دېواله راځوړنده توپانچه یې ور واخیسته، زما پر مور یې غږ وکړ:
څوک مېلمانه راغلل، خدای دې خیر پېښوي، څه پېښه نه وي شوې، زه ورځم چې څوک دي!
زما یو بل ورور محمد شاه څو کاله مخکې په سعودي عربستان کې د موټر په ټکر کې وفات شوی و، د ورور د وفات خبر د کلي مشرانو د شپې پر ۱۲بجې راته راووړ. له هغې شپې وروسته د تیارې د مېلمنو په راتلو مور ته د

Download more from Libtoon.com

بد خبر د را رسېدو وېره هم را لوېدلې وه.

پلار مې دروازې ته ورغی، لږ وروسته زموږ دکلا د لویې دروازې غږ راغی، د دروازې له خلاصېدو سره د انګړ منځ د موټر د تېزو څراغونو له رڼا ډک شو، موټر کور ته راننوت، زما هم ډار ورک شو، پوه شوم چې مېلمانه راغلل، را پاڅېدم.

د کوټې له دروازې دباندې مې ولیدل چې د کور ټول غړي را پاڅېدلي، هر یو وېرېدلی ښکاري، پلار مې له حجرې څخه کور ته راغی، په انګړ کې یې غږ کړ: هله ژر شئ ډوډۍ تیاره کړئ، ډېر درانه مېلمانه راغلي دي!

د «درنو مېلمنو» د ټکو په اورېدو ما هم حجرې ته منډه کړه، حجره د کور شا ته وه، هلته په رسېدو مې ولیدل چې دننه ګېس لګېږي.

پر یو دنګ ځوان مې سترګې ولګېدې، سپینې جامې یې وې او مخ یې په توره ږیره او برېتونو کې ځلاکوله. تور ټوپک یې څنګ ته اچولی و او په لاس کې یې مخابره وه. په مېلمنو کې مې یوازې خپل کلیوال محمد حسین وپېژاند.

د تورې ږیرې ځوان زما په لیدو را ولاړ شو، خورا دنګ سړی و، سمدلاسه یې غېږ راکړه، په سینه پورې یې ټینګ ونیوم، ویل یې ډېر وخت کېږي چې د خپلې کورنۍ ماشومان مې نه دي لیدلي. پر دواړو مخونو یې ښکل کړم، تر څنګ یې کېنولم او محمدحسین ته یې مخ ورواړوه:

له ډېره وخته وروسته مې ماشوم ولید.

بیا یې د خپلو ماشومانو نومونه واخیستل، یو ماشوم یې تازه زېږېدلی و، دا یې ما هم وویل چې زما په لیدو یې د هغوی مینه مې ماته شوه.

محمدحسین ډاډ ورکاوه چې خدای به وخت راولي مه خپه کېږه، له خپلې کورنۍ سره به ډېر ژر یو ځای شې.

Download more from Libtoon.com

دوی په خپلو کې په مجلس بوخت وو چې پلار مې دسترخوان راووړ.
غبر یې وکړ:
راځئ ډوډۍ تیاره ده. ما ویل تاسې به ډېر وږي یاست، ځکه مو نوي څه پاخه نه کړل، ژر مو د ماښام پاتې ډوډۍ گرمه او تیاره کړه.
محمدحسین وویل:
موږ وچه ډوډۍ د پسه په ډول منلې ده، چې په دې نیمه شپه پیدا شوه.
حاجي صاحب ژر یې راوړه لوړې ښخي ناارامه کړي یو.
کله چې دسترخوان ته کېناستل، پلار مې پوښتنه وکړه:
څنگه محمدحسینه، خیر خو به و چې په دې شپه کې مو لاره را غلطه کړه؟
دا حالت وگوره!
محمدحسین وویل:
لس ورځې کېږي په ژوره کې بمبار رابانده روان دی، ملگري شهیدان شوي، خو معلومات نه شته چې څوک دي، موږ نن صرف حاجي نصیر ته لار پیدا کړه او تر دې ځایه مو سلامت را ورساوه.
ژوره د خوست ولایت گربزو ولسوالۍ اړوند ډیورنډ کرښې ته څېرمه د یوې تاریخي سیمې نوم دی چې د شوروي اتحاد خلاف د جگړې یو پېژندل شوی سنگر و او د امریکایي یرغل په پیل کې پرله‌پسې بمبارونه پرې وشول.
هماغه وخت زموږ کره دغه په نیمه شپه راغلی مېلمه ډاکتر نصیرالدین حقاني د مولوي جلال الدین حقاني مشر زوی و.
زما پلار په پرله‌پسې پوښتنو کې مجلس پسې وغځاوه، له ډاکتر صاحب څخه یې د کورنۍ او مشر حقاني د روغتیا په اړه پوښتنې کولې، خو مېلمه ویل چې په دویم او درېیم لاس یې احوال اخلم، روغ او جوړ دی، سره لیدلي مو نه دي،

Download more from Libtoon.com

امریکایي یرغل زمونږ تر منځ د بېلتون کرښه کش کړې ده، ورک یو.
مېلمنو ډوډۍ دومره په مینه وخوړه چې مونږ فکر کاوه لکه چې ډېره ښه مو پخه کړې ده.
زه د دوی تر شا ناست وم، د دوی د ټوپکو او مخابرو ننداري خوند راکاوه. زړه مې غوښتل ټوپک راواخلم او تر ځنګ یې راسره کېږدم، خو بیا مې ویل چې مېلمانه به غوسه شي.
د ډاکټر صاحب را پام شو:
هلکه! لکه چې مخابرې خوند درکړ، هله ورشه را وا یې خله چې درته چالانه یې کړم، خبرې پکې وکړه.
د ډاکټر صاحب له خبرې وروسته مې سمدلاسه مخابره راواخیسته، کوچنی Icom جاپانی مخابره وه، مېلمه ته مې چې اوس مې په ډاکټر صاحب پېژاند ورکړه او هغه راته چالانه کړه. د مخابرې له شراره مې ځانګړی خوند واخیست، کله کله به پکې غږونه راغلل. ما فکر کاوه چې دا غږونه پر ما باندې کوي، ما به هم د مخابرې لوډسپیکر ته خوله ور نږدې کړه او غلي به مې ورته وویل:
اورې ؟ اورې ؟
غږ به پسې ورک شو، زه د مخابرې په نقطه نه پوهېدم چې د نقطې له نیولو پرته زما غږ مقابل لوري ته نه شي ور تلای.
له ډوډۍ وروسته ډاکټر صاحب کوم انډیوال د مخابرې په وسیله په رابطه کې کړ او زه یې ورسره وغږولم.
له سلام کلام وروسته مې له مخابرې سره په زړه کې غلې مینه نوره هم په خپو شوه. شپه مو همداسې په خبرو سبا کړه، د سهار له لمانځه وروسته دوی همدلته زمونږ په حجره کې ویده شول.

Download more from Libtoon.com

## مېلمه او امريکايي ټانکونه

زمــوږ پــه حجــره کــې د ډاکټــر نصيرالديــن حقانــي دربيمــه وه، دوه نــور ملگــري پــه لومــړۍ ورځ تــرې رخصــت شــول او دی لــه مــوږ سره يــوازې پاتــې و. کلــه نــا کلــه بــه محمدحسين ورتــه راغــی او د نــږدې ملگــرو پيغامونــه بــه يــې ورسره تبادلــه کــړل، ډاکټــر صاحــب بــه د شــپې لــه خــوا پــه حجره کــې بېخــي يــوازې و، زه بــه د شــپې تــر ناوختــه ورسره ناســت وم ، ســهار مهــال بــه کلــه نــا کلــه بيــرون وتلــو چــې پــام بــدل کــړو.

ډاکټــر صاحــب بــه د بيــرون تــگ پــر مهــال په داســې لبــاس کــې گرځېده چــې خپلو نــږدې ملگــرو بــه هم نــه واى پېژندلى. هماغه تــوره ږيره يې لنډه کــړې وه، کله به چې چا لــه مــا پوښــتنه وکــړه، دا څــوک دی؟ ما بــه ځــواب ورکړ چــې دا زموږ خپــل دی، نــوی لــه پاکســتانه راغلــی او کورنــۍ يې هلتــه د مهاجرت ژونــد کوي.

يــوه ورځ غرمــه د شــمل پــه غــاړه زه او ډاکټر صاحب سيل تــه وتلــي وو، لوېديځ لور تــه د موټــرو يــو اوږد کتــار زمــوږ خوا ته را روان و، دا داســې نااشــنا موټــر وو چې موږ لــه دې وړانــدې هيڅکلــه نــه وو ليدلي. د شــاوخوا کليو خلکــو د موټرو د کتــار پر لور منډې ور وهلې، مــا لــه ډاکټــر صاحــب څخه وپوښــتل چــې دا مخامــخ نااشــنا موټر د څــه شــي دي؟ دا چې زه هغــه مهــال ماشــوم وم او بيــا مې ناڅاپــه له خولــې دا خبره

Download more from Libtoon.com

ووتله چې شاید امریکایان وي، په اورېدو یې ډاکټر صاحب په خیر خیر راوکتل او بیا یې وویل چې ته څه پوه شوې چې امریکایان دي ؟

زه نه پوهېدم چې څنګه مې دا خبره له خولې وتلې وه، ډاکټر صاحب تر لاس ونیوم او و یې ویل:

راځه چې ورشو، له نږدې وګورو چې څوک دي، څه خبره ده؟

دواړه له وېرې پرته د کتار پر لور ګړندي ور روان شوو، د موټر کتار تنیو ولسوالي ته پر غځېدلي سړک د شمل د سیند په څنګ کې تم شو. په موټرو کې سپاره عسکر له موټرو راکښته شول، د کلیو له خلکو سره یې روغبړ او مجلسونه کول، موږ هم ګامونه ګړندي کړل چې کتار راځخه روان نه شي.

له ګړندي مزله وروسته چې د کتار ځای ته ورسېدو، پوه شوو چې د امریکایي پوځ زغره‌وال ټانکونه دي، لوڅ سر امریکایي پېغلې او په سلاح بار امریکایي پوځیان د کلیو له ځوانانو سره خبرې اترې کوي. ډاکټر صاحب په ماته ګوډه انګلیسي له یوه امریکایي عسکر سره خبرې پیل کړې، اوس هم نه پوهېږم چې ډاکټر صاحب به څه ورسره ویلي وي.

دا لومړی ځل و چې زموږ پر خاوره ما د اشغالګرو امریکایي عسکرو ناولي ګامونه لیدل، تر لنډ ځنډ وروسته امریکایي پوځیان خپلو ټانکونو ته پورته شول، پر ټانکونو نصب ماشیندارو ته ناست ګوته پر ماشه پوځیان په ګردونو کې پټ خوب او ستوماني زنګول، ډاکټر صاحب راته وویل چې دا خلک د شرابو معتادان دي، نشه راته ښکارېږي.

کورته پر لاره په فکرونو کې ډوب وم، د شهید طاهرشاه خبره مې په سترګو کې غړېده، سوچ اخیستی وم، زه هم مجاهد شوی وم او د وطن د ازادۍ لپاره له نویو پردیو سره همغسې د طاهرشاه په څېر د جګړې ډګر ته کېوتی وم.

Download more from Libtoon.com

ماسپښین له ماشومانو سره په لوبو بوخت وم، خو نه پوهېږم په څه پسې کور ته راغلم. زموږ کره نن د ډاکټر صاحب پنځمه وه، نبغ مېلمستون ته ور تاو شوم، خو هیڅوک نه وو. سیده مور ته ورغلم، لومړی او وروستی پوښتنې مې دا وه:

ډاکټر صاحب څه شو؟

د مور له خبرو پوه شوم چې په ډاکټر صاحب پسې یې کوم موټرسایکل سپور ملګری راغلی و او ورسره تللی دی. د شپې تر ناوخته مې د ډاکټر صاحب څېره له سترګو لرې نه شوه، ما ته یې خندل، مخابره یې را ښووه او...

Download more from Libtoon.com

○○○

یو مازدیګر د همدې خوړ پر غاړه یوازې ناست وم چې ناڅاپه مې د خپل کور مخې ته پر تور فوررنر موټر سترګې ولګېدې، کسان ترې را کوز شوي او زما له پلار سره ولاړ وو. د موټر په لیدو مې سمدلاسه ډاکټر صاحب را یاد شو، په منډه ورغلم او هغه مې ولید. سپینې جامې یې اغوستې وې، وچه ډوډۍ او د هغې په منځ کې پاخه شوي پالک یې په لاس کې نیولي وو او په خوړلو یې لګیا و.

زما په لیدو موسک شو او ټینګ یې په غېږ کې ونیوم، ډوډۍ ته حجرې ته نه راتلل، کوم ضروري کار یې درلود، تلوار یې و.

ډاکټر صاحب محمدحسین ته وویل:

څو ناوخته کېږي، له موټره هغه امانت راواخله چې دلته یې کېږدو.

محمدحسین بې له دې چې څه ووایي، د موټر ډاله خلاصه کړه او درې ټوپکونه یې راواخیستل.

ډاکټر صاحب او محمدحسین دواړه زموږ حجرې ته راننوتل، زما پلار ته یې وویل:

دا ټوپک به دلته تر هغو امانت ایښي وي چې څو زه بېرته راځم. دا امانت به

Download more from Libtoon.com

له ما پرته هیڅ‌ځا ته نه ورکوئ.

بیا یې ما ته را وکتل او زما د پلار له لاسونو یې نوی ټک تور روسي کلاشنکوف راواخیست، ما ته یې راکړ:

دا زما له خوا تا ته ډالۍ دی، ګوره چې لوی شې جهاد به کوې، امریکایان به پرې وژنې!

زه کوچنی وم، په غېږ کې مې کلاشینکوف هم سم نه شوای نیولای، له ډاکټر صاحب سره مې وعده وکړه چې لوی شم خامخا به په همدې ټوپک جهاد کوم.

زه د ټوپک د ډالۍ کېدو په خوښۍ کې ډوب وم چې هغه له مور رخصت اخیستی و، هیڅ پوه شوی نه وم چې څه وخت تللی دی، دا ځل د تېر په څېر خپه نه وم، هغه زمور په کور کې امانت ایښی و، باوري وم چې ژر به خپل امانت پسې بېرته راځي.

Download more from Libtoon.com

## امریکایانو ته تمه

زمـوږ کورنـی یـوه اسـلامپاله او جهادپالـه کورنـی وه، د پخوانـي شـوروي اتحاد د یرغـل پـر خـلاف پـه وسـلهوال جهـاد کـې مـې پـلار او ورونـو فعالـه ونـډه اخیسـتې وه، د خوسـت د فتحـې پـر مهـال طاهرشـاه لـه کمونیسـتانو سـره پـه مخامـخ جګـړه کـې پـه شـهادت رسـېدلی و، پـه چـم او ګاونـډ کـې زمـوږ راشـه درشـه او ناسـته ولاړه لـه هغـه چـا سـره وه چـې د پخوانـي شـوروي خـلاف جهاد کـې یـې برخـه لرلـه او مجاهدیـن بلـل کېـدل.

زه د خوسـت ښـار عبدالحی حبیبـي لیسـې زدهکوونکـی وم، ښـوونځي تـه د تـګ تـر څنـګ بـه مـې پـس لـه وختـه د خوسـت پـه ښـار کـې لـه پـلار سـره د دوکان پـه کارونـو کـې هـم مرسـته کولـه. پـلار مـې د خوسـت ښـار پـه ښـاروالۍ مارکېټ کـې د لونګیـو او څادرونـو دوکان درلـود. مازدیګـر بـه چـې لـه ښـاره کلـي تـه راغلـم بیـا بـه د شـمل سیند پـر غـاړه لـه کلیوالـو سـره کېناسـتم او لـه هغـو سـره بـه مـې د امریکایانـو د وحشـتونو پـه اړه بحثونـه او مجلسـونه کـول.

یـوه بـه ویـل چـې پـه پلانـي ځـای کـې امریکایانـو د یـوې کورنـۍ ټـول غـړي شـهیدان کـړي، بـل بـه ویـل چـې ماشـومان یـې پـه سـپیو داړلـي...!

ځینـو بـه بیـا د امریکایـي ځـواک د ټکنالـوژۍ کیسـې کولـې چـې داسـې قـوت

Download more from Libtoon.com

راغلې چې یو انچ شی له فضا وینې.

زموږ په کلي کې د پاپلي په نوم یو ځوان و هغه به دا خبره ډېره کوله چې که چا د ټوپک شپېلۍ د امریکایي ځواکونو پر لور ونیوه، ټوپک یې پخپله په لاس کې اوبه کېږي.

ډېرو ځوانانو به بیا دا ډول پوچ تبلیغات ردول، دوی به ویل د دا ډول تبلیغاتو لپاره امریکا په میلیونونو ډالر لګوي چې څوک یې په خلاف د وسلې اخیستلو جرأت و نه کړي.

رنګارنګ اوازې تاوېدې را تاوېدې، خلک ګنګس وو، څوک نه پوهېدل چې کومه خبره ومني او کومه دروغ وبولي، یا ولې؟

زه به چې ماښام کور ته راغلم د امریکایي لښکرو د وحشتونو کیسو به مې ذهن سکوندلی و. د دوی په مقابل کې مې احساسات را پارېدل، بیا به مې چې د دوی پر ټکنالوژي فکر وکړ چې خلکو ته ټوپک په لاسونو کې ور اوبه کوي، بېرته به وډارېدم.

سوچ به مې کاوه چې خدای مه کړه که دا خبره رښتیا وي، له دوی سره به جنګ څنګه کوم؟

د راتلونکې تګلارې د ټاکلو پر ځای به مې سترګې پټې شوې او درانه خوب به په خپله غېږ کې د فکرونو له دنیا له ځان سره یووړم.

زه او پلار به ښار ته پلي تلو راتلو، ځکه چې ښار ته نږدې اوسېدو. د کور او بازار تر منځ مو د پلي تګ مزل نیم ساعت وخت نیو، ښار ته د تګ په وخت کې به کله کله په لار کې د امریکایي لښکرو ټانکونه په مخه راغلل، په ټانکونو کې ناستو عسکرو به موږ ته کله نا کله د اوبو بوتلونه، چاکلېټ، بسکېټ او نور د خوراک شیان راغورځول. دوی به دې ډول ځان

بشردوست ښوو، کله کله به مې د دوی خواته میلان پیدا شو چې دا خو داسې ښه خلك دي، موږ ته څنګه ښه شیان راکوي.

داسې به هم کېدل چې کله کله د دوی په لیدو خوښ شم چې ګونډې د خوراك یا څښاك یو شی به را وغورځوي، خو کله کله به بیا دوی ډېر تېز او په غوسه تېرېدل، داسې به ښکارېدل چې چېرته د مجاهدینو له برید سره مخامخ شوي دي.

داسې هم شوي دي چې د ښوونځي د رخصتۍ پر مهال (د جمعې په ورځ) به چې زه په کور کې پاتې وم؛ نو وخت پر وخت به شمل ته په دې ورځ د امریکایانو ګزمې راتلې، عسکر به د سیند په منځ کې چې اوبه پکې نه بهیدې پلي شول، موږ ماشومانو به چې دوی څنګه ولیدل، د خوراکي موادو د تر لاسه کولو لپاره به مو د دوی پر خوا ورمنډې کړې او چیغې به مو ورته وهلې چې Give me one Bottle (یو بوتل راکړه)، دا جمله موږ د دوی لپاره زده کړې وه چې یو شی راکړي، خو نور یې په مانا نه پوهېدلو.

کله چې به لاړل، موږ به هغه ځایونه پلټل چې تړې پاتې شوي شیان راتول کړو. معمولاً به دوی په داسې ځایونو کې د اوبو استعمال شوي بوتلونه پرېښودل چې بیا به موږ د اوړي په سوځنده ګرمۍ کې د اوبو د پتکي په توګه کار ترې اخیست.

Download more from Libtoon.com

# تجاران

شاوخوا دوه کاله به وتلي وو، یو ماښام خړه تیاره مخ په زیاتېدو وه چې زموږ اوښی سنګین له دوو نورو ملګرو سره یو ځای زموږ کور ته راغی. خوست ته زموږ د کډې له راتلو وروسته د ده دا اول راتګ و.

له سنګین سره دا یو کس ما نه پېژانده، خو دویم کس بیت الله مسید و. د وزیرستان په درګه کې سنګین د خپلې کورنۍ ماشومان زما په شمول د درس لپاره د جلال الدین حقاني مدرسې «منبع العلوم» ته له ځان سره بېولو، دی مسید ما همالته لیدلی و، هلته یوازې د درس طالب و. اوس مې هم چې ځنګه د ده ټیټ قد، غنمرنګ مخ او پلنه ږیره ولیده، را یاد شو.

د نااشنا سړي قد لوړ او له رنګه سور و.

له ډوډۍ وروسته زما پلار له سنګین څخه د ورسره دوو تنو نورو ملګرو د تعارف غوښتنه وکړه، سنګین دواړه ملګري معرفي کړل، ویل یې د جلغوزیو تجاران دي. دا چې زه هغه مهال په کورنۍ کې تر نورو کشر وم، همېشه به د مېلمنو خدمت او پالنې ته په مېلمستون کې پاتېدم، په دې وخت کې ما د ډېرو خبرو جرأت نه درلود، خو د پلار په غیاب کې د دوی له خپلمنځي خبرو مې دومره درک کړه چې تجارت خو نه کوي، دا چې زموږ په

Download more from Libtoon.com

مېلمستون کې یې تر لسو ډېرې شپې وکړې، ښځې باوري شوم چې د کوم جهادي پروګرام لپاره راغلي دي، ځکه کله به یې ما په ورو خبرو کې د شهادت او جګړې کلمې اورېدې.

دوی به ډېر له مېلمستونه نه وتل، یوازې یو او بل مازدیګر به ووتلو چې شاوخوا ننداره وکړو، زه به هم لالا «سنګین» په ډېره مینه تر لاس نیولی ورسره بېولم.

یوه مازدیګر موږ څلور واړه د شمل خوا ته وتلي وو چې کوچنې وراره مې حمدالله زموږ خوا ته را ځغاستل، چې څنګه را ورسېد موږ ته یې وویل چې ابا مو کور ته غواړي. پلار به مې د عادت له مخې هر مازدیګر شیرچای څښلو، کله به چې مېلمانه وو په هغوی به یې هم په زور څښه.

مخکې له دې چې د شیرچای په اړه خبره وشي، دوی یو او بل ته وکتل، لالا خپلو ملګرو ته په اندېښمن انداز وویل:

تاسې خو به حاجي صاحب ته کومه خاصه خبره نه وي کړې؟

مولوي بیت الله مسید ما ته مخ راواړوه او د شفقت انداز یې وویل:

وړکیه! تا خو به دې بابا ته څه نه وي ویلي؟

زه غلی شوم !

بیا مې ورته وویل:

امم څنګه څه؟

لالا وار ړومبی کړ:

دا لا ماشوم دی، دا په څه پوهېږي؟

له دې وروسته کور ته ګړندي روان شوو.

د مېلمستون انګړ ته په رسېدو مو ولیدل چې پلار مې په لمانځه ولاړ دی او تر څنګ چاینکه او څو پیالې اېښې دي، ما لالا ته غلي وویل:

Download more from Libtoon.com

هیڅ خبره نه شته، اندېښنه مه کوئ، یوازې د چای څښلو ته یې راغوښتي یو.
سنګین په حیرانتیا راوکتل، زما په فکر هغه پوه شوی و چې زه د دوی د خبرو په اصلي راز رسېدلی وم چې د دوی راتګ د څه لپاره دی او ولې په خوست کې منتظر دي؟
درې واړه د مېلمستون په انګړ کې پر غوړېدلې قالینه کېناستل، پلار مې چې لمونځ ادا کړ او دعا یې وکړه، د سترې مه شي لپاره دوی ته ور پورته شو.
ما د بابا جاینماز ټول کړ، وروسته مې خلورو واړو ته د وطني غوا د شیدو پیالې ډکې کړې.
د چای د څښلو په وخت کې مې پلار سنګین ته وکتل:
ورځ مو ځنګه وه؟
هغه په ارامه لهجه ځواب ورکړ:
شکر دی، ښېخې ښه وه، خالد راسره وي، چکر ته مو بیایي او د جوارو د کرونډو سیلونه رابانډې کوي.
ـ حالات خراب دي، بیرون بې له ضرورته مه ګرځئ.
سنګین موسک شو:
ولې؟ د عادي تجارانو یې له حالاتو سره څه؟
بابا مې ورته وویل:
د تجارت خبرې پرېږدئ، تاسې چې دلته راتلئ په هغه ورځ مو له موټر چلوونکي سره څه کړي وو؟
د درېو واړو مېلمنو رنګونه ژېړ والوتل، خو مولوي بیت الله مسید بیا هم زړه سره را ټول کړ، له خندا شین شو. ډېر یې وخندل او په خندا خندا یې وویل:

Download more from Libtoon.com

حاجي صاحب! له موږ هم لار ورکه وه، موږ هم نن پرېکړه کړې وه چې زموږ د سفر اصلي موخه درسره شریکه کړو او ته د روسانو خلاف د یوې لسیزې جهاد تجربې لرې، غواړو مشورې درنه واخلو او خپلې تجربې راته بیان کړې، که ګټورې مشورې راکړې موږ به په راتلونکو پروګرامونو او پلانونو کې استفاده ترې وکړو.

د بیت الله مسید له خبرو وروسته ملا سنګین سمدلاسه بابا ته د مېلمنو تعارف پیل کړ، لومړی یې ښې لاس د بیت الله پر اوږه کېښود چې دا بیت الله مسید دی! او بیا یې چپ لور ته د ناست دنګ ځوان په اړه وویل چې یو عرب مجاهد دی او اسدالله نومېږي. په پښتو ژبه د مورنۍ ژبې په څېر ګړېږي. پرونۍ غوسه او د سندرو د فیتې ماتول هم له دغه عرب ملګري وشول، دی لږ احساساتي دی، هغه موټروان هم له ده څخه خواشینی شوی و.

بیا درې واړو وخندل.

بابا ور غبرګه کړه:

په احساساتي پرېکړو خو مو دا دی امریکا دلته راوسته، نور د احساساتو او جوش پر ځای له هوشه کار واخلئ چې خپلو سترو اهدافو ته پر وخت ځان ورسوئ، همېشه هڅه وکړئ چې خپل احساسات کنټرول وساتئ.

په دې وخت کې بیت الله مسید یو سوړ اسوېلی وایست، لاندې یې وکتل او له ځان سره یې په خپله مورنۍ لهجه وویل: «مېژ ته وو چې کله خدای هدایت کې.»

بابا ورته وخندل:

څو ډغرې چې وخورئ پخپله به پوه شئ.

د دې خبرې په اورېدو بیت الله مسید وخندل، و یې ویل:

Download more from Libtoon.com

حاجي صاحب مـوږ و تاسې د وطـن خلـک یـو او اسـدالله تـه یـې اشـاره وکړه چې دا غریـب لـه ډېـر لـرې وطنـه راغلـی دی، زمـوږ و تاسې لـه کلتـور سـره سـم بلـد نـه دی.

بابا وویل:

نـور کومـه خبـره نـه شـته، مگـر پـه پښـتني ټولنـه کې داسې احساساتي کارونـه ستاسې د سـترو اهدافـو پـه لار کـې د خنډ او ځنډ سـبب کېـدای شـي. اوس امریکایـان پـه خوست کې دي، د خپلو افغـان همکارانـو پـه مرسته د خوسـت پـه هـره سیمه کې عملیات کـولای شي. لـه هغـه موټـر چلوونکي سـره دې خـدای ښـه وکـړي چې مـا تـه یې لـه ښـه نیتـه دا خبـره وکړه چې ستا مېلمنو لـه مـا څخه د سـندرو او موسـیقۍ فیتـې ماتـې کـړې، لـږ یـې وپوهـوه چې لـه بـل چـا سـره داسې عمـل و نـه کـړي، هغوی بـه پـرې پـوه شي چې دا طالبـان دي، خـدای مـه کـړه ستاسې کورنـۍ تـه پـرې کـوم مشـکل جـوړ شـي.

زه د بابـا لـه خبـرو وروسـته پـوه شـوم چې هغـه لـه پیلـه پوهېـده چې دوی طالبـان دي، خـو د مېلمهتـوب پـه خاطـر یـې ځـان پـرې نـاګاره کـړی و.

بیت الله مسید وویل:

هـو! حاجـي صاحـب مـوږ وروسـته اسـدالله پـوه کـړ، ان شـاءالله لـه دې وروسـته بـه بیـا دا ډول کار نـه کـوي.

مجلـس ډېـر پـه خونـد روان و، ټولـو لـه یـو بـل سـره د امریکایانـو پـر خـلاف د جګـړې لپـاره پـر جنګـي تکتیکونـو او لـه هغـوی سـره د جهـاد لپـاره پـر راتلونکـو تـګلارو خبـرې کولـې او د یـو بـل خبـرې یـې ډېـرې پـه مینـه اورېـدې.[1]

---

۱. بیت الله هغه مسید و چې د تحریک طالبان پاکستان د تنظیم بنسټ یې کېښود.

Download more from Libtoon.com

## شهيد لوبغاړی

څو کاله نور تېر شول. ۲۰۰۸م کال را رسېدلی و، د امریکایي لښکرو د بمبار او شپنیو عملیاتو د وحشتونو په غم لړلې کیسې په کلیو او بانډو کې د خلکو د پیتاوي د مجلسونو او بحثونو د پام وړ موضوعګانې ګرځېدلې وې، د دوی دغو وحشتونو ورځ تر بلې د مجاهدینو لیکې پیاوړې کولې او له حاکم نظام سره یې د خلکو فاصله زیاتوله او علاقه کموله.

اوس زه د پنځم ټولګي زده‌کوونکی وم، یوه ورځ چې د ښوونځي له رخصتېدو وروسته د د دوکان پر ځای له کلیوالو زده‌کوونکو سره یو ځای د کور پر لور روان شوم؛ نو د غرمې ۱۲ بجې وې چې د خوست میخانیکي لېسې پر سړک مو په سلګونو کسان ولیدل چې (مرګ پر امریکا) شعارونه ورکوي او زموږ پر لور را روان دي. موږ په خپل منځ کې یو بل ته په حیرانی وکتل:

دا څه خبره ده؟

هیچا واضح ځواب نه درلود.

موږ لا له یو و بل څخه په پوښتنو بوخت وو چې لاریونوال موږ ته را ورسېدل، له یوه کسه مې پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟

-ولې تاسې تر اوسه نه یاست خبر؟ بېګاه شپه د کریکټ د ملي لوبډلې

Download more from Libtoon.com

لوبغاړی رحمت ولي مسرور امریکایي پوځیانو لومړی شهید کړی او بیا یې د هغه جسد سوځولی دی...

زه چوپ وم.

نورو خلکو هم پوښتنې کولې او هر چا به په خپله طریقه ځواب ورکاوه.

د مظاهره‌چیانو د خبرو له اورېدو وروسته مې د ښوونځي د کتابونو بکس شا ته واچاوه او له مظاهرې سره سم مخ پر ښار روان شوم. مظاهره تر لږ ځنډ وروسته د خوست ښار مجاهد څلورلاري ته ورسېده، دلته هوايي ډزې راباندې پیل شوې، له ډزو سره متوجه شوم چې مخې ته مو د ملي اردو رنجر موټر راغلل.

مظاهره‌کوونکي نور هم په جوش راغلل، د ملي اردو د عسکرو موټرو ته یې تیرې بندې کړې، خو کړپا یې په غور و پر کې سمه نه اورېده کېده، موټرو ته د مظاهره‌کوونکو په نږدې کېدو ډزې لا پسې زیاتې شوې، خو دا چې ډزې هوایي وې موږ هم همداسې پر مخ ور روان وو، د ملي اردو پوځیانو چې کله د لاریونوالو له غوسې ډکې څېرې له نږدې ولیدې، سمدلاسه یې د ټوپکو شپېلۍ په افقي ډول را ونیوې او خپلو ډزو ته یې دوام ورکړ.

له مخامخ ډزو سره سم مظاهره‌چیان وپاشل شول، ما سړک ته کتل چې مرمۍ لکه ږلۍ پرې ورېدلې، تېز مې ځان د سړک تر څنګ لښتي ته واچاوه او کړوپه ملا په منډه بېرته د میخانیک سړک خوا ته روان شوم. ساه مې ډوبه ډوبه کېده، د سړک پر غاړه د یوې ونې سیوري ته کېناستم.

د ونې سیوری سوړ لګېده، سوچ یووړم:

-اوس به څومره لاریونوال لګېدلي او شهیدان شوي وي؟ ولې ملي اردو پر موږ ډزې وکړې؟

Download more from Libtoon.com

دې پوښتنو ته مې ځواب نه شواى موندلاى، کرل ربېل وو.

په نړۍ کې د بشري حقونو دعویدارې امریکا او د هغوی هملاسو پر عدالت غوښتونکي لاریون مخامخ اور وروله و، دا مرمۍ چې د لاریون پر لوري شنېدې، په اصل کې کتار شوې پوښتنې وې چې له ما سره پیدا کېدې.

په همدې فکرونو او اندېښنو کې ډوب کور ته روان شوم، سخته راته ښکاره شوه چې هغه مرمۍ او دا نارې دې سره وجنګېږي او چیغې دې بریالۍ شي.

د ډاکټر صاحب ټوپک ته مې په لومړي ځل ډېره تنده احساس کړه، څو ځله مې په خیال کې د ډزو پر خوا ډزې وکړې، لاریونوال راپسې شول او...

کلي ته په رسېدو پوه شوم چې د رحمت ولي مسرور شهادت او د بې‌ګناه لاریونوالو ټپي کېدو پر ټول کلي د غم تیاره را ټیټه کړې ده، د هر کلیوال په څېره کې د درد او ویر ژورې نښې نښانې له ورایه ښکارېدې. د کلي د خلکو هم پر "اشغالګرو" او د هغوی پر داخلي "بې‌رحمه ګوډاګیانو"(KPF) لعنتونه ویل.

د KPF په نوم ځایي ملېشو په خوست او شاوخوا ولایتونو کې داسې جنایتونه وکړل چې د ګلم‌جم ملېشې وحشي تاریخ او جنایتونه یې ورو ورو د خلکو له یاده وایستل. دا په ۲۰۰۲ مېلادي کې جوړې شوې.

Download more from Libtoon.com

## ډینجر ځدراڼ

د افغانسـتان پـه لـر و بـر کـې د امریکایـي ځواکونـو د خونړیـو وحشـتونو لـړۍ روانـه وه. زمـوږ کـور تـه بـه وخـت پـر وخـت د مجاهدینـو مشـرانو تـګ راتـګ کاوه او هـر ځـل یـې نـوې ولولـې راپکـې پارولـې.

دا مـې هـم اورېدلـي وو چـې لالا «سـنګین» پـه وزیرسـتان کـې د حکیـم خـان پـه نامـه د بدماشـانو ډلـه ختمـه کـړې ده.

پـه دې وختونـو کـې خوسـت ښـار تـه لـه موبایلـه وروسـته تـازه امپيتريګانـې (MP۳) راغلـې وې چـې میمـوري کارډ بـه پکـې ځـای پـر ځـای کېـده او پکـې موجـود غږیـز فایلونـه بـه یـې غـږول.

یـوه ورځ لـه ښـوونځي پـټ شـوم، پـه خوسـت ښـار کـې د سـپین جومـات تـر څنـګ پـه مارکېـټ کـې د یـو کمپیوټـرکار دوکان تـه لاړم. دا دوکان د ډینجـر ځدراڼ پـه نامـه د یـوه خوسـتي ځـوان و.

دا داسـې وخـت و چـې پـه موبایـل او کمپیوټـر کـې د جهـادي ترانـو او ویډیوګانـو سـاتل د غیـر قانونـي وسـلو تـر سـاتلو کـم نـه وو. هیڅـا زړه نـه ښـه کاوه چـې پـه خپـل موبایـل یـا کمپیوټـر کـې دا ډول ویډیوګانـې او ترانـې وسـاتي خـو زمـا او د ډینجـر ځـدراڼ اړیکـه پخـه او بـاوري وه. ډینجـر ځـدراڼ بـه همېشـه مـا تـه د

Download more from Libtoon.com

مجاهدینو د عملیاتو نوې ویډیوګانې او ترانې د موبایل میموري کارډ ته کاپي کولې، ما به د ویډیوګانو او ترانو د کاپي کولو په بدل کې ده ته پنځوس یا تر دې زیاتې کلداري ورکولې.

د ډینجر ځدران دوکان د مارکېټ په دویم پوړ کې و، یوه ورځ زه د ده تر څنګ ناست وم چې تر مېز لاندې مې پر سپینو A4 ورقو سترګې ولګېدې، ما یوې پاڼې ته لاس ور اوږد کړ چې و یې ګورم، ځکه د اسلامي امارت نوم پرې لیکلی و. ډینجر ځدران مې لاس ټینګ ونیو چې دا امانت دی او نه شې کولای و یې ګورې، خو د بیا بیا ټینګار له وجهې مې ډینجر ځدران په دې شرط راضي کړ چې هیچا ته به راز نه وایم.

ده زه د کورنۍ له اړخه هم پېژندلم او په دې هم خبر و چې سنګین زموږ اوښی دی.

د ورقو د کتلو او لوستلو اجازه راکړل شوه، کله مې چې د پاڼې د سر لیکل ولوستل پوه شوم چې د مجاهدینو شپه‌لیکونه (شب‌نامې) دي او د اسلامي امارت له خوا یکې خلکو ته لارښوونې او سپارښتنې شوې دي، د پاڼې تر بشپړه لوستو وروسته مې له ډینجر ځدرانه وغوښتل چې دا څو پاڼې زه له ځان سره وړم او مناسبو ځایونو ته یې رسوم. هغه راته وویل چې د دغو ورقو پر چاپ مصرف شوی دی، ما سمدلاسه جېب ته لاس کړ او راسره پنځوسی مې ډینجر ته ورکړ.

ورته و مې ویل:

دا یې قیمت! زه نن د عملیاتو ویډیوګانې او ترانې نه کاپي کوم!

ډینجر ځدران په پټه خوله پیسې ور واخیستې.

شپه لیکونه مې ترې واخیستل او د ښوونځي په بکس کې مې ځای پر ځای

Download more from Libtoon.com

کړل، د ښوونځي د رخصتېدو وخت پوره شو. کله چې دوکان ته راغلم دلته ورځ رابانـدې کال شوه، بېره مې وه چې ژر کلي ته لاړ شم او د شپې په تیاره کې شپه‌لیکونه تیت کړم.

ماز یگر لمر ولوېد، تیاره خپره شوه، زیاته شوه، د ماخستن لمونځونه په جماعت وشول، خلک چې کورونو ته تلل، زه هم نېغ کور ته راغلم او د بکس څنځیر مې کش کړ. د ډینجر څدراڼ چاپ شوي شبنامې مې له بکسه راواخیستې، په بهانه له کوره ووتلم او مخ پر قبله روان شوم.

Download more from Libtoon.com

# دروغجن عيني شاهدان

د ادې غږ مې واورېد:

زوی ګله هله سهار دی، لمونځ وکړه!

د سهار لمونځ مې وکړ، د چای له څښلو وروسته دباندې ووتم، نن د جمعې ورځ وه. د ښوونځي رخصت سکون درلود. زه د بېګانۍ غزا د پایلو په باب څه اورېدو ته منتظر وم. په زړه کې مې د خلکو د خبرو تصور کاوه:

دا شبنامې چا راوړې دي؟ څنګه یې کاغذونه له باده په تیره راګرځولي، څومره ډېر ګرځېدلي...

په دې خیالونو کې روان وم، و مې لیدل چې د کلي د جومات تر څنګ ډله ځوانان، مشران او واړه را ټول دي. ور ورسېدم. هلته یوه ځوان په ډېره جدي څېره خبرې کولې:

بېګاه کلي ته تر سلو ډېر طالبان راغلي وو، د هر کور دروازې ته یې لیکونه اچول. دا یې هم وویل چې خلک باید له دولت سره له همکارۍ لاس په سر شي، که نه بیا د شکایت حق نه لري.

ډول ډول خبرې مې واورېدې، یو بل کلیوال را مخ ته شو، قسمونه یې خوړل چې ما یې د ګامونو ترپا اورېده، د ګامونو ترپا دومره زیاته وه چې خبره د

Download more from Libtoon.com

لسو یا شل نفرو نه وه، په سل دوه سوه کسه یې هم نه درکوم.
ځینو د بام له سره د روانو کتارونو خبره هم کوله او ویل یې پر دې لاره راغلل او پر هغې لاړل. د کلي سپیو ورپسې غپل...
د کلیوالو خبرو یو باور را پکې غښتلی کړ. ځان له قوته ډک راته ښکاره شو، له جګړې او هیجان سره مې مینه ټینګه شوه، د خلکو وېرې خوند راکړ او په زړه کې را تېره شوه که تر دې لا لوی کار وشي، خلک به څه وایي؟

Download more from Libtoon.com

# د جهاد پیل

په کلي کې د شپنیو لیکونو تیتولو روحیه راکړې وه، څو ځله مې بیا د ډینجر ځدراڼ له دوکانه را چاپ کړل، دا ځل مې د خوست په ښار او خپل ښوونځي کې تقسیم کړل، د شپې لیکونو د اغېز ځارنه به مې پخپله له نږدې کوله او د اغېز معلومات یې تر ټولو ما ته ښه کېدل.

یوه ورځ د ډینجر په دوکان کې ناست وم چې یو د پوخ عمر توررږیری کس رانږوت، له ډینجر سره تر کلک روغبړ وروسته ما ته معلومه شوه چې دواړه د یو بل نږدې ملګري دي. وروسته ږیره‌ور کس سمدلاسه جېب ته لاس کړ او میموري کارډ یې را وایست، ډینجر ته یې وویل:

دا فارمټ کړه او نوي شیان راته کاپي کړه!

ډینجر چې کله میموري کارډ کمپیوټر ته واچاوه ما هم د سترګو له کونجونو د کمپیوټر سکرین ته کتل، د میموري کارډ له فارمټ کولو وروسته ډینجر په خپل کمپیوټر کې د جهادي ترانو او ویډیوګانو فولډر پرانیست او ږیره‌ور کس ته یې له کتلو پرته وویل:

امیر صاحب د کوم ځای ویډیوګانې غواړې؟

زه پوه شوم چې ږیره ور کس تبلیغي دی، ځکه یې ورته امیر صاحب وویل.

Download more from Libtoon.com

امیر صاحب وویل:

خبر شوی یم په وزیرستان کې د مولوي سنګین د جنګونو نوې ویډیو راغلې ده.

هغه هم راته واچوه او نورې ټولې نوې راغلې ویډیوګانې هم ور کاپي کړه.

د تبلیغي له خبرو وروسته ډینجر ما ته مخ را واړاوه او په سترګو کې موسکی شو. هغه وخت زما خور سنګین ته واده شوې وه او د سنګین دوې خویندې یوه زما ورور ته واده او بله ما ته کوژدن شوې وه.

ډینجر تبلیغي ته وکتل:

دا کس پېژنې؟

تبلیغي زه نه پېژندلم، را و یې کتل، بیا یې وپوښتل:

نه، څوک دی؟

-دا ډېر مهم کس دی، بیا به یې زه درته معرفي کړم.

ما ډینجر ته وویل:

وروسته چې ما ورته معرفي کوې تر هغې دا ښه ده چې دواړه یو بل ته مخامخ معرفي کړې، هم به ما وپېژني او هم به دی مخامخ وپېژنم.

ډینجر وویل:

دا کس د ګربزو ولسوالۍ اوسېدونکی او یو مخلص مجاهد دی، د ده تر قوماندې لاندې زیات شمېر چریکي مجاهدین د خوست په ښار کې فعالیت کوي.

د ډینجر د خبرو له اورېدو وروسته مې تبلیغي ته ځیر ځیر وکتل. دا لومړی ځل و چې د دې نړدې سیمې له یو برحاله مجاهد سره مې وپېژندل. ما ته دا صحنه خیال ښکاره شوه، ځکه چې هغه مهال هیڅ د امریکا او د هغوی د جاسوسانو له وېرې چا ته داسې تعارف نه شوای کولای.

Download more from Libtoon.com

تبلیغي له ډینجر څخه وپوښتل:
دا ووایه چې زه دې ولې داسې ډاډه ور معرفي کړم، اوس دې هم رامعرفي کړه
چې څوک او څه کاره دی؟
ډینجر تبلیغي ته مخ ور واړاوه:
-دا ځوان د مولوي سنګین د کورنۍ غړی دی، کوم شپه لیکونه چې تا
راسپارلي وو، هغه کار د دغه ځوان و چې د خوست په ښار او کلیو کې یې
خپاره کړل.
د ډینجر دا خبرې لا تمامې شوې نه وې چې تبلیغي دویم ځل غېږه راکړه،
زیات خوشاله وو. دواړه څنګ په څنګ کېناستو، پوښتنه یې وکړه:
ملا سنګین څنګه دی؟ حال ورسره لرې؟
ما چې دا ډېر وخت لالا نه و لیدلی، خو امیر صاحب ته مې ځان کم نه
شوای راوستلای، ځواب مې ورکړ:
ښه دی خو مخامخ رابطه مو نه سره کېږي، وضعیت سره سم نه دی.
د تبلیغي ټینګار دا و چې له هیچا سره راز شریک نه کړم او باید زیات احتیاط
وشي. له یو بل سره مو د موبایل شمېرې تبادله کړې، وروسته یې راته وویل
چې له موږ سره د عملیاتو لپاره د وسایلو کمبود دی او زه پوه شوم چې د
وسایلو کمبود ته پوره کولای شې.
-څه ډول وسایل؟ ما پوښتنه وکړه.
هغه وویل:
که له مولوي سنګین څخه راته د مقناطیسي ماینونو په پیدا کولو کې مرسته
وکړې، هغه ستا خبره ضرور مني.
تبلیغي ته دا معلومات نه وو چې څو کاله وړاندې چې سنګین له بیت الله

Download more from Libtoon.com

مسید سره یو ځای زموږ له کوره رخصت شوي، اوس کلونه وتلي دي چې بیا مو یو او بل نه دي لیدلي. د وسایلو تړې غوښتل هم ما ته سخت و، ځکه زه یې د کورنۍ غړی وم او که مې په دې اړه څه ورته ویلي وای، خامخا یې منع کولم.

خو بیا مې هم تبلیغي ته ډاډ ورکړ چې ته بې غمه شه چې له هرې لارې کېږي ستا پیغام پخپله مولوي سنګین ته رسوم.

ډینجر میموري کارډ تبلیغي ته وسپاره او نور هغه رخصت واخیست، پخپله مخه ولاړ.

Download more from Libtoon.com

○○○

د لالا د جنګ ویډیو ما هم نه وه لیدلې، ډینجر ته مې وویل چې ته د مولوي صاحب ویډیو پلې کړه. د ویډیو له پلې کولو سره مې ولیدل چې په د برق په پایو پسې خلک را ځړول شوي، د ځینو سرونه غوڅ شوي او ځینې سرچپه را ځوړند وو...

بدن مې زیږ شو، لکه ریږدېدم چې، له ډینجره مې په تلواره وپوښتل:

دا څه حال دی؟ دا څوک دي؟ ولې؟

ډینجر وویل:

ولې دا ویډیو تا نه ده لیدلې؟

ـ نه نه!

ـ دا په وزیرستان کې د حکیم خان بدماش کسان دي، ستاسې مولوي سنګین یې کار ور خلاص کړی.

ـ ښه ښا!، دا هغه خلک دي!؟

ډینجر په خوشالي وویل:

هو هو دا هغه بلاوې دي!

د ویډیو له کتلو وروسته مې بېرته یو څه حواس پر ځای شول، ما د دغو

Download more from Libtoon.com

بدماشانو کیسې هغه وخت اوربدلې وې چې کور مو په وزیرستان کې و او زه ډېر ماشوم وم.

ویډیو چې ختمه شوه، فکر مې وکړ چې باید یو ښه کیمره لرونکی موبایل پیدا کړم چې هر وخت پکې د لالا د عملیاتو ویډیوګانې وګورم.

Download more from Libtoon.com

## د دوو خویندو میړه؛

په وزیرستان کې د سنګین او بدماشانو ټکر

له افغانستانه د شورویانو تر وتلو وروسته په قبایلي سیمو (FATA) کې یوازې د مجاهدینو تنظیمونه نه وو، بلکې تر څنګ یې د ځایي بدماشانو باندونه هم پیدا شوي وو.

حکیم خان هم یوه داسې ډله لرله چې د ډول ډول سپکو او درنو وسلو تر څنګ یې تر شا د پاکستان د پټو ادارو لاسونه هم وو.

دې ډلې د مهاجرینو تر څنګ د هغه ځای د عامو خلکو ژوند هم تریخ کړی و، هیڅ داسې غیرانساني او ناوړه عمل نه و چې دوی لاس نه و وربانده‌ې پورې کړی. د دوی له لاسه په شمالي وزیرستان کې د هیچا سر، مال، ناموس او... خوندي نه وو. سیار پاټکونه یې جوړ کړي وو او شپه ورځ به یې له خلکو د ټوپک په زور د مالیې په نامه شوکې کولې. که به چا د پیسو د کمولو زارۍ کولې، دوی به وربانده‌ې دوه چنده کولې، څکه خو خلک مجبور شوي وو چې له اولې خبرې سره سم یې په ورین تندي ورکړي.

یوازې په همدې یې بسنه نه کوله، په میرانشاه کې یې د مخدره موادو د پېر و پلور او پروسس مرکزونه جوړ کړي وو.

Download more from Libtoon.com

انسان تښتونه هم هغه لاره وه چې دوی خپلې خطرناکې منګولې ور غځولې وې. تر دې وروسته يې لاسونه د خلکو عزت ته هم ور اوږده شول. کله چې به د دوی پر پاټک د کوم واده موټر ور برابر شول، دوی به زور د ناوې مخ او لاسونه ورباندې ښکاره کول.

د حکيم خان ورور شېر علي هغه څوک و چې وزيرستانيانو ته يې د نوم په اورېدو کانګې ورتلې. ده په زور د يوه افغان مهاجر خور وکړه. د دوی له ډاره نه قومي مشرانو او نه ځايي حکومتي ادارو سر پسې وګرځاوه. د دوی ډله تر هغه مخکې لا فعاله وه چې افغانستان ته امريکايان راشي. د زوړ امارت تر ماتېدو وروسته چې کله مجاهدينو قبايلي سيمو ته پناه راوړه، همدغو بدماشانو به له همدې تش لاسو مهاجرينو په خپلو چيک پوانيټونو پيسې اخيستې او ځورول يې. ځينې بهرني مجاهدين يې پاکستاني حکومت ته هم په لاس ورکول چې بيا په امريکا باندې د القاعده د مهمو غړيو په نامه خرڅېدل.

په ځينو چيک پوايټونو کې به دوی له خلکو بوټونه هم وايستل او همداسې لوڅې پښې به يې وشړل.

په خپل عيش او عشرت کې داسې ډوب و چې په هيڅ يې سترګه نه ډکېده.

د حکيم خان مخکښ ملګري حضرت علي پيرکوټي د يوه سړي دوې لوڼې په يوه وار ځان ته واده کړې وې، خو بيا هم داسې څوک نه و چې لاس يې ونيسي.

کله کله به د نشې په حالت کې بازار ته راووتل، په نه خبره به يې له چا سره جنجال جوړ کړ او بيا به يې په عام بازار کې ضربې وکړې. مړي او زخميان به بې پوښتنې يوې او بلې خوا ته ولوېدل.

دا وخت په شمالي وزيرستان کې په پټه د امريکا په خلاف د مجاهدينو د

Download more from Libtoon.com

انسجام لري په ټینګېدو وه، مولوي سنګین د هغو قوماندانو له ډلې و چې ملګري یې پیدا کړي او افغانستان ته د جهادي تشکیلونو لېږل پیل کړي وو. دا چې په افغانستان کې د چاپو او ژمي له وجهې ګوزاره سخته وه، مجاهدین به بېرته همدلته راتلل.

اوس چې مجاهدین یو څه په پښو درېدلي وو، څکه خو به یې وخت پر وخت د بدماشانو د کړنو په اړه د بې زغمه کېدو خبرې کولې.

په ۲۰۰۵م کال کې خلیفه سراج الدین حقاني خپل مهم قوماندانان را وغوښتل او د دې بدماشانو په اړه یې ترې وپوښتل چې اوس موږ کومه لاره اختیار کړو. که ټکر کېږي، هغوی هم په منظم قوت اوښتي دي، مجاهدین به لا زیات په سرخوږي واوړي. په دې وخت کې چې به څا څلور یا پنځه کسه هم لرل، قوماندان بلل کېده.

مولوي سنګین په همدې مجلس کې حقاني صاحب ته وویل چې دوی ظاهراً زما ډېر درناوی کوي، که داسې وي چې له منځه یې وړو؛ نو تاسې یې په یو ډول له ما سره په جنجال کې ښکېل کړئ.

دلته هر قوماندان بېل بېل نظر درلود، خو دا خبره د مناسب پلان د جوړولو په خاطر بلې ورځې ته پاتې شوه.

غرمه مولوي سنګین له خپلو څلورو ملګرو سره ګډ د خپل بل ملګري سعدالدین مېلمه شو.

له ډوډۍ وروسته سعدالدین ورته وویل:

خوښه دې نه ده چې دا سرف موټر په ډاټسن در بدل کړو، څکه په غرنیو سیمو کې کمک‌داره ډاټسن ډېر ښه وي.

اسحاق د دوی بل ملګری و، هغه هم دا خبره تایید کړه:

Download more from Libtoon.com

مولوي صاحب بالکل سم درته وايي.
مولوي سنګين وروځې پورته کش کړې:
بیا څه ته ګورې؟ بسم الله کړه، ځئ چې بارګین ته څو.
مازدیګر لا ډېر نېږدې نه و، درې واړه میرانشاه ته روان شول. د درپه‌خېل عیدګاه ته چې ورسېدل، په لاره کې د حکیم خان پاټکیانو یو فلاینګ کوچ موټر درولی و. اسحاق مولوي سنګين ته مخ کړ:
دا خو د سعدالدین د ورور نصیرالدین موټر دی!
د پاټک جمپ ته په رسېدو اسحاق او سعدالدین کوز شول، مولوي صاحب ځان پناه کړ. دی پوهېده چې که ما وپېژني، شاید زما په خاطر ځان بې غرضه ونه‌یي.
د حکیم خان د ډلې یو قطاع الطریق چړچکې نومېده، په سړک ولاړ و او دوی د موټر د پرېښودو خبرې ورسره کولې.
خبرو نتيجه نه لرله، چړچکې پیسې غوښتې او له دوا دغه ډک موټر یې نه خوشې کاوه.
سنګين درک کړه چې موقع همدا ده. اسحاق او سعدالدین هم چړچکې ته مورچه شول او سنګين موټر را رهي کړ چې تر جمپ ور ها خوا یې ودروي. د موټر په حرکت سره بدماشانو ډزې پرې وکړې او دلته یې سعدالدین، د هغه موټروان ورور نصیرالدین او اسحاق وویشتل او ځای پر ځای شهیدان شول.
سنګين په ټپي حالت کې له موټره ټوپ کړل، را کوز شو او جګړه یې پیل کړه. پر بدماشانو ضربې وچلېدې، په متقابلو ډزو کې اووه تنه بدماشان له یوې مخې ورېبل شول.
دلته جګړه روانه وه چې سیمې ته نږدې د سنګين مجاهدین ملګري را

Download more from Libtoon.com

ورسبدل، سمدلاسه یې دی موټر تـه پورتـه او شـهزاده کـوټ کلـي تـه انتقـال کـړ.
لـه هغـه ځایـه یـې لـه شـمالي وزیرسـتانه د مجاهدینـو ځایـي قوماندانانـو تـه حـال ورکـړ، را و یـې غوښـتل او پـر بدماشـانو یـې د پراخـو عملیاتـو امـر ورکـړ، دا یـې هـم ورتـه وویـل چـې د بنـو لارې ونیسـئ، درنـه و نـه تښـتي.
د سـنګین پښـه پـه همـدې کلیوالـي سیمه کـې ور پانسـمان کـړل شـوې وه او ورو ورو حرکـت یـې وربانـدې کـولای شـو. کـه څـه هـم دومـره زخمـي نـه و، خـو ملګـرو یـې د میرانشـاه روغتـون تـه روان کـړ.
همالتـه پـه روغتـون کـې د خلیفـه صاحـب لـه خـوا حـال ورتـه راغـی چـې ځـان کـور تـه ورسـوه او اسـتراحت وکـړه، خـو د ده ځـواب دا و چـې څـو د دوی تخـم ورکـ نـه کـړم، نـه ځـم.
کـه څـه هـم د خلیفـه صاحـب پـه ټینـګار کـور تـه لاړ، مګـر دا جګـړه یـې لـه کـوره رهبـري کـړه. درې ورځـې وروسـته د حکیـم خـان پـه کـور کـې حضـرت علـي پیرکوټـی مورچـه و، مجاهدینـو درنـې وسـلې نـه پـرې کارولـې، ځکـه پـه کـور کـې یـې ښـځې او ماشـومان وو.
بالاخـره یـې جګـړې حوصلـه ماتـه کـړه او لـه خپـل لغړزنـي هلـک سـره مجبـور شـو چـې وسـله کېـږدي او پـه جګـو کـړو لاسـونو د مجاهدینـو قومانـدان عبدالمنان احمـد تـه راووځـي.
دباندې مجاهدینو دواړه ونیول او بیا یې حلال کړل.
مجاهدیـن همدلتـه خبـر شـول چـې پخپلـه حکیـم خـان پـه کـور کـې نـه شـته، د بنـو پـه کـوم زنـدان کـې بنـدي شـوی دی. دا کیسـه عامـه وه، ظاهـراً بـه حکومـت بندیـان کـړل، مګـر د پټـو ادارو قـوت دومـره ډېـر و چـې بلـه ورځ بـه ببرتـه هماغـه اش او کاسـه وه.

Download more from Libtoon.com

د سنګين په امر دا پيل شوي عمليات د شاوخوا ۲۲ بدماشانو په وژلو سره پای ته ورسېدل.

څه موده وروسته چې حکيم خان کومه ورځ له زندانه را خوشې شو، په دروازه کې نامعلومه کسانو وويشت او ځای په ځای ووژل شو.

د بدماشانو د دې باندې تر ختمېدو وروسته، که څه هم هلته د مجاهدينو فعاليتونه ښکاره شول او د خلکو په زړه کې مينه ورسره زياته شوه، خو بل لور ته دې چارې په وزيرستان کې د سنګين ګوزاره لا سخته کړه، ځکه خو له خپلې کورنۍ سره ګډ له شمالي وزيرستانه د جنوبي وزيرستان مسيدو ته وکوچېد.

د بدماشانو دغه کور تر پايه د سنګين نظامي مرکز او نمايندګي وه، د مدرسې دغه طالب نور په دې سيمه کې په مولوي سنګين بدل شوی و.

Download more from Libtoon.com

# نوې نړۍ

شپې ورځې تېرېدې، زما او د تبليغي امير تر منځ رابطه ورځ تر بلې زياتېده او وخت پر وخت به مو د يو و بل د حال احوال پوښتنه کوله. يو مازديگر تبليغي زنګ راته وواهه چې نن شپه مو کار برابر کړی دی، که راغلې ساعت به دې تېر شي او هم به نور ملګري وپېژنې. دا وخت مې تازه د ځوانۍ پر درشل ګام ايښی و.

له کوره مې په څه بهانه اجازه واخيسته، د ماښام ډوډۍ ته مې ځان په ګربز ولسوالي کې د تبليغي امير کور ته ورساوه.په حجره کې يې نور ځوانان هم ناست وو چې شمېر يې دوولسو تنو ته رسېده. تر سترې مه شې وروسته تبليغي زه دوی او دوی ما ته معرفي کړل او بيا يې زياته کړه:

دا ټول مجاهدين او زما ملګري دي، نن شپه مونږ د سړک پر غاړه امريکايانو ته ماين ږدو. ستا په اړه مې لا پرون يارانو ته ويلي وو، څکه دا ټول باوري ملګري دي، زمونږ مشوره پر دې شوې چې ته هم بايد راسره يې، زمونږ کار له نېږدې ووينې او مولوي صاحب ته يې ورسوې چې مونږ د وسايلو په نيستي کې بيا هم څومره زيار ګالو او څومره مهم کارونه کوو.

ما مخکې له دې چې فکر وکړم، پوره داډ ورکړ او خبرې مې پيل کړې:

Download more from Libtoon.com

زیات خوند یې وکړ چې په عملي جهاد کې درسره شریک شوم، ستاسې کار به له نږدې ووینم.

له ډوډۍ وروسته مو په جماعت د ماخستن لمونځ وکړ، تبلیغي له کوره خپل روسی کلاشنکوف راوایست، پر ټولو ملګرو یې د تیارسئ غږ وکړ، ملګرو سمدلاسه مخونه په دسمالونو داسې وتړل چې صرف سترګې یې ښکارېدې. له ما سره دسمال نه و، مخ مې د تبلیغي په څادر د دوی په څېر پټ کړ، تبلیغي راته وویل که کوم څوک نږدې دربانډې راغلل او د څراغ رڼا دربانډې ولګېده بیا مکمل ځان په څادر پټ کړه چې و نه پېژندل شې.

د تبلیغي له کوره مو پلی مزل شروع کړ، تقریباً پوره نیم ساعت مزل مو په پټیو کې وکړ، وروسته سړک ته ورسېدو. تبلیغي ملګري یو او بل خوا تقسیم کړل، څو تنه ملګري د ماین د ځای پر ځای کولو په کار لګیا شول، زه له سړک سره نږدې د امیر صاحب تر څنګ ولاړ وم او شاوخوا سیمه مې څارله. ترورمۍ خوره وه هیڅ نه لیدل کېدل، صرف د سپیو غپا مو اورېده، په نږدې پټیو کې د چونګښو اواز به شکمن کړو چې د ګزمې عسکر نه وي او هغوی به اوازونه کوي، بیا به متوجه شوو چې د چونګښو غږ دی.

د ماین ځای پر ځای کولو شل دقیقې وخت ونیو، ملګرو غږ وکړ:

کار خلاص شو امیر صاحب، ځو به!

ټول د تبلیغي کره روان شوو. کلي ته په نږدې کېدو یې ټول ملګري ودرول او هر یوه ته یې خپل کور ته د تګ اجازه ورکړه، صرف زه له تبلیغي سره روان شوم. شپه مې له هغه سره وکړه، د سهار له چای څښلو وروسته یو ځای ښار ته په موټرسایکل لاړو. سړک ته مې هیڅ پام نه و چې بېګاه مو ماین چېرته ځای پر ځای کړی دی، خو شمل پله ته په رسېدو پوه شوم

Download more from Libtoon.com

چې لار بنده او پوليس ولاړ دي.

کله چې پوليسو ته ور نږدې شوو يوه عسکر وويل:

د وړاندې تګ اجازه نه شته، د سړک پر غاړه ماين ايښودل شوی دی، د انجنيري ټيم راغلی خنثی کوي يې. صبر وکړئ، مخ ته مه ورځئ.

د پوليس له خبرو وروسته تبليغي ما ته غلي وويل:

بېګانې خواري مو اوبو يووړه!

اسوېلی يې وکړ، بيا يې خبره وغځوله:

موږ څومره خواري وکړه او د امريکايي تالي څټي جاسوسان ورته لارې ښاري او زموږ خواري د پنځو ډالرو د لاس ته راوړلو په خاطر په اوبو لاهو کوي...!

ماين لا نه و خنثی شوی، موږ بېرته موټرسايکل ته پورته شوو او د کلي پر يوه فرعي لار مو ځانونه ښار ته وايستل.

زه او تبليغي په ښار کې له يو بله رخصت شوو، هغه خپله مخه ونيوه او زه ښوونځي ته لاړم.

په دې ورځو کې مې نور د ښوونځي له درسونو زړه تور شوی و، جهادي فعاليتونو ته مې کار ووايه. پخپله په لومړيتوب راته بدلېدل، نور نو په کور کې ښوونځی ښه بهانه وه، خو زه به په جهادي فعاليتونو وتلم. يوې نوې نړۍ ته ننوتلی وم.

Download more from Libtoon.com

## سټړي چريکيان

په خوست کې د تبليغي امير صاحب په واسطه له داخلي مجاهدينو سره زما اړيکې ورځ تر بلې پراخېدې، ټولو مجاهدينو په دې خاطر احترام راته درلود چې زه د مولوي سنگين نږدې خپل وم، خو زما له مولوي سنگين سره د جهادي فعاليتونو په اړه هيڅ ډول رابطه نه وه. زه وېرېدم چې که هغه رابانددې خبر شي خامخا به مې منع کړي، ځکه زما عمر او تجربه کمه وه، خو له بلال سره په اړيکه کې وم. بلال تر سنگين کشر د دوی درېيم ورور او راز مې ورسره شريک و.

د سنگين گروپ په دې وختونو کې د فاتح کاروان په نامه مشهور و، بلال هم د يوه قوماندان په حيث فعاليت پکې کاوه. پر جهادي فعاليتونو او گډ هدف سربېره زموږ تر منځ د خپلوۍ رشتې پر يو او بل زموږ باور نور هم پوخ کړی و. په رابطه کې هم کوم مشکل نه و، يو او بل مو په اسانۍ پيدا کولای شول، کومو وسايلو ته به چې زما يا زما د ملگرو ضرورت شو، زما غږ به پر بلال و، ده او نورو ټولو له موږ ځانونه نه سپمول. له شمالي وزيرستان څخه به يې خوست ته وسايل په پټو لارو را لېږل او تر موږ را رسول.

Download more from Libtoon.com

مـوږ څو نفرو چریکیانـو د خوسـت پـه ښار کې دننـه فعالیت پیـل کـړی و، پـه داسې حـال کې چې امریکایـي ځواکونـو د دا ډول مجاهدینـو د پیـدا کولـو لپاره شـپه ورځ یـوه کـړې وه، د دوی لـه پېژندلـو وروسـته یـې سمدلاسـه د دوی پـر کورونـو چاپې وهلـې او دا ډول مجاهدیـن بـه یـې پـه کورونـو کې دننـه شـهیدانول. کلـه کلـه بـه ورسـره د کورنـۍ نـورو غـړو تـه هـم زیـان رسـېده، مګـر مـوږ د همـدې احسـاس لـه مخـې چې د وطـن د ازادۍ جګـړه کـوو، دا ډول خطرونـه لـه پامـه غورځولـي وو، مخـه مـو کار تـه وه. پوهېـدو چې کـه پـه دې سـپېڅلې لار کې شـهیدان شـوو افغـان ولـس بـه راپانـدې ویـاړ کـوي او د افغانسـتان پـه تاریـخ کې بـه مـو نومونـه او کارنامې پـه زرینـو کرښـو ولیـکل شـي.

Download more from Libtoon.com

○○○

د خوست ښار په زاړه مارکېټ کې زموږ د یوه خیاط ملګري عبدالله خان کوټه وه، له هغه سره زما پېژندګلوي د یوه نـږدې ملګري کتاب خان په وسیله شوې وه. کتاب او عبدالله خان یو ځای په همدې کوټه کې خیاطي کوله، عبدالله خان ګلدوز و، د نارینه وو د جامو غاړې به یې ډېرې ښایسته ګلدوزي کولې. په قوم ځدراڼ او په نادرشاه کوټ ولسوالۍ کې اوسېده. له جهاد او مجاهدینو سره یې د زړه له کومې مینه لرله، ځکه خو د ده کوټه د ښار په زړه کې په یوه پټ جهادي مرکز بدله شوه، موږ دې کوټې ته پټ تګ راتګ هم نه کاوه، بلکې ښکاره به تلو او راتلو.

د ځوانۍ مرحله وه، د هیڅ ډول خطر پروا مو نه کوله. زموږ په تګ راتګ سربېره عبدالله خان په خپله کوټه کې د موټر ټیپ او غټ لوډسپیکر نصب کړی و چې ښه په داده زړه یې پکې د مجاهدینو ترانې غږولې.

د عبدالله خان په ګاونډ کې د یوه بل خیاط کوټه وه، د هغه کوټې ته به بیا د رخصتیو پر مهال د KPF عسکرو تګ راتګ کاوه، موږ یې ښه

Download more from Libtoon.com

پېژندلو، خو د شخصي پېژندګلوي پر اساس یې مشکل نه راته جوړاوه، یا یې له موږ ډار درلود چې د مشکل له جوړولو وروسته به بیا مجاهدین موږ یا هم زموږ کورنیو ته کوم زیان ورسوي.

د عبدالله خان د خیاطۍ کوټې په لږ وخت کې د طالبانو د کوټې په نوم شهرت پیدا کړ او ټولو دوکاندارنو د طالبانو د کوټې په نامه پېژندله. دې کوټې ته به له تشکیلونو راستانه شوي مجاهدین هم راتلل چې د ښاري خلکو په څېر لباس به یې کړي و. هر مجاهد به چې دې کوټې ته راورسېد د سنګر ټوله ستړیا به یې یو دم ورکه شوه، داسې احساس به یې کاوه لکه خپل کور ته چې رارسېدلی وي، همدلته به یې له ښاري چریکي مجاهدینو سره د سنګر سړې تودې شریکولې.

زموږ د جهادي فعالیت د ضرورت وړ ټول وسایل په همدې کوټه کې خوندي ایښي وو، له همدې ځایه به مو مجاهدینو ته د فعالیتونو لپاره ورکول.

درې کاله ووتل چې موږ د عبدالله خان له کوټې جهادي فعالیتونه پلانول او سر ته رسول، له عبدالله خان څخه په دریو کلونو کې یوه ورځ هم موږ پر دې پوه نه شوو چې دی ووایي:

خدای مه کړه ستاسې په سر کوم جنجال راته جوړ نه شي!

Download more from Libtoon.com

# د وزیرستان شپه

زموږ کورنۍ له وزیرستانه بېرته خوست ته په ۲۰۰۱ کې راګرځېدلې وه، وزیرستان زما د خاپوړو وطن و. هره کیسه چې به یې راته کېده ډېر مې په زړه اوربېده. اوس نو زما د مولوي سنګین تر څنګ ګرځېدلو ته هم زړه پکې کېده.

دا وخت په وزیرستان کې د امریکا خلاف د مجاهدینو جلب او جذب، فعالیتونه په ښکاره ښه په جوش کې روان وو، ځکه خو پلار وزیرستان ته د تګ اجازه نه راکوله. هغه پوهېده چې که مې د مولوي سنګین د خولې اوبه وڅښلې، بیا کور ته د راګرځېدو نه یم.

پلار مې د وزیرستان حالات له نږدې لیدلي وو، هغه وخت پر وخت د مولوي سنګین کره تلو راتلو.

اوس نو ګلالۍ موده وتلې وه، زما واده هم شوی و، خو واده مو د خلکو له وېرې داسې پټ تېر کړ چې هیڅ کلیوال پرې خبر نه شو. موږ وېرېدو چې هسې نه امریکایانو ته له مولوي سنګین سره زموږ د خپلوۍ په اړه معلومات وشي.

وزیرستان ته مې د تلو تلوسه ورځ تر بلې زیاتېده، زموږ یوه خور په بنو کې اوسېده، دا ښه بهانه کېدای شوه چې د خور لیدو ته ځم. د دې بهانې زړه مې هم اول مور ته وکړ.

Download more from Libtoon.com

مور مې وویل:

له پلار سره به دې مشوره وکړم.

پلار چې زما د تګ له ارادې خبر شو اجازه یې را نه کړه، خو وروسته په دې شرط راضي شو چې په وزیرستان کې به شپه نه کوم، مخامخ به بنو ته ځان رسوم.

سهار وختي مې خپل بکس په لاس کې نیولی و او د غلام خان په اډه کې په یوه سپین‌رنګه سراچه کې کېناستم. د سوارلۍ تر پوره کېدو وروسته موټر د غلام خان پر لور حرکت وکړ.

په لار کې څو ځله د امریکایانو او ملي اردو له چیک پواینټونو سره مخ شوو، خو له تالاشۍ او پوښتنو ګروېږنو وروسته به یې د وړاندې تګ اجازه راکړه، د تګ د هدف په اړه به یې چې رانه پوښتنه وکړه، ما دوی ته هم همدغه بهانه کوله چې کور ته مې کړې وه. زه د خور کره روان وم.

د کمپاین پر چیک پواینټ یوه عسکر راته وویل:

ګوره په وزیرستان کې څوک ستن درته ونه لګوي، ځانمرګی نه شې!

دوی به فدایي ته ځانمرګی ویل، خو زه په زړه کې داډمن وم چې فدایي هغه څوک دی چې د دین د سرلوړۍ او د وطن د ازادۍ په خاطر په خپل ځان پورې بارود تړي او امریکایي ځواکونو ته په رسېدو ځان الوځوي.

په لاره کې د تالاشیو له امله زموږ سفر څو ساعته وخت ونیو، کله چې موټروان پر سړک چپ لاس ونیو پوه شوم چې محکوم وطن «پښتونخوا» ته واوښتو. موټر ګړندی روان و، ډېر ژر میرانشاه بازار ته ورسېدو، له رسېدو سره سم په دې فکر کې شوم چې اوس بنو ته لاړ شم او که د بلال دوی کره؟

سره له دې چې ډېر دوه‌زړی وم، خو د رزمک اډې پر لور مې حرکت پیل

Download more from Libtoon.com

کړ، دلته زموږ د کلیوالو د لیلام فروشۍ دوکانونه ما په ماشومتوب کې لیدلي وو، فکر مې وکړ چې هغوی ته به خامخا د مولوي صاحب د کور معلومات وي چې چېرې اوسي؟

ما ته دا معلومات وو چې مولوي صاحب د امنيتي دلايلو له امله کور څو ځایه بدل رابدل کړی دی، پرېکړه مې وکړه چې نن شپه باید په شمالي وزیرستان کې د مولوي صاحب کور پیدا کړم.

له خوسته مې له بلال سره اړیکه وه، خو دا څه وخت مو اړیکه پرې شوې وه، هیڅ خبر نه وم چې اوس چېرته او په څه مصروف دی.

د لیلام دوکانونو ته چې ورسېدم، ناڅاپه مې په یوه دوکان کې پر فاروق سترګې ولګېدې، فاروق د مولوي صاحب کشر ورور و. هغه زما په لیدو بېخي حیران او سم دلاسه راولاړ شو:

اوهووو دا ته یې؟

ما ورته وخندل:

هو دا زه یم! راغلم.

ټینګه غېږ یې رانه چاپېره کړه، څو شېبې مو یو بل په غېږ کې کلک نیولي وو.

فاروق زما د کوچنیوالي ملګری و، زه او دی به اکثره وخت یو ځای ګرځېدو.

له روغبړه وروسته مو په یو او بل کې سترګې داسې نیولې وې لکه دوه عاشقان چې له کلونو بېلتون وروسته یو ځای شوي وي، وروسته مې په دوکان کې له نورو ناستو کسانو سره روغبړ وکړ.

په فاروق کې بېخي زیات بدلون راغلی و، هغه اول ځل خوست ته ماشوم راغلی و، بیا کلونه ووتل چې یو او بل مو نه وو لیدلي. څو کاله وروسته نن زما او د ده بیا ملاقات وشو، خو فاروق اوس ډېر لوی شوی و، نوراني مخ

Download more from Libtoon.com

ته یې نریو تورو برېتو، نرمې بږیرې او پر اوږه پرتو گوړگوتو څڼو ځانگړې
ښکلا ور ښښلې وه.

دوکاندار زما له راتگه وړاندې چای راوړی و، ما ته یې هم د شنه چای یوه
پیاله ډکه کړه، پر چای مې له فاروق سره مجلس هم کاوه. هغه په خبرو
خبرو کې وویل چې اوس یې کور محمدخېلو ته کډه شوی او دی میرانشاه
بازار ته په هونډا جاپانې موټر سایکل ځي راځي.

فاروق ته مې وویل:

زه له کوره په دې شرط راغلی یم چې په وزیرستان کې به شپه نه کوم او بنو
ته به ځان رسوم، غواړم ستاسې کره صرف د خپلې خور دیدن وکړم، نور
شپه بنو ته د هغې بلې خور کره رسوم.

زما د خبرو پر اورېدو فاروق په کړس کړس وخندل:

یو خو تاسې د خوست والا دومره ډارېږئ چې په خوله د وزیرستان نوم نه
شئ اخیستلای، هیڅ هم نه شته یاره مه وارخطا کېږه. ملاتړلي ځوانان په
سنگرونو کې له یرغلگرو سره پر جگړه بوخت دي، وطن به ژر د دوی له
منگولو ازاد شي، بیا به تاسې سلامونه رالېږئ او موږ به مو سلام نه اخلو.

ما هم په خندا ور غبرگه کړه:

خدای دې په تاسې افغانستان فتح کړي، بیا موږ مه پېژنئ، پروا نه لري.

په دوکان کې مو زیات مجلس وکړ.

فاروق ساعت ته وکتل:

د لمانځه وخت دی راځه جومات ته لاړ شو، چې لمونځونه ادا کړو بیا به له
خیره کور ته ځو.

ما بکس راواخیست او فاروق د دوکان په کونج کې دېوال ته درول شوی

Download more from Libtoon.com

کلاشنکوف اوړې تـه واچـاوه او لـه ناسـتو کسـانو رخصـت شـوو.
فاروق وړانـدې او زه لـه شا پسـې روان وم، موټرسـایکل تـه پـه رسـېدو یـې ټوپـک
مـا تـه راکـړ. دی وړانـدې او زه ورپسـې شا تـه کېناسـتم.
لـه ټوپـک سـره مـې تـر دې مخکـې یـوازې مینـه زیاتـه کـړې وه، خـو تـر دې دمـه
مـې پـه عـام بـازار کـې اوږې تـه اچولـی نـه و. پـر اوږه ځوړنـد ټوپـک غـرور دومره
را زیـات کـړی و چـې فکـر مـې کاوه ټـول بـازار مـا تـه ګـوري او زمـا پـه تورزنـی
مجلسـونه کـوي. کـه دا ډول پـه خوسـت کـې د امریکایانـو پـر کـوم کتـار برابـر
شـوی وای، فکـر مـې نـه کاوه چـې د ټوپـک پـه شـاجور کـې مـې کومـه مرمـۍ
پرېښـې وای، همالتـه مـې ټولـې ضربـه کولـې...
کلـه چـې بـه موټرسـایکل جمـپ وخـوړ پـه ځنـګ کـې د ټوپـک شـاجور
بـه شـرنګ وکـړ، دې شـرنګا داسـې خونـد راکاوه چـې مـا پـه هیـڅ شـي کـې
نـه و لیدلـی. پـه بـازار کـې تـر لـږ مـزل وروسـته فـاروق راتـه وویـل چـې
ناوختـه کېـږي، پـه لار کـې بـه چېرتـه لمونځونـه وکـړو. مـا ورتـه وویـل چـې
واک سـتا دی، کـه دلتـه یـې ادا کـوې او کـه پـه لار کـې او د لارې معلومـات
هـم مـا تـه نـه کېـږي.
د خلکـو پـه ګڼـه ګوڼـه کـې مـو ورو ورو ځانونـه سـره ګېـټ تـه ورسـول، کلـه چـې
عمومـي سـړک تـه ووتلـو فـاروق د موټرسـایکل ښـکر غـرب لـور تـه تـاو کـړل
او د امیـن پیکـټ خـوا تـه مـو مـزل شـروع کـړ. دا یـوه مشـهوره پوسـته وه چـې د
میرانشـاه بـازار لوېدیـځ لـور تـه یـې پـر یـوه کوچنـۍ غونـډۍ موقعیـت درلـود.
ما فاروق ته وویل:
د ملېشې والا خو به په وسله څه نه وایي ؟
د موټرسایکل په غوړا کې مې د هغه ځواب سهي کړ:

Download more from Libtoon.com

دلته مو له دوی زامن جوړ کړي دي، له ډاره له خپلې پوستې نه شي راکوزېدلای...
په همدې خبرو کې تر امین پیکټ تېر شوو، دغه پیکټ له بازار سره نږدې په یو کیلومتري کې و، له پوستې د تېرېدلو پر مهال مې وکتل چې د تالاشۍ لپاره هیڅ عسکر نه شته.
فاروق ته مې په لوړ غږ وویل:
کور ته زیات مزل پاتې دی که لږ؟
-کور مو له بویې پول سره نږدې په لنډه محمدخېل کې دی، له بازاره څکه وختي راغلم چې په کلي کې له ځوانانو سره فوټبال کوم. په کور کې به مجلس وکړو او بیا به یو ځای فوټبال ته لاړ شو.
پر لاره مو د کوچنیوالي د خاطرو تر څنګ پر روانو حالاتو هم خبرې سره کولې. ما د خوست حالات ورته بیانول او ده د وزیرستان کیسې راته کولې.
له ده مې واورېدل چې طالبان ورځ تر بلې قوي کېږي، مولوي صاحب د امارت له خوا د پکتیکا عمومي نظامي مسوول ټاکل شوی دی، ملګري یې هر وخت په پکتیکا کې پر امریکایي ځواکونو تعرضونه کوي او پر کتارونو کمینونه وهي. د ده له خبرو سره مې د وجود وېښتان نېغ شول، له ځان سره مې ویل چې کاشکې داسې ورځ ژر راشي چې زه هم له دوی سره یو ځای په سنګر کې یم، له امریکایانو سره جنګېږم.
لنډه‌محمدخېل ته په رسېدو فاروق موټر سایکل چپ لاس ته تاو کړ او د یوه خوړ تر څنګ له لمانځه وروسته مخ پر لوړ د کلیو په کوڅو کې روان وو. شاوخوا درې بجې وې چې له کوڅو په یوه صحرا کې د دوی ختیځ کور ته ورسېدو، زه حیران شوم چې د یوه ولایت والي او په داسې ختیځ کور کې اوسېدل!؟

Download more from Libtoon.com

فاروق وخندل:

ته د مجاهدینو مشران په افغانستان کې له واکمنو چارواکو سره مه مقایسه کوه! اوس به په خپلو سترګو هر څه ووینې.

مور له یو بل سره پر خبرو بوخت وو چې د فاروق کوچني ورور یحیی دروازه خلاصه کړه، زما په لیدو یې کور ته منډه کړه، وروسته مور هم کور ته ننوتلو. د کورنۍ غړیو یې زما په لیدو داسې احساس وکړ لکه تر اوسه یې چې هیڅ خپلوان کور ته نه وي ورغلي، وروسته پوه شوم چې له ویرې ټولو خپلوانو اړیکې ورسره پرې کړې وې.

د کور په انګړ کې پر یوه غوړول شوي ټغر کېناستو.

فاروق وویل:

که مو زموږ پوښتنه نه کوله، لږ تر لږه د خپلې خور پوښتنه خو به مو کوله، تاسې بښخې ځانونه ورک کړي وو، دومره ډار او ویره هم خوند نه کوي.

ما په خوست کې د شته مشکلاتو او خطراتو په اړه معلومات ورکړل، دا مې وویل چې همدې ستونزو او خطرونو موږ و تاسې له یو بله لرې کړي یو. په خبرو خبرو کې مې د خور پوښتنه وکړه چې خور او خوریونه مې نه ښکاري، خیر خو به وي؟

فاروق موسک شو:

د خور په لیدو پسې به سمې ښې تناکې کوې، هغوی د جنوبي وزیرستان شوال سیمې ته کډه شوي دي. که په بازار کې مې حال درته ویلی وای بیا ته کله له ما سره دلته راتلې! خو دا چې اوس دلته راغلی یې سبا به دې شوال ته بوځم، خور به ووینې او شپه به هم وکړو، بله ورځ به بېرته راځو.

-زه بنو ته ځم، ځکه یو به مې پلار راباندې غوسه وي چې تا په وزیرستان

Download more from Libtoon.com

کې شپې کړې دي او بل خدای مه کړه هلته حکومت او امریکایان زموږ کورنۍ ته مشکل جوړ نه کړي چې زوی مو د مولوي سنګین کره تللی...
- لاندې PCO شته که زیاته اندېښنه لرې کور ته به زنګ ووهې او ډاډ ورکړه، نور مه وارخطا کېږه!

د زنګ په خبره لږ ښه شوم، خو بیا هم وېرېدم چې جاسوسان نه وي.

یحیی د شیدو چای راووړ او زموږ د ورځې ټوله ستړیا یې ورکه کړه. د چای له څښلو وروسته لاندې د فوټبال لوبغالي ته روان شوو. هلته یو دوکان ته ورغلو او له دوکانه مې له مشر ورور قیوم شاه سره په ټلیفون خبرې وکړې، قیوم شاه ته مې وویل چې د پوځ د ګرځبندیز له امله نن په میرانشاه کې پاتې شوم. هغه د ډېر احتیاط خبرې کولې، ویل یې ستا له لاسه دلته کورنۍ ته کوم مشکل جوړ نه شي.

زیاتې خبرې مو ځکه و نه کړې چې هلته موبایل ټلیفونونه ټول شارل کېدل، ټلیفون مې بند کړ. له دوکانه چې راووتلو په موټرسایکل په یوه صحرا کې د فوټبال جوړ شوي لوبغالي ته لاړو، هلته ځوانان را ټول وو او د فاروق انتظار یې کاوه. له ځوانانو سره تر روغبړ وروسته دوی د فوټبال لوبه پیل کړه او زه یوې څنډې ته کېناستم، هم مې د لوبې ننداره کوله او هم مې ځنګ ته له اینښې ټوپکه خوند اخیست. د ننداري په وخت کې مې شېبه په شېبه پر ټوپک د لاس له تېرولو هم خوند اخیست.

Download more from Libtoon.com

## څلور سوه کلدارې

له څو کلونو وروسته، نن سهار په وزیرستان کې را ویښ شوم. له دې ځایه زموږ د کلي تر تلو وروسته څو کاله بعد بیا دلته دا زما لومړۍ شپه وه. د چای له څښلو وروسته په دې فکر کې وم چې شمالي وزیرستان شوال ته ځنګه او پر کومه لار لاړ شم؟

فاروق مخابره په لاس حجرې ته راننووت او ما ته یې د تګ ویل. ما ته مې بکس را یاد شو، ده ته مې یې د را اخیستلو ویل، خو د ده نظر دا و چې دلته یو ځل مولوي صاحب ته ورځو. ما دېوال ته څړول شوی د فاروق ټوپک راواخیست او ځنګ ته مې واچاوه. خوښ وم، له ډېرې مودې وروسته د مولوي صاحب لیدو ته روانېدم.

فاروق موټرسایکل تر هنډل وهلو وروسته همداسې چالان پرېښود، ما ته یې ویل چې له لالا به د لارې خرڅ هم واخلو.

ما ته په زړه کې را تېرېدل چې خرڅ مهم نه دی، د ده لیدل مهم دي. فاروق وخندل او بیا یې پر شا وټپولم:

یاره همېشه دې تلوار وي.

لږ وروسته دواړه کلي ته په یوه ور کښته شوې لاره ور روان وو. تر لږ مزل

Download more from Libtoon.com

وروسته له موټرسايکله کښته شوو، موټرسايکل مو همدلته د کلي په هوار ميدان کې پرېښود او مو‌ږ د کلي په کوڅه کې پلي روان شوو. يوه ختيځ کور ته ورسېدو، د دروازې تر ټکولو وروسته له کوره غږ راغی:

څوک ياست؟

فاروق ځان ور وپېژانده، دروازه خلاصه شوه، د دروازې له خلاصېدو سره سم يو ښايسته ځوان راښکاره شو چې سرې څمڅې يې پر اوږو ول ولې پرتې وې او سپين وزيرستانی پکول يې پر سر و. له فاروق سره يې په خندا روغبړ او ستړې مه شې وکړل. زه فاروق ورته معرفي کړم، ويل له خوسته راغلی، مېلمه دی. زه پوه شوم چې زما په اړه يې مخکې له مخکې ده ته ويلي دي.

ځوان وويل:

دا خو د امريکايانو له وطنه راغلی دی!

فاروق ورغبرگه کړه:

هو هو د امريکايانو له وطنه راغلی دی!

ځوان بيا په خندا شو:

ـ هسې نه ډرون ته مو په گوته کړې او GPS دې نه وي راوړی!

په همدې ټوکو ټوکو کې يې له ما داسې غږ تاو کړه لکه دوو پخوانيو ملگرو چې کلونه کلونه يو بل نه وي ليدلي.

دا ځوان خليفه عمر و، د وزيرستان د لنډمحمدخېل اوسېدونکی او د مولوي سنگين موټروان.

موږ درې واړه حجرې ته لاړو او په حجره کې مې سمدلاسه پر مولوي سنگين سترگې ولگېدې، خپل وزيرستانی پکول يې د کټ پښې ته ځوړند کړی او

Download more from Libtoon.com

سرتور سر په کټ کې پروت و. تورو څنو، پنډې بږيرې او شخو برېتونو يې نوراني مخ ته لا ښکلا وربښلې وه.
زما په ليدو يې سمدلاسه پکول پر سر کړ او له کټه راپورته شو، په خوشاله غږ يې وويل:
ماشاءالله ! دا خو ډېر لوی شوی يې!
لالا مې له هغه راهيسې بيا مخامخ نه و ليدلی چې له بيت الله مسيد او يوه بل عرب ملگري سره زموږ کره راغلی و. اوس پر هغه وخت کلونه تېر اوښتي وو.
له تاوده روغبړ او ستړې مه شې وروسته يو بل ته مخامخ پر کټ ناست وو، فاروق راسره کېناست.
خليفه عمر زما او د فاروق مخې ته مېز کېښود او د شنه چای پيالې يې ډکې کړې. ما او مولوي صاحب له يو او بله د کورونو د حال او احوال پوښتنې کولې، خليفه عمر لاندې پر غوړېدلې فرش د پيکا په پاکولو لگيا و.
ډېرې خبرې مو وکړې، مولوي صاحب پرله پسې پوښتنې وکړې:
امريکايان خو به مو په تکليفوي نه؟ د خوست د خلکو رويه څنگه ده، له امريکايانو سره جوړ دي، که مخالف؟ او څنگه يې بولې چې د خوست خلك به له امريکايانو سره جهاد وکړي که به همکار ورسره پاتې شي؟
دا ډول تولو پوښتنو ته مې په نوبت د ځواب کوښښ کاوه. ما ورته دا هم وويل چې په اوسني وخت کې د امريکايانو خلاف د جهاد نوم اخيستل د ځانوژنې په مانا ده. سره له دې چې موږ په خوست کې په ځان ډېر خطر منلی و، د عبدالله خان په کوټه کې چې مو کومې چارې تنظيمولې، اسانه خبره نه وه، خو ده ته مې له دې داره کيسه نه شوای کولای چې په دې

Download more from Libtoon.com

عمر یې په دې جریانونو ور ګډېدو ته نه پرېښودم. پسې زیاته مې کړه چې امریکایان ډېر قوي جاسوسان لري، امریکایي نظامي کمپونو ته په ثانیه کې خبره رسېږي، ځینې خلک چې بیا له امریکایانو کرکه لري هغوی له وېرې سپن نه وهي، هر څوک دې وېرې اخیستی چې د امریکایانو له خوا بندي یا و نه وژل شي.
بیا مې د خپل راتګ کیسه ورته وکړه چې که امریکایان رابانـدې خبر شول، شاید کورنۍ ته مې زیات مشکلات پېښ شي، ځکه خو مې پلار نه غوښتل چې په وزیرستان کې پاتې شم.
زه بنو ته تلم خو دلته پاتې کېدو ته مې خدای خبر څنګه زړه کلک کړ چې تاسې او خپله خورووینم.
مولوي صاحب وویل:
دلته به زیات احتیاط کوې، زیات خلک د کاروبار او د مجاهدینو د خواخوږو په نامه راځي، خو اکثریت یې امریکایانو ته په دې نامه معلومات ټولوي، خدای مه کړه چې داسې څوک دې ووینې او بیا په خوست کې مشکل درته جوړ کړي.
بیا یې فاروق ته زما په اړه وویل چې په خلکو یې مه وینه، ځکه کور یې د امریکایي ځواکونو په ګاونډ کې پروت دی، سبا به کوم مشکل ورته جوړ وي...
فاروق ډاډ ورکړ چې هیچېرته مې نه دی بېولی، اوس یې د خور لیدو ته شوال ته بیایم او بیا یې سمدلاسه بنو ته رخصتوم.
فاروق مولوي صاحب ته ور فهموله چې ناوخته کېږي او پر دې هم پوه نه شوم چې هغه یې څنګه په سترګو کې پوه کړ چې باید خرڅه راکړي.
مولوي صاحب وخندل:

Download more from Libtoon.com

د شوال مزل زیات دی، لاره یې هم خرابه ده، دربانديې ناوخته کېږي. د موټرسایکل ټانکی په څلور سوه کلداري ډکېږي، عمر به څلور سوه درکړي.

ما هم ورته وخندل:

هو څلور سوه زیاتې لا هم دي!

له مولوي صاحبه مو رخصت واخیست او ده پر خلیفه عمر غږ وکړ چې ډرون وګوره چې کوم لور ته ګرځي؟

خلیفه عمر اسمان ته وکتل، موږ هم مغزي کاږه او سترګې هسکې کړې، غالباً پنځه یا شپږ ډرون الوتکې به ګرځېدې، داسې ښکارېده چې زموږ پر سر ګرځي او همدا حجره تر څار لاندې ده.

خلیفه عمر مولوي ته ور غږ کړ:

د ډرون په دایره کې موږ یو او له موږ ګرد چاپېره تاوېږي، نور دې خدای خیر پېښوي.

خلیفه عمر موږ په دروازه کې رخصت کړو، و یې ویل:

که بیرون درسره ووځم، بیا خلک پوهېږي چې مولوي سنګین دلته راغلی دی. فاروق ته یې ۳۰۰۰ کلدارې ورکړې او بیا د شوال پر لور روان شوو.

Download more from Libtoon.com

# ټلیفون په صندوق کې

مور له مولوي صاحب سره تر لیدو وروسته په موټرسایکل دا ځل د جنوبي وزیرستان په ځنډو کې د شوال پر لور روان وو. شوال په شمالي وزیرستان کې د پکتیکا له برمل ولسوالۍ سره نښتې سیمه ده. له ما سره د فاروق مخابره او ټوپک هم وو او مخ مې په دسمال کلک تړلی و. د ټوپک چې کړچا ختله دې شور و شرنګ ډېر خوند راکاوه. دسمال بیا زما امنیت ساته، زه یې له هغو خلکو پټولم چې ښېرته یې خوست ته زما حال ووړ.

د شوال په کنډ و کپر لارو کې تر څو ساعته مزل وروسته موټرسایکل را پنچر شو، خو د پنچرۍ سامان ټول په موټرسایکل کې موجود و. ما به هره لحظه فاروق ته ویل چې کله به رسېږو؟ هغه به خبره په خندا خلاصوله او ویل به یې بس رسېږو، زه وروسته پوه شوم چې شوال نږدې نه دی. پنچري په څو دقیقو کې ونیول شوه او بیا مو مزل پیل کړ. د موټرسایکل له لاسه مې په پښتورګو درد شو او نور مې په ځان کې د تګ شیمه نه لیده، خو فاروق پوه کړم چې هغه مخامخ لاندې کور چې ټاپو پرې ښکاري، د دوی کور دی.

د کور په لیدو مې په وجود کې ارامي او خوشالي حس کړه. مور ورو

Download more from Libtoon.com

ورو د نښترو په منځ کې کور ته لاره لنډوله، د مازدیګر لمر په ډوبېدو و چې د کور مخې ته کښته شوو. موږ دواړو له ځانه خاورې دوړې څنډلې چې دروازه خلاصه شوه، تر فاروق مشر ورور بلال ټوپک په لاس له کوره راووت.

زما په لیدو یې په حیرانۍ چیغه کړه:

اوهو! دا ته څنګه دلته راغلی یې!؟

بیا مو په خندا خندا غېږې سره ورکړې.

درې واړه کور ته ننوتلو. د کورنۍ ډېرو غړو موږ پر موږ د پرتو دوړو او خاورو له امله نه پېژندلو او ځینو بیا له دې امله نه پېژندلم چې څېرې مې بدلون کړی و او ډېر وخت وروسته راغلی وم.

حجرې ته لاړو. د بلال جامې مې واغوستې، خوریونو په حیرانۍ ځیر ځیر را کتل، زه یې نه پېژندلم.

دوی ته ډېر وخت څوک نه وو راغلي او له حالاتو بېخي ناخبره وو، په ډېره مینه یې د ټولو خپلوانو د حال او احوال پوښتنه کوله.

دا شپه موږ ډېره ناارامه تېره کړه، د شوال په کنډه وکپر لاروکې د موټر سایکل ګرنډي مزل بند په بند مات کړي وو، سهار مو چې میرانشاه ته د تګ تصمیم ونیو، خور مې راته ویل مه ځه څو شپې وکړه، ډېر وخت وروسته راغلی یې.

شاید د ډېرې ستړیا وجه هم وه، د خور خبره مې ومنله او درې شپې مې نورې هم له دوی سره وکړې.

په شوال کې د مولوي صاحب په کور کې سټلایټ ټلیفون و، خو ما نه غوښتل چې په خوست کې پرې له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسم، ځکه دوی هم دا ټلیفون د زیات ضرورت پر وخت استعمالاوه، نور به د مولوي

Download more from Libtoon.com

صاحب له پلار سره چې ټولو بابا باله، په صندوق کې ايښې و، هغه مهال دا ټليفونونه هم تر کلک څار لاندې وو.

ډاډمن وم چې په کور کې ټول پوهېږي چې زه د مولوي صاحب دوی کره يم او داسې څوک مې هم شايد و نه شي ليداى چې بېرته حال خوست ته ورسېږي.

Download more from Libtoon.com

## خیانت

سخته یخني وه. دا دربیمه ورځ وه چې مور د بلال په تور هایلکس موټر کې د شوال ټولې درې داسې وکتلې لکه ورغوی. ما له سرو شاجورو ډک شین کمربند تر ملا تړلی و او دا درې شپې داسې تېرې شوې لکه درې دقیقې.

دلته له دریو شپو وروسته باید تللی وای، دوی ته مې هم قناعت ورکړ چې بنو ته تګ مې اړین دی. دوی پوهېدل چې دلته زیات تم کېدل راته په خوست کې ستونزې جوړولای شي، خو بلال هم د شمالي وزیرستان تګ ته تیار شو. حافظ بلال ویل چې مور یې ناورغه ده:

زه به هغه هم په ډاکټر وګورم، ټول به یو ځای لاړ شو!

زه پوه شوم چې د مورکۍ ناروغۍ د اندېښنې وړ نه ده، خو د بلال زړه تنګ شوی، په مور پسې خپه ښکارېده.

میرانشاه ته تر روانېدو وړاندې مو موټرسایکل د بلال د موټر په باډۍ کې وتاړه، ما او فاروق له بلال سره یو ځای د میرانشاه پر لور حرکت وکړ. تر اووه ساعته مزل وروسته ماسپښین ناوخته په لنډمحمدخېل کې د دوی کور ته ورسېدو. پر ټوله لار مو جهادي ترانې او نظمونه اورېدل او زموږ پام یې بدل کړی و.

په کور کې تر لږ دمې وروسته کلي ته ووتلو او بلال له ځوانانو د

Download more from Libtoon.com

حـال احـوال پوښـتنه وکـړه، دوی د یـو بـل پـه لیـدو زیـات خـوښ ښـکارېدل، ځکـه څـه مـوده یـې یـو او بـل نـه وو لیدلـي، دا شـپه مـې همدلتـه پـه لنډ محمدخېـل کـې وکـړه.

سـهار وختـي مـې لـه فـاروق څخـه رخصـت واخیسـت او وعـده مـې ورسـره وکـړه چـې لـه بنـو بېرتـه دربانـدې راګرځـم. بیـا لـه بـلال سـره یـو ځـای پـه موټـر کـې میرانشـاه بـازار تـه روان شـوم، هلتـه پـه نـږدې کېـدو د رفیـق پـه نامـه کـوم کـس پـر بـلال پـه مخابـره کـې غږونـه کـول، هغـه وخـت د بـلال د مخابـرې نـوم زاهـدي و.

رفیـق د نکـې ولسـوالي اوسـېدونکی دا مهـال پـه وزیرسـتان کـې د مولـوي سـنګین اسـتازی او د اړیکـو مسـوول و.

کلـه چـې بـلال لـه رفیـق سـره رابطـه وکـړه، هغـه عاجـل خپـل دفتـر تـه وغوښـت.

حافظ بلال ما ته وویل:

یـو ځـل بـه دفتـر تـه ورشـو خـدای مـه کـړه کومـه پېښـه نـه وي شـوې، ځکـه بـل وخـت یـې دومـره عاجـل نـه یـم غوښـتی.

ما هم ورسره ومنله او دواړه ګړندي د دفتر پر لور روان شوو.

د رفیـق دفتـر د میرانشـاه بـازار د درپـه خېلـو سـرای پـه یـوه کرایـي کـور کـې و، دفتـر تـه پـه رسـېدو لـه سـترې مـه شـې وروسـته رفیـق بـلال تـه وویـل چـې ملګـري ضـرور غوښـتی یـې او مشـخص ادرس یـې ورکـړ. مـوږ راوګرځېـدو او لـه بـلال مـې وپوښـتل چـې خیـر دی چـا غوښـتی یـې؟

بلال وویل:

لالا غوښتی یم!

Download more from Libtoon.com

زه هم خوښ شوم چې له مولوي صاحب سره په لیدو سربېره به رخصت هم ترې واخلم او بیا به له خیره بنو ته ځم.
چونګی چوک ته په رسېدو بلال موټر د لنډمحمدخېلو پر لور تاو کړ،
له څه مزل وروسته مې ترې پوښتنه وکړه:
مولوي صاحب چېرې دی؟
هغه وویل:
په لنډ محمدخېلو کې دی.
دا چې موږ له میرانشاه بازاره کافي مزل کړی و، ځکه مې ورته و نه ویل چې زه کوزېږم او بنو ته ځان رسوم.
محمدخېل ته په رسېدو یې په ځانګړي نمبر له خلیفه عمر سره اړیکه ونیوه او هغه راته خپل کور وښوو چې هلته ورشو.
دا چې څو ورځې وړاندې ما مولوي صاحب د خلیفه عمر په کور کې له له فاروق سره لیدلی و؛ نو بلال ته مې ویل، دا ښه نه ده چې مولوي صاحب هر وخت په دې کور کې پیدا کېږي، باید خپل موقعیت په دوامدار ډول تغییر کړي.
ده وویل:
مولوي صاحب اوس د ډرون له تکتیک سره پوره بلد شوی، د استراحت ځای ډېر په فکر ټاکي.
د خلیفه عمر کور ته په رسېدو زه په موټر کې کېناستم او بلال کور ته ورغی، له لږ ځنډ وروسته فاروق هم راورسېد.
ما دروازه خلاصه کړه، له موټره کښته شوم، هغه زما په لیدو زیات خوښ شو، په موسکا یې را وکتل:

Download more from Libtoon.com

لکه چې زړه دې نه ځي؟

ده ته مې کیسه وکړه:

عاجل یې را وغوښتلو. خدای دې وکړي چې کومه پېښه نه وي شوې.

فاروق تر ډېره په موټر کې راسره ناست و، یو ساعت مجلس مو سره وکړ. بلال د خلیفه عمر له کوره راغی. فاروق وپوښت، هغه وویل لالا په کور کې یو عاجل کار را وسپاره، زه باید همدا اوس شوال ته حرکت وکړم.

زما نظر دا و چې اوس خو ډېر ناوخته دی سبا به لاړ شې، ده وویل چې کار عاجل دی باید ځان ورسوم، که ته له ما سره ځې ستا خوښه او که همدلته له فاروق سره پاتې کېږې هم سهي ده.

حافظ بلال مو شوال ته رخصت کړ.

زه او فاروق د خلیفه عمر کور ته لاړو، له مولوي صاحب سره مو ولیدل، خو دا ځل د تېر ځل په پرتله بدل ښکارېده، په کوټه کې دننه یې قدمونه وهل، داسې ایسېده چې کومه بده پېښه شوې ده.

رنګ یې الوتی و، موږ ته یې څه نه ویل، کوښښ یې کاوه چې ځان عادي وښیي، صرف دومره یې وویل چې په شوال کې کوم مهم کار و ځکه مې بلال ولېږه.

فاروق له کوټې دباندې له خلیفه عمر سره پر خبرو و، ما دننه په کوټه کې په داسې حال کې له مولوي صاحب سره مجلس کاوه چې زه پر کټ ناست وم او ده د پام بدلولو په غرض قدم واهه.

ما مولوي صاحب ته وویل:

سبا خو زه بنو ته ځم، تر هغې دا ښه ده چې نن لاړ شم، که کوم خدمت نه وي ما ته اجازه راکړئ.

Download more from Libtoon.com

مولوي صاحب لږ غلی شو او بیا یې وویل:

نـه، اوس ناوختـه دی تـه بایـد نـن شـپه وکـړې، شـاید سـبا مـې پـه کار شـې، کـه خوښـه مـې شـوه بیـا تـا هـم شـوال تـه لېږم.

ما په حیرانۍ وپوښتل:

بیا به شوال ته ځم!؟

مولوي صاحب بې له دې چې را وګوري، ارام وویل:

هو! خو تر سبا به معلومات وشي.

مولـوي صاحـب د پکتیـکا والـي او نظامـي مسـوول و، مـا خـو یـې هسـې هـم خبـره پـر ځمکـه نـه شـوای غورځـولای، و مـې ویـل:

ستا هر امر ما ته د سر په سترګو قبول دی!

زه او فـاروق د خلیفـه عمـر لـه کـوره راووتلـو، د ماسپښـین لمونځونـه مـو لانـدې د یـوې چینـې پـر غـاړه وکـړل، مازدیګـر مـو هـم د کلـي پـه دوکانـو او پټیـو کـې یـو ځـای تېـر کـړ. فـاروق د نـورو ورځـو پـه پرتلـه خپـه ښـکارېده، زه پـوه شـوم چـې خامخـا څـه کیسـه شـته چـې دی خپـه دی.

د ماښـام ډوډۍ مـو چـې پـه کـور کـې وخـوړه او د خـوب لپـاره د یـوه ګاونـډي حجـرې تـه لاړو او پـر دوو جـلا ایښـو ځنګ په ځنګ چپرکټونـو پرېوتلـو، فاروق د خوسـت د حالاتـو پـه اړه پوښـتنې شـروع کـړې، خونـدور بنـډار مـو روان و.

د مجلس په منځ کې فاروق راته وویل:

خالـده! مـوږ تـه یـوه بـده مسـاله پېښـه شـوې ده، دعـا کـوه چـې خـدای مـو لـه بدنامـي وسـاتي.

خیر دې وي، څه مساله؟

د فاروق غږ مې واورېد:

Download more from Libtoon.com

زموږ امریکني تښتېدلی دی!

چوپ شو، بیا یې خبرې پیل کړې:

خدای مه کړه خلک به دا فکر کوي چې دوی پیسې پرې واخیستې، خلک به ډول ډول تهمتونه راباندې لګوي او پیغورونه به راکوي...

د فاروق د خبرو په اورېدو مې تکان وخوړ، د امریکایي په نیول کېدو زه په خوست کې خبر وم، خو داسې پوه نه وم چې د مولوي صاحب ملګرو نیولی او بیا د مولوي صاحب په کور کې ساتل کېږي.

ما په تلواره وپوښتل:

دا څه وایې فاروقه؟ څنګه تښتېدلی؟؟

ـ نن ناوخته سجنا د ستلایټ ټلیفون په وسیله لالا ته زنګ کړی و چې ستاسې په کور کې موجود امانت خیانت شوی دی، ژر ځان راورسوه، لالا ځکه بلال عاجل شوال ته ولېږه...

بیا ما او فاروق د شپې تر نیمایي ور ها خوا لا هم د نیول شوي امریکایي «برګډال» په اړه خبرې کولې.

له ادې څخه د برګډال د راوتلو او بیا یې د مجاهدینو په لاس کې د کېوتو په اړه رنګارنګ اوازې خپرې وې، فاروق ویل چا به ویل چې له کومې نجلۍ سره یې تار و، د هغې لیدو ته روان و چې مجاهدینو ونیو. چا بیا ویل چې په نشه کې راوتلی و، کله چې مجاهدینو ونیو، بیا یې نشه الوتې وه، داسې هم ویل کېدل چې په خپله ډله کې تر شا پاتې شوی او نور ترې تللي وو چې بیا ده لاره غلطه کړې وه...

ما او فاروق دا شپه تر ډېره د برګډال د تېښتې په اړه خبرې وکړې، ما به پرله پسې پوښتنې کولې او فاورق به کوښښ کاوه چې حتما یې ځواب

Download more from Libtoon.com

کړي، وروسته يې غبر ورو خوبولي شو چې بيا دواړه ويده شوي وو.
سهار د چاى له څښلو وړاندې مو ځانونه سمدلاسه د خليفه عمر كور ته ورسول چې مولوي صاحب ووينو، هغه په كټ كې بالښت ته څنګ وهلى و او مخې ته يې د لرګي پر كوچني مېز د شنه چاى ډكه پياله ايښې وه، د كټ بازو ته يې روسى كرينكوف ولاړ و.
مولوي صاحب پوه شو چې دوى هم د برګډال له تېښتې خبر شوي دي، سوړ اسوېلى يې وايست:
موږ بايد الله جل‌جلاله ته متوجه شو او د هغې ګناه ښښنه تري وغواړو چې له امله يې موږ په دې سخت امتحان كې ګير يو.
لاس يې د څنګ پر دېوال ولګاوه:
لومړى مې فكر وكړ چې موركى په حق رسېدلې ده، ځكه ابا راته په ټيليفون كې صرف دومره وويل چې عاجل كور ته ځان را ورسوه!
وروسته چې كله بلال راغى او هغه راته وويل چې موركى خو ما دلته راوستلې ده؛ نو بيا مې د سټلايټ له لارې له سجنا سره حال وشو، د هغه كور زموږ د كور تر څنګ دى، راته و يې ويل چې ستاسې په كور كې موجود امانت خيانت شوى دى ځان راورسوه.
ما يې خبرو ته غوږ نيولى و، خو پوهېدم چې ډېر خپه او غوسه دى، ځكه خو مې د ځواب لپاره مناسب توري نه شواى موندلاى.
د سجنا خپل نوم خالد خان سيد و. دى وروسته د حكيم الله مسيد ځايناستى شو. د سجنا نوم ځكه پرې پوخ شوى و چې په مكين بازار كې په همدې نامه يو لېونى و او هغه به ده ځوراوه، بالاخره خلكو د هغه لېونى سجنا نوم پر ده او د ده نوم پر هماغه لېوني كېښود. يو وخت

Download more from Libtoon.com

هندي رسنیو یو تحلیل پرې لیکلی و او هلته یې خالد خان سید له هندي فلمونو متاثر ګڼلی و چې ګواکې دا نوم یې د همدې اغېز له مخې د هند له سینمایي اکټرانو کاپي کړی دی.

له مولوي صاحب سره تر نیم ساعت مجلس وروسته هغه راته وویل:

زما تره سربلند «قیوم» شوال ته روان دی، ته هم ورسره لاړ شه هلته په کور کې له بلال سره څوک نه شته، په تا به یې لاس ازاد وي او ټینګار یې رابانديې وکړ چې د امریکایي له تېښتې څوک در نه خبر نه شي.

بیا یې فاروق ته مخ ور واړاوه:

ته له سربلند سره رابطه وکړه چې کوم ځای ته راورسېده او بیا خالد ژر ور ورسوه.

فاروق د خلیفه عمر په مخابره کې له سربلند سره رابطه وکړه او مولوي صاحب ته یې وویل چې ادا «سربلند» پر سړک ولاړ دی، زه به خالد ور ورسوم.

ما سمدلاسه له مولوي صاحب څخه رخصت واخیست او له فاروق سره پر موټرسایکل سپور شوم. د محمدخېلو پر عمومي سړک مو شین رنجر موټر ولید چې سربلند او د مولوي صاحب مورکی پکې ناست دي، له دواړو سره تر ستړې مه شي وروسته مو د شوال پر لور حرکت وکړ.

دا لومړی ځل و چې ما رنجر په وزیرستان کې ولید.

Download more from Libtoon.com

# په تیارو کې پټ لټون

په همدې رینجر کې مو د شوال په لوري په ډېر شدت حرکت پیل کړ. یو ځای د موټر ټایر داسې تېرې ډبرې وواهه چې پټاو شو، خو ژر ژر یې شتاپنی ور بدله کړه او بیا مو حرکت ته ادامه ورکړه.
لمر په نیمایي اسمان کې و چې موږ له وزیرستانه مزل پیل کړ، تر شوال پورې داسې وخت ورسېدو چې سیوري رنګ او اوږده شوي وو. د شوال د منګړیتی ملکشی په منډيي کې د بلال موټر ولاړ و، سربلند ته مې وویل چې زه باید دلته دوی ته ورکښته شم، ته به ناروغان کور ته ورسوې. هغه موټر ودراوه، زه ترې کوز شوم. د رنجر ټایرونه واوښتل او بیا یې غبر ژر ژر لرې شو.
حافظ بلال دلته له رازمحمدخان «کرفي»، محمد، عرفات او دوو نورو ملګرو سره له غره راکښته شوی و چې دلته د منډيي په یوه دوکان کې چای وڅښي. له دغو کسانو سره مې پېژندګلوي وشوه چې کرفي د شمالي وزیرستان داوړ او محمد او عرفات د پکتیکا د زېړوک ولسوالی ځدران وو. دوکان ته په ننوتلو مې پر دوی سترګې ولګېدې، شپږ واړه په دوکان کې پر یوه ټغر سترې ستومانه ناست وو، له چای سره یې بسکېټ

Download more from Libtoon.com

خوړل، داسې ښکارېدل چې ټوله ورځ یې په مزلونو تېره کړې وه.
زما په ورننوتلو یې د مخ رنګونه تازه او خوشاله شول. له ستړې مه شې وروسته مې له حافظ بلاله پوښتنه وکړه:
څنګه، د ورک شوي جنس کوم درک نه لګېږي؟

بلال په خواشیني غبرګ وویل:

تر اوسه یې هیڅ درک نه لګېږي. زه د شپې یوه بجه راورسېدم، خوب مې نه دی کړی، له سهاره راهیسې مو دا پاس غرونه ټول ولټول، هیڅ معلومات یې و نه شول. مشکل دا دی چې له چا یې پوښتنه هم نه شو کولای، خدای مه کړه که سي‌آی‌اې او رسنی خبرې شوې بیا برګډال زموږ لاس ته را نه شي، باید لومړی کوښښ دا وکړو چې په تېښته یې د چا سر رانه خلاص نه شي.

زه او بلال په همدې خبرو بوخت و چې محمد راباندې د چای څښلو غږ وکړ، دا چې ما هم ساعتونه د موټر مزل کړی و، د چای له هر غړپ سره به مې د بدن ستړیا ارامېده. همداسې مو د چای د څښلو په وخت کې د ورک شوي اسیر د پټې لټې نقشه هم سره جوړوله.

دا چې موږ ټول ستړي وو مجلس دلته په دوکان کې را نه اوږد شو او د ماښام لمونځ مو هم همدلته وکړ، د لمانځه تر ادا وروسته بلال وویل چې نور ناوخته کېږي، باید بېرته د اسیر په لټولو پسې لاړ شو. ټول له دوکانه راووتلو، نه پوهېږم د چای پیسې دوکاندار ته چا ورکړې.

د بلال هایلکس موټر بیا د ورک برګډال د پلونو د خاپونو په موندلو پسې چالان شو، موږ له دوکانه له منګړیتې سره په خوا کې یوه غره ته لاړو، موټر مو د غره په لمن کې ودراوه، بلال غږ په شېږ برخو ووېشه او بیا هر

Download more from Libtoon.com

ملګری په خپله برخه یا حصه کې د تښتېدلي په لټون بوخت شو.
تیاره نوره هم ټینګېده، له دوی سره لاسي بټۍ وې، خو ما د بټۍ تر ځنګ وسله هم نه لرله، ځکه خو زه بلال ورسره بوتلم او په لاره کې یې راته وویل چې ډېر متوجه اوسه، برګډال له ځان سره په زولنو پورې بنده د کوټک په څېر یوه ډبله اوسپنه هم وړې ده. ورپسې یې زیاته کړه چې برګډال له بدنه ډېر غښتلی او ورزشکار هم دی، خدای مه کړه پر سر دې په اوسپنه و نه وهي!
د بلال د خبرو تر اورېدو وروسته مې هرې ونې او بوټي ته په احتیاط کتل، کوښښ مې کاوه چې بې وېرې احتیاط وکړم. داسې مې انګېرله چې مرګ د بوټو ونو په بېخونو کې کمین راته نیولی دی.
هره ونه او هر بوټی مو په دقت سره کوت، تر هر تور او تیاره سیوري شا ته مو برګډال لید، خو چې ور نږدې به شوو ناکام به شوو. ملګري شېبه په شېبه له یو بل سره په مخابره خبرېدل، د شپې تر ناوخته مو په دې غره کې برګډال ولټاوه، خو هیڅ څرک یې پیدا نه شو. تیاره پخه شوې وه، شاوخوا د شپې دوولس بجې تش لاس بېرته په شیرامبل کلي کې خپل کور ته په دې نیت را ستانه شوو چې د سباني مزل لپاره خوب پوره او ستوماني لرې کړو.

Download more from Libtoon.com

# زه پر خدای باور لرم!

شوال په جنوبي وزیرستان کې پرته سیمه ده چې د پکتیکا له برمل ولسوالۍ سره نښتې ده، ځنګلونه یې ګڼ او زیاتره ونې یې نښتر ته ورته دي، شوال په اوړي او ژمي دواړو کې یخه هوا لري، خو په ژمي کې ځان د واورې تر څادر لاندې پټ ساتي.
د مولوي سنګین کور د شوال په زړه شیرامبل کلي کې و، د ده تر کور شاوخوا څو نور خړ کورونه هم را تاو وو، دغه کلي زیات مجاهدین نه لرل. دلته زیاتره کډې د هغو خلکو وې چې په شمالي وزیرستان کې به ګرمۍ پسې را اخیستي وو. دغه ځای په دې هم ښه وو چې د شمالي وزیرستان په نسبت دلته امریکایي ډرون الوتکو کمې خولې لګولې، خو هوا یې بیا د هغه ځای په پرتله سړه او واورینه وه.
مولوي سنګین نیمه کورنۍ د برګډال لپاره همدلته شوال ته را انتقال کړې وه، په داسې یوه خاورین کور کې یې اړولي وو چې د خونو په سر یې یوه پاسنۍ کوټه هم جوړه شوې وه.
برګډال یې په هماغه پاسنۍ کوټه کې اچولی و او د ژوند ټولې اړتیاوې یې په پام کې نیول شوې وې.

Download more from Libtoon.com

له یوه ځایه به چې بل ځای ته لېږدول کېده، ښځینه جامې ورته ځانګړې شوې وې. د جامو تر څنګ بلال له بازاره یوه شنه چادري هم ورته را نیولې وه او همدلته د برګډال د کوټې په یوه کونج کې ځړول شوې وه.

د برګډال خونې ته د خوراک او څښاک د ور وړلو مسوولیت د بلال و، خو دا چې هغه له ما او فاروق سره شمالي وزیرستان ته تللی و، په هغه ورځ چای او ډوډۍ د مولوي سنګین کشر زوی اسدالله ور وړي وو. اسدالله په هغه وخت کې اووه کلن و. کله چې یې چای او ډوډۍ ور وړي وو، برګډال هغه ته د ختهو یو لاسي موټر جوړ کړی و چې لوبې پرې وکړي.

هغه چې یې د ختهو په موټر مشغول کړی و، په خبرو خبرو کې یې د ځنځیر کیلي چې دی پرې تړلی و، ترې پټې کړې وې.

د برګډال په لاسونو کې یوه اوسپنیزه میله ورکول شوې وه چې د ده لاسونه یې موازي ساتل، پښې یې په ځنځیر د دوو لوښتو په اندازه ازادې تړل شوې وې چې په کوټه کې به یې واړه واړه قدمونه اخیستلای شوای، دغه ځنځیر د یو نیم متر په اندازه ازاد پرېښودل شوی او بیا د کوټې په ستنه پسې غوټه او کولپ شوی و.

اسدالله چې د هغه له کوټې وتلی و، برګډال وارخطایي نه وه کړې، سمدستي یې غلا شوې کیلۍ په کولپ کې پېچلې وه او زولنې یې پرې خلاصې کړې وې.

د ده لپاره له راوړل شویو ښځینه جامو او چادري یې د دویم منزل له کړکۍ د کوزېدو لپاره ځان ته داسې یوه رسۍ جوړه کړې وه چې اسانه د پرې کېدو نه وه. له جامو څخه یې له جوړې کړې رسۍ سره خپل د پښو ځنځیر هم ملګری کړی و. تر دې وروسته یې د خونې له چته نیم متر لرګی را ایستلی و

Download more from Libtoon.com

او خپله جوړه کړې رسی یې په دې لرګي پورې تړلې وه او ځان یې د کوټې له ورې کړکی په پړي کښته کړی و.
پر دې پلان یې څو ورځې فکر کړی و، ځکه خو یې له ځان سره یوه اندازه وچه ډوډۍ هم ساتلې وه او د پیپسي په بوتل کې یې اوبه هم ورسره اخیستې وې.
برګډال په کوټه کې یو کاغذ پرېښی و چې په سکرو یې په انګلیسي پرې لیکلي وو:
"زه پر خدای باور لرم، تاسې هم پر خدای باور وکړئ چې موږ خدای پیدا کړي یو، خدای به موږ ته لارې ښیي."
نه پوهېږم هغه ولې دومره اوږده جمله لیکلې وه، که زه یې پر ځای وای شاید یوازې مې لیکلي وای چې "خدای پامان"، یا مې هیڅ نه وای لیکلي.
برګډال په خپله مخه تللی و، کله چې اسدالله د ماسپښین چای ور وړي، ګوري چې ځای شته، جولا نه شته. بېرته په منډه را کوزېږي او کورنۍ خبروي، په دې وخت کې د مولوي سنګین پلار هم خبرېږي.
ابا د خپل ګاونډي سجنا په مرسته خپله هڅه کړې وه چې اسیر پیدا کړي، خو وروسته مایوسه شوی او بیا یې خپل زوی ته حال ورکړی و چې ځان عاجل را ورسوي.
مولوي سنګین تر دې وروسته لومړی بلال شوال ته را ولېږه، په سبا یې زه له سربلند سره یو ځای همدلته را واستولم او د برګډال د لټون جریان پیل شو.

Download more from Libtoon.com

## د لټون اوونۍ

مور اوو تنو پوره اووه ورځې د شوال په غرونو کې د برګډال په لټون پسې پښې تناکې کړې، د شمالي وزیرستان امنیتي حالت هم خراب و او دا وېره زیاته وه چې که د برګډال له تېښتې څوک خبر شي شاید د پاکستان پوځ یې د پیدا کولو عملیات پیل کړي. مور باور درلود چې که یې د پاکستان پوځ پیدا کړي، د مولوي سنګین اعتبار ته به په امارت کې سخت زیان ورسېږي.
د برګډال د تېښتې په دویم سهار مور ملګرو رازمحمد کرفي، محمد ځدراڼ، عرفات ځدراڼ، خان زمان یوسف، ما (خالد ځدراڼ) او یو بل ملګري چې اوس یې نوم زما له یاده وتلی، له خپل مشر بلال سره مشوره وکړه چې نور باید هیڅوک خبر نه شي، تر هغو پورې به د ده په پیدا کولو پسې ګرځو چې تر څو پورې مو بېرته تر لاسه کړی نه وي او یا امریکا اعلان کړی نه وي چې برګډال دوی ته رسېدلی دی.
دا فیصله مو هم وکړه چې د ضرورت پر وخت به ځایي خلکو ته د برګډال د قوارې او لباس په اړه وایو چې په دې رنګ یو جاسوس رانه ورک شوی دی.
مور د غرونو په لوړو ژورو او ګړنګونو کې ګوته پر ماشه د ده په لټون پسې سر وو، یو ځای مو هغه ډول کالي پیدا کړل چې د برګډال پر تن وو، خو وروسته معلومه شوه چې دا د جلغوزیو د مزدورانو جامې دي.

Download more from Libtoon.com

د برګ‌ډال د لټون په موده کې به کله کور ته د خوب لپاره راغلو او کله به همالته په غره کې د موټر تر څنګ څو شپې ویده شوو. له زیاتې بې خوبۍ د ملګرو د سترګو سپینو برخو ګونځې وکړې، د زیات پیاده مزل له امله د هر ملګري پښې تڼاکې شوې وې، همدا ډول درنو کمربندونو د هر ملګري پر بدن ژورې کرښې جوړې کړې وې، خو بیا مو هم ستړیا احساس نه کړه، د خدای د رضا په لار کې مو د دې ټولو تکلیفونو له زغملو ځانګړی خوند اخیست.
څو ورځې وروسته مو ځایي خلکو ته د برګ‌ډال په پیدا کولو یو لک کلدارې نغدي جایزه اعلان کړه چې له موږ یو جاسوس ورک شوی دی او نښې مو خلکو ته وښوولې.
موږ د لټون زیات عملیات د پکتیکا ولایت له برمل ولسوالي سره په صفري نقطه پرتو غرونو کې وکړل، ځکه چې دلته نږدې د نوې اډې په سیمه کې د امریکایي ځواکونو کمپ و او موږ وېره لرله چې برګ‌ډال به دغه کمپ ته ځان رسول غواړي.
موږ ته به چې کله د کوم لاروي له خوا وویل شول چې تاسې په کوم کس پسې ګرځئ، په همدې شکل یو څوک په هغه پورې غره کې و او یا هم پر هغه لار تېر شو؛ نو موږ به په عاجل ډول ښوول شوي ځای ته ځانونه رسول او هلته له رسېدو او پوښتنې وروسته به بیا تش لاس راستنېدو.
د برګ‌ډال د لټون په موده کې موږ په ورځو ورځو یوازې تور چای او بسکېټ وخوړل، کله به چې په غرونو کې د کوم شپونکي پر کور ور برابر شوو، وچه ډوډۍ به یې په چای پسې راکړه.
زما چې له ټوپک سره زیات وخت نه و تېر شوی او راته عادي شوی نه و، داسې فکر مې کاوه چې اوس تر هر چا زورور یم. یو مازدیګر ډېر وږی وم،

Download more from Libtoon.com

د یوې کږدۍ څنګ ته د لمبې مخې ته ناستې کوچۍ ډېر ښه پاستې پخول.

زما په لیدو یې څېره تروه غونډې شوه، ما ورته وویل:

مور، ډوډۍ نه ده خوړلې، که را تیاره یې کړئ.

هغې پاس را وکتل:

ډوډۍ نه شته!

زه په دې ډېر غوسه شوم چې ما ډوډۍ لیده، مګر دې ویل چې نه شته. ورته کېناستم او ټوپک مې پر زنګنونو کېښود، په لړ ډډ غږ مې وویل:

ډوډۍ چې را نه کړې، نه ځم، تر اوسه مې غوښته، خو اوس یې په زور درنه خورم.

زه همداسې ناست وم چې زموږ یو مسوول ملګری بادشاه راغی، را و یې کتل:

ناوخته دی، څه کوې چې ناست یې؟

ما ځواب ورکړ:

زه له دې کوره ډوډۍ غواړم، نه یې راکوي.

هغه غوسه شو:

-پورته کېږه، چې نه یې درکوي په زور یې خورې؟

په دې وخت کې زه شاوخوا اتلس کلن وم، ولاړ شوم، سوچ واخیستم، له ځان سره مې ویل چې ښه اوس مو ږ ځان له لوږې مړ کړو، که څه وکړو؟ غوسه مې پټه کړې وه، ورسره روان وم.

هیڅکله مې د غرونو مزلونه نه وو کړي، خو ستړی کېدم ځکه نه چې له مجاهدینو سره تګ او ټوپک ډېر د ویاړ احساس راکړی و.

Download more from Libtoon.com

## د ډانګ کره د برګډال د شتون اوازه

د اوو ورځو په جريان کې موږ د شوال سمه او غر تول وپلټل، پس له اوو ورځو مولوي سنګين يو موټر او پنځلس تنه نور ملګري هم راولېږل. موږ ته ځو ورځې وړاندې يو کس ويلي وو چې يو سور رنګی شين سترګی ځوان په ملکشي کې له ډانګ نومي کس سره و، خو موږ د برګډال له لټون سره سره د ډانګ د کور پوښتنه هم کوله.

په اوومه ورځ له ډانګ نومي کس سره د يوه نابلده ځوان ليدل د هر چا د خولې خبره شوه، ځکه موږ به چې له هر چا پوښتنه وکړه ځواب به يې دا و چې خلک وايي چې دا کس له ډانګ سره دی.

ماسپښين مولوي سنګين له خپلو ملګرو سره يو ځای راورسېد، دا مهال زموږ د ملګرو شمېر هم ډېرشو تنو ته رسېدلی و، له مولوي صاحب سره مو د ډانګ په اړه خبره وکړه چې د دې سيمې اکثريت خلک پر ډانګ شکمن دي، حتی ځينې خلک دا هم وايي چې موږ برګډال له ډانګ سره ليدلی دی، څه وکړو؟ ډانګ ونيسو؟

مولوي سنګين وويل:

نه! پرته له کره ثبوته بايد هيڅوک و نه ځورول شي، خو موټر او څو ملګري

Download more from Libtoon.com

باید د ملکشي کلي ته لاړ شي، هلته د ډانګ کور دی، تاسې په حکمت د دې موضوع پوښتنه وکړئ چې اصلي حقیقت څه دی؟

موږ د مولوي سنګین له هدایت سره سم له بلال سره ملکشي کلي ته لاړو، په کلي کې مو له یوه کلیوال دوکانداره د ډانګ د کور پوښتنه وکړه، هغه د کلي په لوېدیځه برخه کې د ډانګ کور را وښوو او موږ سمدلاسه د ډانګ د کور پر لور روان شوو. د کور تر څنګ مو له یوه ځوان څخه پوښتنه وکړه چې له موږ یو جاسوس ورک شوی دی، سرې او شنې سترګې یې دي او خړ کالي یې اغوستي، که یې په اړه معلومات راکړئ یو لک کلدارې انعام درکوو.

دغه ځوان بې له دې چې موږ ورته د ډانګ یادونه کړې وي، ویل چې هغه مخامخ د کور په دروازه کې ولاړ د ډانګ زوی دی، موږ هم د ده له خبرو پوه شوو چې خپل هدف ته رسېدلي یو.

زه د ډانګ د کور د دروازې پر لور روان شوم او په دروازه کې ولاړ ماشوم مې ځان ته را وغوښت، د جاسوس په نامه د تبنتېدلي برګډال پوښتنه مې ترې وکړه، هغه سمدلاسه وویل چې زموږ له بابا سره یو سور مېلمه راغلی و درې شپې یې زموږ کره وکړې او نن سهار وختي له بابا سره د لرګیو په موټر کې ولاړ.

ما چې د ماشوم خبرې واورېدې سمدلاسه بلال ته ورغلم او د ماشوم خبرې مې ورته وکړې، بلال بې له ځنډه له مولوي سنګین سره په مخابره اړیکه ټینګه کړه او د ماشوم خبره یې ورته وکړه او هم یې د ډانګ پر کور د عملیاتو اجازه وغوښته، مولوي سنګین د ډانګ پر کور د عملیاتو اجازه ور نه کړه او موږ یې ځان ته وغوښتلو.

مولوي صاحب د ملکشي کلي په سر کې د تور حافظ په نامه د سیمې د یوه طالب قوماندان په مرکز کې و، مازدیګر لمونځونه مو په دغه مرکز کې

Download more from Libtoon.com

وکړل، لـه لمانځـه وروسـته مـو ټولـه کیسـه ورتـه وکـړه، خـو ده وویـل چـې پـه ډانـګ پسـې خلکـو هسـې اوازه ګـډه کـړې ده، زه تاسـې تـه د ډانـګ پـر کـور د عملیاتـو اجـازه نـه درکـوم، ځکـه دا پښـتني ټولنـه ده، کـه خـدای مـه کـړه مـوږ د ډانـګ کـور وپلټـو او برګـډال پیـدا نـه شـي، ډېـره بـده خبـره ده.

ماښـام مـوږ ټـول ملګـري لـه مولـوي سـنګین سـره کـور تـه لاړو، هلتـه پـه مېلمسـتون کـې مولـوي شـمس الحـق رفیـق هـم و، ټـول شـاوخوا پنځه‌ویشـت تنـه مېلمانـه وو، د ډوډۍ لـه خوړلـو وروسـته مـو د شـپې تېرولـو لپـاره هـم همدغـه مېلمسـتون خـوښ کـړ.

Download more from Libtoon.com

## د ډانګ پر کور د پاکستاني پوځیانو چاپه

ملګري د شپې تر ناوخته د مولوي سنګین په مېلمستون کې له یو بل سره پر مجلس بوخت وو، خوب ته د تیاري وخت و چې په مخابره کې یوه مجاهد غږ وکړ چې د ملکشي کلي ته په زیات شمېر پاکستاني پوځیان او ټانکونه داخل شول. زموږ د ټولو د مخ رنګونه والوتل او یو بل ته مو وویل چې برګډال لکه چې رښتیا د ډانګ په کور کې و او هغه دي د وړلو لپاره یې پاکستاني ځواکونه راغلل.

مولوي سنګین د خبر په اورېدو زیات خپه او ناقراره شو او د هغه هم یقین راغی چې برګډال د پاکستاني پوځیانو لاس ته ولوېد. په دې وخت کې مولوي شمس الحق رفیق مولوي سنګین ته د ډاډ په خاطر هغه خوب بیان کړ چې د خلیفه صاحب په کور کې یو چا لیدلی و. مولوي شمس الحق وویل چې خلیفه صاحب خواب را لېږلی چې مولوي سنګین ته ووایه چې د تښتېدلي اسیر په اړه هیڅ اندېښنه مه کوه ان شاء الله ډېر ژر به پیدا شي. هغه ویل چې زموږ کره یو چا خوب لیدلی چې له مجاهدینو یوه بیزو ورکه وي او مجاهدین یې په لټون پسې زیات ستړي شي، اخېر دا بیزو د مجاهدینو لاس ته ورشي.

Download more from Libtoon.com

د دې خوب په اوربدو مو حوصلې بېرته لوړې او هیلې ژوندۍ شوې، ملګرو پرله‌پسې په مخابرو کې د پاکستاني پوځیانو د راتګ د هدف پوښتنه کوله او په مخابره کې هر ملګري ویل چې پوځیان مستقیماً د ډانګ کور ته ورغلل او تر اوسه د ډانګ په کور کې دي.

Download more from Libtoon.com

## په یوه ورځ کې د ټول شوال تصفیه

مـوږ شـپه همدلتـه د لالا پـه مېلمسـتون کې سبا کړه، په اتـم سـهار له چـای خوړلو وروسـته ده «مولـوي سـنگین» یـو کلیـوال کـس پـه سـاده لبـاس کې د ډانـگ کلي تـه ولېـږه چـې بېـگاه شـپه پـه دغـه کلـي کـې د پاکسـتاني پوځیانـو د عملیاتـو دقیـق راپـور راوړي، همـدا ډول یـې لـه میرانشـاه او نـورو سـیمو څخـه راغلـي دوه سـوه تنه مجاهدیـن د منگړیتـی لـه غـره سـره پـه خـوا کـې چمـن تـه راوغوښـتل، مـوږ هـم هغـه ځـای تـه ورغلـو، هـر یـو قومانـدان تـه یـې یـو یـو غـر وسـپاره چـې د شـوال ټـول غرونـه او درې پـه یـوه ورځ دقیـق وپلټـل شـي.
مجاهدیـن خپلـو مشـخصو شـویو ځایونـو تـه لاړل، دلتـه پـه چمـن کـې لـه مولـوي سـنگین سـره د دوو تنـو ځانگـړو سـاتونکو تـر څنـگ زه او بـلال هـم پاتـې شـوو، مـا او ده تـه یـې وویـل چـې تاسـې ښـځي زیـات سـتړي او نـاارام شـوئ، ځانونـه کـور تـه ورسـوئ ارام وکـړئ، پـه لار کـې لـه دوکانونـو څخـه د مېلمنـو لپـاره سـودا هـم یوسـئ، ځکـه بېـگاه تـه دا ټـول مجاهدیـن کـور تـه درځـو.
مـا او بـلال همداسـې وکـړل، لـه دوکانـو څخـه تـر سـودا اخیسـتو وروسـته یوولـس بجـې کـور تـه ورسـېدو، دا چـې مـوږ اووه شـپې او ورځـې نـاارام او بې خوبـه وو، مېلمسـتون تـه لـه رسـېدو سـره سـم ویـده شـوو. ډېـر ژور خـوب

Download more from Libtoon.com

یـوړوو چـې بیـا د بـلال د ابـا پـه غـبږ را ویـښې شـوو، ویـل یـې لمونځونـو تـه پورتـه شئ، مـوږ چـې د اوداسـه لپـاره دبانـدې ووتلـو، د ماښـام اذان شـروع و، یـو بـل تـه مـو وویـل چـې میراتمـړي خـوب رانـه د ماسپښـین او مازدیګـر لمونځونـه دواړه قضـا کـړل!

Download more from Libtoon.com

# ډزې نه کرارېدې

دا چې مونږ پرله پسې اووه ورځې د غرونو سرګردانه مزل ځپلي وو، د ستړيا له لاسه مو له وجوده دمه ختلې وه؛ نو د اتمې ورځې خوب داسې دمه کړو لکه په ورېښمو کې چې نغښتي وو.

ماښام ناوخته چې د مولوي سنګين په ګډون زيات شمېر مجاهدين کور ته راغلل ما او بلال خوب او پوره ارام کړی و، سمدلاسه مو د مېلمنو خدمت پيل کړ. له مېلمنو سره پر يوه دسترخوان د ډوډۍ خوړلو ته کېناستو، له حالاتو د خبرېدو لپاره د يوه مجاهد مخابره چالانه وه، ناڅاپه بل مجاهد غږ ورته را وکړ چې د منګړيتی په غره کې ځايي خلکو يو لېونی چې زولنې يې په پښو کې وې د منډې په حال کې ليدلی، د دې خبر په اورېدو ټول مجاهدين له دسترخوانه پورته شول او تياره ډوډۍ يې ځای پر ځای پرېښوده.

د مولوي سنګين په مشرۍ مو د منګړيتی د غره پر لور حرکت وکړ، يو پاو وروسته ورسېدو، مولوي سنګين پخپله ټولو ملګرو ته د لټون ساحې مشخصې کړې.

ما، بلال او محمد ځدراڼ ته يې د لټون لپاره د منګړيتی د غره سر

Download more from Libtoon.com

مشـخص کـړ، زيـات احتمـال دا و چـې برګـډال د همـدې غـره پـه سـر کـې دی، مـوږ تـه يـې دا ځـای ځکـه مشـخص کـړ چـې لـه مـوږ سـره د مولـوي سـنګين ورور بـلال و. مـوږ درې واړو تـه يـې دا هدايـت هـم وکـړ چـې څنګـه کـوم ملګـري برګـډال پيـدا کـړ، تاسـې بـه سمدلاسـه ځانونـه ور ورسـوئ، لـه ځـان سـره بـه يـې ميرانشـاه تـه وړئ او پـه يـوه خونـدي ځـای کـې بـه يـې ځـای پـر ځـای کـوئ، تـر هغـو پـورې بـه مـا هـم د مخابـرې لـه لارې نـه خبـروئ چـې سـره مخامـخ شـوي نـه يـو.

مـوږ د ده هدايـات پـه غـور واورېـدل او ډاډ مـو ورکـړ چـې همداسـې بـه کـوو، وروسـته د لټـون پـه موخـه ټـاکل شـوي ځـای تـه روان شـوو.

پـه غـره کـې مـوږ درې واړو د لټـون سـاحې سـره ووېشـلې، مـوږ درې واړه د منګړيتـی د غـره پـه سـر کـې تقريبـاً پـه پنځـوس متـره لـرې فاصلـه کـې سـره روان شـوو، دا چـې مـا او بـلال دمـه کـړې او خـوب پـوره کـړی و؛ نـو د نـورو ورځـو پـه پرتلـه خـورا ځواکمـن وو او پـه شـوق سـره مـو مـزل کاوه.

مـوږ شـاوخوا دوه سـاعته د غـره پـه سـر کـې د برګـډال پـه لټـون پسـې وګرځېدلـو، کلـه بـه چـې پـه يـو نيـم ځـای کـې سـره نـږدې شـوو د خبـرو لـه لارې بـه مـو د يـو او بـل د حـال پوښـتنه کولـه، کلـه چـې ښـه سـتړي شـوو درې واړه سـره يـو ځـای شـوو او شـاوخوا يـوه بجـه د غـره پـه سـر کـې د يـوه وران شـوي کـور تـر څنګ کېناسـتلو، د پنځلسـم سـپوږمۍ مـو پـر تنـدي ولاړه وه، محمـد تـر مـوږ پـاس يـوه ړنګ شـوي کـور تـه ننـوت، د بـلال عجلـه وه. کلـه چـې محمـد ړنګ شـوي کـور تـه داخـل شـو، د منګړيتـی پـه غـره کـې مخامـخ زمـوږ مجاهدينـو د مخابـرې لـه لارې پـر بـلال غـږ وکـړ او و يـې ويـل چـې ستاسـې د غـره پـه سـر کـې يـوه لاسـي بتـی بلـه شـوه، تـر لـږ خبـرو

Download more from Libtoon.com

وروسته څای دقیق شو چې له موږ سره په خوا کې چېرته بیجلي بله شوې، موږ هم بیداره شوو، زه را ولاړ شوم، ټوپک مې چمتو کړ، د ټوپک کړپا همداشان د مخابرې ټوله رابطه محمد هم اورېدلې وه، هغه هم داربدلی و، موږ ته ډېر جدي ویل شوي وو چې برګډال یوه اوسپنه ورسره وړې، ډېر احتیاط په کار و.

محمد همدې ډار اخیستی و چې ناڅاپي یې د وران شوي کور په منځ کې د یوې ونې پر تنه د انسان ګومان کړی و، چیغه یې کړه:

برګډال دی!

د محمد له چیغې سره سم بلال پر ملګرو د مخابرې له لارې غږ وکړ چې برګډال پیدا شو!

ما محمد ته ور منډه کړه او ټوپک ته مې مرمۍ ور تېره کړه، له دې سره سم موږ ته په مخامخ غره کې مجاهدینو له خوښۍ هوایي ډزې پیل کړې، په دې وخت کې بلال هم را ورسېد، ما چې څنګه هم د ونې تنه ولیده سمدستي پوه شوم چې محمد له ډاره پر ونه د انسان ګومان کړی، بلال ته مې وویل چې برګډال نه شته، محمد په ونه غلط شوی، محمد هم زیات داربدلی و، د ونې تر څنګ کېناست، سر یې په دواړو لاسونو کلک نیولی و، له مخامخ غره څخه هوایي ډزونو په ټوله سیمه کې زوږ جوړ کړی و او هیڅ نه پوهېدو چې مجاهدین له هوایي ډزو څه ډول منع کړو؟

خو بلال بیا بیا په مخابره کې پرې غږونه کول چې د خدای لپاره له ډزو سره احتیاط وکړئ، هیڅ نه شته، موږ غلط شوي وو! که موږ هر څومره ټینګار وکړ چې هیڅ لاس ته نه دي راغلي، خو ډزې نه کرارېدې،

Download more from Libtoon.com

مولوي سنګین د ډزو له اورېدو سره فکر کړی و چې ګنې شی په لاس ورغی، موږ ته یې وویل چې سمدلاسه میرانشاه ته ځانونه ورسوئ، موږ ورته وویل چې هغه مو نه دی پیدا کړی، څنګه لاړ شو؟ هغه دا فکر وکړ چې د راز ساتنې له امله به په مخابره کې حال نه وایي، خو موږ ورته پرله‌پسې انکار کاوه، اخر ده وویل چې حقیقت څه دی؟

موږ منفي ځواب ورکړ.

ده وویل:

ما ته ځانونه راورسوئ!

موږ هم درې واړو له غره څخه د راکوزېدلو مزل پیل کړ، غر ډېر لوړ و، په لاره کې مو بېلابېل فکرونه کول، ویل به مو چې زموږ تاسې د یوې کوچنۍ غلطۍ له امله مو پیدا کړی شی بیا ورک کړ! اوس به مولوي صاحب څه وایي او څه ځواب به ورکوو؟

موږ تولله لار په همدې فکرونو او خبرو لنډوله، سهار لمونځونه مو د غره لمنې ته ورسول او له لمانځه وروسته په منګړیتې کې هغه ختین هوټل ته ورغلو چې مولوي سنګین موږ ته منتظر و، کله چې موږ تش لاس هوټل ته ورننوتلو او و یې لیدو، پوه شو چې برګډال په لاس نه دی راغلی، زیات خپه شو، د مخ رنګ یې تک تور واوښت، و یې پوښتل:

برګډال چېرې دی؟

حافظ بلال وویل:

موږ نه دی پیدا کړی، محمد پر یوه ونه د انسان ګومان کړی و!

مولوي سنګین د زیات خپګان له امله له موږ مخ واړاوه او له هوټله دباندې ووت.

Download more from Libtoon.com

## له مرمیو خالي ججورې

دا چې موږ د منګریتی د غره لټون خلاص کړی او مجاهدینو د زیاتې خوښۍ له امله په غلطفهمی کې هوایي ډزې کړې وې او وروسته ټول مجاهدین د ډزو په کولو پښېمان وو، زه او بلال له مشورې وروسته دې نتیجې ته ورسېدو چې نن باید نهمه ورځ بوش نومي غر ولټوو.

له مولوي سنګینه مو د دغه غره د پلټلو اجازه وغوښته، هغه سمدلاسه اجازه راکړه، له منګریتی څخه تر بوش غره پورې د موټر یو ساعت لار وه، موږ ملګري دغه غره ته په دوو موټرو کې لاړو، هلته په رسېدو ملګرو ته د برګډال د لټون په موخه بیا ساحې ووېشل شوې او هر کس د خپلې ساحې د لټون لپاره لاس په کار شو، تر مازدیګره مو شېبه په شېبه د یو بل حال د مخابرې په مرسته اخیست، په دغه غره کې د نورو غرونو په پرتله مزل ستونزمن و، څکه ویل کېدل چې مقناطیس لري، د سړي قدمونه جذبوي.

زیات ستړی شوی وم، غوښتل مې چې د غره له سره لاندې کوز شم او دمه وکړم، خو زه له خپل موټره بل لور ته تللی وم او لار مې چپه کړې وه، یو خوا د غره پر سر د اسمان ګرد زیات راکښته شوی و او بله خوا له سیمې سره نابلده وم، له سیمې سره د نښتي ولایت پکتیکا په طرف روان وم، د

Download more from Libtoon.com

مازديگر وروستۍ شېبې وې، د غره بل خوا ته مې دزې تر غوږ شوې، پسې راوگرځېدم چې دا څوك دي؟

د غره سر ته په رسېدو سره ما ته په نږدې فاصله کې دزې وشوې او زما نوم هم واخيستل شو:

خالده!

-اورم ، څوك يې؟؟

ځنگ ته مې وکتل، فاروق مې وليد، چيغو ته په نږدې غږ يې وويل:

مبارك، امريکايي کاپر پيدا شو!

فاروق له شمالي وزيرستانه د مجاهدينو په کوم ټولۍ کې راغلی و، خو لاندې چې يې له مجاهدينو زما پوښتنه کړې وه، هغوی ورته زما ساحه په گوته کړې وه چې د غره په دې برخه کې په لټون بوخت دی.

کله مې چې د فاروق له خولې د برگډال د پيدا کېدو زېرى واورېد فکر مې وکړ چې درواغ وايي، ځکه ما او هغه به يو د بل له څورولو خوند اخيست.

بيا مې سوچ وکړ چې لاندې هم هوايي دزې کېږي شايد حقيقت وي.

فاروق ته مې غږ ور وکړ چې را وخېژي او د موټرو ځای ته لاړ شو. خو ده په لوړ غږ وويل:

تا لار غلطه کړې، لاندې راشه، ستاسې موټر کښته ولاړ دي!

زه حيران شوم، ما گومان کړی و چې موټر مو د غره په دې چپه لمن کې درولي، خو همداسې نه زړه د فاروق په طرف په منډه ور روان شوم، کله چې فاروق ته ور ورسېدم، ټينگه غېږه مې ورکړه او د برگډال په اړه مې ترې وپوښتل:

چېرته دی؟

-په کور کې دی، ژر کوه چې ځو!

Download more from Libtoon.com

د دې زېرې په اورېدو مې د څو ورځو ستوماني ختمه غوندې شوه او دواړه له پاسه د موټرو پر لور په منډه روان شوو. موټر ته په رسېدو مې له زياتې خوښۍ په خپل روسي کلاشنکوف هوايي ډزې وکړې، د کلاشنکوف ټوله ججوره مې خالي کړه.

د هر مجاهد له سترګو د خوښۍ اوښکې بهېدلې، يو او بل ته يې مبارکۍ ورکولې، ما هم د موټر سيټ را خلاص کړ، په موټر کې مې د بلال له کمربنده يو بله ججوره را پټه کړه او ټوپک ته مې ور بدله کړه، بيا مې ټوله په هوايي ډزو وويشتله. هوايي ډزو به مورږ ته ډېر خوند راکاوه.

د بلال چې ما ته پام را واوښت، له نورو ډزو يې منع کړم، موټر ته وختلو. زه او فاروق د بلال د موټر په باډۍ کې کېناستلو او کور ته روان شوو، په لاره کې د زياتې خوښۍ له امله د هر مجاهد پر شونډو خندا وه او ترانې يې زمزمه کولې.

Download more from Libtoon.com

# د برګدال پر مخ زما کلکه څپېړه

په ډېر سرعت تیاره ماخستن کور ته را ورسېدو، څنګه چې کور ته ننوتم لومړی مې د برګدال پوښتنه وکړه. زما ورته سودا هم وه چې څه ډول دی، سره له دې چې نور یې په سیاسي اهمیت هلته زما سر دومره نه خلاصېده، خو په خوست کې یې د نیول کېدو اوازې زما هم تر غوږ شوې وې. په دې ورځو کې مې یې له فاروقه ډېرې پوښتنې هم کړې وې، هغه هم ډېرې رنګارنګ تبصرې پرې راته کولې.

اوس یې په کور کې راته وویل چې تر اوسه یې نه دی راوړی، په دې وخت کې بلال هم راغی، ما ته یې وویل:

ژر راځه چې برګدال یو خوندي ځای ته ورسوو.

سمدلاسه زه او بلال له کور سره نږدې سړک ته پلي روان شوو، سړک ته په رسېدو مې ولیدل چې د تور داتسن موټر تر څنګ له مجاهدینو سره یو لاس تړلی سړی ولاړ دی، خړې جامې یې اغوستې او چپلکې یې په پښو وې، زما په ذهن کې چې کوم تصویرونه وو، اوس هغسې ډېر څه پکې را ښکاره نه شول. سر یې ځوړند نیولی و، داسې ښکارېده لکه څوک چې په یو کار سخت خجالت شوی وي.

Download more from Libtoon.com

ما برګډال لومړی وار همدلته ولید.

د مجاهدینو له خوشالي زه هم متاثر شوی وم، بل دا چې په لټون پسې یې پخپله هم ستړی وم، بې واره مې پر مخ یوه کلکه څپېړه ورکړه. پر ځان پوه نه شوم چې څپېړه د زیاتې غوسې له امله وه، که د زیاتې خوښۍ!؟ خو له نورو وهلو څخه یو د پاخه عمر مجاهد منع کړم، وروسته مې هغه کس وپېژاند چې د شمالي وزیرستان یو مشهور مشر حاجي عصمت خان و، دی په لنډه محمدخېل کې د مولوي سنګین ګاونډی و او په وزیرستان کې له خاصو مشاورینو شمېرل کېده.

حافظ بلال او عصمت خان حاجي دواړو له خپلو څلورو ساتونکو سره لاس تړلی برګډال خپل ډاټسن موټر ته پورته کړ او په یوه دسمال یې سترګې ور وتړلې. د موټر په شا سیټ کې یې برګډال داسې کېناوه چې یو او بل طرف ته یې یو یو مجاهد ورسره کېني او دوه نور ساتونکي ورسره په باډۍ کې کېناستل.

د موټر جلب ته بلال او د مخ په سیټ کې ورسره حاجي عصمت خان کېناست.

ما له حافظ بلاله پوښتنه وکړه:

زه څه وکړم؟

ته دلته له فاروق سره پاتې او د لالا لارښوونې ته منتظر شئ.

حافظ بلال او حاجي عصمت خان برګډال له ځان سره په موټر کې روان کړ. اول ما دا فکر کاوه چې ما هم ورسره بیایي، خو لکه چې په موټر کې ځای پاتې نه شو، یا شاید بلال فکر کړی وي چې فاروق په کور کې تنها دی.

زه او فاروق له یو څو نورو مېلمنو سره کور ته روان شوو، شاوخوا د شپې لس بجې وې د خپل کور په مهمانخانه کې له «ابا» سره د خوښۍ په خبرو بوخت شوو.

Download more from Libtoon.com

هر يوه د خپلو مزلونو خبره کوله او د ابا زيات تمرکز پر دې و چې ويل هيڅا ته مې د برګډال د تېښتې له امله پورته نه شواى کتلاى. د ابا تشويش دا و چې خلک به ګومان کوي، په سي اى اې يې پلورلی او د خپلو مجاهدينو وينې يې خرڅې کړې دي.
تر ډېره وخته مجلس روان و، ما ته د لټون هر ساعت مخې ته درېده، ما ته چې هر سوال مخې ته راته، له فاروقه مې يې ځواب غوښت.

Download more from Libtoon.com

## برګډال چېرې پټ و؟

د منګړیتی ساحې ته نږدې د برمل ولسوالي اړوند د نوې اډې په سیمه کې د امریکایي ځواکونو نظامي کمپ و. په شوال کې د نهه ورځې پرله پسې لټون په جریان کې زموږ وېره دا وه چې برګډال دغه کمپ ته لاره پیدا نه کړي، ځکه خو مو د ده په پیدا کولو پسې ګام په ګام لټون وکړ. دغه وخت لا د ډېورنډ پر فرضي کرښه اوسني اغزن تارونه نه وو تېر شوي، خلکو ازادانه یوې او بلې خوا ته تګ راتګ کولای شوای.

له موږ سره د لټون په عملیاتو کې د شیرامبل د کلي مجاهد شېر زمان یوسف هم و، دی هغه ځوک و چې په شوال کې یې مولوي سنګین ته کور برابر کړی و.

خان زمان له موږ سره په عملیاتو کې زیات مخلص و، کله کله به راز محمد خان کرفي ویل چې خان زمان ښایي دغه ورک اسیر په کور کې ساتلی وي او په دې خاطر زیات اخلاص کوي چې د چا ګومان پرې را نه شي. موږ به ټولو په دې خبره خندل.

خان زمان تر څو ورځو پرله‌پسې عملیاتو وروسته د برګډال د پیدا کولو په ورځ په کلي کې د کوم ګاونډي د واده لپاره پاتې شوی و او موږ د لټون لپاره د منګړیتی له سیمې څخه بوش غره ته تللي وو.

Download more from Libtoon.com

خـان زمـان ورځ پـه واده کـې تېـره کـړې وه، مازدیګـر د ډوډۍ خوړلـو پـر مهـال د مېلمنـو پـه خدمـت بوخـت و چـې د کلـي ماشـومانو ور منـډه کـړې وه او ورتـه ویلـي یـې وو چـې د مولـوي سـنګین لـه کـور سـره نـږدې پـه غونـډۍ کـې یـو لېونـی دی.

خـان زمـان سمدلاسـه د مېلمنـو خدمـت او ډوډۍ پرېښـودل او د لېونـي پـر لـور پـه منـډه روان شـو، څـو شـېبې وروسـته غونـډۍ تـه پـه رسـېدو یـې سـور رنګـی او شـین سـترګی سـړی تـر سـترګو شـو چـې ونـې تـه یـې تکیـه کـړې او سـتړی سـتومان ناسـت دی. خـان زمـان بـل وخـت برګـډال نـه و لیدلـی، خـو نـوم یـې زده و، د دې لپـاره چـې ناسـت کـس پـرې وسـلې تـه د لاسرسـي لـه املـه حملـه و نـه کـړي، خپـل کلاشـنکوف یـې لـرې کېښـود او ونـې تـه پـر تکیـه وهلـي کـس یـې غـږ وکـړ:

برګډاله!

د خـان زمـان د غـږ پـر اورېـدو سمدلاسـه ناسـت سـړی را ولاړ شـو او لاسـونه یـې د تسـلیمۍ پـه ډول پورتـه کـړل، خـان زمـان پـوه شـو چـې همـدا برګـډال دی، نـږدې ورغـی او لاسـونه یـې پـه خپـل دسـمال شـا تـه ور وتـړل، سمدلاسـه یـې لـه مولـوي سـنګین سـره د مخابـرې لـه لارې رابطـه وکـړه چـې سـړی پیـدا شـو. مولوي سـنګین پـر خپلـو ملګـرو زېـری وکـړ چـې برګـډال پیـدا شـوی دی.

خـان زمـان پـه هماغـه ماښـام برګـډال د خپـل کـور پـر لـور روان کـړی و. پـه لار کـې د سـوارلۍ یـو موټـر راغلـی و، د موټـر پـه رانـږدې کېـدو سـره برګـډال د سـړک تـر څنـګ پـه کرونـده کـې پـروت کـړی و چـې پـه موټـر کـې ناسـت خلـک پـوه نـه شـي چـې خـان زمـان کـوم اسـیر روان کـړی دی.

برګـډال چـې کلـه د مولـوي سـنګین پـه مېلمسـتون کـې بنـدي و، د خپـل عـادت

Download more from Libtoon.com

لـه مخې يـې دا ډول تکتيکونـه کارول. کلـه بـه چـې هلتـه هـم لـه کوټـې دباندې ايستل کېـده او کـوم نااشـنا څـوک بـه يـې ليـدل، د ځـان د پټولو کوښښ يـې کاوه. لـه الوتکـو سـره يـې هـم ډېـر پـام کاوه، هغـه بـه ويـل چـې ولـي مـو. ده تـه ويـل شـوي وو چـې پـه چـا ځـان و نـه ويني.

خـان زمـان پـه داسـې حـال کـې خپـل کـور تـه رسـولی و چـې د ماښـام لمونځونـه قضـاء کېـدل. پـه دې وخـت کـې ابـا «د مولـوي سـنګين پـلار حاجـي مرسـلين» خبـر شـوی او سمدلاسـه د خـان زمـان کـور تـه ورغلـی و، هلتـه يـې ليدلـي وو چـې خـان زمـان پـه لمانځـه ولاړ دی او برګـډال د مېلمسـتون پـه ګـوټ کـې لاس تړلـی پـه يـوه کونـج کـې ناسـت دی.

ابـا لـه موقـع پـه اسـتفاده د برګـډال پـه وهلـو پيـل کـړی و او پـه پښـتو يـې ورتـه ويل چـې ظالمـه مـا دې څومـره عـزت وکـړ، د مېلمـه پـه څېـر مـو نازولـې او تـا راسـره دومـره دوکـه وکـړه، اخېـر ولـې؟ مـوږ سـتا لپـاره نيمايـي کورنـی شـوال تـه راکـډه کـړه چـې پـه ميرانشـاه کـې دې ګرمـي و نـه وهـي...! خـو تـا مـوږ دغـه پيغـور تـه برابرولـو چـې خلکـو بـه ويـل چـې دوی پـرې پيسـې واخيسـتې او پـه امريکايانـو يـې خـرڅ کـړی...!

بيـا مـوږ تـه خـان زمـان ويـل چـې حاجـي مرسـلين اکا بـه يـوه نيمه خبـره پـه اردو هم کولـه، څکـه فکـر يـې کاوه چـې برګـډال پـه اردو پوهېږي. بل يې داسـې فکـر هم نه کاوه چـې هغـه خـو بنـدي دی، کـه هـر څه کېـدای، هغـه به يـې ولې غـم کاوه.

Download more from Libtoon.com

## د برګډال معشوقه

د مولوي سنګین کور له شمالي وزیرستانه په دې خاطر دلته د جنوبي وزیرستان شوال ته را لېږدېدلی و چې هلته د اسیر برګډال د ساتنې او د ګرمۍ د مخنیوي امکانات نه وو.

د برګډال له تېښتې وروسته مولوي سنګین پرېکړه وکړه چې نور باید کور دلته و نه اوسېږي. د تښتېدلي برګډال د پیدا کولو پر سبا یې ما او فاروق ته لار ښوونه وکړه چې هر څومره ژر کېږي باید کور بېرته شمالي وزیرستان ته بوځئ، اوس دا وېره وه چې کور به د بې‌پیلوټه الوتکو د اور خوراک شي او یا به هم پاکستاني پوځیان عملیات پرې وکړي، ځکه سیمه ټوله خبره شوې وه چې تښتول شوی امریکایي افسر برګډال دلته په همدې کور کې اوسېده او همدلته دی.

د برګډال له پیدا کېدو درې ورځې وروسته سهار ما او فاروق د شیرامبل کلي د موټرو په یوه کلیوال تم‌ځای کې یو مازدا موټر کرایه کړ چې د کور اسباب پکې واچوو او کډه وزیرستان ته بار کړو.

سهار نهه بجې شاوخوا مو مزادا موټر د کور تر مخ ودرېده او د کور سامان مو پکې باراوه، موږ شاوخوا درې ساعته په کور کې کار وکړ، نږدې یوه بجه مو له خپلې کورنۍ سره یو ځای په د شمالي وزیرستان پر لور مزل پیل کړ.

Download more from Libtoon.com

دا چې مازدا موټر د لارې د خرابوالي له امله د وړو موټرو په پرتله ورو ورو مزل کاوه؛ نو د شپې شاوخوا نهه بجې د شمالي وزيرستان په لنډه محمدخېلو کې د مولوي سنګين پخواني کور ته ورسېدو، ما او فاروق له يوې خوا د برګنډال په پيدا کولو کې لالهانده شوي وو او له بلې خوا مو د کور په نقل کولو کې هم ورځ تېره کړې وه، وروسته د ساعتونو ساعتونو سفر و، نور مو وس نه درلود چې د کډې سامان هم موږ کوز کړو، ځکه خو مو بار موټر د کور هلکانو ته پرېښود چې دوی يې خالي کړي، زه او فاروق د يو ګاونډي کور ته د خوب لپاره لاړو، د مېلمنو ځای ته په ننوتلو سره مو د خوب لپاره ژر ځايونه برابر کړل، کټ ته په رسېدلو مې سترګې يو داسې خوب وړې وې چې د سهار د لمانځه لپاره د کور خاوند غږ را باندې وکړ، ما فکر کاوه چې لس دقيقې پس را باندې غږ وشو، په ډېر زور سره لمانځه ته پاځېدم او تر لمانځه وروسته بېرته د کټ غېږې ته لاړم او دا ځل مې د ډوډۍ په نوم اورېدلو سره سترګې خلاصې شوې، ساعت مې چې وکوت د غرمې دوولس بجې وې.

د کور خاوند په حجره کې دسترخوان هوار کړی و، فاروق هم له خوبه را جګ شوی و او پر ډوډۍ ناست و.

دا چې موږ د شپې په سفر کې هم له بسکېټو او ترخو چنو څه نه وو خوړلي؛ نو پر ګرم دسترخوان د چرګ کړايي عجيب خوند درلود، تر بل هر وخت مې ډوډۍ زياته وخوړه، ما او فاروق په همدې حجره کې د ماسپښين لمونځونه هم ادا کړل، وروسته فاروق راته وويل چې کور ته به لاړ شو، هلته به چای هم وڅښو او د کور د احوال پوښتنه به هم وکړو چې د کور سامان يې ځای پر ځای کړی او که نه؟

د ګاونډي له کوره مو په پښو مزل وکړ، کور نږدې و، ژر ورسېدو، له کورنۍ سره تر احوال وروسته مو د مېلمنو کوټې ته د تللو اراده وکړه او و مو غوښتل

Download more from Libtoon.com

چې هلته چای وڅښو. د کور او د مېلمنو د کوټې په منځ کې يو غټ دېوال او د دغه دېوال په اخېرنۍ برخه کې د مېلمنو د کوټې طرف ته کوچنۍ دروازه وه، زه چې په دروازه ننوتم و مې ليدل چې د مېلمنو د کوټې تر څنګ په کوچنۍ کوټه کې خبرې کېږي، چې سر مې ور ښکاره کړ، د کوټې په منځ کې پر يوه غوړول شوې بستره برګډال ناست و.

سر يې کښته ځړولی و او تر مخ يې بلال د پښو په سرو ورته ناست و، کوټې ته زما په ورننوتلو برګډال را وکتل، رنګ يې الوتی و، د کمزورۍ له امله يې په بدن کې هډوکي ښکارېدل، فقط اسکليټ پاتې و.

زه هم د بلال تر څنګ د ګوتو په سرونو کېناستلم او په غلي اواز مې ورته وويل:

How are you?

برګډال وويل:

Fine!

برګډال زموږ پر لور د کتو جرأت نه کاوه، دا چې ما په خوست کې په کابل سنټر نومي کورس کې لږ انګليسي ويلې وه؛ نو مې يو څه خبرې وربانـدې کولای شوای.

ما همداسې يو څو نورې خبرې هم ورسره وکړې، په دې منځ کې فاروق هم کوټې ته راغی او زموږ تر څنګ کېناست.

ما له برګډاله ډول ډول شخصي پوښتنې شروع کړې وې، يو ځای مې وپوښتل چې مور و پلار يې ژوندي دي که نه؟ برګډال وويل:

مور و پلار مې ژوندي دي او په يوه کارګو کې کار کوي.

د واده پوښتنه مې ترې وکړه، راته کړه يې:

تر اوسه مې واده نه دی کړی، خو ګرل فرينډ لرم، نوم يې مونيکا لي

Download more from Libtoon.com

Monica Lee دی...

خبرې يې پرې شوې.

بيا يې په څرېدلو شونډو خبرو ته دوام ورکړ:

زه تر نيول کېدو وروسته له مونيکا لي سره هيڅ اړيکه نه لرم، نه پوهېږم چې هغه به په کوم حال وي؟ زه وېرېږم چې له بل چا سره واده و نه کړي.

زما له لباسه يې شايد معلومه کړه چې ښار ته د تګ راتګ لاسرسی لرم؛ نو ځکه يې رانه وغوښتل چې ضرور يو ځل له مونيکا لي سره تماس ونيسم او ورته ووايم چې واده و نه کړي، برګډال به ژر درځي.

ما هم له برګډال سره ژمنه وکړه چې ضرور به له کومې لارې له مونيکا لي سره تماس نيسم او همدا پيغام به ور رسوم.

برګډال د اسارت په ټوله موده کې موږ ته هيڅکله د کورنۍ د غړو په اړه څه و نه ويل، خو همدا يوه مونيکا لي به يې يادوله.

په همدې ورځ ما هغه ته د اسلام د مقدس دين د قبلولو دعوت ورکړ، خو هغه وويل: ما ته د څلور واړو اسماني کتابونو انګليسي ژباړه راوړه چې زه يې مطالعه او له يو بل سره پرتله کړم، وروسته چې ما ته کوم دين برحق ښکاره شو په دې اړه به خپله وروستۍ فيصله وکړم.

دا خبره ما بلال ته وکړه.

هغه ويل چې مخکې يې هم دا غوښتنه کړې، خو حضرت عمر وايي چې مسلمان شي، بيا موږ ته څه په درد خوري؟ يو بندي هم والله که پرې راکړي.

ما د برګډال دغه خبره مولوي سنګين ته وکړه، هغه زيات کوښښ وکړ چې دغه انګليسي ترجمه شوي اسماني کتابونه ورته پيدا کړي، خو په وزيرستان کې د دا ډول کتابونو پيدا کول د مرغۍ له پيو کم نه و.

Download more from Libtoon.com

○○○

زه شاوخوا درې شپې نور هم دلته په کور کې پاتې شوم او کله کله به د ساتېري لپاره برګدال ته ورتلم، يوه ورځ مې کاغذ او قلم ورکړل او په انګليسي مې ورته وويل:

My Jihadi name is Malangyar.

هغه ځان ناګاره کړ چې ګنې ليک او لوست نه شي کولای، خو کله چې زه لږ غوسه شوم سمدلاسه يې د انګليسي په غټو تورو وليکل:

MALANGYAR

بله ورځ زه او بلال يو ځای ورغلو، د خوراک لپاره مو يو څه شيان ورته راوړي وو، ما پوښتنه ترې وکړه چې ته پوهېږې په کوم هېواد کې يې؟ هغه نه پوهېده، ويل يې تر اوسه هيڅ معلومات نه ورته کېږي چې په کوم هېواد کې دی.

وروسته بلال ما ته وويل چې د ځای او هېواد نوم ورته ياد نه کړم، برګدال تر اوسه پر دې نه و پوه کړل شوی چې چېرې بندي دی.

برګدال ما ته خپله سينه را ښکاره کړه، پرې د جوړ شوي ټپ پر نښان يې ګوته کېښوده:

Download more from Libtoon.com

ـ دا د پکتیکا په مرکز شرنه کې د جنګ پر مهال د دهشکې په مرمی لګېدلی وم.

زه پوه نه شوم چې برګډال ولې دومره لوی درواغ راته وویل، ځکه د دهشکي مرمی په تټر خوړل او بیا ژوندی پاتېدل کله سره کېږي.

برګډال یو څه ضروري خبرې په پښتو هم کولای شوای:

ډوډی راوړه!

ګرمي ده!

ساړه دي!

کمبله غواړم!

اوبه څښم!

لمبېږم!

زړه مې په تنګ دی!

او نور...

Download more from Libtoon.com

# په قفس کې

برګډال تر تېښتې مخکې شاوخوا یو کال او دوې میاشتې د مولوي سنګین
کره وساتل شو، بیا په شوال کې له تېښتې او نیول کېدو وروسته خلک
خبر شوي وو چې برګډال د مولوي سنګین په کور کې ساتل کېږي. په دې
خاطر چې پر برګډال یا د مولوي سنګین پر کورنۍ د امریکا له لوري کوم
برید و نه شي، مولوي سنګین له خلیفه سراج الدین حقاني سره مشوره
وکړه چې برګډال کوم بل خوندي ځای ته انتقال شي.
تر زیات فکر کولو وروسته دواړه پر مولوي نور قاسم حیدري باندې هوکړې
ته سره ورسېدل چې هغه به یې په ډانډې درپه خېلو کې یو خوندي ځای
ساتي او پالنه به یې کوي.
مولوي نورقاسم حیدري هغه مهال د امارت له خوا د خوست والي او دواړو
ته نږدې د باور وړ کس و.
مولوي سنګین چې د شپې کور ته راغی خپل تره قیوم سربلند او د تره
زوی حضرت عمر ته یې وویل چې سبا مېلمه «برګډال» په ډانډې درپه
خېلو کې د جمیل کور ته راوړئ.
جمیل په وزیرستان کې د خلیفه صاحب د اړیکو مسوول یا رابط و او دواړو

Download more from Libtoon.com

ته یې دا هم وویل چې زیات پام به کوئ چې هیڅوک د هغه پر انتقال خبر نه شي.

په سبا سربلند او حضرت عمر د سپین سراچه موټر په دویم سېټ کې برګډال په داسې حال کې د جمیل کور ته راووړ چې د ښځو برقع یې پر سر وه.

د جمیل په کور کې ورته حافظ بدرالدین حقاني منتظر و، دا چې بدرالدین حقاني یوه اندازه په انګلیسي ژبه ګړېدلای شو، له سربلند او عمر سره تر ستړې مه شي وروسته یې له برګډال سره په انګلیسي ژبه خبرې پیل کړې.

حافظ بدرالدین له برګډاله وپوښتل:

ته ولې وتښتېدې؟ او نهه ورځې دې څنګه خپلې کومې اډې ته لاره پیدا نه کړه؟

برګډال وویل:

-زه بندي یم، ضرور به مې د تېښتې هڅه کوله، خو دا چې زه د دغې سیمې له جغرافیې سره بېخي نابلده وم او د لارو ګودرو هیڅ معلومات نه راته کېدل او نه پر دې پوهېدم چې زه د افغانستان په کوم ولایت او کومه سیمه کې یم، ځکه په غرونو کې ورک شوم، د شپې به مې تونه شپه مزل وکړ، خو د ورځې به بېرته بیا هماغه ځای ته راغلی وم چې له کومه ځایه به مې مزل پیل کړی و. یوه ورځ چې زیات ستړی او ناارام وم په ونه کې ناست وم او تر ونه لاندې مې مجاهدین ولیدل چې چنتې یې پر ملا تړلې او ټوپک په لاس زما په پیدا کولو پسې ګرځېدل، ما غوښتل چې د زیاتې لوږې او ستومانۍ له امله ور غږ کړم چې بېرته مې د عمر او بلال کور ته ورسوي، خو بیا وېره راسره پیدا شوه چې مجاهدین به زیات غوسه او

Download more from Libtoon.com

قهرېدلي وي، که ور غبر کړم شاید له ډېرې غوسې مې ووژني.

برګډال بې سېکه وو، تکیه یې وکړه، بیا یې خبرې وغځولې:

د تېښتې په وخت کې مې بلال او عمر تر ټولو زیات یادېدل او غوښتل مې چې بېرته کور ته راشم، خو دا چې ما د کور لار خطا کړې وه، ځکه مې و نه شوای کولای چې راشم.

د حافظ بدرالدین حقاني د پوښتنو له ځوابولو وروسته هغه برګډال په خپل سراچه ډوله موټر کې کېناوه او د مولوي نورقاسم حیدري د کور پر لور یې حرکت وکړ، د مولوي حیدري کور هم نږدې په ډانډې درپه خېلو کې و، د هغه د کور په ګاونډ کې په یوه بل خالي کور کې د بندیانو د ساتنې په موخه زندان جوړ شوی و او مجاهدینو به ځینې بندیان هلته پکې ساتل.

پر دغه زندان به څلرویشت ساعته د مولوي نور قاسم حیدري د مجاهدینو پهره کېده، خو دا چې برګډال د نورو بندیانو په پرتله زیات مهم و، پر دې اساس مولوي حیدري د هغه د ساتنې او پالنې لپاره له خپلو مجاهدینو څخه پنځه تنه باوري مجاهدین موظف کړل، له دغو پنځو تنو پرته چې د برګډال د ساتنې لپاره مؤظف شوي وو نور هیچا ته دا معلومات نه کېدل چې دلته برګډال ساتل کېږي، حتی د مولوي نور قاسم حیدري کورنۍ هم پر دې نه پوهېده.

د هغه د زوی فرید له قوله چې ویل یې هغه ورځ خبر شو چې بیا بېرته برګډال له دغه زندان څخه کوم بل نامعلوم ځای ته انتقال کړل شو.

محمدالرحمن روحاني چې د پنځو مؤظفو ساتونکو له جملې څخه و، ویل چې مولوي سنګین موږ ته یوه اوسپنیزه قفسي پنجره راوړه او موږ هغه پنجره دننه په یوه کوټه کې ځای پر ځای کړه، له دې وېرې چې برګډال

Download more from Libtoon.com

یو ځل بیا و نه تښتي، دننه مو په هغه قفسي پنجره کې ساته، یوازې هغه مهال له پنجرې څخه د وتلو اجازه ورکول کېده چې کله به تشناب ته د تګ ضرورت پیدا شو.

روحاني دا هم ویل چې یوه ورځ زه بیرون لمر ته ناست وم او برګډال دننه په کوټه کې په انګلیسي سندرې او ګډا پیل کړه، ما ترې پوښتنه وکړه چې خیر دی په کومه خوشالی کې سندرې او ګډا کوې؟ برګډال زما په لیدو ډېر حیران شو او ما ته یې وویل چې زما خیالي باچاهي دې په اوبو لاهو کړه، وروسته ده خپلو خبرو ته ادامه ورکړه چې زه په سوچونو کې غرق وم او ځان مې له زندانه ازاد احساس کړی و، په سوچ کې امریکا ته تللی وم او له مونیکا لي سره یو ځای لاس په لاس په یوه پارک کې ګرځېدم...!

روحاني راته ویلي وو چې زموږ له پنځو ملګرو سره د برګډال ډېره جوړه وه، کله کله به ما ورته وویل چې که ته بېرته ازاد او بېرته خپلې عسکري دندې ته ستون شې او زه په باګرام کې بندي شم، بیا خو به ظلم نه راسره کوې؟ د دې پوښتنې په اورېدو یې سترګې کښته کړې او له ځان سره غلي خندلي وو.

د روحاني له قوله چې برګډال به په زندان کې تر ټولو زیات د حافظ بدرالدین حقاني ملاقات ته خوښ و، هرکله به چې زندان ته بدرالدین راغی او برګډال به یې غږ واورېده؛ نو له ډېرې خوشالی به یې دننه په قفسي پنجره کې ټوپونه وهل، موږ به چې کله له بدرالدین سره د ملاقات لپاره له پنجرې را وایست، ټینګه غېږ به یې ترې تاو کړه او پر تندي به یې ښکل کړ.

یوه ورځ بدرالدین له مولوي سنګین سره یو ځای د برګډال لیدو ته راغی، بدرالدین برګډال ته وویل:

Download more from Libtoon.com

دا سړی ستاسې دښمن دی، پېژنې یې؟

برګډال په داسې حال کې چې سترګې یې نه پورته کولې، غلي ووېل:

هو پېژنم یې!

برګډال په دغه بندیخانه کې هیڅ نظافت نه مراعات کاوه، همېشه به یې د ډوډۍ د خوراک پر مهال خپل مخ او جامې په کټغ او غوړیو لړلي وو، کله کله به یې په خپله قفسي پنجره کې دننه بولې هم کولې او روحاني به مجبور و چې په ډېره سختي د ده پنجره او د اوسېدو ځای پاک کړي.

Download more from Libtoon.com

# د سرو زرو چرګ

د ۲۰۰۹م کال د جون میاشتې ۳۰مه وه، تازه سهار پیل شوی و، لمر ځلېده، دپکتیکا د یوسف خېلو ولسوالي په ملا لمبات کلي کې هر څوک په خپلو کارونو پسې په خپله خپله مخه لاړل. کښیان «دهقانان» کروندو، زده‌کوونکي ښوونځیو او طالب العلمان مدرسو ته وخوځېدل.

د قاري اسماعیل ذوالفقار د ډلګۍ درې مجاهدین «مولوي عبدالجلیل عرفان ، ملا معین الدین مشفق او ملا ګلاب وفادار» چې مرکز یې د ملا لمبات کلي په جومات کې و، د جومات تر څنګ یې د دښمن څار کاوه او نیت یې دا و چې په ښکار پسې یې یوې خوا ته لاړ شي. دوی یوې بلې خوا ته ترصد کاوه او په خبرو بوخت وو چې لرې یو موټرسایکل په ډېر سرعت په دوړو کې د دوی خوا ته را روان و.

درې واړه را روان موټر سایکل ته متوجه او منتظر شول، هیڅ نه پوهېدل چې دا څوک دی او ولې په دومره توندی موټرسایکل ولي. موټرسایکل تر شا اوږده ولاړه دوړه پرېښوده او په تېزی را نږدې کېده.

د موټرسایکل په را رسېدو دوی ته معلومه شوه چې دغه سړی د دوی د مجاهد ملګري ورور احمدخان دی، احمد خان له څو کلونو راهیسې له

Download more from Libtoon.com

دوی سره په استخباراتي برخه کې همکاري درلوده.

احمد خان په تلواره کوز شو، تر پوښتنه مخکې یې په څادر خپل کالي ټکوهل او بې واره په خبرو شو:

-یو بهرنی مې ولید، افغاني کالي یې اغوستي، د امریکایانو له کمپه راوتلی دی، په کلي کې لار ځني ورکه شوې ده، ما په اشارو دومره پوه کړ چې زه د ملي اردو عسکر راولم، خوندي به دې ورسوي او...

ټولو په حیرانی ور وکتل، پوښتنه وشوه. ټول چوپ وو. احمد خان په څادر مخ پاکاوه، بیا یې وویل:

اوس مې یو ګوښه ځای کېنولی دی، باید ژر ورشو، ښکار باید له لاسه و نه وځي!

مولوي عرفان، ملا مشفق او ملا وفادار له خبرو او سلا مشورې پرته پر خپلو موټرسایکلونو پښې واړولې، احمدخان دوی ته لاره ښووه. د موټرسایکل د شا ټایرونه په توندی تاو شول، دوی په سرعت مزل کاوه، په شېبه کې له سترګو پناه شول.

Download more from Libtoon.com

○○○

څلور واړه د يوه داسې بهرني کس تر مخ له موټرسايکلونو را کښته شول چې په افغاني جامو او پلاستيکي څپلکو کې حيران دريان ولاړ و او يوه غوټه يې هم په لاس کې نيولې وه.

دا چې دوی په انگليسي نه پوهېدل، شايد بهرني وگړي هم دا فکر کړی وي چې محلي پوليس يا اربکيان راغلل، مولوي عرفان او ملگرو يې دا فکر وکړ چې سړی نشه دی، خو په اشارو يې دومره پوه کړ چې خپل کمپ ته دې وړو، بهرنی له کوم جنجاله پرته مولوي عرفان له ځان سره پر موټرسايکل سپور کړ، مولوي عرفان فکر وکړ چې که يې سترگې او لاسونه ور تړي، هغه ته دا احساس کېږي چې اربکيان نه دي؛ نو ممکن د مزاحمت يا مقابلې انگېزه پيدا کړي.

په نريو لارو تېز روان موټرسايکلونه د طالبانو د مرکز پر لور تاو او له رسېدو سره سم يې غږونه ارام شول. ټول را کښته شول، ناڅاپه مولوي عرفان د کلاشينکوف شپېلی د بهرني پر تندي ونيوه، د بهرني سترگې رډې را وختلې، مولوي عرفان په اشاره پوه کړ چې شور و نه خوري.

د بهرني لکه چې زبون وهل شوی و، سمدلاسه يې لاس پورته کړل، ټول

Download more from Libtoon.com

طالبان پوه شول چې سړی تسلیم شو.

د مولوي عرفان ملګرو د موټرسایکل له کونجغې ربړینه رسۍ را خلاصه کړه او د بندي د لاسونو په تړلو لګیا شول. رسۍ داسې وه چې له هر وار را اړولو سره ټینګېده، بندي ستمی او نارې شروع کړې. بیا یې لاسونه غورځار کړل، دوی پوه شول چې درد ورکوي او پر دې هم پوه شول چې سړی نشه نه دی. څو شېبې وروسته چې یې د ملا لمبات جومات ته دننه کاوه، لاسونه یې تړلي وو.

په جومات کې عرب مجاهدین هم ناست وو، د روغبړ په جریان کې د مولوي عرفان ملګرو د بهرني د نیولو زېری پرې وکړ. د دې خبرې له اورېدو سره جوخت یو عرب مجاهد بې تابه را ولاړ شو او د خپل کلاشینکوف په کونداغ یې پر لاس تړلي بهرني سخت کلک ګوزار وکړ، مولوي عرفان پورته شو، مخ یې تک سور شو، عرب ته یې په ډډ غږ وویل:

دا اوس اسیر دی، له اسیر سره ظلم شرعاً ناروا دی او بل دا چې دی اوس زموږ په ساحه کې دی، بد کار دی.

عرب مجاهد حیران ودرېد او بیا پټه خوله کېناست.

څو شېبې وروسته یو کلیوال وړینه رسۍ راوړه، دا تر ربړینې هغې پسته وه او د لاسونو له ښورولو سره یې د ټینګېدو اندازه نه زیاتېده.

په خوشاله غږ یې وویل:

ها ملا صاحب، دا دی را مې وړه.

د مولوي عرفان یو ملګري د بهرني له لاسونو ربړي رسۍ خلاصه کړه، بیا یې لاسونه په وړینه رسۍ کلک ور وتړل او د نورو کسانو تر وتلو وروسته په بندي پسې د جومات دروازه بنده شوه.

Download more from Libtoon.com

له جوماته دباندې په خپل‌منځي مشوروکې د الوتکو د راتلو د خطر په اړه خبرې جدي شوې، تر هوکړې وروسته ټول مجاهدين د مولوي عرفان او نيولي بهرني په ګډون له کلي ووتل او د سپين کلي پر لور روان شول.
څو شيبې وروسته د اسمان په کنګروکې امريکايي جنګي الوتکو چوپتيا وخيرله او بيا د ملا لمبات کلی د انداخت غړمبا او لوګيو پر سر واخيست.
که څه هم دلته چا ته زيان و نه رسېد، خو بيا وروسته د برګډال په لټون د امريکايي بمبار په نتېجه کې تر ديارلسو ډېر ملکيان او مجاهدين شهيدان شول.

Download more from Libtoon.com

○○○

په یوسف‌خېلو کې سپین کلي ته له رسېدو سره سم، مجاهدین بیا د مشورې لپاره یو ځای ودرېدل. لاس ترلی بهرنی یو دم په منډو شو، د تېښتې هڅه یې ناکامه شوه، مجاهدینو بیا په موټرسایکل سپور کړ او په سپین کلي کې یې سپین کمر ته یووړ.

هغه عرب مجاهدین چې د ملا لمبات کلي په جومات کې له مولوي عرفان سره مخ شوي وو، هغوی هم سپین کمر ته رارسېدلي وو او دې ته منتظر وو چې له نیول شوي بهرني وګړي پوښتنې ګروېږنې وکړي.

د سلیمان په نامه یوه عرب مجاهد چې په انګلیسي ژبه یې روانې خبرې کولای شوای، له نیول شوي کسه وپوښتل:

ته څوک یې او ولې افغانستان ته راغلی وې؟

بهرني وګړي ورته وویل:

زما نوم جېم دی او د شمالي امریکا یم. دلته افغانستان ته په سیاحت راغلی یم.

څو نورې پوښتنې هم تبادله شوې، بیا مجاهدینو په خپل منځ کې تر خبرو وروسته تصمیمونه ونیول. لږ شېبه وروسته مولوي عرفان او د هغه ملګرو اسیر د غزني ولایت ګیرو ولسوالي ته روان کړ. د ګیرو والسوالي دیسي کلي ته

Download more from Libtoon.com

چې ورسېدل، هلته د عمران په نامه یوه عرب مجاهد پوښتنې ترې پیل کړې او د هغه په لاس کې غوټه یې خلاصه کړه.

په غوټه کې نظامي یونیفورم، جي پي ایس، خنجر، خوراکي توکي او ځینې نور د اړتیا وړ شیان پیدل شول.

تر دې مخکې برګډال هیڅ تالاشي شوی نه و چې دا په نظامي ژوند کې یوه لویه بې احتیاطي بلل کېدای شي.



له برګډال سره په لومړي ورځ نیول شوی چاقو

Download more from Libtoon.com

د دې غوڼې پرانیستلو د دې راز خوله هم خلاصه کړه چې سړی سیلاني نه، بلکې امریکایي عسکر دی. پر یونیفورم یې نوم لیکل شوی و:
بو برګډال!

مجاهدینو سمدلاسه د کلي له دوکانه ځنځیر او قلف را واخیستل، دا ځل یې لاسونه د رسۍ پر ځای په ځنځیر ور وتړل. د امریکایانو له چاپې سره د چل په خاطر یې له عربو بېل او په همدې ولسوالي کې یې نېکمرغي کلي ته ولېږداوه.

هلته ایوبي یو باوري مجاهد ملګری و، هغه ته یې وویل چې له موږ سره یو ناروغ عرب مجاهد دی، په کور کې به دننه د شپې تېرولو لپاره یوه کوټه راکړې. هغه سمدلاسه کوټه ترتیب کړه او دوی دننه ورسره لاړل.

دوی دلته له برګډال سره په پښتو خبرې اترې پیل کړې، خو برګډال هیڅ په پښتو نه پوهېده، کله به چې مجاهدینو د اسامه بن لادن او ملا عمر نومونه ورته واخیستل پوه به شو. بیا به یې له امریکایي عسکرو سره د جګړې صحنې ورته تمثیل کړې، برګډال به حیرانې سترګې نیولې وې.

مجاهدینو دا ځای هم په دې خاطر بدل کړ چې امریکایان یې څرک و نه لګوي. له دغه ځایه یوې غزنۍ ساحې ته چې په زېړه ساحه مشهوره ده، د مبین اخوندزاده کره لاړل.

دلته یې لږ د ارام احساس وکړ.

د مبین اخوندزاده په کور کې دوی ته د مېلمستیا په خاطرکورنۍ چرګ هم حلال شو، په دې وخت کې قاري اسماعیل ذوالفقار د پکتیکا ولایت له خوشامند ولسوالي څخه سپین کمر ته راغلی و، د هغه مرستیال مولوي عبدالکریم مجروح په مخابره کې پر مولوي عبدالجلیل عرفان غږ وکړ او ورته

Download more from Libtoon.com

و يې ويل چې ژر له غوتې «برګدال» سره سپين کمر ته را ستانه شئ.

له دې غبږ سره سم، مجاهدين د مولوي عرفان په غبږ له دوو چالانو موټرسايکلونو سره تيار او برګدال يې ورسره روان کړ. مزل يې پيل کړ، تر يو څه ځايه چې لاړل، يو موټرسايکل خراب شو، خو مولوي عرفان برګدال د ځان او مولوي مشفق په منځ کې ورسره سپور کړ او په سپين کمر کې يې د مولوي مجروح تر کوره خوندي ورساوه.

دا د قاري اسماعيل او مولوي عبدالکريم مجروح غوښتنه وه چې بايد مولوي عرفان او ملګري يې اسير دلته را ورسوي.

Download more from Libtoon.com

○○○

قاري اسماعیل مولوي مجروح ته په خبښ نظر وکتل:

بندي باید پر وخت خپل مسوول کس «مولوي سنګین فاتح» ته وسپارل شي.

مجروح د سر په خوځولو اطاعت وښوو.

د مولوي سنګین اوس د پکتیکا په نظامي مسوولیت کې ډېر وخت وتلی و او پر یوه ځای یې پیدا کول سخت وو. د خبرولو لپاره یې بله لاره نه وه، بالاخره په شمالي وزیرستان کې د حافظ بدرالدین حقاني نمایندګۍ ته زنګ ووهل شو. دا چې غوښتنه خورا ګړندۍ وشوه، له هغې خوا ورسره پخپله بدرالدین حقاني په اړیکه کې شو.

هغه چې څنګه پوه شو چې د مجاهدینو لاس ته «د سرو زرو چرګ» ورغلی، په ټینګار یې وویل:

له پنځو تر اتو لکو کلدارې به در ولېږم، عاجل یو موټر واخلئ او تر دې ځایه یې د موټرسایکلو په ځای په موټر کې را ورسوئ. شی در نه ضایع نه شي.

د قاري اسماعیل ډلګۍ تر دې دمه موټر نه درلود، هر فعالیت چې و، په موټرسایکلو تر سره کېده. بدرالدین حقاني دوی ته بل دا هم ویلي وو چې سمدلاسه یې مولوي سنګین ته ورسوئ، مولوي سنګین په پکتیکا کې

Download more from Libtoon.com

زېړوک ولسوالۍ ته درغلی دی.

مولوي سنګين هغه مهال په زېړوک کې د امريکايي ځواکونو پر کمپ د بريد لپاره په چمتووالي اخته و.

قاري اسماعيل خپلو ملګرو ته د مشورې په وخت کې وويل:

حافظ صاحب خو د موټر خبره وکړه، خو په دې کم وخت کې موټر نه شي اخيستل کېدای.

بيا يې پرېکړه وکړه چې دغه د سرو زرو چرګ د عربو مجاهدينو په موټر کې ور ورسوي. د هغوی موټر تيار د نکې په لار وزيرستان ته تلل.

نکه او زېړوک د پکتيکا دوې سره نښتې ولسوالۍ دي.

دوی عرب مجاهدين را وغوښتل، هغوی د خپل کار لپاره وزيرستان ته روان وو.

قاري اسماعيل يوه کړل او خپله غوښتنه يې ورته واوروله.

عرب سمدلاسه تيار شول او بيا «بو برګډال» د مولوي عبدالکريم مجروح له خوا د سليمان په نامه يوه عرب مجاهد ته په لاس ورکړل شو.

مجروح وويل:

زموږ ملګری مولوي عبدالجليل عرفان به تر هغو درسره يو ځای وي چې څو خپل ځای ته نه ياست رسېدلي.

سليمان ډاډ ورکړ:

پوه شوم، بالکل همداسې کوم.

وروسته مجروح له سليمانه هغه ته د برګډال د تسليمۍ د سند او بيا د هغه د لاسليک غوښتنه وکړه، دا د دې لپاره و چې په دې برخه کې نور مسووليت دوی ته راجع نه شي. سليمان سمدلاسه سند په عربي ژبه وليکه او تر لاسليکولو وروسته يې مولوي مجروح ته ونيو:

Download more from Libtoon.com



بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على
أشرف المرسلين :-
أما بعد
فلقد أستلم منه أنا المدعو سليمان
أسير واحد من القوات الأمريكية من مجروح
في اليوم الثلاثاء الموافق
8 رجب 1430 الموافق 30/6/2009 .
في منطقة سليمان زاي إلى أوصله إلى
جيران شاه .
و السلام عليكم و رحمة الله

چا چه له دین سره خیانت او جفا کړې ده هغه ذلت او رسوای سره مخامخ کړی
راځئ چه له دین سره وفا وکړو تر څو مو عزت ولری او اخرت پر نصیب شی .
« د امیر المؤمنین مجاهد ملا محمد عمر »

د هماغه لیک انځور

مولـوي مجـروح تـه د دغـه لاسلیک کـړي خـط تـر سپارلو وروسـته لـه سلیمان سره راغلـي درې تنه عـرب مجاهدیـن د پیـک‌اپ موټـر پـه بـاډۍ کـې کېناسـتل.

مولـوي عرفـان، برګـډال چـې اوس یـې سـترګې او لاسـونه تړلـي وو او موټـر چلوونکـی سـلیمان پـه موټـر کـې کېناسـتل.

مولـوي محـروج لاسـونه اسـمان تـه لپـه کـړل او بیـا یـې دوی ټـول پـه تیاره ماخسـتن کـې په خـدای وسـپارل.

Download more from Lib1oon.com

○○○

دا چې اکثریت عمومي او فرعي لارې د امریکایي ځواکونو تر کلک څار او کنترول لاندې وې، سلیمان د دې لپاره چې څوک پرې شک و نه کړي د تګ لپاره د ښرنې بازار ته نږدې لارې ته سم شو، د لارې د وړاندې څار لپاره د انور طیب په نامه یو تن ځایي مجاهد ګومارل شوی و، هغه به مخکې له مخکې لار څارله او سلیمان خپل مزل ته د هغه د څار پر اساس وړاندې دوام ورکاوه.

د خربین په ساحه کې د مولوي ضیاءالحق او قاري فاتح د مجاهدینو ګزمه پرې پېښه شوه، هغوی د خیر و خیریت او وضعیت پوښتنه ترې وکړه چې خیر دی دا د شپې یوه بجه ګوره او ستاسې سفر؟ تر سلیمان مولوي عرفان وار ړومبی کړ:

-هو هو خیر دی، هیڅ خبره نه شته، دغه یو عرب مجاهد لږ ناروغ دی، دلته یې یو کلیوال ډاکټر ته رسوو.

له هغې خوا غږ راغی:

-ښه ښه، بس چې خیر وي، ځئ خدای مو په خیر ورسوه، لاره هم بې غمه ده!

Download more from Libtoon.com

مولوي عرفان وويل:

بس حرکت!

موټر بيا روان شو.

په دې سيمه کې د لارې د څار په برخه کې د پکتيکا د هغه مهال قاضي مولوي عبدالله د ډلګۍ ملګرو هم مرسته وکړه، په غزني کې سردې بند ته په رسېدو د سهار اذان وشو، دوی هم لازمه و نه بلله چې وړاندې تګ وکړي، د مټاخان ولسوالۍ په خنجرخېلو کلي کې د انور طيب کور ته لاړل، د هغه کور ته د مدني په نامه د دوی يو ملګری هم راغی، دوی ښه مجلس ورسره وکړ، هغه څو ځله غوښتنه وکړه چې له نيول شوي امريکايي عسکر سره عکسونه واخلي، مګر مولوي عرفان اجازه ور نه کړه.

مولوي عرفان او سليمان له برګډال سره په همدې کور کې تر مازديګره پاتې شول، مازديګر يې بيا په داسې حال کې حرکت وکړ چې انور طيب ور نه مخکې او دوی ورپسې شا ته روان وو.

انور طيب وويل:

تر هغو نه راګرځم چې تاسې مې د ګردېز او پکتيکا تر سړک تېر کړي نه ياست!

سليمان به کله کله برګډال ته سترګې ور واړولې. برګډال هيڅ نه ويل، ارام ناست و.

ټوله شپه يې پر خامو او فرعي لارو سترې مزل وکړ، څو ځايه يې لاره هم ورکه کړه، اخېر دوه تنه وسله‌وال مجاهدين په مخه ورغلل، له دوی سره مخ پر قبله روان شول، تر څو دقيقې مزل وروسته د غره لمنې ته ورسېدل، موټر يې ودراوه او يوې خېمې ته ور ننوتل، دا د نکې سر مرکز و، دلته درول

Download more from Libtoon.com

شوې خېمې د هغو مجاهدینو وې چې د پسرلنیو عملیاتو لپاره راغلي وو.
د خېمې د مجاهدینو له جملې یوه په ونه لوړ ځوان وویل:
تاسې خپل ارام، لمونځونه او خوبونه وکړئ، پهره موږ کوو!
مولوي عرفان سترګې پټې کړې، د اندېښنو له لاسه خوب ترې الوتی و، په زړه کې یې وېره وه، هسې نه څوک د نیول شوي امریکایي افسر په سر خیانت ورسره وکړي او...
نیم ساعت وروسته غږ شو، مولوي عرفان را پورته شو، هغه دوه تنه عرب مجاهدین له یوه ځنېور او برېتور ځوان سره را روان وو چې وزیرستانی پکول یې پر سر و، د دغه ځوان په راتلو سره مولوي عرفان را ولاړ شو. تر پوښتنې وروسته راغلي ځنېور ځوان مولوي عرفان ته د برګډال د نیول کېدو مبارکي ورکړه او مننه یې ترې وکړه. بیا یې ډاډ ورکړ چې ارام پرېوځئ خوبونه وکړئ، موږ دلته ولسوالي او دولتي حاکمیت بشپړ له منځه وړي، تاسې ډاډه چای وڅښئ، زه له اسیر عسکر سره وینم.
مولوي عرفان برېتور او ځنېور ځوان ته په حیرانی کتل او نه پوهېده چې له برګډال سره د لیدو اجازه ورکړي اوکه نه؟
د سلیمان غږ یې د خیال فضا ړنګه کړه:
خېمې ته دننه راځئ!
د برېتور او ځنېور ځوان شونډې وښورېدې:
امریکایي دباندې را وباسه چې د هغه جلغوزي تر ونې لاندې پوښتنې ترې وکړم!
مولوي عرفان نور هم حیران او وارخطا غوندې شو.
سلیمان د عکاسی کېمره برابره کړه او بیا یې برګډال له خېمې دباندې را وایست، مولوي عرفان کله کېمرې ته کتل او کله برېتور ځوان ته، زړه نا زړه

Download more from Libtoon.com

و چې د عکاسۍ اجازه ورکړي او که نه؟
خو مولوي عرفان له ځان سره غلی ودرېد.
سلیمان برګډال ته مخ ورواړه:
دا برېتور سړی مولوي سنګین دی! د پکتیکا عمومي نظامي مسؤل! ته د ده تر لاس لاندې مجاهدینو نیولی یې!
د برګډال سترګې رډې را وختلې، خو د مولوي عرفان الوتی رنګ بېرته وغوړېد، موسک شو.
برګډال ناڅاپه پر ځمکه کېناست، سره یې په دواړو لاسونو کې ونیو او په ژړا شو.
مولوي سنګین په برېتونو کې موسک شو او تر اوږه یې ونیو، را ولاړ یې کړ او په ارامه یې پوهاوه:
دا د افغانانو وطن دی، دلته به زړه مضبوط ساتې، ژړا به نه کوې!
وروسته یې د وظیفې او افغانستان ته د راتګ د هدف په اړه پوښتنې تر پې کولې، سلیمان یې تر منځ خبرې ژباړلې، د پوښتنو تر څنګ یې د افغانستان پر تاریخ هم لنډې خبرې ورته وکړې چې په افغانستان کې انګرېزانو او روسانو شرموونکې ماتې خوړلې دي، همدا ډول به امریکایان هم ماتې خوري.
له برګډال سره تر یو څه خبرو او پوښتنو ګروېږنو وروسته مولوي سنګین سلیمان ته ووېل چې د شاهین او مصطفی په نامه ملګري درته راځي، هغوی ته به ما لازم هدایات کړي وي، برګډال یو خوندي ځای ته رسوي.
نور مولوي سنګین رخصت واخیست او په خپله مخه ولاړ.

Download more from Libtoon.com

○○○

له یو څه ځنډ وروسته شاهین او مصطفی را ورسېدل او د ورځې تر پایه په همدې مرکز کې پاتې شول.

مولوي عرفان چې په خپل کیمره‌داره موبایل له برګډاله ویډیوګانې هم ثبت کړې وې، مازدیګر غره ته وخوت، له خپلو ملګرو سره یې اړیکې ونیوې، هغوی یې ډاډه کړل چې دوی مولوي سنګین ته روغ ور رسېدلي دي.

د مولوي عرفان د موبایل له چالانېدو سره یوه ډرون الوتکه راغله، خو هغه په جهادي بهیر کې له دې هر څه سره اشنا شوی و، ژر یې موبایل بند کړ.

دا هغه الوتکې وې چې د موبایل له لارې یې د مطلوبو کسانو موقعیت تثبیتولای شوای. له غره چې بېرته راکوز شو، عربو مجاهدینو ټینګار ورته وکړ چې باید خپل موبایل تر وسه وسه تل ګل وساتي، بیا یې د همدې نبردې ورځو یوه کیسه وکړه چې پر مجاهدینو د بې پیلوټه الوتکې برید شوی و.

دوی ټوله ورځ همدلته په مرکز کې وو، ماښام یې بیا حرکت پیل کړ، له نکې ولسوالي څخه د زېړوک له لارې د ارګون ولسوالۍ درې سیمې ته ولاړل او د شپې همدلته د ارګون په دره کې د یوه ملګري په کور کې تم، خو شاهین

Download more from Libtoon.com

او مصطفی ترې بېل شول. شاید هغوی خپلو کورونو ته تللي وي، ځکه دوی دواړه د همدې سیمې اوسېدونکي وو.

سهار وختي همدغه کور ته په یوه تور هایلیکس موټر کې شاهین او مصطفی بېرته راغلل او دوی ته یې د تلو وویل. سمدلاسه عرب مجاهدین د موټر په باډۍ کې کېناستل او مولوي عرفان، شاهین، مصطفی او لاس او سترګې تړلی برګډال د موټر په سېټونو کې کېناستل.

موټر د ګیان پر لور حرکت وکړ چې د ګیان له لارې د ډېورنډ فرضي کرښې لواړه ته ځانونه ورسوي.

په لار کې پر ټولو چوپتیا خپره وه، یوې خواستوماني او بل پلو د برګډال موجودیت و، له دوی سره دا اندېښنه وه چې تر منزله به څنګه او په کوم حالت رسېږي؟ دوی د مخابرې له لارې خبر شوي وو چې د پکتیکا په لوېدیځه برخه کې د برګډال د پیدا کولو لپاره امریکایي عسکرو پراخ عملیات پیل کړي دي.

له څو ساعته سترې مزل وروسته لواړه ته ورسېدل، خو دې سیمې ته په رسېدو معلومه شوه چې دلته پر پاکستاني پوځیانو چاودنه شوې او پوځیانو ته یکې تلفات هم اوښتي، ځکه خو د لارو د بندېدو تر څنګ په ټوله سیمه کې تالاشي هم پیل شوې وه. د کرښې بلې غاړې شمالي وزیرستان ته د موټر د اړولو هیڅ لاره نه وه، دوی مشوره وکړه او له مجبورۍ یې شاهین پلی ولېږه چې د پلي تګ یوه خوندي لاره پیدا کړي، شاهین پوره یو ساعت وروسته بېرته راغی او د پلي تګ یوه لاره یې انتخاب کړې وه.

له ډرایور سره یې موټر بېرته را واپس کړ او دوی پخپله ټول نهه کسه له برګډال سره په غرونو او ګړنګونو کې د شمالي وزیرستان پر لوري پلي روان شول.

Download more from Libtoon.com

له دوه ساعته سترې پلې مزله وروسته د کربښې بلې غاړې د وزیرو یوه کلي ته ورسېدل، تر کلیوال بازاره یې یو موټر او بیا یې په دته خپلو کې بل سپین هایلکس موټر تر دیگان بازاره په ۱۵۰۰ کلداري دربست ونیو.

په لارکې مولوي عرفان په خپل موبایل شعرونه او ترانې غږولې، وروسته خوب وړی او موبایل هماغسې چالان و.

Download more from Libtoon.com

# ۱۵ دقیقې

مولوي عرفان د موټروان غبږ را بیداره کړ:

تاسې کوز شئ، زه موټر په چیک پواینټ در تېروم.

موټـر ودرېـد. شـېبه وروسـته دوی ټـول پـه خـوړ کـې لـه موټـره ښـکته شـوي وو. په اسـمان کـې سـتوري وار پـه وار ډېرېـدل، ښـه یـې وګڼلـه چـې پـه تـوره تیـاره کـې لانـدې پـه دې خـوړ کـې پلـې مـزل وکـړي او پـه یـوه فرعـي لاره د چیـک پواینـټ تـر څنـګ تېـر او بیـا بېرتـه پـه موټـر کـې سـپاره شـي.

پـه تیـاره کـې د دوی د مـزل پنځلـس دقیقـې ووتـې. درز شـو امریکایـي بې‌پیلوټـه الوتکـې پـه هماغـه سیمه کـې یو هدف په نښـه کړ چـې دوی همدا شـاوخوا پنځلس دقیقـې وړانـدې تـرې راغلـي وو. د توغنـدي د لګېدو له غږ سـره سـم مولـوي عرفان جېـب تـه لاس کـړ چـې خپـل موبایـل ګل کـړي، خـو ډېر ژر پوه شـو چـې هغـه یې په هماغـه موټـر کـې هېر شـوی دی. مولـوي عرفان هیڅوک هـم پوه نه کـړل چـې د دې ګـوزار وجهـه څـه وه، خـو پـه دې یـې سر خـلاص و چـې موبایـل یې کشـف دی او ډېـر غالـب احتمـال دا دی چـې وار پـه همدې موټر وشـو.

پـه همـدې سـوچونو کـې تـر خـوړ واوښـتل، هغـه بلـې غـاړې تـه پـه رسـېدو کـې ښـه کافـي وخـت وو، خـو موټـر رانغـی. همـدا یـو پـاو مخکـې پـه دې موټـر کـې د

Download more from Libtoon.com

برګډال په شمول دوی ټول ناست وو، که چېرې خوړ نه وای را رسېدلی؛ نو په دې بمبار کې د دوی ټولو د ختمېدو امکان و. که چېرې برګډال له منځه تللی وای، په ګوانتانامو کې د اسلامي امارت پینځه مشران به خلاص او قطر ته انتقال شوي نه و، که هغوی خلاص شوي نه وای، د دوحې مذاکرات به پیل شوي نه وو، ځکه برګډال هغه څوک و چې د پنځو مشرانو د تبادلې په موخه امریکایانو له امارت سره په قطر کې مذاکرات پرې شروع کړل. که دوی بمبار شوي وای، موږ به نن د تاریخ په هغه پړاو کې نه وو چې اوس یو. دا په اصل کې د افغانستان پر مذاکراتو بمبار و چې په نتیجه یې کې اوس د اشغال د خاتمې او امنیت څښتنان یو. ښایي داسې حساسې شېبې به په دې سخت مزل کې نورې هم وي، خو زه چې کله د دې ۱۵ دقیقو په اړه فکر کوم، احساسوم لکه د تاریخ د زړه درزا چې اورم.

عربو په خپلو کې بار بار پوښتنې کولې چې دا به یې څوک ویشتلي وي؟

داسې ښکارېده چې په دې سیمه کې د دوی ډېر کسان اوسېدل.

وروسته له ډېره انتظاره عربو مجاهدینو د پهرې لپاره خپل کسان موظف کړل.

څلورمه شپه همدلته د سړک پر سر سبا شوه، د سهار له لمانځه وروسته د دغه ځای یو وزیرستانی خبر شو چې مېلمنو شپه همدلته پر سړک کړې ده، ډېر خپه شو. راغی، له پوښتنې وروسته یې په لاسونو خبرې کولې، نږدې کور ته یې ګوته ونیوه، و یې ویل چې دا د ده کور دی او بیا یې وویل چې ټول ورسره مېلمانه شي.

دا چې دوی ته مزل پاتې و، له وزیرستاني یې مننه وکړه او په زور یې رخصت ترې واخیست، لږ وروسته په یوه مازدا موټر کې دیګان بازار ته ورسېدل.

په دیګان بازار کې د پوځ او طالبانو تر منځ جګړه شوې وه او له امله یې

Download more from Libtoon.com

پوځ په دې سیمه کې ګرځبندیز اعلان کړی و.
داسې وخت به په وزیرستان کې پاکستانیو پوځیانو بهانه غوښته چې پر عامو خلکو ګرځبندیز ولګوي، ډېر وخت به یې همداسې کول.
مولوي عرفان دوی په دې سیمه کې د عرب مجاهدینو یوه نږدې مرکز ته بوتلل، د سهار چای یې د عربو په دغه مرکز کې وخوړ، عرب مجاهدینو مولوي عرفان ته وویل:
تا موږ بېرته خپل ځای ته رسوو.
خو عرفان ورته وویل:
زه دومره هیڅبېرته نه ځم چې څو دغه نیول شوی امریکایي عسکر خپلو مسوولانو ته و نه سپارم.
عربو ښایي دا احساس کړې وي چې عرفان اعتماد نه وربانديې کوي؛ نو یې سپین سراچه موټر چالان کړ، د برګډال او مولوي عرفان په شمول یې پنځه کسه پکې سپاره او په یوه فرعي لار چې د دېګانو او مېرانشاه تر منځ په غرونو کې غځېدلې وه، مخ پر میرانشاه روان شول.
له یوه ښه مزل وروسته یو بل سپین سراچه موټر د دوی مخې ته راغی، دواړو موټرو په خپلو کې د څراغونو په وسیله اشارې سره ورکړې، بالاخره موټر څنګ ته ودرېد، د لقمان په نامه یو تن عرب ترې راکوز شو، سلیمان هم ورغی یو د بل لاسونه یې په لاسونو کې نیولي وو او خبرې یې کولې، خو لقمان زیات خوښ ښکارېده، له یو څه خبرو وروسته دوی دواړه خپلو موټرو ته پورته شول او مخ پر میرعلي یې حرکت وکړ.
میرعلي ته نږدې چپ لاس ته پر خام سړک وګرځېده او لس دقیقې وروسته د غره په لمن کې د عرب مجاهدینو یوه مرکز ته ورسېدل، پنځمه ورځ یې

Download more from Libtoon.com

دغه مرکز ته را ورسوله، د غرمې ډوډۍ یې په همدې مرکز کې وخوړه.
وروسته مولوي عرفان عرب مجاهدینو ته وویل:
زه غواړم په پکتیکا کې له خپلو مشرانو سره اړیکه ونیسم او په شمالي وزیرستان کې خوندي ځای ته د رسېدو ډاډ ورکړم.
عرب مجاهدینو وویل:
دلته موبایل کار نه کوي، د تماس لپاره باید میرانشاه بازار ته لاړ شې، خو ګوره چې په خبرو کې به له زیاته احتیاطه کار اخلې.
له عربو سره په سراچه ډوله موټر کې د میرانشاه بازار پر لور روان شو، دا چې د مولوي عرفان جامې خیرنې شوې وې، موټر په لار کې یوې دیني مدرسې ته ور وګرځېد، سلیمان مولوي عرفان ته نوې ګنډلې جامې ورکړې، دلته په مدرسه کې یې غسل وکړ او نوې جامې یې واغوستې.
د مدرسې ملایانو له سلیمان څخه پوښتنه وکړه چې په راډیوګانو کې مو واورېدل چې په پکتیکا کې یو امریکایي عسکر ورک دی، دا رښتیا ده؟ دوی ورته صرف خبره تایید کړه چې رښتیا ورک دی، نور یې له ملایانو رخصت واخیست او میرانشاه بازار ته راغلل.
مولوي عرفان یې د میرانشاه په بازار کې د یوې فیته فروشۍ مخې ته کوز کړ او هغه ته یې وویل چې خپل کارونه خلاص کړه، بیا د همدې فیته فروشۍ مخې ته راځه دلته به سره وینو، ځکه مولوي عرفان سم بلد نه و. په لومړي ځل شمالي وزیرستان ته راغلی و.
مولوي عرفان یوې نږدې PCO ته ورغی او په پکتیکا کې یې له خپلو ملګرو سره د تماس نیولو هڅه وکړه، خو د اړیکې پر نیولو بریالی نه شو، ځکه د ده ټولو ملګرو د امریکایي ځواکونو د ډار له وېرې خپل تلیفونونه بند کړي

Download more from Libtoon.com

وو، وروسته یې په میرانشاه کې له مولوي عبدالله سره تماس ونیو، هغه ورته د ادرس پوښتنه وکړه، ده د PCO د څښتن په مرسته ادرس ورکړ.
لږ وروسته ورته مولوي عبدالله سره له دوو ملګرو او موټره راغی، مولوي عرفان یې له ځان سره موټر ته پورته کړ او د میرانشاه بازار په لوېدیځه برخه درپه‌خېل سرای کې د مولوي سنګین د اداري چارو د مسوول مولوي رفیق دفتر ته لاړل.
مولوي رفیق یې تود هرکلی وکړ.
له ستړي مه شي او حال احوال وروسته مولوي رفیق، مولوي عبدالله او مولوي عرفان درې واړه یوه پیک‌اپ موټر ته پورته شول، مولوي عبدالله ورته وویل چې درګې منډیي ته ځو چې له حافظ بدرالدین حقاني سره ووینو، د درګې پر لور یې حرکت وکړ. هلته په رسېدو له حافظ بدرالدین سره درې نور ملایان هم ناست وو، بدرالدین او مولوي رفیق له یو بل سره وغږېدل، وروسته بدرالدین هغو دریو نورو ملایانو ملګرو ته وویل چې دا مولوي عرفان هغه مجاهد دی چې امریکایي عسکر یې ژوندی نیولی او دلته راوړی دی.
تر دوی مخکې هغه عرب مجاهدین هم ده ته راغلي وو، د عسکر د نیول کېدو او شمالي وزیرستان ته د انتقال ټوله کیسه یې ورته کړې وه.
له بدرالدین څخه تر رخصت اخیستلو وروسته مولوي عرفان له مولوي عبدالله سره ولاړ او شپږمه شپه یې له ده سره وکړه. د ده له کوره یې له انور طیب سره تماس ونیو او د قاري اسماعیل نوې شمېره یې پیدا کړه او د بندي د رسېدو داد یې ورکړ.
د ورځې مولوي عبدالله له مولوي عرفان څخه وغوښتل چې امریکایي بندي

Download more from Libtoon.com

ووينـي. کله چې دواړه بنـدي تـه ورغلـل مولـوي عبدالله تـرې پوښـتنه وکـړه:
تا هلته په کلي کې څه کول چې له نظامي کمپ څخه راغلی وې؟
برګډال ورته وويل:
زمـا لـه جمـال سـره کار و او غوښـتل مـې چـې هغـه ووينـم، خـو پـه دې ورځ يـې پـه ليـدو بريالـی نـه شـوم چـې پـه دې منـځ کـې زه طالبانـو ونيـوم او دلتـه راوړل شـوم.
جمـال د يوسـف خېلـو ولسـوالی د نېـز کلـي اوسـيدونکی او د مولـوي عبداللـه کليـوال و.
مولـوي عرفـان شـپه ورځ همـدا ډول بوخـت و چـې مولـوي سـنګين او قـاري اسـماعيل هـم ميرانشـاه تـه راغلـل، قـاري اسـماعيل او مولـوي عرفـان سـره يـو ځای شـول، دواړه د مولـوي رفيـق پـه وسـيله دمولـوي بختـه جـان کـور تـه ورغلـل چـې لـه مولـوي سـنګين سـره ووينـي او د هغـه د ورور شـهيد عبدالـوارث حيـدري فاتحه ورتـه وکـړي، عبدالـوارث څـو ورځـې وړانـدې پـه زېـړوک کـې د امريکايانـو پـر کمـپ بانـدې د تعـرض پـر مهـال شـهيد شـوی و.
مولـوي سـنګين د دواړو پـه ليـدو زيـات خوشـاله شـو او لـه دوی يـې د امريکايـي عسـکر د نيولـو کيسـه پـه تفصيـل سـره واوريـده، همـدا ډول قـاري اسـماعيل او مولـوي عرفـان لـه ده څخـه د زېـړوک پـر امريکايـي کمـپ د تعـرض او د ده د ورور عبدالـوارث د شـهادت کيسـې واوريـدې.

Download more from Libtoon.com

## د مومن خان ښامار

لـه فاتحې او مجلسـه وروسـته دوی د مولـوي سـنګين پـه وسـيله لـه جميـل سـره رابطـه وکـړه او مولـوي سـنګين ورتـه ويـل چـې دوی خليفـه صاحـب تـه درځـي.

جميل په ميرانشاه کې د خليفه صاحب سراج الدين حقاني رابط او استازی و.

جميـل تـر لـږ ځنډ وروسـته د خليفـه صاحـب د ناسـتې د ځـای ادرس ورکـړ، قاري اسـماعيل او مولـوي عرفـان دواړه خليفـه صاحـب تـه ورغلل.

هلتـه پـر رسـېدو دوی وليـدل چـې لـه خليفـه صاحـب سـره قاضـي عبداللـه او حاجـي مالـي خـان ځـدراڼ هـم ناسـت وو، خليفـه صاحـب يـې تـود هرکلـی وکـړ او يـو بـل تـه يـې د امريکايـي عسـکر د نيولـو مبارکـی ورکـړې. لـه قـاري اسـماعيله يـې ځانګـړې مننـه وکـړه.

په دې وخت کې قاضي عبدالله ورته وويل:

د برګډال په نيولو او راوړلو کې موږ هم شريک يو.

خليفه صاحب غلي وخندل.

قاضـي عبداللـه دا خبـره ځکـه وکـړه چـې د ده ملګـرو پـه ښـرنه کې يـو څـه د لارې رهبري کـړې وه!

د عبدالله رنګ لږ تغيير شو، خليفه صاحب ژر وويل:

Download more from Libtoon.com

د امریکایي د نیول کېدو راپور ښايي امارت له القاعده سره یو ځای جوړ کړي، ځکه عربو یې هم د نیولو دعوه کړې ده.
قاري اسماعیل وویل:
عربو څنګه دعوه کړې، اصلاً کار مولوي عرفان دوی کړی دی.
خلیفه صاحب غلی شو.
عرفان وویل:
موږ له عربو سره خط لیکلی، په هغه کې واضح لیکل شوي چې عرب یې یوازې دلته په را رسولو کې همکاري راسره کوي.
خلیفه صاحب په فکر کې شو، قاري اسماعیل وویل:
په میرانشاه کې زموږ ځای نه شته، که یو مرکز راته جوړ کړئ.
خلیفه صاحب سمدلاسه د قاري صاحب غوښتنه قبوله کړه، د مرکز ټول مصارف یې ومنل او هم یې درې میله کلاشنکوف ورکړل.
له خلیفه صاحب سره یې ډوډۍ یو ځای وخوړه، د ډوډۍ له خوړلو وروسته له کوره د مدرسې پر لور روان شول.
دا چې پاکستاني پوځیانو ګرځبندیز اعلان کړی و، په لار کې پر دوی پوځیانو ډزې وکړې، خو خدای وساتل، شپه یې په مدرسه کې وکړه.
مولوي سنګین چې د خپل ورور د فاتحې اخیستو لپاره د جنوبي وزیرستان په مکین کې خپل کور ته تللی و؛ نو ځکه پر سبا مولوي عرفان او قاري اسماعیل د مولوي سنګین د لیدلو لپاره مکین ته لاړل او هلته یې له مولوي سنګین سره ولیدل. له هغه سره یې وزیرستان ته د برګډال پر سالم انتقال او د پکتیکا پر نظامي فعالیتونو اوږده مجلسونه وکړل.
مولوي سنګین دوی ته وویل:

Download more from Libtoon.com

اوس چې عرب مجاهدینو هم دا دعوه کړې چې د برګډال په نیولو کې دوی هم شریک دي...

یوې بلې خوا ته یې وکتل، بیا یې زیاته کړه:

ما هغو عربو ته د خلیفه صاحب پر وړاندې وویل چې عربو خو صرف د امریکایي عسکرو د انتقال په برخه کې مرسته کړې چې موټر یې په واک کې راکړی و، نور ټول کار د قاري اسماعیل ملګرو کړی دی.

له همدې سره قاري اسماعیل له خپل جېب څخه مولوي سنګین ته هغه مخکېنۍ لیک را وایست چې په پکتیکا کې له عرب مجاهدینو سره په عربي لیکل شوی و او پکې ویل شوي وو چې د نیول شوي امریکایي اسیر په مساله کې عرب مجاهدین فقط د یوې سپرلۍ په څېر همکار دي!

مولوي سنګین د لیک په لیدو ډېر خوشاله شو، مولوي عرفان ته یې په لوړ غږ وویل: اوس دې یې دوی له ما واخلي!

له مولوي سنګین سره تر دې لیدنې وروسته قاري اسماعیل او د برګډال اصلي نیوونکی مجاهد مولوي عرفان د میرانشاه پر لور لاړل او هلته تر یو څو شپو تېرولو وروسته بېرته د پکتیکا یوسف‌خېلو ولسوالۍ ته ورسېدل.

په برګډال پسې امریکایانو د پکتیکا له مرکز شرنې څخه د ډیورنډ کرښې پر لور له یوسف خېلو، خوشامند او ګومل ولسوالیو کې عملیات شروع کړل، په دې عملیاتو کې د قاري اسماعیل د ډلګۍ په شمول، د سیمې ډېر مجاهدین او عام خلک ټپیان، شهیدان او بندیان کړل، خو مولوي عرفان دوی د ځانګړي احتیاط له مخې د غزنې په لار نکې ولسوالي او بیا له هغه ځایه میرانشاه ته انتقال کړی و. امریکایانو دا فکر نه و کړی چې طالبانو دې له دومره اوږدې لارې اړولی وي.

Download more from Libtoon.com

## کور ته د برګډال انتقال

لـه سـتورو تـر ډک اسـمان لانـدې د شـپې ناوختـه پـه لنډمحمدخېـل کلـي کـې د چونګښـو او چچوړړيـو غږونـه اوريـدل کېـدل، پـه تيـاره کـې يـو سـړی د مولـوي سـنګين کـور تـه نـږدې شـو. دروازه يـې وټکولـه.

له هغې خوا غږ راغی:

څوک يې؟

-زه يم.

دا پخپله مولوي سنګين و او دا ځل يې له ځان سره يو مهم پيغام هم راوړی و.

د شـمالي وزيرسـتان پـر اسـمان هـره شـېبه خونخـوارې امريکايي بـې پيلوټـه الوتکې بنډېـدې، معمـولاً بـه مولوي سـنګين مياشـت او يا هـم په اوونيـو اوونيو کور تـه نه تلو، خـو پـه دې وختونـو کـې کور تـه څکه د نـورو ورځو په پرتلـه زيات تلو چې يو خوا تـازه لـه تشـکيله را سـتون شـوی و او له بلې خوا يې په زړـوک کې پر يـوه امريکايي کمـپ بانـدې د تعرضـي بريد پر مهـال د چنار په شـان دنګ ورور له لسـګونه ملګرو سره يـو ځـای شـهيد شـوی و، ځينې نږدې خپلـوان به د دعـا لپاره ورتـه را تلل.

تـردې وړانـدې د مولـوي سـنګين کـور پـه مکيـن کـې و، خـو د ورور لـه شـهادته وروسـته يـې پـه شـمالي وزيرسـتان کـې دې سـيمې تـه را لېږدولـی و.

Download more from Libtoon.com

د شپې دروازه پلار ور خلاصه کړه.
د مولوي سنګین ځانګړې سپین سراچه ډوله موټر د کور تر مخ لږ وړاندې و. مولوي سنګین به معمولاً مخ په خپل څادر کې پټ کړی و او ساتونکي به یې بېرته د مولوي صاحب د خاص ساتوونکي خلیفه عمر کور ته لاړل او هلته به یې غږ ته منتظر ناست وو.
مولوي صاحب د نورو ورځو په پر خلاف، یعنې د خپلې د خوب کوټې پر ځای د مور کوټې ته لاړ او له مورکۍ سره تر روغبړ وروسته یې د کورنۍ ټول مشران غړي همدې کوټې ته را وغوښتل چې له ځان سره راوړی پیغام ورته واوروي او مشوره ورسره وکړي.
کله چې د کورنۍ مشران غړي را ټول شول، ټول حیران وو چې خدایه بیا کومه پېښه نه وي شوې، ځکه د همدې کور خوشالي څو ورځې مخکې د عبدالوارث غم په ملا غوټه ماته کړې وه.
مولوي صاحب له بالښته را لرې شو، پر ټولو یې نظر تېر کړ، بیا یې وویل:
تاسې ښه پوهېږئ چې په وزیرستان کې هر دریم کور د مجاهدینو مرکز دی، همدا ډول ډېر باوري مجاهدین ملګري هم لرو، خو بیا هم پیسې داسې شی دي چې ډېر نېک انسانان یې له خپل هدفه راګرځولي دي.
همداسې یې پسې زیاته کړه:
په پکتیکا کې زموږ مجاهدینو یو داسې کار کړی چې ټوله دنیا یې حیرانه کړې ده. اوس زما غم دا دی چې د مجاهدینو قرباني ضایع نه شي، امانت خیانت نه شي. زه دا د دوی په لاس نیول شوی شوی امریکایي «برګډال» دلته د کور په مېلستون کې اچوم، همدلته به یې ساتو. دا زموږ د کورنۍ بې خطره خبره نه ده، مګر باید دې قرباني ته هم غاړه کېږدو. بله لاره نه شته.
د کورنۍ غړو چې کله د مولوي سنګین خبرې په غور او دقت واورېدې،

Download more from Libtoon.com

ټولو په يوه غبږ ورغبرګه کړه:

کومه فيصله تاسو کړې موږ ته د سر په سترګو د منلو وړ ده، هر چېرته او هر ډول چې ستا خوښه وي دغسې سمې ده.

وروسته مولوي صاحب په ډېر ټينګار د کورنۍ غړيو ته وويل:

هيڅ بل کس بايد له دې رازه خبر نه شي. مېلمستون ته به د هر ډول مېلمه بېول بند وي، که د کورنۍ نږدې قريب راتلو کور به د مورکۍ په کوټه کې ډوډۍ خوري او د خوب لپاره به د خليفه عمر او يا هم د کوم بل ملګري ګاونډي کور ته بېول کېږي. شايد دغه اسير مياشتې او کلونه دلته پاتې شي، که کله هم په غم او ښادۍ کې زموږ خپلوانې ښځې يا خويندې راتلې، هيڅکله بايد دوی له دې کسه خبرې نه شي، دغه اسير به له هر چا پټ ساتل کېږي، که دلته راغلې مېلمنې خبرې شي او بيا د بحث کور وکړي او د کورنۍ ماشومان يا يې کوم ځوان د جذباتو له مخې بهر خبرې وکړي؛ نو د کورنۍ په ګډون به مو د غازيانو سرښندونکې لاس ته راوړنه هم ضايع شوې وي. امريکا به هم دا غرور پيدا کړي چې هغوی زموږ زرګونه بنديان ساتلای شي او موږ يې يو کس نه شو ساتلای.

بيا يې دا خبره هم وکړه چې د خپل کور ماشومان به هم پر دې نه پوه کوئ چې دا څوک او څنګه دلته راغلی دی.

د کورنۍ د غړو د رضايت له تر لاسه کولو وروسته مولوي سنګين د برګډال د ساتنې لپاره د خپل مېلمستون تشناب غوره کړ او بلال ته يې دنده وسپارله چې د اسير لپاره به سبا ورځ په بازار کې ځانګړې زولنې او د ضرورت نور شيان راوړي، همدا ډول يې ورته وويل چې د اسير لپاره بايد يو جوړ پښتني ښځينه جامې او چادري هم په بازار کې را ونيسي.

په دا سبا بلال دا هر څه راوړي وو.

Download more from Libtoon.com

## د ځنګله په منځ کې د ابو سراقه بې‌پامي

مولوي سنګين چې به له خلکو سره ليدل، ځای يې بدلاوه. د ناستې ځايونو ته يې به يې بېلابېل عددي کوډونه ورکول، مثلا ۱۹ نمبر، ۱۱۰ نمبر او نور...
يو ماسپښين له لمانځه وروسته مولوي سنګين د جهادي فعاليتونو تر څنګ د ورور د فاتحې له مراسمو هم يو څه فارغ شوی و، د ارام لپاره د ميرانشاه بازار ته څېرمه په ډانډې کلي کې د حاجي ولايت خان مېلمستون ته لاړ، حاجي ولايت خان يو قومي مشر و چې وخت ناوخت به مولوي صاحب د ده په مېلمستون کې پاتې کېده.

کوټې ته د ماسپښين وړانګې را لوېدلې وې، مولوي سنګين د شنه چای ګيلاس ور پورته کړ. د مخابرې کښا شوه، بيا د مولوي رفيق غږ راغی. ده ته يې وويل: د عربو يو قوماندان ابو سراقه وايي چې که يو ځل عاجل راسره ووينې.

مولوي سنګين غوښتل همدلته يې را وغواړي، خو اراده يې بدله شوه، بيا يې له مولوي رفيق څخه په ځانګړي کوډ د ابو سراقه پته وغوښته، مولوي رفيق په شمالي وزيرستان کې مير علي ته څېرمه د ځنګل په منځ کې يوه فارغه لار په نښه کړه.

مولوي سنګين هم بله و نه کړه، د حاجي ولايت خان له کوره له خپلو ځانګړو ساتونکو محمد ځدراڼ، ظاهر شاه مسيد، سراج مسيد، نظير الله مسيد او له

Download more from Libtoon.com

ځانګړي موټروان خلیفه عمر داوړ سره یو ځای په خپله سراچه ډوله سپین رنګه موټر کې چې توري شیشې یې درلودې، په یوه تېز مزل روان شو.
خلیفه عمر موټر چلاوه، د مخ په سېټ کې مولوي سنګین ناست و. د شا سېټونه دا نورو ملګرو نیولي وو. له یو ساعت شاوخوا مزل وروسته میر علي بازار ته په نارسیده‌ګي سره خلیفه عمر خپل موټر چپ لاس ته یوې داسې سیمې ته تاو کړ چې په سیمه کې ځنګل ته ورته د کیکر ونې وې او په منځ کې یې یو فرعي سړک تېر شوی و، دوی د ابو سراقه له یوه رابط سره د مخابرې له لارې وصل شول، هغوی به ورته په همدې سړک د لا هم مخ ته مزل سپارښتنه کوله، په همدې لار خلیفه عمر شاوخوا ۱۵ داقیقې مزل وکړ، مخکې یې درې سراچه ډوله ولاړ موټر ولیدل چې ساتونکي یې په منظمو وسلو سمبال یوې او بلې خوا ته ګوته په ماشه وو.
مولوي سنګین یوازې له موټره ور کښته شو، ساتونکو ته یې وویل چې همدلته په موټر کې منتظر اوسي. ساتونکو یې ټینګار وکړ چې یو څوک ورسره ورشي، خو مولوي سنګین وا نه ورېدل.
مولوي سنګین د موټرو پر خوا په داسې حال کې ګړندی ور روان شو چې ځنګ ته یې خپل تور روسی کرېنکوف اچولی و، مخ یې په خړ څادر پټ او په اسمان کې د امریکایي ډرون خطرناک پروازونه شروع وو.
مولوي سنګین موټرو ته په ور رسېدو یو موټر ته ور وخوت، هلته په موټر کې ابو سراقه منتظر ورته ناست و.
دوی شاوخوا ۲۰ دقیقې مجلس وکړ چې بېرته له موټره را کښته شو او د خپل موټر پر لوري ګړندی راغی.
دروازه یې تېزه خلاصه کړه، ملګرو یې سترګې پکې خښې کړې، و یې لیدل

Download more from Libtoon.com

چې مولوي سنګین زیات غوسه دی.

د هغه مخ به د غوسې په وخت کې خپل عادي رنګ بدلاوه، تور رنګ به یې خپل کړ، همدا ډول به یې برېتونه شخ ولاړ وو چې ملګري یې له دې حالت سره اشنا وو.

ملګرو چې د خپل مشر غوسه حس کړه، سمدستي له موټره راکښته شول، خو مولوي سنګین پرې غږ وکړ:

هیڅ هم نه شته!

بیا یې ورته وویل:

یو بندي دلته راوړو، که کوم ملګري ورسره خبره وکړه په هماغه ساعت اسیر رابانـدې وژنئ!

ملګري یې حیران شول چې دا څه ډول اسیر دی چې موږ له خبرو کولو څخه ورنه په دومره سخت ټینګار منع کېږو...؟

ملګرو یې په خپلو کې سره کتل چې په اشارو سره پوه شي چې دا څه ډول اسیر او څوک دی؟ دوی په همدې کړلو ربړلو کې وو چې ستمی یې واورېد.

دوو تنو عربو مجاهدینو په داسې حال کې یو کس چې سترګې یې په دسمال تړلې وې، موټر ته را روان کړی و، خو کالي یې اغوستي او په لاسونو کې یې زولنې شرنګېدې.

د مولوي سنګین یوې تېزې ناري چې غوسه پکې له ورایه حس کېده، د دوی سترګې له بندي واړولې:

اسیر موټر ته پورته کړئ!

ټول ور وړاندې شول. بیا محمد څدراڼ بندي تر متو ونیو او موټر ته یې په داسې حال کې پورته کړ چې د دروازو یو او بل لور ته مجاهدین ورسره

Download more from Libtoon.com

کېناستل، دوه نفره د سراچې ډيکۍ ته وختل، خو دا ځل د موټر چلولو ته پخپله مولوي سنګين کېناست.

په مخکې سيټ کې ورسره خليفه عمر و، عرب مجاهدين د خپلو موټرو پر لور واپس شول او مولوي سنګين د خپل سيټ دروازه دومره تېزه بنده کړه چې ملګرو يې فکر وکړ ماته شوه!

بيا يې موټر په ډېره تونده بېرته د عام سړک په طرف را وځغلاوه، عام سړک ته په رسېدو يې د ميرانشاه پر لور تاو کړ، د سړک د غاړې ونې او ډبرې په يوه حال تېز تېرېدل.

تر يوه ښه ګړندي مزل وروسته يې په لاره کې موټر يوې څنډې ته کړ او بيا يې ودراوه. ټول د ماښام لمونځونو ته راکښته شول.

د محمد په زړه کې د بندي د پيژندګلوي تنده پرته وه او چې موقع په ګوتو ورغله لا زياته شوه. مولوي سنګين تر ټولو لومړی له موټره کوز شوی و، محمد بندي «اسير» ته غلي په غوږ کې وويل: How are you?

اسير په ځواب کې ورته وويل: I'm fine!

محمد پوه شو چې اسير هغه امريکايي افسر برګډال دی چې څو ورځې وړاندې په پکتيکا کې مجاهدينو ژوندی نيولی و.

محمد لومړی هم شکمن و چې دا اسير هغه امريکايی دی، ځکه چې له بل هيڅ بندي څخه دوی دومره په قطعي ډول له خبرو نه وو منع شوي.

مولوي سنګين غوسه و، هغه غوښتل چې بايد بندي په داسې حال کې ورته تسليم کړل شي چې له ده پرته بل هيڅوک ورسره نه وي. ابو سراقه بيا شايد دا بې پامي لاسي ځکه کړې وي چې دوی ته په بندي کې د ونډې له ورکړې نهيلی شوی وي.

Download more from Libtoon.com

CIA پرله‌پسې له هرې ممکنې لارې کوښښ کوي چې برګډال پیدا او په نښه کړي، خو عربو مجاهدینو فقط له ابو سراقه سره د ملاقات ورته ویلي وو، داسې یې نه وو خبر کړی چې نن برګډال ورته سپاري.

پر ماښامني اسمان د ستورو زري زري رڼا شیندل کېده چې د سړک څنګ ته د ولاړو موټر خوا ته د مولوي سنګین د جهر لمانځه غږ را پورته شو. ظاهرشاه مسید ورته کتل، څکه هغه پر برګډال پېرې ته درېدلی و او بیا لمونځ تر ټولو وروسته یوازې وکړ.

د ماښام تر لمانځه وروسته مولوي سنګین بیا موټر ته کېناست او په یوه فرعي لاره یې د لنډۍ محمدخېلو په طرف مزل شروع کړ، دا لاره تر عامې لارې ډېره اوږده وه، خو دا یې څکه ښه وګڼله چې پر عام سړک پاکستاني پوځ ګرځبندیز لګولی و.

مولوي سنګین او ملګرو یې د ماخستن لمونځونه هم په همدې لاره کې وکړل، دا چې پر عام سرک لنډۍمحمدخېل ته شاوخوا یو ساعت مزل و، په دې فرعي سړک شاوخوا شپږ ساعته ووتل، لاره ډېره خرابه وه او ځای پر ځای به ملګري د برګډال په شمول له موټره کښته شول، په پښو به روان شول او ملا سنګین به تر خراب ځای موټر تش تېراوه.

مولوي سنګین ساعت ته وکتل د شپې دوولس بجې وې. له لنډۍ محمدخېلو سره په خوا کې یې موټر د بویې پل ته څېرمه پر عام سړک ور ښکته کړ، پر پاخه سړک د موټر له مزل څخه سورلیو لا سم خوند نه و اخیستی چې بېرته یوې خامې لارې ته سیخ شول، دا ځل موټر د کلي په طرف پورته کېده.

شاوخوا پنځوس متره مزل وروسته د شریعت خان په نامه د یو تجار د کور د

Download more from Libtoon.com

دروازې تـر مـخ ودرېـدل، د موټـر تـر هـارن وروسـته د کـور دروازه پرانیسـتل شـوه.
د کـور خاونـد غوښـتل چـې د موټـر لپـاره غټـه دروازه خلاصـه کـړي، خـو مولـوي سـنګین د موټـر د څراغونـو پـه اشـاره ځـان تـه را وغوښـت او د شـریعت خـان پوښـتنه یـې تـرې وکـړه.
دغـه کـس د شـریعت خـان کشـر ورور و، مولـوي سـنګین تـه یـې وویـل چـې شـریعت کـور ویـده دی.
مولوي سنګین په درانه غږ ور غبرګه کړه:
له خوبه یې را جګ کړه او ورته ووایه چې سنګین دې غواړي!
دروازه نیمـه خلاصـه پاتـې وه، د موټـر د څراغونـو رڼـا کـور تـه هـم تـرې ننوتلـې وه. بـاد نـه و، د دروازې چولـه یـو دم زیاتـه شـوه، یـو سـرتور سـر سـړی پـه تلـواره تـرې راووت. دا شـریعت خـان و چـې لـه خوبـه را پاڅېدلـی و، موټـر تـه را نـږدې شـو، د مولـوي سـنګین پـه لیـدو یـې سمدسـتي تـر روغبـړ وروسـته پوښـتنه وکـړه:
خیر خو دی؟
مولوي سنګین د خیریت ډاډ ورکړ، بیا یې ورته وویل:
لـه مـوږ سـره یـو بنـدي دی، مـوږ نـه غـواړو چـې لـه تـا پرتـه دې د کورنـۍ نـور غـړي او یـا نـور څـوک دا بنـدي ووینـي، کـه دې اجـازه وي سـتا پـه مېلمسـتون کـې یـې کښـته کـوو.
شـریعت خـان د دې سـیمې د یـوه نامتـو سـوداګر تـر څنـګ یـو غیرتـي سـړی هـم پېژنـدل کېـده، مولـوي سـنګین تـه یـې کـړه:
مـوږ سـتا عسـکر یـو هـر امـر چـې تـه کـوې مـوږ تیـار یـو! دا سـتا خپـل کـور دی اسـیر مـو را کښـته کـړئ.
مولـوي سـنګین لـه موټـره را کښـته کېـده چـې شـریعت خـان د کـور خـوا تـه رهـي

Download more from Libtoon.com

شو. بیا یې غته دروازه خلاصه کړه او مولوي سنګین موټر دننه بوت.
برګډال چې سترګې او لاس یې تړلي وو، راکوز کړل شو.
مولوي سنګین د اسیر لپاره د لوی کوټې تر څنګ کوچنۍ کوټه خوښه کړه.
ملګرو ته یې مخ کړ او بیا یې له بندي سره د ښه چلند څو سپارښتنې مسلسل ورته ذکر کړې.
یوه خبره یې دا هم ورته وکړه چې یو به هم له ټوپک سره لیدو ته نه ورځئ، بیا یې پر بندي د پیرې مهالویش جوړ کړ، هر ملګري به یې د خپل نوبت له مخې پر اسیر برګډال پیره کوله.
د مولوي سنګین او ملګرو یې له خپل اسیر سره د شریعت خان په مېلمستون کې دوې شپې تېرې شوې، یو مازدیګر مولوي سنګین دغه شپږ واړه ملګري را ټول کړل او ورته و یې ویل:
تاسې چې کوم بندي ولید، دا راز داسې ساتئ لکه یو نه ویل کېدونکی خوب چې مو لیدلی وي. له هیچا سره به خبرې نه وربانـدې کوئ، د دې ورځو معلومات داسې وګڼئ چې تاسې په یوه لفافه کې را ټول کړل او اوبو ته مو وغورځول.
ټولو ملګرو سرونه وخوځول او مشر ته یې ډاډ ورکړ چې تر اوسه هم هغو ملګرو هیچا ته نه دي ویلي.
بیا مولوي سنګین له خلیفه عمر سره له کوټې دبانـدې ووت چې بېرته ډېر ژر راغلل.
دویمه ورځ چې ماښام شو، مولوي سنګین له خپلو ملګرو سره په داسې حال کې له شریعت خانه خدای پامانی واخیست چې له ملګرو لږ جلا یې یو څه خبرې ورته وکړې.

Download more from Libtoon.com

## د «ابا» دویم واده

شریعت خان دروازه بنده کړه، مېلمستون ته ننوت او یو ځای اوږد وغځېد. په چورت کې ډوب و چې د دروازې تر مخ د موټر هارن ووهل شو. شریعت خان فکر وکړ چې مولوي سنګین بېرته راګرځېدلی، خو چې دروازه یې خلاصه کړه، یو تور 4X4 موټر ولاړ و.
په ذهن کې یې د مولوي سنګین خبرې را وګرځېدې، موټر ته ورغی او له بلال سره یې پوښتنه وکړه.
لږ وروسته شریعت خان او بلال په کوټه کې سره ناست وو او غږېدل. بلال له ځان سره یوه شنه چادري په پلاستیک کې راوړې وه، تر لږ روغبړ وروسته یې شریعت خان ته وویل:
مېلمانه چېرې دي؟
شریعت خان هم د برګډال کوټې ته ور مخکې شو، بیا یې بلال ته په لاس د راتګ اشاره وکړه. بلال یې کوټې ته ور ننه‌یست. بلال بندي ولید، په پښتو یې پرې غږ کړ:
ولاړ شه!
برګډال په وارخطایي سترګې پورته ورته نیولې وې، ولاړ نه شو، نه پوهېده چې څه ورته ویل کېږي.

Download more from Libtoon.com

حافظ بلال دا ځل طریقه بدله کړه، په لاس یې اشاره ورته وکړه چې ولاړ شي.
برګډال چې ولاړ شو، بلال یې سترګې او لاسونه ښه منظم ور وتړل، چادري یې ور پر سر کړه او د موټر د شا په چوکۍ کې یې کېناوه.
د موټر شیشې تورې وې، خو بیا هم بندي ته د چادري ور اغوستلو د بلال ډاډ زیات اوه. له شریعت خان سره تر خدای پامانۍ وروسته یې موټر د عام سړک په طرف روان کړ. سړک ته په رسېدو یې د موټر مخه په لنډمحمدخېل کې د خپل کور په لور کړه.
د بلال دوی کور لرې نه و، کابو درې کیلومتره لاره وه. بلال څو دقیقې وروسته داسې وخت کور ته ورسېد چې د ماښام لمونځونه په قضا کېدو وو.
په انګړ کې د کور ماشومان په لوبو اخته وو چې په بلال پسې یوه چادري کړې ښځه روانه وه. ماشومانو د مېلمستون په انګړ کې د مولوي سنګین د کاکا له زوی حضرت عمر څخه پوښتنه وکړه چې دا ښځه څوک ده؟ هغه ورته ویل چې ابا ته مو دویمه ښځه وکړه.
ماشومانو سمدلاسه نارې کړې چې ابا ته یې ناوې راوستلې ده او بیا د مېلمستون ټول انګړ له خوښۍ ډک شو، ماشومانو ګډا کوله.
د مولوي سنګین پلار او حافظ بلال، برګډال له مټو ونیو، فاروق او حضرت عمر هم پسې روان وو، په مېلمستون کې ورته ځانګړې شوي تشناب ته یې بوت، چادري یې ترې پورته او زولنې یې ور خلاصې کړې، دا ځل یې په دغه تشناب کې په دواړو لاسونو او یوه پښه کې په داسې حال کې وتاړه چې د زولنو یو سر په تشناب کې هم په کوم شي پورې کلک تړل شوی و، دې ته یې پام وکړ چې په تکلیف نه شي او د تښتېدو چانس هم و نه لري.
برګډال ته یې درې ورځې د پښتنو خوراک ورکاوه. د شریعت خان په کور

Download more from Libtoon.com

کې یې په ویرژو کې پوخ کړی چرګ زیات خوښ شوی و.
د شپې ناوخته مولوي سنګین یوازې کور ته راغی، دویم ځل یې د سهار د چای د ښځو د ښلو پر مهال خپلو دوو ورونو بلال او فاروق او د کاکا زوی حضرت عمر ته دنده وسپارله چې ستاسې دریو تنو له جملې باید یو تن هر وخت د کور په مېلمستون کې موجود وي، یو خو به پر برګډال نظارت کوئ او بل که یې څه شی په کار کېدل هغه به ورته راوړئ.
د کورنی نورو غړیو ته یې هم سپارښتنه وکړه چې سر له نن ورځې هیڅوک بې له کوم معقول عذره له کوره دباندې نه شئ تلای، دا خبره به تر هغو عملي کېږي څو چې برګډال دلته وي.

Download more from Libtoon.com

# د نیمې شپې هواخوري

نیمه شپه برګډال د خپلې کوټې دروازه وټکوله، له دبانډې د مولوي سنګین زوی غفران الله ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه. برګډال غوښتل چې تشناب ته لاړ شي. غفران الله سمدلاسه کور ته لاړ او له فاروقه یې پوښتنه وکړه چې برګډال بوځي که نه؟

د برګډال د پښو ځنځیر په کوټه کې هم تړلی و، ځکه خو پخپله تر تشنابه پورې نه شوای تلای. فاروق سمدستي د ځنځیر کیلي را واخیستې او له غفران الله سره ګډ مېلستون ته ور وخوت.

د باراني موسم نرۍ شمال د فاروق پر ځان ښه ولګېده، په زړه کې یې د عاطفي فوارې را وټوکېدې. شپه درنه او خاموشه شوې وه، فاروق د برګډال د پښو ځنځیر خلاص کړ او له مېلمستونه یې چې اوس د برګډال بندیخانه وه، دبانډې یې وایست.

دا لومړی ځل و چې فاروق د برګډال لاسونه او پښې ور خلاص کړل. برګډال د کور څنګ ته په هوار میداني کې لاسونه د غېږې په څېر هوا ته پاس ونیول او څو شېبې یې نظر په لوېدیځ افق کې وګانډه.

ستوري پړکېدل، د تازه باراني هوا څپې بدنونه ښکلول. نږدې وه چې برګډال

Download more from Libtoon.com

چيغې کړي، بيا يې يو دم په سپورټ پيل وکړ. پنځلس دقيقې وروسته يې ورو ورو قدم واهه. د فاروق له غبږ سره ځاى پر ځاى ودرېد:

ژر کوه، ضرورت دي رفع کړه، ناوخته شو، بېرته مېلمستون ته ځو.

برګډال خوله ويړه کړه، څه يې و نه ويل.

لږ وروسته برګډال بېرته په مېلمستون کې وو او فاروق يې لاسونه او پښې قلفول.

د برګډال هره ورځ يوه خاطره وه.

Download more from Libtoon.com

# احتجاج

په خوست کې د امریکایي ښکیلاکي ښامار داړې په مظلومو او بې ازاره وینو سرې وې، د شپنيو قیامتونو لړۍ جاري وه، هره ورځ به بې وسلې کورنۍ د ویرې پر تغر د پټې خولې ژړا ته خوارې سترګې ناست وو.
د ملا سنګین تروروزی اسحاق د خوست په مرکز «شګې» کلي کې اوسېده. له پروني شوروي تاړاک سره د مقاومت اوسپنیزې متې یې لرلې، خو یوه ورځ امریکایانو له خپل بارګینه یووړ او بیا یې شهید کړ.
د اسحاق د شهادت خبر میرانشاه ته راغی، بلال تکان وخوړ، سمدلاسه خپل موټر ته پورته شو.
بلال کور ته په رسېدو، نېغ مېلمستون ته لاړ. زړه یې لمبې کولې، د غوسې او غم زغم تر حد ورته پورته شوي وو، برګډال ناست و. بلال په قهر لنده لښته په لاس کې تاوولې او لږ وروسته د لښتې له هر شرک سره د برګډال چیغه ختله. د بلال زړه وران وران کېده، لښته یې وغورځوله، خوا یې بده شوه، برګډال یې پر ځای پرېښود، د مېلسمتون ور بند شو.
شپه تېره شوه، سبا غرمه غفران الله د کور په انګړ کې په لوبو بوخت و چې له مېلمستونه د چیغو اوازونه راغلل، غفران الله سمدلاسه ور منډه کړه او

Download more from Libtoon.com

د برګدال ځانګړې کوټې ته په رسېدو يې وليدل چې هغه خپل کالي ځېرلي او ځان يې په خپلو بولو لړلی، تندی پر دېوال وهي.
د غفران الله په ليدو يې سمدلاسه هغه ته په اشارو زاری پيل کړې وې چې دلته مې ساه تنګه شوې ده، يوې بلې کوټې ته مې تبديل کړئ.
کله چې مولوي سنګين کور ته راغی، غفران الله ورته د برګدال پيغام او غوښتنه ورسول، مولوي سنګين سمدلاسه د برګدال د اوسېدو لپاره د مېلمنو کوټه تعيين کړه.

Download more from Libtoon.com

# غبر

د جون میاشتې ګرمي د نورو سیمو په پرتله په شمالي وزیرستان کې یو څه سخته وي، په همدغه میاشت کې چې بر ګډال د مولوي سنګین د کور د مېلمستون په ځانګړې کوټه کې ساتل کېده، دغه کوټه لمر ته هم برابره وه او د نورو کوټو په پرتله د ده په کوټه کې ګرمي نوره هم زیاته وه.

غرمه د برګډال له کوټې یو داسې اواز راتلو لکه یو څوک چې دېوال وهي، دوې ورځې دغه غبر د کور غړو اورېدلی و خو توجه یې نه وه ورته کړې، په درېیمه ورځ غفران الله چې د کور په انګړ کې یې لوبې کولې متوجه شو، سمدلاسه یې د برګډال کوټې ته ور منډه کړه. و یې لیدل چې برګډال د خپلو زولنو په اوسپنیز سیخ باندې دېوال سوری کوي، د غفران الله په لیدو یې سیخ له لاسو وغورځېده اوهغه یې په اشاره پوه کړ چې په کوټه کې د اکسیجن او ازادې هوا له کمښت سره مخ دی، ځکه دېوال سوری کوي.

اته کلن ځیرک غفران الله دستي سیخ کور ته ترې راووړ، کله چې مولوي سنګین راغی هغه سیخ ور وښوو او ټوله کیسه یې ورته وکړه. د غفران الله د کیسې له اورېدو سره سم مولوي سنګین پرېکړه وکړه چې برګډال باید یوې یخې کوټې ته ولېږدول شي چې د ګرمۍ ښکار نه شي.

Download more from Libtoon.com

## ډار

په وزیرستان کې د ګرځنده ټلیفون او انټرنیټ سهولت نه و، ځوانان مجبور وو چې د یو او بل د احوال د اخیستلو لپاره مخابرې وکاروي او ساتېري هم وکړي، د شپې به یې له یو بل سره په مخابرو کې بنډارونه کول، په دې بنډارونو د وزیرستان اکثریت ځوانان عادت شوي وو چې له دې جملې ځوانانو څخه یو هم د مولوي سنګین د تره زوی حضرت عمر و.

حضرت عمر به د شپې له خوا د مېلمستون په انګړ کې ازادې هوا ته پروت و او له خپلو یارانو او دوستانو سره به په مخابره کې په بنډار لګیا و، په کومه شپه به چې د وزیرستان فضا د بې‌پیلوټه الوتکو له پروازه پاکه وه، هغه به برګډال هم له کوټې را وایست، د پښې اوسپنیز ځنځیر به یې د خپل کټ په پښه پورې قلف کړ، ځنځیر دومره اوږد جوړ شوی و چې دی له بیرون کټ څخه پکې دننه کوټې ته هم تلای شو.

یوه شپه حضرت عمر او برګډال د معمول په څېر د مخابرې بنډار ته ناست وو چې په فضا کې ناڅاپه د بې پیلوټه الوتکې اواز واورېدل شو، د اواز له اورېدو سره سم برګډال کوټې ته منډه کړه. عمر چې برګډال ولید ده هم ورپسې منډه کړه او د لاس په اشاره یې له برګډاله وپوښتل:

Download more from Libtoon.com

ولې دې ناځاپه منډه کړه؟

د کورنۍ غړي اوس له برګدال سره د لاس په اشارو پوره پوهېدل، برګدال عمر د لاس په اشارو او د ځینو نومونو په یادولو پوه کړ:

ما د بې پیلوټه الوتکې له امله کوټې ته منډه کړه، ځکه که بې پیلوټه الوتکه ما ووینې نه ما ژوندی پرېږدي او نه ستاسې پر کورنۍ رحم کوي. اوباما ډېر ظالم دی، په توغندي مو ولي.

Download more from Libtoon.com

## د خطر یوه ورځ

څلرویشت ساعته د شمالي وزیرستان په فضا کې اته امریکایي بې‌پېلوټه الوتکې ګردې تاوېدې. ښایي د برګډال د ځای ځایګي په پیدا کولو پسې لالهانده وې، مو‌ږ انګېرله چې امریکایانو ته دومره اطلاعات رسېدلي چې سړی وزیرستان ته ورل شوی دی.

مولوي سنګین دې ته زړه نه شوای ښه کولای چې د دوبي په سوځنده ګرمۍ کې برګډال ته له کوټې دباندې په ازاده هوا کې د خوب او استراحت اجازه ورکړي، خو په دې خاطر چې د جنګي اسیر په حیث د برګډال حقوق تر پښو نه وي لاندې شوي، خپل پلار حاجي مرسلین ته یې وویل:

د برګډال د ساتنې لپاره باید داسې خوندي ځای پیدا کړو چې هم یخ او هم د جاسوسانو له ښاره پټ وي.

له پلار او ورونو سره له زیاتو سلا مشورو وروسته دې نتیجې ته ورسېد چې خپله نیمه کورنۍ باید ډېر ژر کرښې ته څېرمه د شوال غرنۍ سیمې ته انتقال کړي، ډېر ژر یې د همدې سیمې یوه اوسېدونکي خپل باوري او مجاهد ملګري شېر زمان یوسف په مرسته د شوال په شیرامبل کلي کې یو دوه پوړیز ختین کور پیدا کړ.

Download more from Libtoon.com

حاجي مرسلین فیصله واوروله:

زه او بلال به د شوال نوي کور ته کله شو چې هلته د برګډال ساتنه وکړو، د کورنۍ نور غړي باید همدلته په لنډ محمد خېلو کې پاتې شئ.

د ۲۰۱۰ م کال د جون پنځمه سهار وختي په داسې حال کې برګډال د 4X4 دوه سیټه ډاټسن موټر په مخکېنۍ سیټ کې کېنول شو، ښځینه کالي یې اغوستي وو او تر وزیرستانۍ برقعې لاندې یې سترګې هم تړل شوې وې.

د شا په سیټ کې ورپسې دوې ښځینه، یو څو ماشومان او حاجي مرسلین ناست وو. همدا ډول د دوی د کورنۍ او برګډال د ضرورت وړ شیان د موټر باډۍ ته اچول شوي وو، په باډۍ کې ورسره د سنګین کشر ورور یحیی کېناست، بلال د سفر د دعا له ویلو وروسته موټر د سهار پر اووه بجې د شوال پر لور روان کړ.

له شمالي وزیرستانه شوال ته تللې لار خامه او د غرونو په لوړو ژورو کې تېره وه، د دوی له کلي تر شوال پورې د موټر شپږ ساعته مزل و، ځایي او بهرنیو مجاهدینو به د شوال او شمالي وزیرستان تر منځ پر همدې لاره تګ راتګ کاوه.

د همدې لارې په اوږدو کې شیرامبل کلي ته نږدې د سوي هوټل په نوم یو ځای و چې ډېر وخت به پاکستاني پوځیانو مجاهدینو ته کمینونه پکې نیول، په دې ساحه کې به مجاهدینو لومړی دا معلوموله چې پوځیانو خو به کمین نه وي نیولی؟ د ځان له ډاډه کولو وروسته به بیا به پر دې لار تېرېدل.

حافظ بلال هم یاد شوي ځای ته پر رسېدو لومړی ځان ډاډه کړ چې وړاندې په لار کې کوم خنډ نه شته او وروسته یې د خپل ټاکلي هدف پر لور وړاندې تګ ته ادامه ورکړه، خو سوي هوټل ته په رسېدو ناڅاپه غږ پرې وشو:

ودرېږئ!

Download more from Libtoon.com

له غبر سره سم بلال متوجه شو چې مخې ته یې راکټ پر اوږه او ګوتې پر ماشه پاکستاني پوځیان تیارسئ ولاړ دي.

د بلال پر وجود وېره خپره شوه، خو ژر یې ځان را قابو کړ. دا چې دی د دې سیمې له جغرافیې، تاریخ، کلتور او د خلکو له ورځني ژوند سره بشپړ بلد و، سمدلاسه یې موټر ځای پر ځای ودراوه، له خپل ټوپک سره یو ځای له موټره ورکوز شو او پر پوځیانو یې غبر وکړ:

هیله کوم، ډزې و نه کړئ، مشکل جوړ نه کړئ، موږ شخصي دښمني لرو او په موټر کې د کور ښځینه راسره دي.

یو له رنګه تور پوځي ځای پر ځای ودرېد.

د ښځینه د نوم په اورېدو پوځیان لږ کنټرول شول او له حافظ بلاله یې پوښتنه وکړه:

د کومې سیمې یاست او چېرته روان یاست؟

حافظ بلال وویل:

د همدې سیمې یو، دلته لاندې مو کور دی، میرانشاه ته مې ناروغان وړي وو...

پوځیانو چې د بلال خبرې واورېدې، لار یې خلاصه کړه او د وړاندې تګ اجازه یې ورکړه.

بلال موټر ته حرکت ورکړ.

شا ته یې پلار ته مخ کړ:

ابا! خدای په ډېر سخت حالت کې و نه ساتلو؟

-زویه! دا د اذکارو برکت و، له روانېدو سره سم ما د اذکارو ختم شروع کړی و.

برګډال تر پایه خبر نه شو چې دوی له کمین سره مخ شول یا ترې تېر شول، ځکه د هغه سترګې تړلې وې، نه ورته بلال د موټر د درېدو د علت په

Download more from Libtoon.com

اړه څه وویل او نه یې عسکر ولیدل.

پر کنډ و کپر خامه لاره سترې مزل ماښام ناوخته پای ته ورسېد.

د شوال په شیرامبل کلي کې ټاکل شوي کور ته ورسېدل، د ختین کور په دویم منزل کې د برګېډال د اوسېدو لپاره کوټه برابره شوه، د کلي همکار مجاهد ورته د مېلمستیا په ډول تیاره پخه ډوډۍ راوړه او دغه مجاهد پر دې پوه نه و چې اسیر امریکایي افسر برګېډال له دوی سره دی، ځکه هغه ته صرف دومره ویل شوي وو چې د شمالي وزیرستان حالات خراب دي، مولوي سنګین د ځان د حفاظت لپاره خپله کورنۍ دلته راولي.

Download more from Libtoon.com

## بېرته کور ته زما تګ

زه له خوسته د بنو د سفر په پلمه د څو شپو په مخه راغلی وم، خو د جهادي مينې د اغېز له لاسه له ما په وزيرستان کې شل شپې په داسې حال کې وشوې چې تليفون هم کار نه کاوه.

يوازې په لومړيو ورځو کې مې يو ځل له خپل مشر ورور قيوم شاه سره زنګ وهلی و. د پلار له وېرې مې هيڅ خبره نه شوای کولای، زموږ پلار ته ډېره غوسه ورتله او پوهېدم چې هغه به مې ورټي. موږ به له همدې امله دا جرأت نه شوای کړای چې مخامخ د يوې تېروتنې سپيناوی او نبغ په نبغه خبرې ورته وکړو.

فکر مې وکړ، بله هيڅ لاره نه وه چې د پلار د غوسې د مخنيوي لپاره کار ورکړي. وروسته مې حل پيدا کړ. پرېکړه مې وکړه چې د فاروق مېرمن له ځان سره خوست ته بوځم. دا زما ورېره کېده، ما پټيلې وه چې په دې ډول به مې د پلار غوسه د خپلې لمسی په ليدو سړه شي.

ما ته ځان د رټلو وړ ښکارېده، ځکه ما يې له اجازې پرته په وزيرستان کې شل شپې کړې وې. دا وړه خبره نه وه. د بنو سفر رانه پاتې شو، ځکه که هلته تلای خبره نوره هم اوږدېده.

Download more from Libtoon.com

خوست تـه د تلـو تصمیـم مـې ونیـو. سـهار وختـي فـاروق د مولـوي سـنګین ځانګړی سـراچه ډولـه موټـر چـې تـورې شیشـې یـې لرلـې راوسـت، لـه خپلـې وربـرې سـره یـو ځـای پکـې کېناسـتلم او د لنډه محمدخېـل لـه سـیمې څخـه مو د میرانشـاه بـازار پـه لـور پکـې مـزل پیـل کـړ، پـه شـاوخوا یـو سـاعت کـې دغـه بـازار تـه ورسـېدو، زمـا خوښـه دا وه چـې مـوږ بایـد پـه میرنشـاه بـازار کـې د خوسـت د موټـرو پـه تـم ځـای کـې ښـکته شـو او د سـورلۍ پـه یـوه موټـر کـې کېنـو، خـو دا چـې لـه فـاروق سـره پـوره شـل شـېبې نـږدې پاتـې شـوم ملګرتیـا نـوره هـم سـره خـوږه ټینګـه شـوې وه، فـاروق زړه نـه شـو ښـه کـولای چـې مـا رخصـت کـړي، پـه بـازار کـې یـې قسـم وکـړ چـې زه دې د غـلام خـان تـر سـرحده پـه خپـل موټـر کـې رسـوم.

غـلام خـان د خوسـت او وزیرسـتان تـر منـځ پرتـه سـیمه ده چـې یـو لـوی د موټـرو تم‌ځـای هـم پکـې دی.

زه کـه هـر څومـره ټینـګ شـوم خـو فـاروق و نـه منلـه، همداسـې یـې د غـلام خـان پـه طـرف پـه خپـل موټـر کـې روان کـړم، نـږدې پـه نیـم سـاعت کـې مـوږ پـه غـلام خـان کـې د موټـرو تم‌ځـای تـه ورکښـته شـوو، مـا غوښـتل چـې خوسـت تـه وړونکـي موټـروان بایـد فـاروق راسـره و نـه وینـي، ځکـه د فـاروق خـو یـو وېښـتان لـوی و او بـل وسـله ورسـره وه. لـه مـا سـره اندېښـنه وه چـې پـه لار کـې بـه مـې ملي اردو او یـا هـم د لارې د تالاشـي پـه کـوم بـل ځـای کـې بـل چـا تـه ور پـه ګوتـه کـړي، خـو دا چـې فـاروق ډېـر مینه‌نـاک انسـان و، هیـڅ مـې دې خبـرو تـه پـام نـه شـو. فـاروق موټـر د یـوې سـپینې سـراچې څنـګ تـه ودراوه.

موټر مې دربست ونیو، بېړه مو وه، خوست ته باید ژر رسېدلي وای.

کلـه چـې مـې لـه فـاروق سـره خـدای پامانـي اخیسـته د فـاروق رنـګ عجیـب تغییر

Download more from Libtoon.com

وکړ، په خبره کې یې خپګان له لرې ښکارېده، په ټینګار یې وویل:
بیا به هم وزیرستان ته راځې!
ډاډ مې ورکړ چې خامخا راګرځم.
موږ همداسې په سراچه کې د خوست په طرف حرکت را وکړ، له شاوخوا یو نیم ساعت وروسته په لاره کې د ترښوبي په نوم د افغانستان د سرحدي پوځیانو یو چیک پواینټ را ورسېد، ما د ایت کرسي په لوستلو پیل وکړ، څو ځله مې وویله.
دلته اصول داسې وو چې لومړی به تالاشي ته کښته کېدې او چې پولیس به شکي شول بیا به یې بره یوه اطاق ته وغوښتلې او هلته به یې پوښتنې درنه کولې.
دا د سرحدي سیمې یو مهم چیک پواینټ و او زیاتره وخت به چریکې مجاهدین له همدې لارې وزیرستان ته تلل راتلل.
زه د تالاشي لپاره له موټره کښته شوم، د تالاشي پر وخت رابانـدې شکمن شول، ځکه زه هلک وم او دوی به هم کم‌عمره هلکانو ته زیات متوجه وو، د دوی لوی شک به دا و چې د فدایي حملو لپاره ټریننګ شوي نه وي!
بره اطاق ته یې ولېږلم، هلته یو عسکر ناست و، و یې ویل:
له کومه راغلې؟
دوې ورځې وړاندې له خوسته راغلی وم، وزیرستان ته مې ناروغان وړي وو او...
عسکر زما خبرې ونیوې، په تروشه تنده یې وویل:
ډاکټر کومه دوا درکړې؟ ته یې را واخله!
زما زړه درزا شروع کړه.
هیڅ دوا نه وه، خو بیا مې فکر وکړ چې ضرور به مې له ورېرې سره کومه

Download more from Libtoon.com

دوا په بکس کې وي هغه به ور ښکاره کړم.

کله چې زه د دواورته راوړلو لپاره را ولاړ شوم، په دې وخت کې يو بل سپين کالي کس چې ږيره يې خرېيلې، غټ برېتونه يې وو او ما ته کوم افسر ښکاره شو، غږ وکړ:

صبر صبر!

ودرېدم، بيا يې لاس را اوږد کړ، د سترې مه شې د لاس په را اوږدولو يې وويل:

هلکه ته خو مې چېرته ليدلی يې!؟

ما سمدستي وويل:

هو، په خوست کې زما دوکان دی!

- چېرې دی؟

ما په زحمت ناړې تېرې کړې:

په خوست بازار ښاروالۍ مارکېټ کې، د لونګيو او څادرونو دوکان دی.

ښااا هغه د سپين ږيري زوی يې؟

لکه بار چې مې له اوږو کوز شوی وي، تېزه مې ور غبرګه کړه:

هو هو، هغه زما پلار دی.

په خوست کې زمور دوکان ډېر مشهور و، ځکه ښې لونګۍ او خونړور وربښمين څادرونه به يوازې زمور په دوکان کې پيدا کېدل، زمور پلار د يوې او پاکې خبرې سړی و، ځکه خو يې دوکانداري د ولايت په کچه شهرت پيدا کړی و.

افسر چې اوس يې په څېره کې شدت نه ښکارېده، خوله يې وخوځېده:

ګوره دا ځل درځم، يوه ښه لونګۍ به راکوې!

Download more from Libtoon.com

-بې غمه شه، زموږ دوکان ستا په خدمت کې دی!

په چوکۍ کې ناست عسکر ته چې اوس دلته د افسر په راتلو دربدلی و،

افسر وویل:

دا زه پېژنم، سترې کړی خو به دې نه وي؟

عسکر په عذرمنه لهجه وویل:

نه قوماندان صاحب، فقط د سفر په اړه مې پوښتنې ترې وکړې.

قوماندان صاحب زه پر مټ ودبولم او و یې ویل:

چې زه ژوندی یم، سرې سترګې مزې کوه!

تر رخصتېدو په ډېره بېړه په زینو کې راکښته شوم، په موټر کې په کېناستلو

سره مې اسوېلی وکړ.

موټروان وویل:

خیر و؟ څه یې ویل؟

دا زموږ خپلوان دي، هسې پوښتنه مو سره کوله!

موټروان هم حیران شو، شاید ویلې به یې وي چې دا ماشوم په طالبانو

کې هم په لوړه کچه شناخت لري او دلته هم ورته دومره احترام کېږي،

دا څه کاره دی؟

ما هم په زړه کې ویل چې خبر نه یې، زما په زړه به څومره ډار تېر شوی وي.

تر دې وروسته تر خوسته په لاره کې ځای ځای نور چیک پواینټونه هم

راغلل، خو دومره مهم نه وو او نه یې دومره پوښتنې کولې، ځکه چې په

لومړي چیک پواینټ کې یې تر ټولو مسلکي کسان ګومارلي وو.

موږ کور ته ماسپښین ناوخته را ورسېدو، په کور کې مورکۍ زما په لیدلو

دعاوې شروع کړې، ټینګ یې په غېږ کې ونیولم:

Download more from Libtoon.com

الله شکر چې ژوندی راغلې، ما ته خو شیطان ډېر بد بد تشویشونه را اچول...

-تاسې له ډېر کوچني شي بلا جوړه کړئ، هیڅ شی نه شته، دا دی زه راغلم.

بیا مې ورته وخندل...

پلار مې هم مازدیگر له دوکانه راغی او په کور کې یې د کلونو کلونو مسافرې لمسی په لیدو غوسه سړه شوه، زه یې په سفر تر ډېره ځکه خپه نه کړم چې دوی دا فکر کړی و چې هیڅ به رانه شي، خو دا چې راغلم او جوړ روغ وم، د دې غنیمت احساس یې زړه تکور کړ.

Download more from Libtoon.com

# په خوست کې زموږ پټ چریکي عملیات

دا چې تازه له وزیرستانه راغلی وم او وینه مې په جوش کې وه؛ نو یو ځو واري مې په خوست کې له تبلیغي امیر صاحب سره ولیدل، مشوره مې ورسره وکړه چې په خوست کې فعالیت چټک کوو. موږ دواړو هوکړه وکړه چې د خپل توان مطابق به دواړه امکانات برابروو او کوښښ به کوو چې چریکي ملګري زیات او د خپل راز زلمیان پیدا کړو.

ما به وخت ناوخت د بلال له لارې یو څه د ضرورت مطابق امکانات برابرول او تبلیغي امیر صاحب به له خپلې ممکنې لارې د ضرورت شیان لکه سایلنسري توپانچې او مقناطیسي ماینونه تیارول او پر ملګرو به یې توزیع کول.

کار روان و، وخت ناوخت به په بازار کې له ځینو خطرنو سره هم مخ شوو چې خدای تعالی به وساتلو. په ځینو وختونو کې به له امکاناتو سره یو ځای د لارې پر سر له تالاشی سره مخامخ شو چې د ممکنې لارې په استفاده به مو تری ځانونه وژغورل.

په خوست کې مو شاوخوا د فعالیت یو نیم کال پوره شو چې د خپل توان مطابق مو ډېر پرمختګ کړی و. بالاخره داسې وخت هم راغی چې د فدایانو په رهبري کې به مو برخه اخیستله، هغه مشخص کسان «جاسوسان» چې

Download more from Libtoon.com

ورسره په راز کې ځينې کليوال وو او د طالبانو موټرېز کاروانونه او يا هم پټنځايونه به يې بې‌پيلوټه الوتکو ته د جي پي ايس له لارې په نښه کول، مور به په خوست کې بريدونه وربانديې کول چې له جملې يې د خوست ولايت د سپېرې ولسوالۍ يو اوسېدونکی و.

دغه «جاسوس» کس د طالبانو په ليکو کې په دې مشهور و چې د امريکايانو له خوا د شپنيو علمياتو رهبري يې پر غاړه ده او د دې لپاره يې خپل کسان په پکتيکا او خوست کې د طالبانو تر لاس لاندې سيمو کې پيدا کړي او د امريکايانو شپني عمليات د هغوی په مرسته رهبري کوي.

د بلال له خوا ما ته وويل شول چې لالا «مولوي سنګين» وايي مور يو نفر در لېږو، تاسې هڅه وکړئ ورسره ووينئ، له نږدې څخه د دغه جاسوس د له منځه وړلو پلان سره ترتيب کړئ.

د ده په هکله دا هم مشهوره وه چې څو ځله د طالبانو له بريدونو روغ وتلی، دا هم ويل کېدل چې دوه تنه هغه فدايان يې چې غوښتل يې، دی د خوست په ګربزو ولسوالۍ کې له منځه يوسي، شهيدان کړي وو.

د جاسوس د ترور لپاره مور ته د وزيرستان د سيمې يو تنکی ځوان چې په قوم داوړ و، را ولېږل شو. داسې کسان چې هغوی به له خپل سر څخه تېر و او په بازارونو کې به يې چاړواکي په نښه کول او يا به يې هم تر ملا بارود تاو کړل او په امريکايي کاروانونو او کمپونو کې دننه به يې ځان والوځاوه، د فدايانو او يا هم استشهاديانو په نومونو يادېدل.

حافظ بلال راته وويل چې درلېږل شوي نفر ته به تاسې د جاسوس لار او يا هم د ناستې ځای ور په ګوته کړئ او بيا به دغه فدايي د توپانچې په واسطه جاسوس په نښه کوي او له منځه به يې وړي.

Download more from Libtoon.com

موږ په خوست کې د سيف الله په نوم يو محلي لوفر پيدا کړ چې اصلا د پکتيکا د نکې ولسوالي اوسېدونکی و، له سيف الله سره سره د ياد شوي جاسوس ډېره نږدې انډيوالي وه. موږ سيف الله ته لالچ ورکړ او ورته و مو ويل چې که موږ ته د دغه د جاسوس شکل او د ناستې ولاړې ځای په گوته کړې، موږ به په بدل کې يو نوی ماډل هونډا موټرسايکل درکړو، همدا ډول به دا ملگرتيا سره غځوو او يو د بل همکار به يو.

دغه وخت په خوست کې هونډا موټرسايکل داسې مثال درلود لکه نوی ماډل لکسيس، لنډکروز...

سيف الله ته مو دا هم وويل چې فدايي ځوان به يوه ورځ فقط د جاسوس شکل گوري چې و يې پېژني، بيا زموږ کار دی چې هر وخت مو له منځه ووړ.

سيف الله خبره راسره ومنله.

فدايي مو سيف الله ته وسپاره، له سيف الله سره فدايي شاوخوا درې څلور شپې وکړې چې بالاخره سيف الله پر دې بريالی شو چې فدايي له جاسوس سره مخامخ کړي.

سيف الله په يوه بهانه جاسوس د خوست ببرک خان پارک څنگ ته را غوښتی و او په فدايي ځوان يې له نږدې ليدلی و، موږ له فدايي څخه اطمينان واخيست چې جاسوس يې له نږدې کتلی او ښه يې پېژندلی وي.

بيا مو سيف الله ته وويل چې لږ کوښښ وکړه موږ ته يې د ناستې ځای هم مشخص کړه، هغه همداسې وکړل، په جاسوس پسې يې له شا تعقيب شروع کړ چې بالا خره يوه ورځ سيف الله ما ته تليفون راوکړ، زه په دوکان کې وم او راته و يې ويل چې جاسوس ستاسې په مارکيټ کې (په کوم مارکيټ کې چې زموږ دوکان و) په پلانې دوکان کې رخت اخلي، ورشه له نږدې يې وگوره.

Download more from Libtoon.com

زه هم له دوکانه غلی راووتلم او تبلیغي امیر صاحب ته مې تلیفون وکړ چې عاجل فدایي د ښاروالۍ مارکېټ ته را ورسوه.

جاسوس زموږ له دوکان څخه د قبلې په طرف په دوولسم او څوارلسم دوکان کې د رخت په کتلو بوخت و، زه هم د دوکان په طرف ور روان شوم، له ګړندیو ګامونو وروسته دوکان ته ور ورسېدم، د دوکان په دوازه کې چې ودرېدم و مې لیدل چې یو دنګ او غټ سړی چې توره غټه ږیره یې درلوده او اوږې ته یې یو روسي ټوپک هم اچولی و، په دوکان کې د رختونو په کتلو مصروف دی.

زما په لیدلو راته متوجه شو، داسې ښکارېده چې سړی ډېر هوښیار او په چریکي بریدونو کې بلد دی، ما هم وارخطا نه کړ او په ډېر جرأت سره دوکان ته ورننوتلم، د رختونو په کتلو مې شروع وکړه. پټ ډار اخیستی وم چې کس راباندې یقیني نه شي، زړه ته مې د ملګرو خبرې هم درېدلې چې د دغه جاسوس په اړه به یې کولې، هغوی ویل په خپل ټوپک یې دوه فدایان شهیدان کړي او هغه کسان چې دی تعقیبوي په قدمونو پېژني.

له بلې خوا له پلاره هم ډارېدم چې که مې ووینې چې دلته په دوکان کې د رختونو په کتلو بوخت یم، وایې به چې څه دې کول او ولې دې هلته رختونه کتل؟

په دوو کې ګیر وم، اخېر مې فیصله وکړه چې سړی خو همدلته دی، باید بهر لاړ شم او له تبلیغي امیر صاحب سره رابطه وکړم، ځکه چې فدایي د ده کره و، ما غوښتل ورته ووایم چې ځانونه ژر دغه ځای ته را ورسوئ.

بهر راووتلم، له تبلیغي امیر صاحب سره مې تماس ونیو. په موبایل کې د موټرو غږونه راتلل، امیر صاحب وویل:

Download more from Libtoon.com

موړ لا هم له ګرېزو سره پر سړک ولاړ يو او تر موږ وړاندې د سړک پر سر د موټرو تالاشي روانه ده، د زیات بیروبار له امله نه شو کولای چې ژر ځانونه در ورسوو، خو کوښښ کوو او بیا هم له زیات کوښښ سره سره موږ په یو ساعت کې ځانونه در رسولای شو.

ده چې ځنګه د را روانېدو وویل، زه پوه شوم چې سیف الله سر ور خلاص کړی دی.

ما ورغبرګه کړه:

سړی د یوه ساعت په مخه نه دی راغلی او نه موږ ته انتظار کوي چې کار یې ور خلاص کړو، شاید همدا اوس هم له دوکانه وتلی وي، هغه فقط د رختونو د اخیستلو لپاره راغلی...

ساه مې واخیسته، بیا مې وویل:

نن ښکار له لاسه وتلی، بلې ورځې ته متوجه اوسئ چې باید خطا یې نه کړو.

تبلیغي امیر صاحب هم راسره ومنله، زه بېرته خپل دوکان ته راغلم. شاوخوا درې ساعته په دوکان کې ناست وم، ما به د پلار له مخه تلیفون بې غږه ساته، اوس هم د تلیفون رېږدېدو پوه کړم چې زنګ را روان دی، غلی مې را وکیښ، ګورم چې سیف الله دی، را ولاړ شوم او د دوکان تر مخ پر چوکۍ کښناستم، پټ مې غوږ ته ونیو، په غلي غږ مې ورته وویل:

اورم!

سیف الله راته وویل:

مبارک شه، ما خپل کار تړول وکړ!

ما په تلواره وویل:

څنګه؟ کس له منځه لاړ؟

Download more from Libtoon.com

سیف الله وویل:

نه، اوس به کار وشي!

ـ ښنګه؟ ما پوه کړه؟

سیف الله زیاته کړه:

ستاسې تر ښنګ د اوړو په مارکیټ کې جاسوس له خپلې خړ رنګه کرولا سره ولاړ دی، تبلیغي امیر صاحب مې سره له هغه بل نفره ور واستول، له لرې مې ور وښوو او ما ځان لانديې د سرګردان چوک طرف ته را وایست.

ما ورته وویل:

زموږ نفر ډاډه شو چې همدا کس دی؟

ـ هو دواړه مطمین شول!

په پای کې مې سیف الله ته وویل چې سمه ده، احتیاط کوه، زه منتظر یم چې د خوښۍ خبر واورم او الله جل جلاله دې وکړي چې نن د شهیدانو روح ارام شي.

ما زیات انتظار وکړ، د خپل دوکان تر مخ د لرګي پر چوکۍ د دې ناستې هره دقیقه راباندې کال شوه. د مارکېټ په دروازه چې به هر کس را ننوت ما به ورته کتل چې له رنګ او قدمونو یې معلومه کړم چې بهر کومه پېښه شوې او که نه؟

خو چې هر کس به راتلو او عادي به و، پوه به شوم چې هیڅ لا نه دي شوي، ناقراره شوم، بالاخره مې جېب ته لاس کړ، تلیفون مې پټ را وکیښ او د تبلیغي امیر صاحب شمېره مې زور کړه، د امیر صاحب تلیفون اوکې شو، په غلي اواز مې وویل:

ښنګه خبره ده؟

Download more from Libtoon.com

ـنن بیا ښکار خطا شو!

پسې زیاته یې کړه:

زما او ستا ملاقات هم ضروري دی، نن باید سره ووینو!

ما وویل:

سمه ده، خو چېرې درشم؟

امیر صاحب وویل:

همدا اوس د عبدالله خان اطاق ته روان یم...

تلیفون مې بند کړ، له دوکانه د یوشي په بهانه راووتلم او د زوړ مارکېټ په طرف روان شوم، تر لږ مزل وروسته مارکېټ ته ورسېدم او مخامخ په دویم منزل کې د عبدالله خان اطاق ته ور وختلم.

په اطاق کې تبلیغي امیر صاحب د تور چای په څښلو لګیا و او عبدالله خان له فدایي ځوان سره خبرې کولې. ما تر سلام وروسته له دریو واړو سره روغبړ وکړ او بیا چای ته کېناستم، د تبلیغي امیر صاحب رنګ ته مې چې وکتل لږ خپه ښکارېده، د فدایي ځوان رنګ هم تښتېدلی غوندې و، لکه وېرېدلی چې وي.

چای مو وڅښه، وروسته مې تبلیغي امیر صاحب ته وویل چې زه او ته به خبرې سره وکړو، ناوخته کېږي.

امیر صاحب را ولاړ شو، له اطاقه د باندې راووتلو او د اطاق تر مخ یوې څنډې ته سره کېناستو. امیر صاحب له کېناستلو سره سم راته وویل:

ملګري دې کار و نه کړ!

ما وویل:

کوم ملګري؟

Download more from Libtoon.com

- فدايي!

ما په ناقراري وپوښتل:

څنګه؟

تبليغي امير صاحب خپله کيسه په تفصيل سره پيل کړه:

جاسوس د اوړو په منډيي کې له خپل کرولا موټر سره ولاړ و، ټوپک يې هم په موټر کې ايښی و، کله چې مې فدايي ته ور په ګوته کړ او ورته و مې ويل چې ته ورشه په سزا يې ورسوه، زه به د کوڅې په سر کې پر موټرسايکل تيار درته ناست يم، سمدستي توپانچه پر ځای واچوه او زما موټر سايکل ته ځان را ورسوه چې بيا له بازاره وځو. فدايي هم له موټرسايکله ور کښته شو او سيده ورغی، خو چې ما موټرسايکل را ګرځاوه، فدايي بېرته راغی او په رېږدېدلي اواز يې راته وويل چې توپانچه کار نه کوي، ما چې پټه توپنچه وکتله هيڅ يې مرمۍ نه وه ور تېره کړې او ورته و مې ويل چې دې ته خو دې مرمۍ نه ده ور تېره کړې. بس فدايي سمدستي موټرسايکل ته را وخوت او و يې ويل چې ما توپانچه وکتله، کار نه کوي.

تبليغي خواشيني و، زياته يې کړه:

که هر څومره مې ټينګار وکړ چې توپانچه کار کوي، خو فدايي نه منله!

بيا يې کيسه را ټوله کړه، و يې ويل:

فدايي ډارېدلی دی، له ترور سره بلدتيا نه لري، نه يې شي کولای. مشران که غواړي چې دا مهم جاسوس له منځه يوسي يا دې ښه بلد فدايي را ولېږي او يا دې هم د دې جاسوس مرګ مور ته وسپاري چې د خپل تکتيک له مخې يې له منځه يوسو.

ما هم د ده خبرې تاييد کړې، و مې ويل:

Download more from Libtoon.com

همداسې بـه وکـړو، فدايـي بـه نـن لـه تـا سـره لاړ شـي، شـپه بـه وکـړي، سبا سـهار يې وختـي وزيرسـتان تـه رخصـت کـړه او د لارې خـرڅ ورکـړه. ورتـه ووايـه چـې کلـه هـم بيا ټارګيـټ برابـر شـو تـا بـه د مشـرانو لـه لـوري بېرتـه را وغـواړو.

تبليغي امير صاحب راسره ومنله او بېرته اطاق ته راغلو.

مـا لـه عبدالله خـان او فدايـي څوانـه رخصـت واخيسـت او ورتـه و مـې ويـل چـې فقـط د تبليغـي ليـدو تـه راغلـی وم، څـه عاجـل کار و.

د داسـې پېښـو پـر مهـال بـه مـوږ راز لـه ځان سـره ساته او هيڅ بـل هغه کس بـه مو نه خبـراوه چـې پـه دې ډول پـلان کې به يـې د يو همکار پـه ډول رول نـه لوباوه.

پـه دې ورځ زه بېرتـه دوکان تـه راغلـم، پـر دې مـې فکـر شـروع کـړ چـې جاسـوس لـه کومـې لارې لـه منځـه يوسـو؟

ډېـرې ورځـې تېـرې شـوې، يـو سـهار پـه خوسـت کـې د ډينجـر ځـدراڼ دوکان تـه ورغلـم، تـر روغبـړ وروسـته مـو پـر حالاتـو خبـرې سـره کولـې، ډينجـر پـه خبـرو کـې وويـل:

د ملـي امنيـت لـه اړخـه تـر کلـک څـار لانـدې يـم، خپلـو کليوالـو ملـي امنيـت تـه ور ښـوولی يـم چـې د طالبانـو همـکار يـم.

ما په حيرانۍ ور کتل. ډينجر ما ته په سپارښتنه وويل:

ډېـر ګـرم ګـرم مـه تاوېږه، ځـان سـاته، داسـې نـه د ملـي امنيـت لـه خـوا خـدای مـه کـړه تـرور شـې!

پـه دې وختونـو کـې د ځانګـړي پـلان لـه مخـې د ملـي امنيـت لـه لـوري د چريکـي بريدګـرو ويشـتل هم شـروع شـوي وو.

لـه ډينجـر څخـه مـې پـه خبـرو خبـرو کـې د يـاد شـوي جاسـوس پوښـتنه وکـړه، چـې ايـا هغـه پېژنـې؟

Download more from Libtoon.com

ډینجر وویل:
ما تـه مشکل هـم دې کـس زیـات جـوړ کـړی، دا کـس زمـوږ د ولسوالۍ دی او دلتـه دوکان تـه پـه اوونـۍ کـې یـو ځـل حتمـا راځـي.
زه په زړه کې دلته د هغه د راتګ خبرې ډېر خوشاله کړم.
و مې ویل:
ښـا نـو چې د دې کـس لـه خـوا تـا تـه مشـکل جـوړ وي، داسـې و نـه کـړو چې د داسې طریقـې لـه مخې یې لـه میدانـه لـرې کـړو چې تـه هـم تـرې ازاد شې او زمـوږ سیمه یې هـم لـه شـره پاکـه شي؟
- دا خو به ډېر خوند وکړي، مګر څنګه به یې لرې کړو له مخې؟
- لومړی دا راته ووایه چې کله راځي، موټر چېرې دروي؟
ډینجر وویل:
پـه موټـر کـې نـه راځـي، موټرسایکل راولـي او لـه هغـه سـره ډېر احتیـاط کـوي، زما تـر دوکان لانـدې هوټـل دی، د هوټـل تـر مـخ یـې دروي او هوټلـي تـه وایـي چې دا موټرسـایکل بـه یـوه ثانیـه هـم لـه نظـره نـه لـرې کـوې.
- کوم هوټل؟
ډینجـر تـر لاس ونیـوم او لـه دوکانـه یـې دبانـدې وایسـتلم، لـه دویـم چـت څخـه یـې لانـدې ګوتـه ونیـوه او ویـې ویـل چې هاغـه هوټـل دی.
رسـتورانت یـو کلیـوال دوکان تـه ورتـه لـه ختـو جـوړ و چې تـر مـخ یـې د چـای او ډوډۍ پخولـو لپـاره څـو دېګونـه ځـای پـر ځـای شـوي وو.
ډینجر ته مې وویل:
سمه ده، زه کوښښ کوم چې یو منظم پلان ورته جوړ کړو او اوس رخصت راکړه.
لـه ډینجر سـره مې خـدای پامانـي وکـړه، سیده هوټـل تـه راکښـته شـوم او د چـای

Download more from Libtoon.com

پـه بهانـه ور ننوتـم. پـر دخـل ناسـت کـس تـه مـې سـلام ور واچـاوه او شـین چـای مـې را وغوښـت. کېناسـتم، هوټلـي چـې چـای راووړ پوښـتنه مـې تـرې وکـړه چـې دا هوټـل د چـا دی؟

یـوه مـزدور راتـه وویـل چـې د یـوه ګربـز دی او نـوم یـې هـم را وښـوو، دومـره یـې هـم پـوه کـړم چـې کاونټـر تـه ناسـت سـړی پخپلـه مالـک دی.

یـو ګیـلاس چـای مـې وڅښـه، د راوتلـو پـر وخـت مـې پـر کاونټـر بانـدې شـل کلـدارې ورکـړې.

دباندې مې تبلیغي امیر صاحب ته زنګ وواهه:

یو ځل زه او ته باید عاجل سره ووینو!

امیـر صاحـب پـه دې ورځ پـه کلـي کـې پـه کـوم کار مصـروف و، خـو سـبا یـې زنـګ راغـی چـې د عبداللـه خـان اطـاق تـه راشـه.

پـلار تـه مـې بهانـه وکـړه، د عبداللـه خـان اطـاق تـه ورغلـم، دا چـې پـه کوټـه کـې د عبداللـه خـان نـور کلیـوال هـم ناسـت وو؛ نـو تـر سـتړي مـه شـې وروسـته مـې لـه امیـر صاحـب سـره د سـترګو پـه اشـاره ځـان پـوه کـړ چـې بایـد زه او تـه د بانـدې کېنـو.

امیر صاحب ناستو کسانو ته وویل چې زه له ده سره یوه خبره کوم بېرته راځو.

دبانـدې د عبداللـه خـان د اطـاق تـر مـخ کېناسـتلو، تبلیغـي امیـر صاحـب تـه مـې د جاسـوس د ناسـتې د ځـای پـه اړه ټـول معلومـات ورکـړل، ورتـه ومـې ویـل چـې ډېنجـر خـو خپـل سـړی دی، هغـه همـکاري کـولای شـي، هوټـل ستاسـې د کـوم ګربـز دی چـې لـه دغـه کـس سـره د پېژندګلـوي یـوه طریقـه جـوړه کـړو.

تبلیغـي تـه مـې چـې کلـه د هوټـل نښـې نښـانې وښـووې هغـه سمدسـتي وخنـدل او و یـې ویـل چـې دا خـو زمـوږ د یـوه مجاهـد ملګـري دی، هغـه بـه نـور هـم راتـه

Download more from Libtoon.com

دا کار اسانه کړي.

ډېر خوشاله شوم او ورته و مې ویل چې وخت باید ضایع نه کړو، هر څومره ژر چې کېږي باید دا پلان رالنډ کړو. امیر صاحب وویل چې د هوټل مالك زموږ کلیوال دی زه به نن په کلي کې په ډاډه زړه خبره ورسره وکړم.

ما ورته وویل:

ګوره داسې نه تر وخت مخکې جاسوس خبر شي!

ـ نه بې غمه شه د هوټل مالك زما مجاهد او د راز ملګری دی، هغه د جهاد په لاره کې تر خپل پلار هم تېر دی.

زما خوشالي بې ځایه نه وه، د یوه مهم جاسوس مرګ نور هم راته اسانه شوی و، همداسې مې له تبلیغي رخصت واخیست او ورته و مې ویل چې سبا به بیا سره په جریان کې کېږو.

دا شپه تېره شوه او په سبا زه په ښوونځي کې وم چې د امیر صاحب زنګ راغی، ویل یې چې یو ځل سره وینو، ما ورته وویل چې زه خو په ښوونځي کې یم کوم ځای ته درشم؟

ـ د ډینجر له دوکان سره د رختونو یو مارکېټ دی، په هغه کې د قاسم جان ګربز پوښتنه وکړه، د رختونو دوکان لري، زه به هغلته درته ناست یم.

زه هم له ښوونځي څخه په پټه د مارکېټ په طرف روان شوم، له ګړندي مزله وروسته چې شاوخوا پاو وخت یې ونیو، مارکېټ ته ورسېدم، د مارکېټ په دروازه کې لومړی دوکان د قاسم جان و، و مې لیدل چې تبلیغي امیر صاحب له یوه دوکاندار سره په چای څښلو لګیا دی. سلام مې ور واچاوه، دواړه راته ولاړ شول او په غېږ ستړې مه شې یې راکړه، کېناستلو.

امیر صاحب دوکاندار قاسم جان را وپېژانده او و یې ویل چې دا زموږ پخوانی

Download more from Libtoon.com

ملګرى دى، هم مالي کومک کوي او هم راسره د اسبابو په اېښودلو کې مرسته کوي، دا يې هم وويل چې د هغه يو ورور له امريکايانو سره د KPF په ځانګړې ځواک کې شامل دى چې هغه هم خپل ملګرى دى او وخت ناوخت زموږ ډېر کار پرې کېږي.

وروسته تبليغي امير صاحب وويل چې ما بېګا له هغه هوټلي سره خبره وکړه او ويې ويل چې هو دا کس زما د دوکان تر مخ موټرسايکل دروي، خو دا يې وويل چې زه درسره مرسته کوم، مګر په هغه شرط چې کس په لومړي پلان کې له منځه لاړ شي، ځکه که ژوندى پاتې شو بيا پوهېږي چې له هوټله تعقيب شوى دى.

امير صاحب زياته کړه:

اوس داسې کار کوو چې د موټرسايکل لپاره بايد يو چسپکي ماين جوړ شي او دا ماين دلته نه جوړېږي، بايد له وزيرستانه را وغوښتل شي. بيا يې ما ته وکتل:

دا کار ته کولای شې!

ما وويل:

زه يې څنګه کولای شم؟

-ته به بلال حافظ صاحب ته ووايې چې د موټرسايکل لپاره چسپکي ماين په وزيرستان کې جوړ کړي او دلته دې يې په يوه طريقه را ولېږي، بيا به يې دلته د قاسم جان په دوکان کې کېږدو، ځکه له دې ځايه هوټل ته لس قدمه مزل دى، کله چې جاسوس راشي، ډينجر به موږ ته خبر راکړي او په موټرسايکل پسې به راشو. دا چې هوټلي مو هم خپل کس دى؛ نو به يې په ارام سره د موټرسايکل تر ښکرو لاندې چې د تېلو ټانکۍ پر ډانډه ځاى پر ځاى شوې، بسته کړو. په هغې کې دومره ځاى شته چې مواد پکې

Download more from Libtoon.com

داخل کړو او د انفجار په وخت کې ټانکې خپله هم چوي، په دې ډول موږ و تاسې خپل هدف ته رسېدلای شو.

د امير صاحب تر دې تفصيل وروسته چا مخالفت و نه کړ.

ما هم خبره ورسره ومنله. دا چې زما د مکتب د رخصتي وخت هم را نږدې و، له دوی مې رخصت واخيست چې دوکان ته پر وخت ورسېږم.

په لار کې مې له بلال سره ټيليفون وکړ او د ياد شوي پلان په اړه مې معلومات ورکړل، د هغه هم پلان خوښ شو او و يې ويل چې په نږدې ورځو کې به ستاسې مواد خوست ته در ورسېږي.

څو ورځې وروسته د بلال زنګ راغی، يو نمبر يې راکړ چې دا به هغه ستاسې امانت درکړي. کس ته مې چې ټيليفون وکړ، له خبرو مې وپېژاند چې د نکې ځدراڼ دی.

راته و يې ويل:

ته چېرې يې؟

ـ زه خو له سپين جومات سره په خوا کې يم!

بيا يې غږ راغی:

څو دقيقې صبر وکړه زه در رسېږم.

لږ انتظار شوم، نفر بيا زنګ وواهه:

زه د سپين جومات د دراوزې تر مخ ولاړ يم.

د جومات دروازې ته ورغلم چې ګورم يو ځوان سړی چې په لاس کې يې تسبيح هم وې، له توري کخوړې سره يو ځای ولاړ و.

زما په ليدلو يې سمدستي راته وويل:

ته يې؟

Download more from Libtoon.com

ما وېل:

هو، امانت راکړه!

په لاس کې توره کڅوړه یې راکړه او سمدستي د قاسم جان دوکان ته روان شوم.

کله چې دوکان ته ورسېدم امانت مې قاسم جان ته ورکړ او ورته و مې وېل چې تبلیغي امیر صاحب به یې نور برابر کړي، موږ او تاسې به پکې ګوتې نه وهو، خدای دې نه کړي کوم مشکل جوړ نه شي.

قاسم جان هم کڅوړه په رختونو کې پټه په یوه الماری کې کېښودله او زه ترې روان شوم.

زه مې په خپل دوکان کې ناست وم، امیر صاحب زنګ راته وواهه چې ستا هغه امانت مې وکوت او اطمینان یې راکړ چې دا کار کوي او دا یې هم راته ووېل چې ډېر مهم چسپکي یې جوړ کړي دي، دا چې لږ زیات را وغواړو ښه به وي. ما هم ټېر ورته وډباوه چې دا یو به چیک کړو، ان شاءالله نور هم را غواړم.

په سبا ورځ زه د ډینجر دوکان ته ورغلم او خبره مې ورسره شریکه کړه، فقط دومره مې ورته ووېل چې کله هم جاسوس ستا دوکان ته راشي، ته به ما ته زنګ وهې او وایې به چې هغه د فلمونو میموري کارډ د ډک شو، کس پسې را ولېږه؛ نو به زه پوه شم چې جاسوس راغلی او نور زما کار دی چې موږ یې د کوم پلان له مخې له منځه وړو.

ډینجر راته ووېل چې همدا کار به وکړم، خو دومره کار وکړه چې له لومړي غوټې کس در نه خطا نه شي، ځکه چې بیا ټولو ملګرو ته مشکل جوړېږي!

ما اطمینان ورکړ چې هر اړخ مې سنجولی، هیڅ تشویش مه کوه.

پنځه ورځې تېرې شوې چې بالاخره د سهار لس بجې زه په ښوونځي کې وم

Download more from Libtoon.com

د ډینجر زنګ راغی، له اوکې کولو سره یې سمدستي وویل:

ستاسې میموري کارډ ډک شو پسې راشه!

ما هم له مکتبه ځان را وایست او په منډه د قاسم جان دوکان ته روان شوم، په لار کې امیر صاحب هم زنګ راته وواهه چې ملګری دې راغلی، څنګه کوو؟

ما ورته وویل:

زه خو دوکان ته روان یم!

هغه غاړې تازه کړې:

زه هم د قاسم جان دوکان ته نږدې یم.

په ډېره تېزي د قاسم جان دوکان ته ورسېدم، خو چې ور ننوتم و مې لیدل چې ماین د امیر صاحب په لاس کې دی او له قاسم جان سره یو ځای د دوکان په کونج کې دواړه په خپلو کې په مشوره بوخت دي، په خندا یې راوکتل:

په خیر را ورسېدې، دا دی چسپکي تیار دی، یوازې په موټرسایکل پورې نښلول دي، بس کار خلاص دی.

دایې هم وویل چې هوټل والا منتظر دی.

قاسم جان سمدستي را غبرګه کړه:

بس نور کار نه شته، دغه ماین واخله او ځان رسوه!

زما هیڅ اراده نه وه چې چسپکي دې زه ونښلوم، ځکه زه ورسره نابلده وم، خو دا چې حالات عاجل وو انکار مې و نه کړ، له تبلیغي مې ماین واخیست او ځان مې پرې پوه کړ چې په دې ډول یې باید په موټرسایکل پورې ونښلوم.

زه په داسې حال کې د هغه هوټل پر لوري روان شوم چې جاسوس یې موټرسایکل تر مخ درولی و، چسپکي مې په دسمال کې پټ کړی و او یو

Download more from Libtoon.com

څو شېبې وروسته هوټل ته ورسېدم.

د هوټل پر کاونټر ناست کس راته وکتل او ما د سترګو اشاره ورکړه، پر کاونټر ناست کس د هوټل تر مخ درېدلي موټرسایکل ته مخ ور واړاوه او په اشاره یې پوه کړم چې همدا دی.

عجیبه وه، ما او هوټلي هیڅ پېژندګلوي نه وه سره کړې، خو د سترګو په اشارو کې په ټوله خبره سره پوه شوو.

زه موټرسایکل ته ودرېدم او په ډېره خفیه طریقه مې چسپکي راوایست، هڅه مې وکړه چې تر ټانکۍ لاندې یې له تېرې شوې ډانډې سره ځای پر ځای کړم، خو چې و مې کتل چسپکي له دې سوري ډېر غټ و، هیڅ نه پکې ځایېده.

ډېره هڅه مې وکړه او زور مې وواهه، خو و نه شو.

بېرته د قاسم جان دوکان ته روان شوم او چې کله دوکان ته ورسېدم تبلیغي امیر صاحب را ولاړ شو او سمدستي یې راته وویل چې څه دې وکړل؟

ما په وېرېدلي او نهیلي غږ وویل:

دا چسپکي ډېر غټ دی، هیڅ نه پکې ځایېږي!

تبلیغي امیر صاحب عاجل چسپکي رانه واخیست، چسپونه یې ترې واړول او یو څه اندازه بارود یې ترې کم کړل، دا کار یې په څو دقیقو کې وکړ. کله چې یې بېرته برابر او راکړ او زه هم ډاډه شوم چې دا ځل پکې ځایېږي؛ نو بېرته په هماغه شکل د هوټل په طرف روان شوم، خو دا ځل چې ورسېدم موټرسایکل نه و، د هوټل مالک د سر په خوځولو پوه کړم چې سړی لاړ.

زه بېرته مایوس را وګرځېدم، زنګ راغی، و مې لید چې ډینجر دی.

اوکې مې کړ، په ډېره بېړه یې راته وویل:

کار خنګه شو؟

Download more from Libtoon.com

- ښکار خطا شو!

- اوهوو! ما خو دوکان هم بند کړ چې نن یوې خوا ته گوښه شم.

ما وویل:

نه نه، دوکان خلاص کړه، نن هیڅ پرمختگ نه دی شوی!

بېرته مو ټلیفون سره قطع کړ.

کله چې دوکان تـه را ورسېدم، امیـر صاحـب تـه مـې وویـل چـې ښـکار خطـا شـو، نفـر تللـی.

تبلیغي سوړ اسوېلی وایست:

د دې سړي اووه ساگانې دي!

بیا یې پسې زیاته کړه:

ان شاءالله بیا به غوټې ته برابر شي!

تـر بیـا راتلـو مـو رخصـت سره واخیسـت، دا چـې زمـا د ښـوونځي د رخصتـي پـر وخـت یـو څـو دقیقـې هـم اوښـتې وې؛ نـو د خپـل دوکان پـه طـرف را روان شـوم.

Download more from Libtoon.com

# له وطنه هجرت

موږ تـر بـل هـر کار د همـدې جاسـوس لـه منځـه وړلـو تـه لومړیتـوب ورکـړی و او د موندلـو لپـاره یـې پـه خپلـو کـې د یـوه او بـل د تلیفـون زنـګ تـه منتظـر وو، پـه همـدې انتظـار کـې څـو ورځـې تېـرې شـوې چـې یـو مازدیګـر لـه بـازاره لـه پـلار سـره پـه خپـل سـراچه موټـر کـې د کـور پـر لـور روان وم او تلیفـون تـه مـې بـار بـار زنګونـه راتلـل، خـو ځوابـولای مـې نـه شـوای، دا چـې د تلیفـون غـږ خامـوش و، فقـط رپږدېـدا یـې پـوه کولـم چـې یـو څـوک عاجـل زنګونـه وهـي.

زمـوږ د کـور او بـازار ترمنـځ نـږدې پنځلـس دقیقـې د موټـر مـزل و، خـو پـه مـا هـره دقیقـه سـاعت غونـدې تېرېـده، بالاخـره کـور تـه ورسـېدو، کلـه چـې لـه موټـر څخـه راکـوز شـوم ژر مـې ځـان ګوښـه کـړ، چـې و مـې کتـل د تبلیغـي امیـر صاحـب لـه طرفـه دیارلـس زنګونه راغلـي وو.

ژر مـې تلیفـون پسـې وکـړ، پـه لومـړي زنـګ یـې ځـواب کـړ، خـو یـو بـل چـا اوکـې کـړ.

ما وویل:

څوک یې؟

خو وروسته سمدستي تبلیغي امیر صاحب وویل:

Download more from Libtoon.com

زه یم!

ـ دا مخکې څوک و؟

ـ هغه هم زه وم، غږ مې بدل کړی و، وېره مې درلوده ما ویل که نیول شوی یې !

په تلواره مې وویل:

څه شوي؟ ولې چا څه درته ویلي زما په هکله؟

غږ یې ونښت:

نه نا آ...

بیا یې په رېږدېدلي غږ وویل:

ته چېرته یې، ته چېرته یې؟ ها

ما وویل:

زه خو اوس کور ته را ورسېدم، خیر خو دی، څه خبره ده؟

په عاجل انداز کې یې وویل:

نن په کور کې شپه و نه کړې، ملي امنیت دربانديې چاپه اچوي!!

ـ ولې څه خبره ده؟ خیر خو دی؟

ـ هغه زموږ و تاسې یو ملګری نیول شوی!!

ـ کوم ملګری؟

غاړې یې تازه کړې:

ـ هغه منګل هلک !

د منګل په نوم هلک زموږ د راز ملګری و او د خوست په غږومبي سیمه کې یې کور و، خو کار یې له نورو چریکي مجاهدینو سره کاوه او د عبدالله خان اطاق ته به وخت ناوخت د مجلس لپاره راته.

Download more from Libtoon.com

همداسې یې پسې زیاته کړه:

هغه یې نن له مقناطیسي ماین سره په داسې حال کې نیولی چې غوښتل یې له سرګردان چوک سره په خوا کې یوه موټر ته ماین کېږدي.

ما ورته کړه:

دا څه وایې، خو له دې هدفه خو موږ نه وو په جریان کې!

ـهدف پرېږده، په دې فکر وکړه چې موږ و تاسې یې ور په ګوته کړي نه یو! زموږ او تاسې معلومات به یې ورکړي وي...

خبرې پسې وغځولې:

دومره درته وایم چې یو څو ورځې ځان ګوښه کړه، نن شپه په کور کې مه کوه.

ما په غلي، نهیلي او اندېښمن اواز ورته وویل:

سمه ده!

تلیفون مې بند کړ، یوه شېبه د مېلمستون په انګړ کې خاموش ودرېدم، په فکرونو کې وم، څه وکړم؟ چېرته لاړ شم؟ په کور کې څه بهانه وکړم...؟

له ځانه ورک شوم، هیڅ ځای مې فکر ته نه راته چې پناه ور وړم، همداسې په نه زړه د حجرې له انګړه د خونو خوا ته روان شوم، د کور انګړ ته چې ورسېدم پر خپل وړوکي وراره حمدالله مې سترګې ولګېدې او ژر یې خوا ته ورغلم، غلی یې تر څنګ ودرېدم، ورته و مې ویل:

ګوره یوه خبره درته کوم، زه چې کله لاړ شم او په کور کې پوښتنه وکړي، بیا به ورته ووایې!

حمدالله ماشوم و، له ما سره یې د زیات بحث جرأت نه درلود، فقط راته غوږ و.

Download more from Libtoon.com

ما پسې زیاته کړه:
ما ته له حکومته خطر دی، زه نن شپه بل ځای کوم. که ابا یا ادې ماښام زما د پوښتنه وکړه، ښکاره ورته ووایه چې ما ته یې داسې خبره وکړه، ګوره زه درنه لاړم، زما تلیفونونه به هم بند وي، زه خوندي ځای ته ځم، تشویش دې نه کوي...
حمدالله راسره ومنله، خو حیران ولاړ و.
زه همداسې له کوره پټ راووتلم، تبلیغي امیر صاحب موږ ته د ځان د ځینې ساتلولارې چارې را ښوولې وې، د کشف خطر زیات و، له تلیفونه مې بېټرۍ وکښله، پر سړک یوه سراچه موټر ته وختلم، موټر د خوست بازار ته روان و، مزل مې پیل کړ.
یوازې ۲۰۰ کلداري راسره وې. مسیر مې نامعلوم و، هیڅ نه پوهېدم چې زه چېرته روان یم او پر کومه به لاړ شم؟ دا چې شپه هم را روانه وه، په موټر کې مې تشویش وار په وار زیاتېده، له ځانه مې بیا بیا پوښتل:
چېرته لاړم شم؟ څه ورته ووایم؟ چا ته ورشم...؟
زه نه پوهېدم چې بیا به راشم، نه به شم را، ژر به وي، وروسته به وي، که څنګه...
له مور سره مې خدای پاماني نه وه کړې، پر دې هیڅ نه پوهېدم چې مور به بیا څنګه او څومره وخت پس وینم!؟
زه د ژوند پر بیابان د یوې داسې بړبوکۍ سیورۍ وم چې په خپله خوښه او اراده پر غرو او رغو نه اوښتم، بلکې د وخت هغې سېلۍ له ځانه سره اخیستی وم چې بالاخره یې سر تولې نړۍ ته ور ښکاره شو.
کله به په فکر کې راغلل چې په بازار کې له معتادانو سره یو ځای شم

Download more from Libtoon.com

او شپه ورسره تېره کړم، بیا به مې خپلوان را په یاد شول چې د هغوی کره ورشم...

په همدې سوچونو کې موټروان غږ راباندې وکړ:

بازار ته را ورسېدو، ناوخته دی زه کور ته ځم، تاسې باید همدلته کوز شئ.

موټروان ته مې سل کلداري ورکړې، لس یې کرایه وګرځوله ۹۰ یې ما ته راکړې.

له موټره په راکوزېدو کې ناڅاپه قاسم جان را په یاد شو چې اړیکه ورسره ونیسم، هغه به څه مالي مرسته هرومرو راسره وکړي او ګوندې ځای به هم راته برابر کړي.

تلیفون ته مې بېټری ور واچوله، قاسم جان ته مې زنګ وواهه، ورته و مې ویل:

چېرته یې؟

په خندا یې وویل:

په کور کې یم، خیر خو و؟

داسې ښکارېده چې قاسم جان هم خبر و، ماښام وخت لږ و، په تلواره مې وویل:

زه غواړم تاسې کره شپه در وړم، په سپین جومات کې درته منتظر یم، که یو موټر یا موټرسایکل را ولېږې!

-په لس دقیقو کې در رسېږم!

زه د ماښام د لمانځه لپاره سپین جومات ته ننوتم، تلیفون مې د قاسم جان د راتلو په نیت چالان پرېښود، که څه هم ډارېدم چې شاید د تلیفون له لارې د ملي امنیت کسان راپسې ځانونه را ورسوي، خو مجبور وم، نه مې بل

Download more from Libtoon.com

تلیفون درلود او نه هم بل کوم سیمکارت، نه دومره پیسې راسره وې چې بل تلیفون یا سیمکارت پرې واخلم، زړه مې ټینګ کړ او په لمانځه ودرېدم.

د قاسم جان کور په ګربزو ولسوالي کې ختیځ لور ته په یوه دښته کې و، همدا ډول کور ته پر لاره مې قاسم جان ته ټوله خبره وکړه چې موږ ته دا ډول مشکل جوړ دی!

قاسم جان وویل:

هو خبر یم تبلیغي امیر صاحب ټوله خبره راته کړې.

بیا یې داډ راکړ:

هیڅ کوم څه ته چې تشویش و نه کړې، زما ورونه په کمپاین (KPF) کې دي، هیڅوک زړه نه شي ښه کولای چې زموږ د کور تالاشي ته دې کوم حکومتي ارګان راشي، بې غمه راسره اوسه.

په خبرو وو، لږ وروسته په یوه صحرا کې د یوه ختین کور تر مخ ودرېد، دا چې شپې هم خپله لمن پر سیمه غوړولې وه، زه د کور د دېوال تر مخ ودرېدم او قاسم جان پر یوه بله دروازه موټرسایکل ننه‌یست او زه د مېلمستون د دروازې مخې ته په سوچونو کې ډوب ولاړ وم چې دروازه راخلاصه شوه، یو دنګ ښایسته ځوان چې بتۍ یې په لاس کې وه، زما مخ ته یې را رڼا کړه، د ده مخ په رڼا کې نه را ښکارېده، په لاس کې یې ټوپک هم و، راباندې غږ یې کړ:

راځه قاري صاحب!

ور روان شوم، تر روغبړ وروسته مېلمستون ته ورننوتم، د مېلمستون په انګړ کې یې ځای برابر کړی و او یو بل کس هم پر تغر ناست و!

ما پوښتنه وکړه:

دا څوک دی؟

Download more from Libtoon.com

ـ راځه خپل کس دی!

چې ور نږدې شوم تبلیغي امیر صاحب و، په خندا مو غېږې سره بدلې کړې.
تر ستړې مه شې وروسته قاسم جان هم له کوره راغی او دنګ ځوان یې
راته معرفي کړ، و یې ویل:

دا مې کشر ورور دی، اوس له امریکایانو سره په میدان هوایي کې د KPF په
برخه کې کار کوي.

ده پسې زیاته کړه:

په داسې وخت کې باید خپل کسان هلته ولرو چې لږ پرې ډاډه یو! ما
وویل:

هو خپل کسان کولای شي چې په سخت وخت کې زموږ و تاسې همکارۍ
ته را ودانګي.

تبلیغي امیر صاحب وروسته ما ته د پښتو شویو تازه مشکلاتو په اړه وویل:

اوس ستا څه تصمیم دی؟ ځکه یو څه وخت باید دواړه دلته ښکاره نه شو، د
ملي امنیت له لوري نیول شوي نفر موږ دواړه پېژندلو او وېره مو درلودله چې
د تحقیق پر مهال موږ افشا نه کړي.

دا چې ما په خوست کې پټ وخت نه شوای تېرولای او له کورنۍ هم په
وېره کې وم، تصمیم مې ونیو او تبلیغي امیر صاحب ته مې وویل:

زه باید وزیرستان ته لاړ شم، څو چې حالات ښه شي بیا به ورته مشوره کوم
چې راشم او که نه؟

تبلیغي امیر صاحب او قاسم جان دواړو هم همدا مشوره راکړه او امیر صاحب
پخپله هم له ډیورنډ کرښې پورې غاړې ټل ته د سفر اراده وکړه.

سبا قاسم جان په خپل موټرسایکل باندې په خوست بازار کې د غلام خان

Download more from Libtoon.com

د موټرو تـم ځـای تـه ورسـولم او یـو څـه د جیب خـرڅ یـې هـم راکـړ.

د سـراچې د شـا پـه سیټ کـې پـه یـو داسـې سـفر روان شـوم چـې هیـڅ معلومـات راتـه نـه کېـدل چـې بـه بیا کلـه او څنګـه راځـم؟

پـه لاره کـې د نـورو ورځـو پـه پرتلـه چیـک پواینټونـه زیـات نـه وو، ډېـر ارام لـه خوسـته تـر غـلام خـان او لـه غـلام خـان څخـه د میرانشـاه تـر بـازاره ورسـېدم.

هلتـه پـه درپه‌خېلـو سـرای کـې د مولوي سـنګین دفتر تـه لاړم، په دفتر کـې د مولوي صاحـب سـکرتر مولـوي رفیق او یـو څو تنه نـور مجاهدین هم ناسـت وو.

پـه دغـه دفتـر کـې مـې د مخابرې لـه لارې لـه بـلال سـره اړیکـه ونیـوه او خبر مـې ورکـړ چـې زه را رسـېدلی یـم.

حافـظ بـلال هـم پـه میرانشـاه بـازار کـې و او ډېـر ژر دفتـر تـه را ورسـېد، تـر روغبړ وروسـته پـه بېـل اطـاق کـې سـره کېناسـتلو او لـه مشـکلاتو مـې خبـر کـړ.

هغه وویل:

ډېـر ښـه دې وکـړل چـې ځـان دې را ایسـتلی، اوس بـه همدلتـه خـدای د جهـاد خدمـت درڅخـه واخلـي. تکالیـف د جهـاد برخـه ده، اوږد عمـر دې پاتـې دی، لـه رنـګا رنـګ مشـکلاتو سـره بـه مـخ شـې او پـوخ بـه شـې!

له یو څه مجلسه وروسته یې ساعت ته وکتل:

ناوخته دی کلي ته به لاړ شو او هغلته به ارام وکړې.

مـوږ لـه دې ځایـه د بـلال پـه موټـر کـې د محمدخېلـو پـه طـرف د دوی کـور تـه روان شـوو.

لـه بـازاره چـې روانېـدو یـو څـه سـودا مـو هـم واخیسـته، د مازدیګـر لمونځونـه مـو پـه لارې وکـړل او ماښـام تـه نـږدې کـور تـه ورسـېدو.

پـه کـور کـې بیـا زمـا پـه لیـدو ټولـه کورنـۍ زیاتـه خوشـاله شـوه، د حـال احـوال

Download more from Libtoon.com

پوښتنه یې کوله، ما د خپلې کورنۍ له طرفه اطمینان ورکړ. وروسته د ماښام د لمانځه لپاره له کور سره په خوا کې یو میدان و چې اکثره وخت به د مولوي صاحب او یا هم د کورنۍ مېلمنو دلته ډوډۍ خوړه او په ازاده فضا کې به یې خوب کاوه، هلته راووتلم، په میدان کې تر مخ ځای جوړ شوی و، زه د بلال په انتظار وم چې لمونځ په جومات اداکړو، خو و مې لیدل چې مولوي صاحب سنګین هم له کوره راووت، دی ما مخکې په کور کې و نه لید، نه پوهېږم چېرې ناست و، په لیدو یې حیران او را ولاړ شوم، کلکه غېږه مې ورکړه، له غېږې سره سم یې راته وویل:

لکه چې هجرت دې را وکړ!

له دې خبرو سره زه پوه شوم چې په کور کې بلال زما د مشکلاتو په اړه ټول حال ورته ویلی، ما هم سمدستي وویل:

په جهاد کې دا راځي، خدای به سختې اسانه کړي.

وروسته همدلته پر غوړولي ټغر سره کېناستلو، مولوي صاحب د مشکلاتو په اړه وپوښتل، ټولې خبرې مې ورته وکړې، اطمینان یې راکړ او په ټینګار یې وویل: ستا مشکلات چې له هرې ممکنې لارې وي، باید حل یې کړو چې ته بېرته کور ته ولاړ شې، ځکه په خوست کې دې امریکایان کورنۍ ته ستونزې اسانه جوړولای شي. پر دې ظالمو اشغالګرو هیڅ باور په کار نه دی، خدای مه کړه کورنۍ ته ضرر ورسوي!

زه تر ډېره د ده تبصرو ته غوږ وم.

موږ په تاوده مجلس راغلي وو، د بلال په راتګ هیڅ نه یو پوهېدلي، خو تر څنګ مو ولاړ و او غېږ یې وکړ:

د لمانځه ناوخته شو!

Download more from Libtoon.com

مور مجلس سره را غونډ کړ، مخکې تر دې چې پر جماعت ودرېږو، فاروق هم په موټرسايکل راغی او د کور تر مخ يې په يوه پايه ودراوه، کله چې مور ته را نږدې شو، زما په ليدو يې يوه چيغه وکړه:

اوهووو دا خو ته يې!

ما هم غېږ ور کړه، تر ډېره مو کلک په غېږ کې سره نيولي وو...

مور ځلورو واړو د ماښام لمونځ همدلته د مولوي صاحب سنګين په امامت داسې وخت ادا کړ چې پر سر مو ډرون ګرځېده.

Download more from Libtoon.com

## په وزیرستان کې زما نوی ژوند

د مفلس ملا سنگین د شتمنۍ کنګل کېدل

په خوست کې چې پر ما څمکه تبۍ وګرځېده، وزیرستان ته مې مخه کړه. زه نه پوهېدم چې تر دې هجرت وروسته به بیا کله هم کور ته ستنېږم که نه، دا هم نه راته معلومېده چې دلته په وزیرستان کې به تر څه وخته اوسم. ډېر ژر مې احساس کړه چې په ژوند کې مې یو ناپایه پړاو پیل شوی دی، هیڅ منزل مې نه درلود، لکه یو انسان چې د سمندر اوبه پر سر واخلي او له خپل واک او اختیاره هغه طرف ته روان وي چې ده نه وي ټاکلی، نه پوهېږي چې سمندر به یې کومې څنډې ته ژوندی یا مړ وغورځوي؟

زه هم د سمندر همداسې څپو اخیستی وم، همدلته په وزیرستان کې مې د مولوي سنګین په کور کې د ژوند پیل کړ، د خپل اوښي، خور او ورېرې په کور کې مې هیڅ د پردیتوب احساس نه کاوه. که څه هم زما مېرمن، بچیان او مور و پلار په خوست کې پاتې وو، خو په خور باندې مې د مورکۍ مینه ماته وه.

دغه سفر له یوې خوا ښه و، د یارانو مجلسونه وو، چکرونه وو او همدا ډول به وخت ناوخت مولوي صاحب د کوم جهادي کار لپاره یوې او بلې خوا ته لېږلو، خو له بلې خوا مې پکې د ژوند ډېرې ترخې تجربې هم تر لاسه

Download more from Libtoon.com

کړې. د وحشتناکو کیسو شاهد پاتې شوم، د انسانانو اندامونه به هره ورځ د سړکونو پر سر پراته وو.

ما او فاروق به تر ډېره د کور کارونه هم کول، خو ځینې وخت به بیا له مولوي صاحب سره د یوه ساتونکي په حیث هم لاړم.

د مولوي سنګین ساتوونکي به اکثره وخت د جنوبي وزیرستان مسید وو، ځکه مولوي صاحب ویل چې دا یو غیرتي او نه خرڅېدونکی قوم دی، د ده زیات خوښېدل.

دلته د مولوي صاحب وېره فقط له امریکایي ډرون الوتکو څخه هم نه وه، بلکې په سیمه کې به د ناپېژندل شوو وسله والو له بریده هم په اندېښنه کې و، ځکه استخباراتي ډلو په وزیرستان کې د ږیرې او څنو په لباس کې خورا ژورې ریښې کړې وې چې د خپل هدف لپاره به یې انسانان لکه څاروي مړه کول او حلالول.

کله به چې د تورو شیشو له سراچه ډوله موټره څوک وویشتل شو خلک به ټول په دې فکر کې شول چې دا جاسوس و او د طالبانو له خوا ووژل شو، نور به دا مالومات چا ته نه کېدل چې دا د کومو طالبانو له خوا او ولې ووژل شو؟ لویه ستونزه دلته د وسله والو ډلو تر منځ د همغږۍ نیستي وه.

د تنظیم سرلارو به هم له هر ډول خطره د ځان ژغورلو لپاره د تورو شیشو سراچه ډوله موټر درلودل او هر اوسېدونکي کس هغه که محصل و، که ډاکټر او یا دوکاندار، د ځان د حفاظت لپاره وسله ورسره ګرځوله، هیچا جرأت نه شوای کولای چې څوک دې وپوښتي چې ته څوک او له کوم تنظیم سره کار کوې، ځکه دلته سیمه له حکومتي مدیریته وتلې او مطلقه بې نظمي او خپل سري حاکمه وه.

Download more from Libtoon.com

کله چې به مولوي صاحب کور ته د دوو يا هم تر دې زياتو شپو په مخه راغی بيا به يې خپل ساتوونکي هم کورونو ته رخصت کړل او په کور کې به ورسره يوازې زه او زموږ يو بل ملګری سميع الله حنظله چې د پکتيکا ولايت د زېروک ولسوالۍ ډلګۍ مشر او د همدې ولسوالۍ د ځدرانو له قبيلې څخه و، پاتې وو.

يوه ورځ مولوي صاحب د يو څو شپو په مخه په کور کې پاتې و، خپل ساتوونکي يې هم کورونو ته لېږلي وو، خو په سبا يې ناڅاپي تصميم ونيو چې په ميرانشاه بازار کې بايد خپل خفيه ځای ته لاړ شو.

دا په ميرانشاه بازار کې د فقير محمد د جومات تر څنګ يو خالي کور و چې مولوي صاحب د ځان لپاره پکې د استراحت ځای جوړ کړی او له ملاقاتونو به پکې پټ ناست و.

زه او حنظله دواړه په داسې حال کې له مولوي صاحب سره روان شوو چې موټر ما چلاوه، شاوخوا په يو ساعت کې له لنډمحمدخېلو څخه خپل ځای ته ورسېدو، ما د کور تر مخ موټر ودراوه او درې واړه کور ته ننوتلو، حنظله له کوټې څخه ژر ژر بسترې او يو تغر را واخيست چې مولوي صاحب لمر ته کېني، ما هم د شنو چايو په تيارولو شروع وکړه، کله مې چې چای تيار کړ او د مولوي صاحب تر مخ مې کېښود، حنظله د مولوي صاحب پښو ته ناست و، ما د چايو پيالې ډکولې، مولوي صاحب کوچنی جاپانی راډيو په ټيټ غږ چالانه کړې وه، خو راديو ته يې توجه نه وه، له موږ سره په خبرو بوخت و، ويل يې:

بې خرڅه شوی يم، حتی د موټر د تېلو پيسې نه لرم، دغو مصارفو ته بايد کوم مدرک پيدا کړو!

حنظله له ګيلاسه غړپ وکړ:

Download more from Libtoon.com

مولـوي صاحـب! کاشـکې خلیفـه صاحـب «سـراج الدیـن حقانـي» تـه خبـر ور ولېـږو چـې یـو څـه د خـرڅ ترتیـب را جـوړ کـړي.

مولوي صاحب رادیو ته کتل، په ورو غږ یې وویل:

نـه، پـر هغـه بانـدې هـم شـاید د اقتصـادي سـتونزو فشـار زیـات وي، مـوږ بـه یـو څـه وخـت ګـوزاره وکـړو، خـدای مهربانـه دی یـوه لار بـه راتـه روښـانه شـي.

د سـاعت سـتن د ورځـې لسـو بجـو تـه پـه نـږدې کېـدو وه، مـلا سـنګین بـه پـه هیـڅ صـورت د خبرونـو اورېـدل نـه قضـا کـول، ځکـه همېشـه بـه یـې د راډیـو لـه لارې پـه نـړۍ او ځانګـړي ډول افغانسـتان کـې لـه روانـو حالاتـو او پېښـو ځـان خبـر سـاته، څنـګ تـه ایښـې رادیـو تـه یـې لاس کـړ او غـږ یـې ور لـوړ کـړ.

د زادي راډیـو د لسـو بجـو د خبرونـو پـه سـر ټکـو کـې وویـل شـول چـې د امریـکا د بهرنیـو چـارو وزارت د حقانـي شـبکې د یـوه مهـم قومانـدان نـوم د بندیزونـو تـور لېسـت تـه ور اضافـه کـړ.

د دغـه خبـر پـه اورېـدو مـوږ درې واړو خاموشـي اختیـار کـړه چـې د خبرونـو پـه تفصیـل کـې بشـپړ راپـور ښـه پـه غـور واورو.

لـږ وروسـته د خبرونـو پـه تفصیـل کـې ویانـد زیاتـه کـړه چـې د امریـکا بهرنیـو چارو وزارت د حقانـي شـبکې د یـوه مهـم قومانـدان مولوي سـنګین نوم د بندیزونـو په تور لېسـت کـې شـامل کـړی او د هغـه ټولـه شـتمني یـې کنـګل کـړې ده، هغـه نـه شـي کـولای چـې کـوم هېـواد ته سـفر او یـا کومـه امریکایـي تجـاري معامله وکـړي.

د خبـر پـه اورېـدو مولـوي صاحـب لـه خنـدا شـین شـو، ښـه پـه کـړس کـړس یـې وخنـدل، د خنـدا پـه منـځ کـې مـې ورتـه وویـل:

ښا تا خو ویل چې پیسې نه لرم، دغه دې ټولې درنه کنګل شوې.

مولوي صاحب د دې خبرې په اورېدو لا زیات وخندل او په خندا خندا کې یې وویل:

Download more from Libtoon.com

پاسپورت مې کوم دی چې امریکا پرې د سفر بندیزونه ولګول؟ بانکي حساب او جایدادونه خو لا ایسته کېږده، خو امریکا د سوداګریزو معاملو او راکړې ورکړې بندیزونه هم رابانـدې ولګول!

مولوي سنګین ځنګ بدل کړ:

که امریکایان خبر شي چې زموږ مخالفان تور او د بندیزونو لېست ته د دوی د نومونو په شاملولو پورې خاندي، دوی خو به هم هک حیران شي چې دا مو له څه ډول خلکو سره دښمني ده...؟

په دې خبره مو بیا سره وخندل...

ما او حنظله وروسته په ګډه مولوي صاحب ته د احتیاط سپارښتنه وکړه، و مو ویل:

نور باید احتیاط زیات کړو، الله جل جلاله دې نه کړي که کومه پېښه وشوه، بیا به زیات مشکلات پېښ کړي، خصوصاً د پکتیکا د مجاهدینو لپاره، ځکه چې په داسې وختونو کې پکتیکا ستا په څېر یو اتل ته ضرورت لري چې په امریکایي اشغالګرو یې ځمکه سور تنور کړې ده.

مولوي صاحب په خندا خندا کې وویل:

په هر وخت کې د فرعون لپاره الله ج موسی پیدا کوي، ژوند او مرګ د خدای په لاس کې دي، موږ هیڅ نه شو کولای، خو کوښښ به کوو چې امریکا په خپل هدف کې رانه بریالی نه شي.

تر ډېرو خبرو وروسته خاموشي شوه، ما ته مې کور را یاد شو، همېشه به مې تشویش و چې زما له وجهې هلته جنجال پېښ نه شي. دا سوچونه اوس زما د ژوند نه هېرېدونکې برخه ګرځېدلې وو.

Download more from Libtoon.com

## زنگنه دروازه

مـوږ ډېر پـټ دي ځـای تـه راغلـي وو، سره لـه دې چـې لـه مولـوي صاحـب سـره د جېب خـرڅ هـم نـه و، خـو بيا مـو هـم ښـه ګنډلـه چـې دلتـه څـو شـپې پاتې شـو. وخـت ناوخـت بـه بـازار تـه د خوراکـي شـيانو لپـاره زه تلـم او هغـه بـه مـې هـم پـه قـرض را اخيسـتل، دا چـې زه پـه خوسـت کـې د دوکانـدارۍ پـر مهـال لـه پخلـي سـره هـم يـو څـه بلـد وم، د غرمـې او شـپې ډوډۍ بـه مـا تيارولـه، ډېـرى وخـت بـه مـو وطنـي ښـوروا «يخنـي» پخولـه، د مولـوي صاحـب ستونى بـه خـراب و او ښـوروا بـه يـې د خوښـې خـوراك و.

مـوږ دلتـه درې شـپې وکـړې، يـو مازديګـر مولـوي صاحـب وويـل چـې خپـل موټـروان بايـد را وغـواړو او يـو بـل ځـای تـه لاړ شـو.

مولـوي صاحـب د ځـان لپـاره دوه موټروانـان سـاتلي وو چـې يـو خليفـه عمـر د شـمالي وزيرسـتان داوړ و او دويـم ضابـط «توپچـي» چـې د پکتيـکا د ګيـان ولسـوالۍ ځـدراڼ و.

پـه دې مازديګـر مـو د مخابـرې لـه لارې ضابـط را وغوښـت او مولـوي صاحـب ورتـه وويـل چـې تـاکل شـوي ځـای تـه يـې ورسـوي.

مازديګـر ناوختـه مـو لـه دې ځايـه پـه داسـې حـال کـې پـه خپـل سـراچه‌ډوله

Download more from Libtoon.com

موټـر کـې حرکـت وکـړ، مولـوي صاحـب د مـخ پـه سـیټ کـې ناسـت و، ضابـط موټروانـي کولـه او زه او حنظلـه د شـا پـه سـیټ کـې وو، معمـولاً بـه مولـوي صاحب خپـل موټـروان تـه تـر وخـت مخکـې خپـل مسـیر نـه ور ښـوو، خـو کلـه چـې بـه موټـر حرکـت پیـل کـړ، موټـروان تـه بـه یـې د لاس پـه اشـاره لار ور ښـووه. مـوږ تـه بـه هـم د تـاکل شـوي ځـای معلومـات نـه کېـدل، نـه پوهېـدو چـې کـوم لـوري تـه ځـو او شـپه مـو نـن چېـرې ده.

ضابـط خپـل موټـر تـه حرکـت ورکـړ او مولـوي صاحـب د لاس پـه اشـارو رهنمایـي کاوه، دا چـې پـه بـازار کـې رش او خلـک خپلو کورونـو ته روان وو، مـوږ په لاره کې د بیروبـار لـه املـه یـو څـه ورو روان وو، خو ماښـام نـږدې د رزمـک اډې ته ورسـېدو، دا مـوږ تـه را نـږدې وه، خـو د رش لـه املـه د بـازار پـه کوڅو کې ناوخته شـو.

یـاده شـوې اډه د میرانشـاه بـازار زړه ګڼـل کېـده، دلتـه د مدینـه پـه نامـه یـو لـوی مارکېـټ هـم و چـې د کمپیوټـرو دوکانونـه پکـې فعـال وو، جهـادي نظمونـه او ویډیوګانـې بـه لـه همـدې ځایـه بـازار او یـا نـړۍ تـه وړانـدې کېدلـې.

مولـوي صاحـب پـه همـدې ځـای کـې موټـروان تـه د درېدلـو اشـاره وکـړه او ورتـه ویـې ویـل:

ـتـه داسـې ځـای انتظـار کـوه چـې لـه مـوږ سره د مخابـرې لـه لارې قطـع نـه شـې، شـاید زمـوږ شـپه هـم همدلته وشـي.

موټـروان بـه لـه همـدې مسـیر سـره نـږدې د ملګـري کـور کـوت او هلتـه بـه بیا مـوږ ته منتظـر و.

مولـوي صاحـب پـه داسـې حـال کـې لـه رزمـک اډې سـره لـه موټـره کښـته شـو چـې خولـه یـې پـه خپـل څـادر کـې پـه داسـې انـداز پټـه وه چـې هیڅوک پـرې پـوه نـه شـي چـې دا کـوم مهـم کـس دی. زه او حنظلـه هـم عـادي کښـته شـوو او

Download more from Libtoon.com

په خپلو رومالونو مو مخونه یو څه پټ کړي وو.

مولوي صاحب په بیړنیو قدمونو تر موږ یو څه مخکې روان و او موږ ورپسې وو. د ماښام اذانونه شروع شول، خلک خپلو کورونو ته روان وو او په بازار کې د دوکانونو د دروازو د بندېدو اوازونه پورته کېدل.

مولوي صاحب مدینه مارکېټ ته مخامخ د لیلام په دوکانونو مشهوره کوڅه باندې ننوت او د ګلپه‌خیل جومات د دروازې پر لور پکې روان شو.

دغه کوڅه د لیلام د دوکانونو په نوم مشهوره وه او په دې لاره به خلک همدلته جومات ته راتلل. ما هم همدا فکر وکړ چې شاید دلته د ماښام لمونځ کوي، دې ته هم حیران وم چې نن څنګه جومات ته ځي، ځکه مولوي صاحب د احتیاط له وجهې جومات ته نه شو تلای، خو د کوڅې سر ته په رسېدلو سره مولوي صاحب یوې قلفې شوې زړې خړ رنګې دروازې ته چې تر ډېره زنګ وهلې وه، ودرېد او دروازه یې په سوکانو ووهله.

ما فکر وکړ چې شاید مولوي صاحب به په لاره خطا شوی وي، ځکه زه بل وخت دې ځای ته نه وم راغلی او دا دروازه مې نه وه لیدلې.

دا ځای د وران شوي دوکان په شان و چې هیڅوک هم استفاده نه ترې کوي.

مولوي صاحب په دویم ځل هم دروازه ووهله.

تر لږ انتظار وروسته دروازه را خلاصه شوه او مولوي صاحب سمدستي دروازې ته سر کښته کړ، ورسره جوخت په زینه کې لاندې کوز شو، ما هم چې دروازې ته سر د ننه کړ، لاندې مې ژور ځای ولید چې پر زینه مې د ور کوزېدو نیت وکړ.

توره شپه وه خو په دروازه کې ولاړ ښایسته ځوان راته د لاس بتۍ روښانه کړه او رهنمایي یې کړم، تر شا حنظله پسې را کښته شو، ځوان بېرته دروازه بنده

Download more from Libtoon.com

کړه او لاندې راکوز شو.

له مور سره یې روغبړ په داسې حال کې وکړ چې لاس کې یې بتۍ روښانه وه، له سترې مه شې وروسته یې مولوي صاحب ته وویل:

درځه مخکې شه، تاخو لاره لیدلې!

مولوي صاحب مخکې شو او په توره شپه کې د یوې کوټې دروازې ته ودرېدو، کله چې یې دروازه خلاصه کړه او ننوت، دننه یوه کمزورې بتۍ لګېده، پر جاینماز یو ځوان ناست و چې لویه توره ږیره یې پر سینه خوره او سپینه کوچنۍ خولۍ یې پر سره وه. موسک و، را ولاړ شو او مولوي صاحب ته یې ټینګه غاړه ورکړه.

وروسته یې له ما او حنظله سره هم روغبړ وکړ، په غېږه کې یې عجیب خوند پروت و، فکر مې کاوه چې داکس مې چېرته لیدلی او نږدې دوست مې دی.

کله چې کېناستو له مولوي صاحب سره یې د پښتنو د دود له مخې روغبړ شروع کړ، خبرې یې ډېرې سوکه او په ټیټ غږ وې، د مولوي صاحب حالات ډېر بدل شول، ښځې لکه یو ماشوم چې د خپل پلار تر مخ ناست وي او خپل رعب وبایلي.

زه هم حیران وم چې مولوي صاحب دغه کس ته ولې دومره احترام کوي او دا څوک دی؟ چې څېره یې هم اشنا ده او د یو نږدې دوست مینه پرې ماتېږي.

کله چې مولوي صاحب زما د معرفت پر وخت ورته وویل، خلیفه صاحب دا زموږ اوښی دی او تازه له خوسته را فرار شوی، د نوم په اورېدلو یې سمدستي پوه شوم چې خلیفه صاحب سراج الدین حقاني دی!

تر دې وروسته مې د خلیفه صاحب مشر ورور ډاکټر نصرالدین نبغ سترګو ته ودرېد، د جهاد لپاره یې ما ته ډالی کړې ټوپک هم را یاد شو او پخوانیو

Download more from Libtoon.com

یادونو ته یې بوتلم.
زما تازه ذهن ته راغلل چې ډاکټر صاحب به چېرې وي؟ په زړه کې مې غوښتل چې کاشکې ورته ووایم چې ما ستا خبره پر ځای کړه، زه ځوان شوی یم او تیار یم چې له امریکایي تېریګرو سره د غازیانو د ګرمې معرکې له شور و زوږه خوند واخلم...
زه په همدې فکرونو کې وم چې پر سور رنګ کوچني مېز د ځمکې تلیفون (PTCL) شرنګ وهل، خلیفه صاحب د تلیفون شیشې ته وکتل او بیا یې ګوشکی را واخیستله، غوږ ته یې ونیوله، د تلیفون غږ یو څه لوړ و موږ هم اورېده، له لنډې خندا وروسته مو خبرې واورېدې، کوم څوک و له خلیفه صاحب سره یې په خبرو کې ټوکې هم ګډې وې.
خلیفه صاحب ګوشکی غوږ ته نیولې وه او خندل یې، هغه همداسې نورې مسخرې هم پسې ورته وکړې، خلیفه صاحب بېخي زیات ورته وخندل، وروسته مو د هغې خوا غږ واورېد، و یې ویل:
حاجي صاحب خبرې درسره کوي!
خلیفه صاحب څه مهمې خبرې ورسره او یو څه سپارښتنې یې ورته وکړې.
تلیفون بند شو.
خلیفه صاحب مولوي صاحب ته مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل:
«صدر» و! صدر له ډاکټر صاحب سره په اسلاماباد کې وي، ډېر خوندور ګپ وهي.
بیا یې وویل:
ډاکټر صاحب تا ته هم سلامونه درکول!
د ډاکټر د نوم په اورېدو مې حنظله غلی وپوښت:

Download more from Libtoon.com

ډاکټر څوک و؟

حنظله وویل:

ډاکټر نصیر الدین حقاني!

ـ هغه ډاکټر صاحب نصیر الدین؟

ـ هو!

ما له ځانه سره افسوس وکړ چې کاشکې ما هم خبرې ورسره کړې وای، ځان مې ور پېژندلی وای چې د جهاد په پیل کې زه او ته ګډ خوست کې یو څو شپې وو او مجلسونه مو کول، خو دا چې په لومړي ځل له خلیفه صاحب سره مخامخ شوی وم، هیڅ جرأت مې و نه شو کولای چې ورته ووایم بېرته تلیفون ورته وکړه...

مور دلته د شپې ډوډۍ وخوړه او په همدې ځای کې مو شپه وکړه. په دویمه کوټه کې زه، حنظله او د خلیفه صاحب ځوان ملګری پرېوتلو.

دغه ځوان چې دروازه یې را خلاصه کړې وه، ما وروسته وپېژاند چې د خلیفه صاحب فدایي ملګری او د منبع الجهاد سټوډیو مسوول عبدالله ریحان دی. د ریحان په لاس جوړ شوي جهادي فلمونه خصوصا «د غازیانو کاروان» او «بدري لښکر» به د رسنیو سرخط ګرځېدلي وو.

مور په سبا د غرمې ډوډۍ هم همدلته له خلیفه صاحب سره په اطاق کې وخوړه. ډوډۍ مو وطني یخني جوړه کړې وه، اوس رانه هېر دي چې دلته یخني چا پخه کړه، خو دومره راته یادېږي چې زه هم په پخلي کې ورسره همکار شوم.

ماسپښین مو بېرته ضابط را وغوښت، کله چې له خلیفه صاحب څخه رخصتېدلو، په ډېر ټینګار یې وویل:

Download more from Libtoon.com

احتیاط کوئ اوس د تور لیسټ موضوع هم شوله، د خپل تګ راتګ او همدا ډول د ناستو په ځایونو کې ډېر پام کوئ. هیڅکله له داسې چا سره ملاقات مه کوئ چې اعتباري نه وي.

بیا یې مولوي صاحب ته د خرڅ لپاره یو څه پیسې هم ورکړې.

مولوي صاحب د نورو ورځو په پرتله ځان ډېر پټ کړ، خپل شخصي ساتوونکي یې رخصت کړل او د سفر پر مهال به تر ډېره زه او حنظله ورسره پاتې وو.

وخت نا وخت به په سپینه سراچه کې وتلو، خو شیشې به یې تورې وې، هیچا به نه پېژندلو. مولوي صاحب به چې کله له موټره کښته کېده تورې عینکې به یې په سترګو کړې او په داسې شکل به یې خلکو ته ځان ښوو چې ګواکې د سترګو ناروغي لري.

خلکو هم چې د مولوي صاحب له تورو عینکو سره نااشنا وو، هغه نه پېژاند.

تر ډېره حده ما او حنظله هم شکلونه بدل کړل، سرتور سر به ګرځېدو او تورې عینکې کې به مو استعمالولې. ځینې وخت به داسې هم وشول چې ږیرې به مو کمې کړې.

د شمالي وزیرستان فضا هسې هم د امریکایي ډرون الوتکو له شورهناارامه وه، خو په دې ورځو کې یې بېخي بد حال جوړ کړی و، وخت ناوخت به په یو وار شپږ او اووه هم ګرځېدلې.

Download more from Libtoon.com

## وزیرستان؛

## د مرګونو ګرم بازار

کله چې انګرېزانو په ۱۸۹۳ م کال کې د ډیورنډ استعماري قرارداد د افغانستان د هغه وخت پر امیر عبدالرحمن خان باندې تحمیل کړ، وزیرستان هم د نورو پښتنو سیمو په څېر د ډیورنډ په خونړۍ چاړه له خپل تاریخي وجوده غوڅ کړای شو. د نقشې پر مخ له افغانستانه جلا کړل شوی و، مګر وزیرستانیانو تر اخېره د افغانستان د امیر اطاعت کاوه او خپله سیاسي قبله یې د ځان لپاره کابل ټاکلی و.

په ۱۸۹۷ م کال چې انګرېزانو خپل استازي د شمالي وزیرستان دته‌خېل سیمې ته واستول چې ډیورنډ کرښه په نښه کړي، په مایزر مداخېلو کې د سیمې د خلکو له سخت غبرګون سره مخ شول او وزیرو د دوی پر ضد پاڅون وکړ، دا ځنځیري پاڅون تر سوات پورې وغځېده چې په تاریخي روایاتو کې د ختیځو پښتنو د پاڅون په نامه مشهور دی، دغه غبرګون انګرېزانو ته وښووه چې اوبه په ډانګ نه بېلېږي.

د تاریخ په اوږدو کې چې د نړۍ هر استعماري قوت پر افغانستان یرغل کړی دی؛ نو د یرغل پر وړاندې د خپلواکۍ د جګړې ډګر ته تر نورو افغانانو لومړی

Download more from Libtoon.com

د وزیرستان خلکو دانګلي او د یرغلګرو پر ضد یې د ازادۍ په جګړو کې خپلې سینې سپر ګرځولې دي، ښه مثالونه یې د انګرېزانو پر وړاندې د ملا پووونده مسید او حاجي میرزاعلي خان وزیر (ایپي فقیر) مبارزې یادولای شو.
دا ډول د افغانستان د ۱۹۱۹ م کال د ازادۍ په جګړه کې د وزیرستان د خلکو بې‌سارې برخه اخیستل او قرباني ورکول، د سقاوي اړ و دوړ پر وړاندې د وزیرستان د خلکو بې مثاله مبارزه او قرباني او نادرخان د پاچاهی تخت ته رسول، ورپسې د شوروي اتحاد د تېري پر وړاندې په وسله‌وال جهاد کې د وزیرستان د خلکو فعاله ونډه اخیستنه او په وروستیو کې د امریکا او ناټو د یرغل پر ضد د وزیرستانیانو ایثار او مېړانه داسې دي چې د افغانستان معاصر تاریخ یې له خپلې حافظې نه شي تورولای.
کله چې د ۲۰۰۱ م کال په وروستیو ورځو کې په افغانستان کې اسلامي امارت سقوط وکړ، طالبان ډلې ډلې پر ډیورنډ فرضي کرښه د نورو قبایلي سیمو په شمول وزیرستان ته واوښتل چې بېرته د یرغلګرو خلاف په قبایلي سیمو کې د چریکي جګړو لپاره ځانونه منظم کړي، دوی اکثریت په وزیرستان کې پاتې شول او یو شمېر د ځان پټولو په خاطر د پاکستان ښاري سیمو ته لاړل.
کله چې مولوي سنګین په شمالي وزیرستان کې د حکیم خان په نامه د ځایي بدمعاشانو یوه بدنامه او خونخواره ډله له منځه یووړه، ورسره سمدلاسه په وزیرستان کې وسله‌والو طالبانو ظهور وکړ او په افغانستان کې د امریکایي عسکرو خلاف جګړو زور واخیست، تر ټولو وړاندې د وزیرستان غیرتي خلکو د افغانستان د ازادۍ لپاره خپلې سینې بارودي واسکټونو ته را وړاندې کړې.
مولوي سنګین په وزیرستان کې د یوه مهاجر مجاهد ژوند کاوه، په پسرلي کې به یې افغانستان ته تشکیلونه کول او ژمي به بېرته همدلته وو، هغه افغان

Download more from Libtoon.com

مجاهدین چې د خلیفه صاحب ملګري وو، دښمنانو په حقاني شبکه معرفي کول، د وزیرستان خلک یې هم زیات متاثر کړي وو، له دې امله د وزیرستان دیني علماء را پاڅېدل، هر ځای کوچنی کوچنی ډلې جوړې شوې او وروسته یو شمېر دغو کوچنیو ډلو یو بل ته لاسونه ورکړل او په ۲۰۰۷ م کال کې یې د بیت الله مسید په مشري د تحریک طالبان پاکستان (TTP) اعلان وکړ، خو یو شمېر ځایي ډلو له دوی سره مخالفت ښکاره کړ او په انفرادي ډول یې په وزیرستان کې خپل جهادي فعالیت ته ادامه ورکړه.

وزیرستان دا وخت رښتیا د غومبسو په ځاله بدل شوی و، ځکه دلته پر پاکستاني او افغان جهادي وسلهوالو سربېره د القاعدې نړیوال جهادي تنظیم، چیچنیایي، ازبکستان اسلامي غورځنګ، د ختیځ ترکستان اسلامي غورځنګ، جندالله، خراسان... نورو جهادي تنظیمونو جنګیالي مېشت وو او فعالیت یې کاوه، دغو تنظیمونو هر یوه جلا جلا تګلارې او قوانین درلودل او همدا ډول دوی د قیدیانو د ساتنې لپاره خپل جلا جلا زندانونه لرل.

افغان وسلهوالو طالبانو هم د اسلامي امارت تر چتر لاندې په وزیرستان کې خپل فعالیت کاوه، دوی د نورو ډلو په کارونو او فعالیتونو کې مداخله نه کوله او نه یې دا علاقه لرله چې د نورو ډلو په کار او فعالیتونو کې ځان مصروف کړي، ځکه دوی ټول تمرکز په افغانستان کې له امریکایي او ناټو ځواک سره پر جګړه کړی و، وخت پر وخت به خلیفه سراج الدین حقاني دوی ته سپارښتنې کولې چې د وزیرستان د خلکو دود، دستور او عنعنات په پام کې ونیسي.

د دغو ډلو هر یوه قوماندان په شمالي وزیرستان کې ځان ته پاچا و او نور خلک تر ځان ټیټ ورته ښکارېدل، هر جنګیالي ته خپل مشر او د خپلې ډلې تګلاره او قوانین تر نورو غوره برېښېدل.

Download more from Libtoon.com

دغو ډلو بـه چې وژنـې کولـې او خلـک يـې ربـړول زمـوږ پـه ځـېـر ځـوانـان هـم د دوی لـه دغـو کړنـو متاثـر شـوي وو.

يـوه ورځ زه د ميرانشـاه بـازار پـه مدينـه مارکېـټ کـې د يـوه کمپيوټـرکار پـه دوکان کـې ناسـت وم، د خلکـو موبايلونـو تـه يـې جهـادي ترانـې، فلمونـه او د جګـړې د ډګـر ويډيوګانـې ور لېږلـې، دوکانـدار مـا تـه وويـل چـې نـن يوه نـوي ويډيـو راغلې ده راشـه چـې در ښـکاره يـې کـړم، زه هـم کمپيوټـر تـه متوجـه شـوم، و مـې ليـدل چـې د بـازار پـه منـځ کـې خلـک پـه خپلـو وينـو لړلـي يـوې خـوا او بلـې خـوا تـه پراتـه دي، ټـول بـازار د ټيپانـو زګېرويـو او چيغـو پـه سـر اخيسـتی او د مرسـتې نـارې وهـي، د انسـانو اندامونـه د سـړک يـوې او بلـې غـاړې تـه خـواره واره پراتـه دي او هيڅـوک د يـو بـل د راپورتـه کولـو تـوان نـه لـري.

ما له دوکانداره وپوښتل:

دا کوم ځای دی؟

ـ دا د پېښور په مينه‌بازار کې موټربم شوی دی.

د مينه‌بـازار د نـوم پـه اوريـدو سره مـا فکـر وکړ چې شـايد دلته بـه د پېغلـو او ځوانانو تـر منـځ فحشـا... او غيراسـلامي عملونـه کېدل، ناڅاپـه مې له خولـې ووتل:

ماشاءالله! دا خو په زړه پورې غزا شوې ده.

ژر مې خپل موبايل ورکړ چې راته کاپي يې کړي.

کـور تـه راغلـم، مولـوي صاحـب هـم راغلی و، مـا کيسـه ورته وکـړه چې د پېښـور د موټربـم بريـد ويډيـو مـې راوړې ده، سـخت زيـات خلـک پکـې مردار شـوي دي.

مولوي صاحب راته خير شو، بيا يې وويل:

ته را وښيه چې څه ډول ويډيو ده؟

زه په موبايل اخته شوم.

Download more from Libtoon.com

سمدلاسه مې ویډیو ورته پلې کړه، مولوي صاحب چې د خلکو کریغې او فریادونه واورېدل رنګ یې له ډېرې غوسې تک تور واوښت او موبایل یې ما ته راوغورځاوه. و یې ویل:

دا ظلم دی، دا مسلمانان مردار نه دي، دا شهیدان دي، هر چا چې دا ظلم کړی ډېر بد یې کړي دي.

ما په زړه کې وویل چې شاید مولوي صاحب پوه نه وي او یا یې ایمان کمزوری شوی وي، خو په حقیقت کې هغه تر ما زیات مشر او هم یې د علم کچه تر ما ډېره لوړه وه.

Download more from Libtoon.com

○○○

پـه وزيرسـتان کـې د تورپـک گرځـول يـو دود گرځېدلـي و، هـر ځـوان بـه ځنـګ تـه اچولـي و، کوښـښ او هڅـه يـې دا وه چـې ځنګـه چـا تـه د جاسوسـۍ بهانـه جـوړه کـړي او و يـې وژنـي، ځکـه کـه د جاسوسـۍ پـه نامـه بـه څـوک ووژل شـول بيـا بـه يـې خپلوانـو د پښـتني دود لـه مخـې د ګټلـو جـرأت نـه شـوای کـولای.

لـه دې مرمـوز حالتـه وخـت پـر وخـت زمـوږ مجاهدينـو هـم ګټـه اخيسـته، دوی هـم پـه داسـې ډول خپـل مخالفـان لـه منځـه وړل چـې هيـڅ پتـه يـې نـه لګېـده چـې دا چـا او ولـې وژلـی دی؟ دا هـر څـه پـه پټـه تـر سـره کېـدل، هيچـا پـه ښـکاره ځکـه دا کار نـه شـوای کـولای چـې وزيرسـتاني طالبانـو د هـرې سـيمې او خپـل لپـاره خپـل خپـل اميـران درلـودل، د اصولـو لـه مخـې د دوی لـه اجـازې چـا پـر چـا کار نـه شـوای لـرلای، خـو د دوی مديريـت کمـزوری و، ځکـه يـې د صحرايـي محاکمـو مخـه نـه شـوای نيـولای.

يو مازديگر زه په کور کې وم چې فاروق راغی، غلي يې په غوږ کې راته وويل:

تـه خـو د جاسوسـانو د مـرګ زيـات ارمانجـن يـې، راځـه نـن يـو جاسـوس دربانـدې ووژنـم!

ما ورته وويل:

Download more from Libtoon.com

رښتيا وايې که ټوکې کوې؟

هغه په جدي څېره راغبرګه کړه:

رښتيا وايم، راځه ورځو!

سمدلاسه مې خپل ټوپک را واخيست او له فاروق سره په موټرسايکل روان شوم. پر لاره مې له فاروق سره دا مشورې کولې چې جاسوس څنګه او چېرته ووژنو.

فاروق ويل:

جاسوس به د لېونې په شکل او لباس کې هر مازديګر د ميرانشاه په بازار کې د رحيم الله عمري د اطاق تر مخ ناست و، اوس زموږ ملګرو په همدې جرم نيولی او د ډانډې درپه خېلو په مرکز کې بندي دی.

رحيم الله عمري د مولوي سنګين نږدې ملګری و.

ما او فاروق ماښام لمانځه ته د ډانډې مرکز ته ځانونه ورسول، لمونځونه مو په جماعت سره ادا کړل، زما زياته بېړه وه چې ژر له جاسوس سره مخ شم او شاجورونه پرې خالي کړم.

د لمانځه له اداکولو وروسته مې عمري ته وويل چې کس چېرته دی؟

هغه وويل:

راځه په کوټه کې دننه مو تړلی دی!

کله چې د مېلمنو کوټې ته ور ننوتم، و مې ليدل چې يو سپين ږيری سړی چې خيرنې جامې يې اغوستې، لاسونه او پښې يې تړل شوي او پر څنګ پروت دی.

عمري سپين ږيری تر مټو ونيو او ما ته يې مخامخ کېناوه، له سپين ږيري موږ هر يوه ملګري بېلابېلې پوښتنې پيل کړې:

Download more from Libtoon.com

- نوم دې څه دی؟

- د چا زوی یې؟

- کلمه طیبه ووایه!

- امریکایانو څومره ډالر درکړي دي؟

- څوك څوك دې په ډرون وژلي؟

- جي پي ایس دې چیرې ایښی؟

سپین ږیری چې په حقیقت کې لېونی و، مونږ ته یې خوابونه راکول، خو مونږ یې پر یوه خبره نه پوهېدو، ځکه ده په دری ژبه خبرې کولې.

د خبرو په منځ کې به ما ور توپ کړ او ملګرو ته مې به وویل چې کس رښتیا جاسوس دی، دا چې ګډې وډې وایي مونږ تېرباسي، خو ملګرو به راته ویل چې مونږ د مولوي سنګین له اجازې پرته هیڅ کوم کار نه شو کولای، هغه باید په جریان کې کړو.

ما ملګرو ته وویل چې که مولوي صاحب د دې کس د وژلو امر وکړ، تاسې به دا مهرباني کوئ چې دا سړی به زه وژنم، ځکه تر اوسه ما هیڅوك نه دي وژلي. په کوټه کې ځینې نور کسان هم وو چې زما غوندې تازه راغلي وو، هغوی به زما له خبرو سره مخالفت کاوه چې نه نه د دې کس د وژلو حق زمونږ کېږي، ځکه مونږ پرې پهره کړې ده.

مونږ په دې جنجال کې کس له کوټې را بهر کړ، عمري ویل چې په میرانشاه بازار کې یې خپل مرکز ته انتقالوو او بیا به له هغه ځایه له مولوي صاحب سره رابطه وکړو چې هغه څه راته وایي.

نیول شوی سپین ږیری مو د عمري د سراچې په ډاله کې واچاوه او مونږ ورپسې شا ته په موټرسایکل ګړندي روان شوو، ځکه زمونږ وېره وه چې یو ځای یې دوی

Download more from Libtoon.com

پخپله چانماري نـه کـړي او مـوږ تـرې پاتې نه شـو ، خـو عمري موټـر د میرانشـاه په بـازار کې د مولـوي رفیـق دفتـر تـه دننـه کـړ ، موږ هـم په موټـر پسـې ور ننوتلـو ، کله چې مـوږ سـپین ږیری لـه موټـره را کښـته کړ ؛ نـو یو کس غـږ کړ:

دا مو څوک راوستلی؟

کس ته مې مخ ور واړاوه ، حنظله و. ما ورته وویل:

جاسوس مو نیولی!

حنظلـه تـه خـدای دنـګ او قـوي وجـود ورکـړی دی ، سمدلاسـه یـې کـس لـه ګرېوانـه را ونیـو او د وهلـو شـروع یـې پـرې وکـړه. داسـې یـې واهـه چـې مـوږ تـه د دوی د خلاصولـو پـه منـځ کـې خنـدا هـم راتلـه ، پـه ډېـره خـواري مـو تـرې منـع کـولای نـه شـو.

حنظلـه سـپین ږیری همداسـې پـه مرکـز کـې یـوې او بلـې خـوا تـه کشـاوه ، خـو اخېـر فـاروق ورغـی تـرې خـلاص یـې کـړ.

بیـا مـو د تحقیـق لپـاره یـوې کوټـې تـه دننـه کـړ ، مـا ورتـه وویـل چـې کلمـه طیبـه ووایـه ، ده کلمـه وویلـه ، خـو مـوږ ډاډه وو چـې دا یـې زمـوږ لپـاره ویلـې او هیڅوک یـې نـور نـه شـي رانـه خلاصـولای.

عمـري د دفتـر کوټـې تـه ننوت او پـه کوټه کې یې د ځـای پر ځای شـوې مخابرې له لارې لـه مولوي سـنګین سـره اړیکـه ونیوه ، ورته ویل یې چې داسـې مشـکوک کس مـو نیولـی ، مـوږ یو څه سـزا ورکړه خـو هغه هیـڅ و نه منل.

مولـوي صاحـب چـې د سـزا خبـره واورېـده ، سـخت غوسـه شـو. عمـري تـه یـې وویـل چـې تاسـې تـه د دغـه کـس د نیولـو او سـزا ورکولـو امـر چـا کـړی و؟

لـه عمـري سـره د مولـوي صاحـب د خبـرې هیـڅ ځـواب نـه و ، مولـوي صاحـب ورپسـې وویـل چـې کـس عاجـل خـلاص کـړئ ، خپـل ځـای تـه یـې ورسـوئ او د

Download more from Libtoon.com

جېب خرڅه هم ورکړئ.

عمري چې دباندې راووت ټولو ته یې وویل چې مولوي صاحب زیات غوسه و، وایي چې کس زر خلاص کړئ او خرڅه هم ورکړئ. له عمري سره دا وخت په جېب کې سل کلداري وې، موږ ته یې وویل چې تاسې هم یو څه پیسې را ټولې کړئ.

موږ چې پیسې ورته ټولې کړې او سپین ږیري ته مو ورکړې په دې وخت کې یقیني شوو چې سړی لېونی دی. عمري لېونی بیا په خپل موټر کې کېناوه او د خلاصون لپاره یې بازار ته یووړ.

لېونی بیا هم ورك نه شو، وخت پر وخت به مو د میرانشاه په بازار کې لید، خو له موږ سره یې له وېرې د مخامخ کېدو جرأت نه شوای کولای.

Download more from Libtoon.com

## په پاکستان کې مې مه وژنئ

یوه ورځ په وزیرستان کې له ملا سنګین سره په همدې ځای کې ناست وو چې مولوي رفیق رابطه وکړه او ده ته یې ویل عاجل درسره وینم. ملا سنګین به رفیق ته بهانه نه کوله، پوهېده چې کار یې عاجل نه وي، نه وایي.

د مخابرې د ځانګړي کوډ له لارې مو ځای ور وښوو، خطر و، خو ملا رفیق ځان را ورساوه. کله چې راغی له ملا سنګین سره یې پټې خبرې وکړې. کله چې روانېده، بېرته یې پسې ور غږ کړ، بیا یې هم خبرې پټې سره وکړې او بیا لاړ.

موږ د ماسپښین لمونځ وکړ چې رفیق بېرته راغی او ملا سنګین ته یې وویل چې یو ځل به ورشو، و به یې ګورو.

مولوي سنګین په ارام غږ وویل:

ته ډېر له زړه نرم یې چې سور کافر وي، هم یې رانه خلاصوې.

رفیق خبره په موسکا تېره کړه او لږ وروسته زه، حنظله او مولوي صاحب ورسره روان شوو.

په میرانشاه کې د نوې هلهې په نامه یو هوټل و، هلته ور وختلو. بره اطاق چې مې ولید په کټ یو سړی ناست و. سره له دې چې ارام ناست و، خو

Download more from Libtoon.com

په بد حال ښکارېده. و مې نه پېژاند، خو دومره پوه شوم چې مېلمه نه دی، مجرم دی.

څو کوچیان مجاهدین مې هم ولیدل، اووه کسه وو. څوک په دروازه کې ولاړ وو، څوک دننه ناست وو، ګډوډې یې جوړه کړې وه.

زموږ له ور ننوتلو سره ناست سړی ولاړ شو، رفیق مولوي صاحب ته وکتل، و یې ویل:

دا عبدالجبار ثابت دی، لوی څارنوال!

د ده د نامه له اورېدو سره مولوي صاحب لا څه نه وو ویلي، خو ما ته را یاد شول چې نوم مې یې په رادیو کې اورېدلی دی او یوازې دومره پوهېدم چې مجاهدین یې محاکمه کول. په خیال کې را تېر شول چې ده به هلته زموږ مجاهدین قوماندان محاکمه کول، اوس دی موږ نیولی...

د مولوي صاحب په غږ مې د خیال مزی وشلېد، څو پوښتنې یې ور نه وکړې.

رفیق هم یوه پوښتنه وکړه، څارنوال چې خبرې ته خوله جوړوله، ملا سنګین بل څه هم تری وپوښتل.

جبار ثابت ملا سنګین ته وکتل:

ته صبر وکړه، زه د ده پوښتنه ځواب کړم!

رفیق چې ځواب واورېد، ورته و یې ویل:

ثابت صاحب دا سړی دې لکه چې و نه پېژاند؟

ـ نه، څوک دی؟

رفیق ملا سنګین ورته معرفي کړ:

ملا سنګین دی، د پکتیکا نظامي مسوول!

د بوډا ثابت رنګ تغییر شو، په کمزوري غږ یې وویل:

Download more from Libtoon.com

ښه ښه ملا سنګین دا دی، ما اورېدلي وو چې دی یوازې امریکایان وژني!
دا خبره د ثابت چالاکي نه وه، ملا سنګین په سیمه کې په همدې مشهور و.
مولوي صاحب ورته موسکک شو، بیا یې څو نورې پوښتنې هم ترې وکړې.
له دې وروسته ثابت یوه کیسه شروع کړه، و یې ویل:
زه ولې له امریکا راغلم؟ ما په امریکا کې خوب ولید چې ځوان شوی یم او په کلي کې یم. درې کسان راشي، یو محمد صلی الله علیه وسلم و، بل ابوبکر صدیق رضی الله عنه او درېیم کس مې نه پېژاند.
ما ته یې اشاره وکړې چې بچو دلته راشه. چې ورشم تر لاس مې ونیسي، یو ځای ته مې بوځي او راته ووایي چې بچو دلته به یو جومات جوړ کړې.
چې را ویښ شوم، له ځانه مې پوښتل چې دا اوس ځنګه خوب دی؟ کوم ځای چې یې را ښوولی وي، هلته دومره ابادي هم نه شته.
څو ورځې په همدې سوچونو کې وم، بالاخره مې یوه ورځ تصمیم ونیو چې راشم. کلي ته چې راغلم ډېر اباد شوی و، د جومات د جوړولو اراده مې وکړه.
په خوب کې چې ما ته کومه ځمکه مشخصه شوې وه، هغه د بل کلیوال وه. له هغه مې د ځمکې د خرڅلاو وغوښتل، ډېرې پیسې مې هم ورته ومنلې، خو نه یې منله. ځنګ ته مې کړ، خوب مې ورته تېر کړ. بیا یې هم نه منله. بیا مې د ځمکې د تبدیل ورته وویل، دا یې هم خوښه نه شوه.
بالاخره مې یوه ملا ته دا کیسه وکړه چې د ځمکې مالک نه رضا کېږي، اوس چاره څه ده؟
ملا راته وویل چې په پردې ځمکه کې تصرف ناروا دی، ته خو یوازې په یوه جومات جوړولو مامور شوی یې، بل ځای یې جوړ کړه.
بیا مې په سرخرود کې جوړ کړ.

Download more from Libtoon.com

جبار ثابت چې دا کیسه ختمه کړه، تر لږ ځنډه وروسته یې بیا خبرې پیل کړې:

زه بندي یم د ځان د خلاصون لپاره به رښتیا او درواغ درته وایم، خو تاسې پوښتنه وکړئ او له هغه ملا یې هم کولای شئ.

د رفیق زړه نرم شو، څېره یې له خواخوږي ډکه ښکارېده، خو د ملا سنګین قواره هماغسې جدي وه. څه یې و نه ویل، لستوڼي یې ور ټول کړل، روان شو. بېرته یې مخ را واړاوه، ډېل برېتونه او ږیره یې وښورېدل:

لمونځ کوو، نور ټول ځو!

ما څارنوال ته وکتل، په زړه کې مې ویل چې اخري ورځ یې ده، خو په دې نه پوهېدم چې څوک به یې وژني، چېرې به یې وژني او...

رفیق ناکراره غوندې و، کله به یې له یوه مجاهد سره خبرې کولې کله له بل سره.

ما د دوی خبرې لږ لږ اورېدې، یوه مجاهد ورته ویل چې نه، د امارت امر دی باید پر ځای یې کړو.

زه هم ور ووتلم، سودا مې وه، فکر مې وکړ چې دلته له حالته خبرېدای شم. هلته چې ورغلم دوی هماغسې جدي خبرې کولې، ځینو مجاهدینو ورته ویل چې ستا خبره سهي ده. د نورو نظر دا و چې د امارت په امر کې تاخیر راځي، باید ووژل شي او په هیڅ صورت معاف نه شي.

دغه مجاهدین کوچیان وو، خبرې یې په لوړ غږ کولې، یو دوو کسانو دا هم ویل چې وژل یې دومره مهم نه دي، نن سبا مجاهدین ډېر د غربت په حالت کې دي، باید پیسې پرې واخلو.

ملا سنګین ځنګلې وچولې، مولوي رفیق ته یې وویل:

څه شور دې سره جوړ کړی؟

د رفیق د څېرې نرمې اوس خولې ته راغلې وه، پر ثابت یې د وژلو زړه نه

Download more from Libtoon.com

کېده، په بنده بنده لهجه یې وویل:

والله زما خو داسې خوښه ده چې دا سړی یو څه وخت وساتو. په لوړ مقام پاتې شوی دی، سفرونه یې کړي دي، ښه ډېر معلومات لري، دا معلومات به ترې واخلو.

مولوي صاحب غوسه شو:

ما تا ته اول لا ویل چې مه راسره څه، سړی رانه بچ کوې.

رفیق وخندل:

له مرګه یې نه درنه بچ کوم، زه وایم چې د معلوماتو په خاطر یې لږ وساتو.

مولوي صاحب غلی شو، خو داسې ښکارېده چې د مولوي رفیق خبره بابیزه ګڼي.

رفیق چالاکه انسان و، مولوي صاحب ته یې وویل چې اوس خو یې هسې هم مړ کوې؛ نو تا خلیفه صاحب خبر کړی که نه؟

مولوي صاحب وویل:

دا خو دې والله مهمه خبره وکړه، ما نه دی خبر کړی. را پیدا یې کړه چېرې دی چې ورشو. مشر دی، سبا به خپه وي.

رفیق په رابطه پسې لاړ، موږ او مولوي صاحب ور ننوتلو، ثابت په خپل ځای کې ولاړ شو. ملا سنګین وویل:

کېنه کېنه مشکل نه شته!

جبار ثابت چوپتیا ماته کړه:

مولوي صاحب مړ کوې خو مې، خو په پاکستان کې مې مه وژنئ!

داسې ښکارېده چې ثابت زموږ او د کوچیانو د لوړ غږ له خبرو پر هر څه پوهېدلی و.

Download more from Libtoon.com

مولوي صاحب غلی ورته غوږ و، خو د پاکستان له نامه سره یې جټکه وخوړه. په تلواره یې ور غبرګه کړه:

دا وزیرستان دی، دا هم د افغانستان حصه ده، خو که یې ته پاکستان ګڼې، ستا دا ارمان به هم پوره کړم، په پکتیکا کې به دې مړ کړم.

جبار ثابت کوز وکتل.

رفیق راغی او و یې ویل:

د ملګري رابطه وشوه.

مقصد یې دا و چې د خلیفه صاحب ځای مشخص شو او ور و یې غوښتلو.

مولوي صاحب ولاړ شو، کوچیانو ته یې وویل چې دا کس دلته امانت وساتئ، هیڅ یې خپه نه کړئ، څو چې ما حال نه وي درکړی هیچا ته یې و نه سپارئ او مشکل ورته جوړ نه کړئ.

همدا فیصله وشوه چې بندي به تر هغوپورې دلته ساتل کېږي چې څو وروستی وضعیت معلومېږي.

موږ چې بهر راووتلو، مولوي صاحب ما ته ۸۰۰ کلدارې راکړې، ویل په دې باندې به دوه چرګان واخلې، نور شیان به هم واخلې، څه مېلمانه راځي.

زه سخت خپه شوم، له وژلو مې بیا لاس وختل.

کور ته روان شوم، حنظله، رفیق او مولوي صاحب خلیفه صاحب ته ته حرکت ور وکړ.

Download more from Libtoon.com

○○○

څه موده تېره شوه، مولوي رفيق يوه ورځ د جريان داسې بيان راته وکړ:

ملا سنګين خليفه صاحب ته کيسه تمامه کړه، هغه موسکی شو او و يې ويل:

زه د ثابت په نيولو خبر وم، خو له ما سره چا مشوره نه وه کړې. زه له خپل والد صاحب سره ناست وم، د ثابت يادونه وشوه، هغه راته وويل چې دغه کس «ثابت» له ما سره د حج سفرونه کړي دي، سخت په خپل دريځ کلک سړی دی، سرتمبه غوندې دی. په مرګ نه ارزي.

تر ډېرو خبرو تبادله کېدو وروسته فيصله دا وشوه چې د امارت له مشرانو سره به خبرې وکړو.

خليفه صاحب امر وکړ چې ثابت ده ته وسپارو.

دباندې چې راووتلو او معلومات مو وکړل، ثابت يې د خوست بنګي دار سيمې ته وړی و.

سهار مو خليفه صاحب خبر کړ چې خبره خو دغسې شوې ده. هغه سمدستي خپل ورور حافظ بدرالدين ته وظيفه ورکړه چې خبره هواره کړي.

حافظ بدرالدين له کوچي قوماندان سره خبرې وکړې او بيا يې ما ته وويل:

ته به ورشې، ثابت به راوړې، ما له دوی سره خبره وکړه.

Download more from Libtoon.com

ما ته یې شرط معلوم نه و چې کوچیان مجاهدین په څه ورسره راضي شوي، له څه سرسري پوښتنو وروسته ډاډه شوم او د رحماني په نامه د یوه مجاهد ملګري مې راسره کړل. ماښام ناوخته ور ورسېدو، خبرې مو ورسره وکړې، خو دوی په خپل منځ کې سره غږېدل او وتل ننوتل.

په دې وخت کې امین جان کوچی هم راغی، هغه ته مو ټوله خبره وکړه چې دې خلکو ته قناعت ورکړي.

هغه خبرې ورسره وکړې، بیا ما ته را غبر کړ چې دباندې راشه. له ما سره تللي مجاهدین له ثابت سره په کوټه کې دننه پاتې شوم او زه دباندې ور ووتلم، په تیاره کې سره کېناستو او خبرې مو وکړې.

زه او امین جان په خبرو سره لګیا وو چې د کوچیانو شور ماشور شو، په منډو را منډو کې مې یې د ټوپک د بلوټو د کشولو اوازونه واورېدل.

موږ حیران شوو چې څه وشول.

له ما سره چې کوم ملګري تللي وو، هغوی هم نه پوهېدل چې څه روان دي، فکر یې کړی و چې پر ما یې د حملې پلان شروع کړی، ټول یوې او بلې خوا ته ګوته په ماشه ودرېدل. په وزیرواله لهجه غږ پورته شو:

و نه خېځېژئ چې د یوه څرمه مو وژنم!

په دې وخت کې ثابت زما له ملګرو سره د واړه اودس ماتي لپاره له کوټې بهر وتلی و.

وروسته معلومه شوه چې کوچیان مجاهدین په خپل منځ کې سره مخالف شوي وو، یوې ډلې را منډه کړې وه چې موږ یې اوس دلته په کوټه کې وژنو. کله چې کوټې ته ورغلي وو، ثابت نه و.

په دې وخت موږ خبره لږ سره غلې کړای شوه، کېناستو او بیا مو بحث

Download more from Libtoon.com

شروع کړ. ایله مو په دې قناعت ورکړ، ورته و مو ویل:

تاسې خپل شرطونه راته ووایاست!

دوی وویل:

اول دا چې ثابت موږ په خپل موټر کې انتقالوو. دویم دا چې له امارت سره به مخکې زموږ لپاره د امتیاز او پیسو خبره کوئ. دا کارونه چې وشول بیا به ثابت درته سپارو.

موږ د دوی ټول شرطونه ومنل.

ملګري مې پوه کړل چې د ثابت موټر تعقیبوئ.

خو کوچیانو چالاکي وکړه، څه په بله لاره لاړل او څه ناوخته راووتل.

زه چې کله د رابطې ځای ته برابر شوم، د مولوي فاتح په نامه مې غږ وکړ، هغه ته مې لاره ور وښووه چې ملګري ورته را مخ ته کړه، خو هیڅوک باید پوه نه شي، پر موټرو چاپه ووهه.

هغوی همداسې وکړل. د اجمل په نامه یې څو کسان ټاکلي ځای ته را لېږلي وو، زه چې ور ورسېدم و مې لیدل او ترې تېر شوم. غوښتل مې په شفر کې یې پوه کړم، خو دلته کوچیانو نوره چالاکي هم هم کړې وه، د ثابت د انتقال تر موټر مخکې یې یو بل موټر د ښار لپار را لېږلی و.

موږ چې رابطه ورسره وکړه، ویل یې موټر را خراب شو، کله چې در ورسېږو، حال درکوو.

ناوخته یې حال راکړ چې راغلي یو.

ماښام ناوخته خلیفه صاحب زما دفتر ته راغی، د کوچیانو شرطونه مو ورته وویل. خلیفه صاحب راته کړه:

ښه ده، دوی را وغواړه چې خبره ورسره وکړو.

Download more from Libtoon.com

کوچیان راغلل.

په دې وخت کې پر خلیفه صاحب باندې فشارونه زیات شوي وو او د امنیتي ملحوظاتو له وجه یې هیڅ نه غوښتل چې په تلیفون کې وغږېږي، خو دلته یې ما ته وویل چې حافظ محب الله را پیدا کړه.

ما کوښښ وکړ، حافظ محب مې په لیکه کړ. خلیفه صاحب ډېرې نرمې خبرې ورسره شروع کړې:

ثابت زما لاس ته راغلی، خو زه په دوه کې حیران یم. یو طرف ته د امارت امر دی چې مړ دې شي، بل طرف زما د ابا نظر دی چې نه دې مړ کېږي. زه څه وکړم؟

حافظ محب د مرکزي کمېسیون رییس و، و یې ویل:

ستا د ابا نظر زما نظر دی!

د خلیفه صاحب څېره وغوړېده، بیا یې ور غبرگه کړه:

دغو مجاهدینو ته مې څه امتیازات هم منلي دي!

د حافظ محب الله غږ راغی:

هغه به هم در ولېږم، بالکل یې نازوم!

خبره خلاصه او تلیفون قطع شو.

له دې سره سم د کوچیانو غږ پورته شو، خلیفه صاحب ته یې وویل:

موږ ته پیسې اوس ته راکړه، امارت به یې بیا خدای خبر څه وخت راته رالېږي.

خلیفه صاحب په خپل نرم مزاج خوله خندا ته جوړوله چې ملا سنگین په کله کوف ور منډه کړه او بلوټ یې کش کړ، ما ور ټوپ کړل او کلک مې ونیو.

خلیفه صاحب غلې راکتل او خندل یې، خو ملا سنگین له غوسې څخه له تکیه کېدو وتلی و، کوچیانو ته یې په لوړ غږ چیغې کړې:

Download more from Libtoon.com

هلئ ثابت لـه خـان سـره یوسـئ، مکمـل تیـاری وکـړئ، زه یـې بېرتـه پـه زور درنـه راوړم! خلیفـه صاحـب تـر اوسـه لـه هیچـا سـره پـه تلیفـون کـې خبـرې نـه دي کـړې، د تاسـې لپـاره یـې هغـه هـم وکـړې، تاسـې دومـره سـپین سـترګي کـوئ، اوس پیسـې نغـدې غـواړئ.

Download more from Libtoon.com

# سور لسگون

بې خرڅۍ داسې خوله خنبه کړې وه چې موږ به په وزیرستان کې په اوونیو اوونیو تش جېب خو بیا هم لکه خانان گرځېدو، په داسې حالت کې مو هم د بې خرڅۍ احساس نه دی، کله کله به کوم سخي لاس راته ونیول شو او د زرو یا پنځو زرو کلدارو په نوټ به یې ونازولو.

یو ماښام زه، عمري، سپین طالب چې د خوست د سپېرې ولسوالی مجاهد او بل داخلي اشنا چې د پکتیا ولایت مربوط و، د میرانشاه په بازار کې د مولوي سنگین په پټ دفتر کې پاتې شوو، بې خرڅۍ دا مهال دومره زور کړی و چې زموږ په جېبونو کې د نسوارو پیسې هم نه وې.

دفتر ته نږدې د قاري جومات په خوا کې د خالد په نامه یو پرچون دوکاندار زموږ ملگری و، وخت نا وخت به یې د نسوارو قرضه هم راسره کوله، موږ څلور واړو مشوره وکړه چې له نسوارو پرته گوزاره مشکله ده، راځئ چې خالد ته ورشو او یوه پوړۍ نسوار ترې په پور ترې راوړو.

د خالد دوکان دومره لرې نه و، څلور واړه ور روان شوو، کله چې دوکان ته ورسېدو ناوخته و او قلفونه ور لوېدلي وو. نهیلي د رزمک اډې پر لور د یوه پېژندگلوي کس په پیدا کولو پسې روان شوو چې د نسوارو پیسې ترې قرض کړو.

Download more from Libtoon.com

په اسمان کې تیاره په ډېرېدو او ستوري په ځلېدو شوو. په بازار کې څوک نه لیدل کېدل، خو رزمک اډې ته په رسېدو درې سراچې ډېرې تېزې راغلې او ودرېدې، موږ د سړک څنډې ته شوو، د وزیرستان حالات همداسې ناامنه و، ځان به دې پخپله د ټوپک د شپېلۍ په زور ژغوره.

له سراچو نقاب‌پوښه کسان راکښته شول او ډېر منظم د سړک یوې او بلې غاړې ته ودرېدل، موږ هم ځانونه چمتو کړل، وېرې واخیستو، یوه دنګ د تور لباس کس د موټر ډاله خلاصه کړه، یو څوک یې په داسې حال کې له موټره راکش کړ چې سترګې او لاسونه یې وړتړلې وو او سپین کالي یې پر تن و، ځوان یې همدلته د رزمک اډې په چوک کې ودراوه، نقاب لرونکي کسان لږ ترې را شا ته شول او د خپلو ټوپکو شپېلۍ یې ورته برابرې کړې، د نقاب لرونکو د ټوپکو هممهاله ګرررر شو، په ګولیو غلبېل انسان پر سړک پړمخې را ولوېد، تر دې وروسته یو نقاب والا ورغی او ټوپک یې سر ته ورته ونیو، ټک، ټک، ټک، درې مرمۍ یې وویشت...

وروسته یې په پزه کې د پیسو نوټ ور کېښود، تر ویشتلو وروسته په پزه کې پیسو دا مانا لرله چې ګواکې وژلی کس د پاکستان او امریکا د استخباراتي ادارو جاسوس او همکار دی، دا ډول وژنې اکثره وخت د خراسان په نامه ډلې کولې.

د خراسان په نامه ډله پخپله وزیرستاني طالبانو جوړه کړې وه، دوی به خلک د جاسوسۍ په تور تښتول او بیا دا ډول وژل. یوه اوونۍ وروسته به یې د وژل شوي کس د اعترافونو ویډیوګانې خپرولې، په ویډیوګانو کې دغه اعترافونه په وهلو، ټکولو او شکنجو ترې اخیستل کېدل، داسې هم کېدل چې د یو شمېر کسانو پر وجود په ژوند ګرم سیخونه ننه ایستل شوي وو او له ځینو نورو بیا د اور له پاسه اعترافات اخیستل شوي دي.

Download more from Libtoon.com

هغه وخت موږ تول پر دې قانع وو چې وژل شوي کسان جاسوسان دي، خو وروسته پوه شوو چې غلطې استفادې هم پکې شوې او بې ګناه خلک هم په دې نوم وژل شوي دي.
نقاب لرونکي په بېړه موټرونو ته وختل، کړپ کړپ دروازې بندې او سراچې په تونده روانې شوې. د ډزو تر کراري وروسته له کوڅو ډله ډله خلک راووتل، موږ هم په بېړه د ویشتلي خوا ته ورغلو، په وینو لت پت و، په خپلو کې مو په خوله هم سره وویل چې جاسوس دی او د خراسان ډلې وواژه.
موږ څلور واړه ملګري همدلته په ولاړو کسانو کې سره تقسیم شوو، هر یوه هڅه کوله چې له پزې یې پیسې را وکاږو، خو بالاخره دا جرأت عمري وکړ.
عمري په داسې ډول جسد ته کېناست چې ګواکې له مخه یې وینې پاکوي او غواړي و یې پېژني، پر مخ یې لاس ور کش کړ او په ډېر چل او مهارت یې له پزې د پیسو نوټ راکش کړ، بیا یې وویل دا زه نه پېژنم مخ یې زیات زخمي شوی دی، داسې ښکاري چې خراسان خپل ساتل شوی بندي وژلی، شاید جاسوس وي، راځئ زه لاس پرېمنځم.
موږ څلور واړه د خلکو له ډلې را بېل شوو، په لار کې مو عمري وپوښت چې پیسې؟ عمري د موټرو رڼا ته لاس ونیو، د کلدارو لسی و خو په وینو لړلی. بیا یې وویل اوبه راګورئ چې لاسونه او پیسې دواړه صفا کړم.
د اوبو په لټه مو سترګې غړولې، بیا پر سړک یوې بندې شوې رېړۍ ته ودرېدو، څادر پرې غوړېدلی و، لوټ مو پرې تېر کړ، د وینو لیکه پر څادر پاتې شوه. کله چې لوټ وچ شو، له بازار سره په یوه نږدې کوڅه کې مو نسوار واخیستل او بیا خپل مرکز ته روان شوو.

Download more from Libtoon.com

## د یوه شاعر د مور ناري

طارق په لنډمحمدخېل کې د داوړ قوم مشهور شاعر و او همدلته اوسېده، د نازیه اقبال په شمول یې د کلیوالي لهجې شعرونه نورو مشهورو پښتنو سندرغاړو هم ویلي وو.

مولوي صاحب به وخت ناوخت په همدې کور کې د شپې پاتې کېده چې د ځان لپاره یې محفوظ ګاڼه، خو دا چې په سیمه کې مطرح طالب قوماندان و، وخت ناوخت به یې د یوه قومي مشر رول هم اداکاوه چې قومي شخړې به یې حل او فصل کولې.

په دې سیمه کې د بویې او لنډمحمدخېلو قومونو تر منځ د غره په سر لانجې تازه بیا سر راپورته کړی و، دا لانجه له څو لسیزو را په دې خوا روانه وه، په دې وروستیو کې ملا سنګین د حل او فصل لپاره زیات کوښښونه وکړل چې بالاخره یې یوه ورځ حل کړه.

د روغې جوړې په ورځ یې د پښتانه دود له مخې له یو قوم څخه هم ۵ کلداري او له بل قوم څخه هم ۵ اوسپنیزې کلدارې واخیستې، سره له دې چې په جرګه کې یې د مولوي صاحب په شمول ناستو مشرانو ته د یو یو لکو کلدارو کېږي ورکړې، خو مولوي صاحب د خپل ځان پیسې بېرته

Download more from Libtoon.com

ور واپس کړې او پر ځای یې له دواړو جانبینو څخه دپنځه پنځه کلدارو اوسپنیزې پیسې واخیستې.

کله چې مولوي صاحب له دې فیصلې خلاص شو، د سبا لپاره په میرانشاه بازار کې خلیفه صاحب غوښتی و، ځکه خو یې کوښښ کاوه چې دا شپه له لنډمحمدخېلو څخه میرانشاه بازار ته ورسوي، خو دا چې همدلته د طارق په کور کې مولوي صاحب ته د شپې د ډوډۍ ترتیب نیول شوی وو؛ نو خپل شپږ ساتونکي هر یو قوماندان صادق یار مسید، سراج مجاهد، نذیر، ظاهرشاه، ساجد او سیدانور د طارق کور ته د ډوډۍ لپاره ور ولېږل، پخپله له یو څو ملګرو سره د میرانشاه بازار په طرف لاړ.

نن هم د نورو ورځو په څېر اسمان امریکایي ډرون الوتکو ناارامه کړی و، شور یې په مغزو کې بدې ځړیکې غځولې.

مېلمنو د طارق په کور کې ډوډۍ وخوړه، د شپې یې د خوب لپاره ځانونه تیارول چې د ډرون مزایل راغلل او د ملګرو په منځ کې ولګېدل. د مولوي سنګین په هدف دغو را توغول شویو مزایلو کوټه د اور په غونډاري بدله کړه، لېږ وروسته معلومه شوه چې په کوټه کې ټول مېلمانه او دوه کوربانه اندام اندام شهیدان شوي دي. په کوربنو کې یو د طارق ورور سیدانور او بل یې زوی شېر نظیف وو.

په کور د ویر او ماتم تندر را وغورځېد، د هر چا پر څېره غبار پروت و او له وجودونو د ترهې چغارې را پورته کېدې.

د طارق بوډۍ مورکۍ د مېلمستون لوري ته په منډه په تېزۍ راغله، نارې یې وهلې:
هلئ، سنګین څه شو؟ سنګین؟ سنګین څنګه دی؟

د خپل زوی او لمسي په وینو لمبېدلو جسدونو ته یې توجه نه کوله، خو د

Download more from Libtoon.com

سنګین ناري یې وهلې.

د وحشت یوه درنه شپه په ویر او واویلا سبا شوه، سهار پر کټونو اته ځوانې غځېدلې وې. دوې جنازې په همدې کور کې پاتې او شپږ نورې خپلو مېنو ته ولېږدول شوې.

کله چې څو ورځې وروسته مولوي صاحب فاتحې ته ورغی، د طارق مورکۍ یې وپوښتله:

ادې تا ولې زما چیغې وهلې؟ ستا ځوان زوی او لمسی خو هم همالته وو.

-زه له خدایه ډارېدم، چې د محشر په ورځ به دا پوښتنه رانه کېږي چې له تا سره د یوه مجاهد غم نه و، د خپلو بچیانو او لمسیانو غم اخیستې وې...

Download more from Libtoon.com

# د چاړې څوکه

زما په وزیرستان کې پنځمه میاشت روانه وه، زه اوس له کوره فرار شوی او هجرت ته اړ مجاهد بلل کېدم. کله کله به مې کور ته تلیفون وکړ، حال احوال به مې واخیست، خو نور مې هغې خوا ته تګ د خیال برخه ګرځېدلی و.

یوه تکنده غرمه زه او بلال د میرانشاه بازار د مدینه مارکېټ په ځمکتل «زیرزمینې» کې د وسلو په یوه دوکان کې ناست وو. زه سوچونو خپلې کورنۍ ته وړی وم، مور، پلار او بچیان مې تر سترګو ګرځېدل... ژوند به یې څنګه وي، څه حالت ترې چاپېر وي...؟

ناڅاپه مې په زړه کې تصور او ارمان په اقدام او تصمیم بدل شول: «زه باید کور ته لاړ شم، هر څه چې کېږي و دې شي. زه باید د کورنۍ حال په خپلو سترګو ووینم.»

حافظ بلال ته مې مخ ور واړاوه:

ما کور ته د تګ پرېکړه کړې، څو شپې کوم بېرته دستي راځم!

حافظ بلال بې له دې چې ما له تګه را وګرځوي، زما د توقع خلاف یې په خبرو پیل وکړ:

Download more from Libtoon.com

لاړ شه، خو یوې خبرې ته دې پام وي چې هلته ځان مه ښکاره کوه، خدای مه کړه مشکل درته جوړ نه شي.

د ده له موافقې سره مې تصمیم نور هم پیاوړی احساس کړ. جېب مې را یاد شو، هیڅ هم پکې نه وو. بیا بلال زر پاکستانی کلدارې راکړې او بیا مو یو تر بل د خدای پاماني غېږې تاو کړې.

زه نېغ غلام خان اډې ته راغلم او په یوه سپینه سراچه کې مې له خپل تور برخلیك خو رنګینو هیلو سره د کور پر لور حرکت وکړ. د ترخوبې لاره ډېره سخته وه، په ډېر کړاو راواوښتلم.

ماسپښین قضا د خپل کاله د دروازې مخې ته کښته شوم، ځان مې مظلوم احساس کړ، دا وخت به مې پلار له ښاره نه و راغلی، ما ته یې د راتګ وخت معلوم و، همېشه به د مازدیګر له اذانه سره را ستنېده.

کور ته د ننوتلو ګامونه مې درانه وو، کرل ربېل مې چې ننوځم که نه؟ که هو، څنګه!؟

زموږ د مېلمستون دروازه د سړك تر څنګ وه، خو زه د زراعتي ځمکې د دروازې پر لور بې پامه روان شوم، دروازې ته ورسېدم، خلاصه وه، نېغ کور ته ننوتم. کور ته د ننوتلو په وخت مې مور په کار لګیا وه، زما په لیدو یې ناڅاپه چیغې کړې، زما نوم یې واخیست، را منډه یې کړه او غېږ یې رانه تاو کړه.

ما هیڅ وخت دومره اوږد سفر نه و کړی، څو شېبې همداسې د مور په غېږ کې پاتې شوم.

د کورنۍ له نورو غړو سره تر پوښتنې او روغبړ وروسته مې لومړی پوښتنه د پلار وه، و مې ویل:

راغلی خو به نه وي؟

Download more from Libtoon.com

د دوی په خبرو کې مور پوه کړم چې د راتلو وخت یې دی، اوس راځي.

مور ته مې وویل:

له پلار سره نه وینم، څو شپې پټې په خپله کوټه کې کوم، زما په راتګ باید هیڅوک خبر نه شي، که حکومت خبر شو، بیا یو ما ته نه، ټول کور ته یو عالم مشکلات پیښ وبوله.

مور مې دا خبره راسره ومنله.

خپلې کوټې ته لاړم، د شیدو چای راغی، ستړیا یې را ماته کړه. مازدیګر ناوخته مې پلار را ورسېد، د هغه عادت و چې بې ضرورته به نورو کوټو ته نه تلو، نن هم سیخ خپلې کوټې ته لاړ.

پلار مې یادېده، خو د ورسره مخ کېدو د شببې زړه مې نه شوای کولای.

دا له پنځو میاشتو ورک سفره وروسته اوله شپه وه چې پر ما په خپله کوټه کې سهار شوه. له لمانځه وروسته د خوب یوې درنې څپې ورسره وړی وم.

په وزیرستان کې په یوه کور کې مېلمه وم، بې پیلوټه الوتکې مې پر سر ګرځېدې، ناڅاپه د بې پیلوټه الوتکې د توغندي ګرز پورته شو، له ګرز سره په کټ کې را کېناستم، ځان ته مې وکتل چې کوم ځای مې زخمي شو، زه د ځان پر کتلو بوخت وم چې مور مې کوټې ته راغله، په وارخطا غږ یې وویل:

زویه! دباندې د سړک تر څنګ پر عسکرو ماین ور وچاودېده، ځان یو ځای پټ کړه، خدای مه کړه تا ګیر نه کړي!

زه مور ته غوږ وم چې بچیان مې «خالد» او «بدرالدین» هم کوټې ته را ننوتل، مور مې پر ما ټینګار کاوه چې له کوره ووځم.

زموږ کور د سړک پر غاړه و، دلته به ډېری وخت پر دولتي موټرو چاودنې کېدې، له چاودنې وروسته به عسکرو زموږ د کورنۍ د غړیو په شمول د

Download more from Libtoon.com

شـاوخوا کورونـو اوسـېدونکي ځـورول، کورونـه بـه يـې پلټـل او نارينـه بـه يـې د پلټنـو لپـاره لـه ځـان سـره وړل.

لا هـم مـا او مـور خبـرې کولـې چـې يـوه بلـه ډېـر زوروره چاودنـه وشـوه، زمـوږ د کوټـې د چـت خـاورې او دوړې را تـوی شـوې، پـر مـوږ دوړېـدې، اول مـو دا خیال وکـړ چـې زمـوږ د کوټـې پـر بـام توغنـدی ولګېـد، خـو داسـې نـه وه.

داسـې ښـکارېده چـې د لومـړۍ چاودنـې د ټپيانـو مرسـتې تـه پـر راغلـو عسـکرو دويـم مايـن ور وچـاود.

دا زمـوږ د ملګـرو تکتيـک و چـې لـه يـوه مايـن څخـه بـه وروسـته دويـم مايـن د مرسـتندويه سـرتېريو د راتـګ لپـاره ځـای پـر ځـای کېـده او بيـا بـه يـې د هغـوی لـه راتـګ سـره جوختـه چاودنـه کولـه.

ما ژر ژر ځان تيار کړ، د مېلمستون خوا ته له رسېدو سره سم دروازه په لغتو ووهل شـوه. مـا زړه سـره را ټـول کـړ، د دروازې لـه خلاصولـو سـره مـې د KPF پر عسـکرو سـترګې ولګېـدې، عسـکرو مرمۍ ور تېـرې کـړې، يـو تونـد غـږ مـې واورېد:

له ځايه و نه خوځېږې!

مـا دواړه لاسـه پورتـه کـړل او ځـای پـر ځـای کېناسـتم. عسـکرو د کور او مېلمسـتون لټـون پيـل کـړ، لـه هغـې خـوا يـې زمـا مشـر ورور قيـوم شـاه چـې عصبـي نـاروغ و او بـل يـې زمـا کوچنـی وراره حمداللـه را روان کـړي وو، سـترګې يـې ور تړلـې وې، را و يـې ايسـتل، د کوچنـي حمداللـه پـه ليـدو مـې زړه ځړيکـې وکـړې، ځکـه هغـه شـپږ کلـن و.

مـا تـه ولاړ عسـکر چـې دوی وليـدل، سمدلاسـه يـې لـه خپـل کمربنـده پلاسـتيکي ولچـک را واخيسـتل او زمـا لاسـونه يـې هـم شـا تـه را وتـړل. د لاسـونو تـر را تړلـو وروسـته يـې زمـا پـر مټـو تـوش قلـم کـش را کـش کـړ، څـه يـې وليـکل. د ليکلـو

Download more from Libtoon.com

پر وخت مې مور پر عسکر غږ وکړ:
د خدای پار دی، زوی مې بې گناه دی، مه يې وژنئ، د خدای روی مې در وړی مه يې وژنئ...!
ما ته مخامخ ناست عسکر زما د شهرت په ليکلو پيل وکړ، زه څوك يم؟ څه کار کوم؟ ما ده ته د خپل شهرت او کار په اړه معلومات ورکول چې يوه بل ملگري يې له کوره زموږ شخصي ټوپك او زما بکس راوړل، زما تر مخ يې کېښودل. پر بکس چې مې سترگې ونښتې، وېرې واخيستم، په بکس کې ډېر داسې شيان وو چې د دوی لپاره زما په اړه ښه ثبوت کېدای شو.
مخامخ ناست عسکر تېره نظر را پکې خښ کړی و، بيا يې شونډې وخوځېدې:
دا ټوپك او بکس د چا دي؟
ما هم بې له فکره ځواب ورکړ:
دا زما دي!
بيا يې وپوښتل:
دا دې د څه لپاره ايښي دي؟
-په دې کې مې خپل کتابونه او اسناد خوندي کړي!
لکه زما خبره چې يې زړه ته نه لوېدله، د بکس کوډ يې راباندې خلاص کړ.
په بکس کې زما د پلار روسی ټي ټي توپانچه، دوه لاسي بمونه، د جهادي ترانو او نظمونو کتابچه او همدا رنگه په مقناطيسي بمونو کې کارېدونکې موبايل ايښي وو. دا شيان ټول ما پخپله پکې ځای پر ځای کړي وو. عسکر په بکس کې دننه غوړول شوی دسمال يوې او بلې خوا ته کش کړ، مگر لکه پر هر څه چې يې سترگې پټې شوې، له لټونه وروسته يې بکس زما

Download more from Libtoon.com

مور تـه ورکـړ چـې دا بېرتـه کـور تـه یوسـه.

ما فکـر وکـړ چـې عسـکر شـاید نفـوذي مجاهـد وي لـه وسـلو او اسـنادو بـار بکس یـې همداسـې ډک زمـا مـور تـه وسـپاره. مـور مـې بکـس کـور تـه روان کـړ، زه عسـکرو دبانـدې ورسـره رهـي کـړم. ټوپـک یـې د خپـل ډاټسـن موټـر پـه سـیټ کـې کېښـود او زه یـې لـه نـورو کلیوالـو سـره یـو ځـای لاس تړلـی د سـړک پـر منـځ کېنولـم. مـا چـې پـر ټولـو نظـر تېـر کـړ شـکر مـې وکیـښ چـې د ټولـو کلیوالـو سـترګې تړلـې دي، هیڅـوک مـې هـم نـه وینـي، کـه نـه زمـا پـه لیـدو بـه یـې ښـایي سمدلاسـه عسـکرو تـه ور پېژندلـی وم چـې طالـب یـم.

شـېبه نیمـه پـس زمـا د بکـس پر پلټونکي عسـکر په مخابره کې غږ وشـو چې له نیول شـویو کسـانو شپږ یا اووه شـکمن کسـان راوړئ او نور کلیوال خوشې کړئ.

عسـکر لـه ډاډ ورکولـو وروسـته لومـړی زمـا لاسـونه را خـلاص کـړل او پـه تریـو تنـدي یـې راتـه وویـل:

ـ نور دې و نه وینم، کور ته ځه!

مـا یـې سـترګو تـه وکتـل، پـه دې وخـت کـې مـې شـک پـر یقیـن بـدل شـو چـې عسـکر نفـوذي مجاهـد دی. څـو قدمـه مخکـې لاړم، خـو ټوپـک مـې رایـاد شـو، بېرتـه را وګرځېـدم، عسـکر تـه مـې وویـل چـې زمـا ټوپـک راکـوئ؟

غلي یې وویل:

چېرې دی؟

ما مخامخ ډاټسن ته ګوته ونیوه.

ژر یې واخله او خپله لار ونیسه چې بیا له کوره رابهر نه شې!

د موټـر تـر څنـګ ولاړ عسـکر تـه یـې اشـاره وکـړه او هغـه خپـل ټوپـک راکـړ، تېـز کـور تـه لاړم.

Download more from Libtoon.com

کور ته په ننوتلو مې مور را نه غېږ تاو کړه، ژړل یې، په ژړا یې ویل: دا ځل خلاص شوې، نور باید د تل په مخه هجرت وکړې او بیا دلته د راتګ او اوسېدو لپاره زړه ښه نه کړې.

بېرته خپلې کوټې ته لاړم، نیت مې وکړ چې بېرته وزیرستان ته د تګ تیاری ونیسم، خپل بکس مې راواخیست، دوه لاسي بمونه، توپانچه او ساده موبایل مې په داسې حال کې په بلډه کې ځای پر ځای کړل چې د کورنۍ ټولو غړو راته کتل.

دوی ته مې وویل چې زه دا چېرته دباندې په خوندي ځای کې ځای پر ځای کوم، خو که زه بېرته راستون نه شوم تاسې به هیڅ ډول اندېښنه نه کوئ.

مور مې تازه زما مرګ په سترګو لیدلی و، له دې امله یې په ورین تندي رخصت راکړ:

مور ته دا مهمه ده چې ته ژوندی یې، نور چې هر چېرته یې خدای دې روغ او خوښ او سرلوړی لره!

له کوره د وتلو په وخت کې مې اول د KPF موټرو ته وکتل، ډاډمن شوم چې تللي دي. راووتم، پر سړک مې موټر ته ډېر انتظار وکړ، مګر موټر پیدا نه شو. بالاخره یو موټرسایکل راغی، لاس مې ورکړ، ودرېد او ورسره سپور یې کړم. له ښه ګړندي مزله وروسته د خوست مخانیک لېسې ته ورسېدو، دلته د ملي اردو عسکرو د تالاشي چیک پواینټ جوړ کړی و، ما ته خپل بمونه او توپانچه په ذهن کې را تېر شول، سمدلاسه مې دعاګانې پیل کړې، عسکر ته په رسېدو د موټرسایکل والا بریک وواهه، چې پښه یې کوزوله عسکر ورته وویل چې ځئ لاړ شئ. موټرسایکل همداسې حرکت وکړ، د خدای شکرونه مې ادا کړل چې بیا بچ شوم.

Download more from Libtoon.com

په بازار کې له موټرسایکل کښته شوم، ځان مې د عبدالله خان خیاط دوکان ته ورساوه، زما په لیدو یې چیغه کړه:

ته او دلته ؟

ما ورته وویل:

غلی شه، غېږ راکړه چې نور روان یم، له دې سره یې ټینګه غېږ راکړه او د حال احوال پوښتنه یې وکړه.

و یې ویل:

دا دومره موده چېرته ورک وې؟

- نورې زیاتې پوښتنې مه کوه، دا شیان درسره کېږده، که دې په کار شول استعمال یې کړه او که نه بیا یې ما ته چېرې خوندي ځای کې کېږده.

عبدالله خان زیات ټینګار وکړ چې ډوډۍ ورسره وخورم، خو ما ورسره و نه منله او همداسې ترې د غلام خان اډې ته روان شوم.

په اډه کې په بیا په سراچه موټر کې کښناستم او مخ پر میرانشاه مو حرکت وکړ، ماښام نږدې و چې د میرانشاه په بازار کې مې حنظله پیدا کړ او ورسره یو ځای شوم.

د مولوي سنګین مېلمستون ته دواړه په داسې حال کې دننه شوو چې دوی ته زیات مېلمانه راغلي وو او د مشاعرې لپاره یې ترتیب نیولی و، هر شاعر په نوبت خپل شعرونه زمزمه کول.

Download more from Libtoon.com

## ویرېږم چې غله به شئ!

په وزیرستان کې د یو ځوان لپاره مسقیمه لار نه وه معلومه، نه به پوهېده چې اوس پر کومه لاړ شي؟ خو چې کومې لارې ته به برابر شو خپل مزل به یې پرې پیل کړ. ډېری پلرونه چې پوهېدل خپل بچیان یې له زده کړو څخه محروموول، خو هغه چې د غربت په کړلېچونو کې ناارامه وو، د کورنۍ ځوان به یې په یو نه یو ډول له لاسه ورکاوه، یا به یې د جاسوس په نامه سر پر سینه کېښودل شو او یا به یې پخپله د جاسوسانو په نامه د انسانانو په وژلو او ربړولو خوند اخیست. که څه هم دا مطلقه خبره نه ده، مګر تر ډېره حده همداسې و.

د واحدې رهبرۍ نشت او د بېلابېلو جنګي ډلو موجودیت حالات په داسې ګرځنده توپانې بړبوکۍ اړولي وو چې اکثره ځوانانو به پر کومه لاره قدم کېښود، نور به یې د «حق» په خیال کې داسې پسې واخیستل چې یو وخت به یې سر خلاصېده، د بېرته راګرځېدو شېمه به یې بايللې وه.

له ډېرو معصومو ځوانانو اجرتي قاتلان جوړ شول او له ځینو نورو د نړۍ ماهر غله او اختطافګران...

خو د شکر ځای دا و چې زموږ د وصل مزی له یوې بېلې رهبرۍ سره غوټه شوی و، خپل سرتېري یې تر ډېره له بدبینیو په امن کې ساتل.

Download more from Libtoon.com

یوه ورځ حنظله مولوي سنګین ته د یوې جهادي ډلې نوم واخیست او ورته وېې ویل:

هغه مجاهدین هره ورځ نوې جامې اغوندي، مګر موږ په میاشت کې جامې پرېمنځلای هم نه شو!

مولوي صاحب ورته وویل:

زه هم کولای شم چې ښه مو وساتم خو خدای مه کړه، که سبا زه نه وم تاسې به د عصري ژوندد تېرولو لپاره په غلا پیل وکړئ او وېرېږم چې غله به شئ؛ نو په دې خاطر غواړم چې له سختیو او تکلیفونو سره سر له اوسه اشنا شئ.

Download more from Libtoon.com

## یو بل مسیر

دا رنګ د صبر او استقامت ډېرې خبرې مو اورېدې او په موږ کې یې د شېمې لمبې مړې کېدو ته نه پرېښودې.

یوه ورځ مې زړه وغوښتل چې نن به په سعودي عربستان کې خپل مسافر ورور «زیر بادشاه» ته تلیفون کوم او احوال به یې اخلم چې په کوم موډ کې دی؟ پي سي او (PCO) ته ورغلم، نمبر مې ووهل، شېبه پس زنګونه ورغلل، تر اوکې کولو وروسته چې مې څنګه سلام ور واچاوه، و یې پېژندلم، زیر بادشاه له ما سره بې کچې مینه درلوده، په لوړ غږ یې وویل:

ـ دا چېرې یې؟ ما دې څومره پوښتنه وکړه ظالمه! سړی خو لږ تلیفون وکړي.

ما د ده د خبرو په وخت کې په بهانه پسې چورت واهه، د ځان د خلاصون په خاطر مې ور غبرګه کړه:

دلته هیڅ تلیفون کار نه کوي او نن یې هم په څه خواریو لږ کار کاوه، و مې غوښتل چې زنګ درته ووهم.

یو دم له دې موضوع بهر شو، په تلواره یې وویل:

د سعودي ویزه مې درته اخیستې چې خرڅ در ولېږم، ژر پاسپورټ جوړ کړه، دلته را روانېږه!

Download more from Libtoon.com

پر ما دم شېبه چوپتيا خپره شوه. د عاجلې پرېکړې له مخې او دا چې ورور مې خپه نه شي، له خولې رانه ووتل:

سمه ده، زه به د پاسپورټ او پاکستاني شناخته کارډ پر جوړولو باندې کار پيل کړم.

زير بادشاه وويل:

سبا بېرته ما ته تليفون را وکړه، د حوالې نمبر به درکړم خرڅ در واخله!

ـسمه ده، ښخي سمه ده!

په سبا مې را لېږل شوې يو لک کلدارې له حوالې را واخيستې، دا زياتې پيسې وې، بيا داسې چا ته ښځې ډېرې وې چې د نسوارو روپۍ يې هم نه درلودې.

د شپې مې مولوي صاحب ته وويل:

ما ته مې ورور وايي سعودي ته راشه، ستا څنګه خوښه ده؟

د سعودي د نوم په اورېدو مولوي صاحب له ځايه را پورته غونډې شو، په خوشاله غږ يې وويل:

ـدا خو ډېره ښه خبره ده چې ته سعودي ته لاړ شې، شايد هلته د چندو طريقه هم را جوړه کړې، خداى تعالى ګونډې زموږ دا غريبي نوره په همدې رقم د تل په مخه ختمه کړي.

د مولوي صاحب دې خبرې نور زه هم خوشاله کړم، په زړه کې مې ځان ته داډ ورکاوه چې د جهاد لپاره د چندو په کولو به خداى جل جلاله له مجاهدينو سره تا هم په ثواب کې شريکوي او پرېکړه مې پخه شوه.

په دا سبا لاړم، پاکستانی شناخته کارډ مې د پاکستان د بنو په ښار کې د شفيع په نوم په يوه کمېشنکار د ۳۰ زرو کلدارو په بدل کې جوړ کړ او همداشان مې پاسپورټ هم د ۳۵ زرو کلدارو په بدل کې د دغه کمېشنکار په مرسته د

Download more from Libtoon.com

ګجرانوالې په ښار کې جوړ کړ، له وزيرستانه مې سعودي ته د تګ تيارى شاوخوا په څلورو مياشتو کې بشپړ شو.

پاکستاني تابعيت داسې حد ته را رسېدلى و چې بهرنيو اتباعو هلته په پيسو اخيستلاى شواى.

بالاخره يوه ورځ را غله چې د مولوي صاحب دوى په کور کې مې د ده په شمول له ټولې کورنۍ سره خداى پاماني کوله، دا خداى پاماني مې په داسې حال کې واخيسته چې خپل کور ته نه لاړم.

د فاروق په سراچه کې د بنو د موټر اډې ته لاړو، فاروق چې د خداى پامانۍ غېږه راکوله، ځان يې ټينګ نه شو کړاى، د موټروانانو تر مخ يې له سترګو غټې رڼې اوښکې را وبهېدې، رخصت مې ترې واخيست. د يوه سپين رنګه پلاتکوچ موټر د شا په سيټ کې کېناستم، له ميرنشاه بنو او له بنو پېښور، همداشان وروسته اسلام‌اباد ته ورسېدم، بيا په مدينه کې له الوتکې کوز شوم، ټول سفر مې دوې ورځې وخت ونيو.

په مدينه کې ميدان ته زموږ د ورور په سفارش زموږ کليوال حاجي جميل راغلى و، په موټر کې ورسره کېناستم، شپه مو ينبوع ته ورسوله او هلته مو شپه د حاجي صاحب په اطاق کې وکړه.

سبا مازديګر د خپل ورور استوګنځي البدع ښار ته په يوه عصري بس کې روان شوم، د شپې يوه بجه له البدع تقريبا ۱۵۰ کيلومتره لرې يوه ښار ته ورسېدم چې اوس يې نوم رانه هېر دى، هلته مې ورور په خپل شخصي موټر کې مخې ته راغلى و او تر يو ښه روغبړ ورسته ورسره په موټر کې کېناستلم.

په موټر کې چې کېناستلو، زيربادشاه جېب ته لاس کړ، په خپل لاس جوړ شوي نسوار يې راته ونيول. ما نسوار له پټ کول، خو دى راباندې خبر و،

Download more from Libtoon.com

پرې ګران وم، و یې ویل:

په سعودي کې نسوار ډېر په سخته پیدا کېږي، ګوزاره ورسره کوه چې ژر درنه خلاص نه شي.

په خنداکې مې ترې واخیستل.

Download more from Libtoon.com

○○○

دوې ورځې وروسته ځینې افغان مسافر زما له ورتګه خبر شول، د سترګې مه شې لپاره ډلې ډلې اطاق ته راتلل. هغوی د دې لپاره هم راتلل چې دا نوی تازه راغلی طالب وګوري او ورسره بحثونه وکړي چې ولې په افغانستان کې جګړه کوئ؟

ما یو څو شپې د مېلمنو د ښه راغلاست لپاره په اطاق کې تېرې کړې، خو ډېرې شپې مې همدا د طالب او حکومت تر منځ د جګړې بحثونه وو، کله کله خو به دا بحثونه دومره سخت شول چې نږدې و یو د بل ګرېوانونه ریښې ریښې کړو، خو دا چې هلته قانون سخت حاکم و، یو طرف به هم جنګ ته زړه نه شوای ښه کولای.

په البدع ښار کې مې د خپل ورور په دوکان کې کار پیل کړ، دوکان یو کلیواله خوراکه فروشي وه.

دوه کاله مې ډېر په خوږین زړه دا مسافري وګالله. د سعودي مسافري ډېره سخته وه، د شپې دوولس بجې اطاق ته راتلو او بېرته به په څلور بجې دوکان ته تلم.

د سعودي د مېشتو عربانو د غرور له امله دلته ګذاره ډېره سخته وه، د دوی رویه

Download more from Libtoon.com

داسې نه ښکارېده چې ګواکې انسانيت دې پېژني، هر پردي يا د دوی په خبره اجنبي ته يې د څاروي په سترګه کتل، فکر يې کاوه چې ګواکې دا ځناور د انسان په لباس کې خدای د دوی د خدمت لپاره پيدا کړي.

په دوی کې بې‌وفايي يو مهم اصل و، نن به يې ملګری شوې چې غرض به يې پوره شو په هغه ساعت به يې بيا نه پېژندلې.

ډېر ځل داسې شوي، مشتري به راغی موږ چې به سودا ژر برابره نه کړای شوه، پر مخ به يې را توف کړل. په غبرګون کې موږ هيڅ نه شوای کولای، خو دا چې په ما کې د جهاد جذبه وه، زياتی مې نه شوای زغملای، کله کله به مې عکس العمل وښوو، يو ځل يې د دوکان شيشې تولې را ماتې کړې، ما هم جنګ وکړ او د نه زغم له وجهې مې ډېر تاوان په غاړه واخيست. ډېرو مسافرو به ما ته دا پېغور راکاوه چې افغانستان ته جنګ ته درغلي وي، تاسې يې په سر کېنوئ، خو دلته د دوی اسلام وګورئ چې څه ډول خلک دي!؟

همدې پېغورونو به زه هم مجبور کړم چې کله کله به مې فاروق ته تليفون وکړ او يا به پخپله له مولوي صاحب سره په تليفون کې غږېدلم، هغه ته به مې ويل چې دا عرب چې په وزيرستان کې يې موږ وينو، د دوی خلک چې دلته ووينې زړه به دې ارې ارې شي او باور به دې راشي چې دوی له اسلام سره فقط دومره تړاو لري چې د نورو پر ضد د جعلکارۍ په توګه استفاده ترې وکړي، بس.

مولوي صاحب به خندل او ويل به يې دلته چې کوم راغلي دغه خلک پاک دي او د جهاد په نيت راغلي، دغلته پاتې خلک خو د خپل عيش له امله هم د مسافرو قدر نه پېژني.

له دې مقايسې سره سره مې هم زړه نه ارامېده، د عربو سلوک له مسافرو سره

Download more from Libtoon.com

د زغم نه و. داسې هم شوي چې يو مسافر به پوره پنځه کاله له يوه عرب سره مزدوري کړې وه خو وروسته به يې د مزدورۍ يو روپۍ هم نه ورکوله. حکومتي قوانين دا ډول جوړ شوي وو چې د يوه اجنبي غبر به پکې نه اورېدل کېده، ما په دوو کلونو کې د ګوتو په شمار عرب وليدل چې بد نه وو، خو د نورو ټولو په رويه کې غښتلى فرعونيت پټ و، د کوم عرب څېره يا نوم چې ذهن ته راځي هغه بد و! د دوى له يادولو سره مې يو بد عادت جوخت سترګو ته ودرېږي.

وروو زما تر راتګ څو مياشتې وروسته وطن ته تللى و، يوولس مياشتې رخصتي يې پوره شوه، بله ورځ راغى، تر هغه وروسته به ما وطن ته د خپل تګ خبره کله کله تر غوږ ور تېره کړه. دوه کاله مې شوي وو، وطن او هر څه مې ډېر سخت يادېدل.

څه وخت وروسته مې ورور راسره ومنله چې لاړ شم، خو په يو شرط. شرط دا و چې بيا به وزيرستان ته نه ځم. ورسره و مې منله. لوى اختر را روان و، نيت مې وکړ چې حج به وکړم او بيا به لاړ شم، ځکه بيا خداى خبر چې د سعودي پر ځمکه به پښې کېږدم که نه.

Download more from Libtoon.com

○○○

د شپې ناوخته زنګ راغی، چې و مې کتل وحید و، دی همالته په سعودي کې مسافر او له موږ څو سوه کیلومتره لرې په الولعه ښار کې یې یو پرچون پلورنځی و، په قوم ځدراڼ او په کابل کې استوګن و، له ما سره یې ملګرتیا د انټرنیټ له لارې پیدا شوې وه او تر ډېره حده مو راز سره شریک و، خو سره له دې چې د زړه خبرې به مې هم ورته کولې، سیاسي فکرونه مو بېل وو.
وحید جمهوریت خوښاوه، ما امارت.
موبایل مې اوکي کړ، و مې ویل:
سلامونه اشنا!
-وعلیکم سلام، چېرته یې زه در روان یم!
-دا څه وایې؟
-هو والله درځم، که فارغ وې تا به هم را واخلم او همداسې به مکې ته لاړ شو، د عمرې تر څنګ به چکر هم ووهو او زه به دوکان ته سودا هم واخلم.
ورسره خوښه مې شوه، ورور ته مې وویل چې دوې ورځې باید په یوازې ځان دوکان وچلوې، زه له ملګري سره عمرې ته ځم.
ورور راسره ومنله، وحید ماښام را ورسېدو، د شپې ډوډۍ یې په اطاق کې

Download more from Libtoon.com

راسره وخوړه، تر ناوخته مو مجلس و.

سهار وختي مکې ته روان شوو، لاره اوږده وه، خو له ملګري سره په مجلس او بحث مې خوند اخیست، د تبوک او جدې تر منځ پر غځېدلې لار په سپین هایلکس یو سیټه ډاټسن کې ګړندي روان وو چې موبایل ته مې زنګ راغی. نمبرو ته ځیر شوم، د وزیرستان وو. تر اوکې کېدو وروسته مې غږ وپېژاند چې مولوي صاحب دی. تر ښه روغبړ وروسته یې پوښتنه رانه وکړه چې چېرته یې؟

ـ مولوي صاحب عمرې ته روان یم، په دې عمره کې ستا نصیب شوی و، ستا لپاره عمره کوم. مولوي صاحب په خوشالۍ دعاوې پیل کړې او له خدایه یې اجرونه راته وغوښتل.

وحید ما ته کتل، ما وویل:

یو ملګری راسره دی، زموږ و تاسې سخت ضد دی، ټیلیفون به ورکړم که دې لږ اصلاح کړ!

مولوي صاحب وویل:

ورکړه تلیفون چې درته اصلاح یې کړم!

ما تلیفون وحید ته ونیو، هغه وویل څوک دی؟

وحید پېژاند، خو خبرې یې نه وې ورسره کړې. ور مې ښوو چې ملا سنګین دی.

د وحید مخ تک زېړ شو، په رېږدلو لاسونو یې تلیفون غوږ ته ونیو، خوله یې وچه وچه کېده:

السلام علیکم مولوي صاحب... قسم دی په ما سخت ګران یې، د وزیرستان له غیرتي خاورې چې ستا نوم راپورته کېږي، زه سخت ورته خوشاله شم.

ـ هو هو!

ـ زه تل دعا درته کوم چې خدای ج دې بریالی لره!

Download more from Libtoon.com

د هغې خوا غبر مې نه اورېده، تلیفون بند شو، وحید وویل چې دا رښتیا مولوي صاحب و؟

ـ هو قسم دی مولوي صاحب و!

ـ دا څومره خوږ سړی و!

ما په خوند وویل:

ما خو درته ویل چې طالبان ښه خلك دي خو تا نه منله!

ـ قسم دی که دومره خواږه ما په ژوند په انسان کې لیدلي وي لکه د مولوي صاحب په غبر کې مې چې ولیدل، هلکه په نا لیدلي مخ دې پرې مین کړم!

ما ورته وخندل:

ګوره فدایي نه شې!

ـ که تول د مولوي صاحب په شان وي، قسم دی که په فدایي کې مې هم شك وي!

Download more from Libtoon.com

○○○

په دوکان کې به مې تل دا چورتونه وهل چې ما ولې دومره لويه غلطي وکړه چې ځان مې د سعودي مسافر کړ؟ ځان مې له کورنۍ او انډيوالانو لرې کړ. بيا به مې ځان ته قناعت ورکړ چې څه خير که دا ځل لاړم بيا به نه راځم!

عربان يو څه سخاوت لري، په ځينو خاصو شپو کې به يې پنځه يا لس رياله يا تر دې زيات ان سلو پورې راکړې چې پر خلکو اوبه تقسيم کړه، ما به همداسې کول خو وروسته مې سوچ پيدا شو چې دا خلك خو مست او ماړه دي دوی په اوبو څه کوي؟ دا پيسې بايد په وطن کې مجاهدينو ته ولېږم.

يوه ورځ مې له کلکو کاغذونو يو صندوق جوړ کړ چې نور نو پيسې دلته جمع کړم او چې وطن ته ځم مجاهدينو ته يې يوسم.

عربو چې به د اوبو توزيع ته پيسې راکولې، ما به ورته ويل چې زموږ وطن ډېر غربت ځپلی دی، دا صندوق وينې؟ په دې کې زه بېلې پيسې جمع کوم او هلته يې لېږم. ډېرو عربو به منله، خو د ځينو زړه ته نه لوېدل. ويل به يې چې نه نه، زما له پيسو دلته خلکو ته ډوډۍ، اوبه يا نور مشروبات ورکړه چې بيا به ما هم هماغسې کول.

خو کومې پيسې چې صندوق ته راکول کېدې، هغه مې همالته اچولې او ساتلې.

Download more from Libtoon.com

○○○

د ۲۰۱۳م کال د سپتمبر د میاشتې ۶مه ورځ وه، د نورو ورځو په څېر مې نن هم د سهار په نهه بجې په خپل اطاق کې سهارنۍ ناشته وکړه، په دې وختونو کې یو څه راحته وم، ورور مې له وطنه راګرځېدلی او په دوکان کې راسره همکار و، تر یوې اندازې زه هوسا وم، لاړم خپل کمپیوټر مې را خلاص کړ چې خپلې فیسبوک پاڼې ته لاړ شم او د دنیا حالات وګورم.
زما فسبوک په انګلېسي تورو د ملنګ‌یار ځدراڼ په نامه و چې هیڅ سیاسي فعالیت مې پکې نه کاوه، له خپل اکاونټه به مې یوازې د وطن په شمول د دنیا حالات څارل.
په بېلابېلو پوسټونو کې ښکته روان وم، چا به د خپلې خوښې تصویر اچولی و او یو نیم کس به بیا پر یوه تازه پېښه خپله تبصره لیکلې وه، زه د فیسبوک غېږې سم نه وم ځان ته راکش کړی چې حواس مې د بي بي سي پر یوه تازه راپور په تونده ور تول شول، په سترګو مې توره شپه شوه، په سترګو مې باور نه راته، لیکل شوي وو:
"څارګرې الوتکې د حقاني شبکې ملا سنګین ځدراڼ وژلی"
۱۵ وږی ۱۳۹۲ - ۶ سپتمبر ۲۰۱۳

Download more from Libtoon.com

د عنوان په لوستلو مې وېښتان نېغ ودرېدل او تکراراً مې ولوست، بیا هم هماغسې لیکلي وو: "څارګرې الوتکې د حقاني شبکې ملاسنګین ځدران وژلی!"
غلی شوم، لکه څوک چې په خوب کې ژور ځای ته ور خطا شي، سر مې ګنګس شو، و مې پوښتل:
دا څه وایي؟
پر لینک مې بې اختیاره ګوتې شورېدلې، خلاص شو، په لوستلو مې پیل وکړ:
"پاکستاني چارواکي وایي، د طالبانو اړوند حقاني شبکې یو لوړپوړی قوماندان په هغو شپږو وژل شویو کسانو کې شامل دی، چې د افغانستان پولې ته څېرمه د بې پیلوټه امریکایي الوتکې په یوه برید کې ووژل شول.
ملا سنګین ځدران د حقاني شبکې غړی او نوم یې د نړیوالو ترهګرو..."
د اوښکو څاڅکي دومره ګڼل شول چې نور نو خبر لوستل راته سخت او لیکل ورک شول. دسمال مې را واخیست، سترګو ته مې ونیو.
یوه شېبه غلی وم، اوښکې مې روانې وې، خو زړه ته مې داډ شروع کړ: مخالف طرف تل دروغ ویلي او تر دې وړاندې یې هم څو ځله د ملا سنګین د شهادت ادعا کړې ده چې دروغ ختلې، شاید اوس هم دروغ وي.
بیا به زړه راته وویل، نه دا خبر دقیق دی، بي بي سي ته د پاکستان چارواکیو خبره کړې، د پاکستان چارواکیو ولې دا خبره کړې؟ له دې پېچلي بریده څنګه خبر شوي، په دغه برید کې د پاکستان لاس دی؟
که دا خبر رښتیا وي بیا خو هغه ادعا چې په وزیرستان کې به له مختلفو خولو کېده چې په وزیرستان کې دړون ته د پاکستان حکومت د خپلو سرچینو له لارې کوردینات ورکوي، حقیقت دی!

Download more from Libtoon.com

زړه به همدا خبره کوله هو حقیقت دی، هو حقیقت دی!

په همدې فکرونو کې ډوب وم چې د اطاق تر مخ مې موټر هارن وکړ، پوه شوم چې د نورو ورځو په څېر مې په دوکان کې د ورور د وظیفې وخت پای ته رسېدلی و او اوس راغلی چې ما په موټر کې دوکان ته ورسوي.

ژر را ولاړ شوم او په حمام کې مې مخ په ګرمو اوبو پرېمانځه، راووتلم، ورغلم ورور ته مې سلام وکړ او په موټر کې ورسره کېناستلم.

فکر مې په خبر کې بند و، سترګو مې همداسې په لانده مخ د اوښکو نور څاڅکي هم را پرېښودل، خو چې د ورور مې را پام شو، ژر یې پوښتنه رانه وکړه:

ولې؟ ولې خير خو دی؟

ما مې هم مخ ته دسمال ونيو او په ژړا ژړا کې مې وويل:

مولوي صاحب شهيد شوی دی!

-مولوي صاحب شهيد شوی دی؟

-هو، مولوي صاحب ډرون ويشتلی دی!

ورور مې موټر چې د دوکان په طرف روان کړی و، څنګ ته ودراوه، يو ځل بيا وپوښتلم:

دا څه چې وايې دا حقيقت دی؟

لږ غلی شوم، اوښکې مې پاکې کړې، په سلګو سلګو مې ورته وويل:

هو! همدا شېبه بي بي سي خبر خپور کړی، امکان ولري چې حقيقت وي.

ورور مې بېرته موټر ګېر ته واچاوه:

عجيبه سړی يې د بي بي سي پر راپورونو هم اعتماد کوې، هر وخت يې دروغ ويلي، ما فکر وکړ چې له کوره چا اړيکه درسره نيولې.

ما پر سترګو لاس تېر کړ:

Download more from Libtoon.com

بي بي سي ته پاکستانيو چارواکيو ويلي!

ورور مې راته وکتل:

پــر چارواکــو مارواکــو اعتمــاد مــه کــوه، يــو وار کــور تــه زنــګ ووهــه او يــا پــه وزيرســتان کــې لــه چاســره تمــاس ونيســه چــې حقيقــت څــه دی؟

Download more from Libtoon.com

ooo

په وزیرستان کې موبایل کار نه کاوه، د ځمکې تلیفون (PTCL) به هم وخت ناوخت خراب و، ما زیات کوښښ وکړ چې د مولوي صاحب کور ته تلیفون وکړم، خو هیڅ زنګ نه ورته.

زه مې ورور د خپل دوکان تر مخ کښته کړم، راته و یې ویل چې ته کوښښ وکړه چې رابطه دې وشي او بیا ما ته هم خبر راکړه چې حقیقت څه دی؟

ورور مې په خپلو کارونو پسې روان شو او ما د دوکان دروازې خلاصې کړې، د ځان د مشغولا په خاطر مې د دوکان په صفایي پیل وکړ...

ما په دوکان کې ورځ ډېره سرګردانه او غمجنه تېره کړه، کله به مې زړه پر دې یقیني شو چې مولوي صاحب شهید شوی او کله به مې فکر بدل شو، زړه به مې ډاډه شو چې شاید دا راپور حقیقت نه وي...

بالاخره د مازدیګر له لمانځه پس د مولوي صاحب کور ته زنګ ورغی، لږ مې غوږ ونیو، وروسته غږ راغی:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، څوک شوې؟

ـ ملنګ یار یم!

ښا ډېر وخت بعد، څنګه یې جوړ خو یې؟

Download more from Libtoon.com

په تلواره مې وویل:
الحمد لله ښه یم، فاروق یې؟
ـ هو، څنګه دی سفر دې؟
ـ سفر مې ښه دی، دا راته ووایه چې د مولوي صاحب خبره څنګه ده؟
فاروق لږ غلی شو له لږ شېبې وروسته یې سمدستي وویل:
اوس مو خاورو ته وسپارلو...
ډېر کوښښ مې وکړ چې خبرې وکړم، خو ستوني مې ډک شو، اوښکې مې پر مخ را روانې شوې او هیڅ مې ځان قابو نه شو کړای، فاروق ډېر غږونه وکړل، خو زما له خولې هیڅ سپړ نه خوت او بیا تلیفون قطع شو.
زما تلیفون همداسې په غوږ کې هېر شوی و، څنګه به یې ویشتلی وي، د حملې پر وخت به مولوي صاحب څه احساسول، څوک به د همکارۍ لپاره پرې پېښ شوي وي، له ده سره به په هغو سختو شېبو کې چا همکاري کړې وي... نور به څوک ورسره شهیدان شوي وي؟
همدې پوښتنو بېرته را په حال کړم، سوچ مې وکړ چې بیا باید تلیفون وکړم او له ټول حقیقته ځان خبر کړم، خو له ډېرو هڅو سره سره هم اړیکه ټینګه نه شوه.
ساعت ته مې وکتل، ماښام و. ځان مې په زور لږ غښتلی کړ، اوښکې مې پاکې کړې، را ولاړ شوم او د دوکان دروازه مې بنده کړه.
اطاق ته په رسېدو مې د ورور موټر هم د دروازې تر مخ ودرېد، را کوز شو او داسې ښکارېده چې ده هم ځان له یوې لارې له حالاتو خبر کړی و، زما په لیدو یې سمدستي پوښتنه وکړه:
څنګه دوکان دې بند کړ؟

Download more from Libtoon.com

ما ویل:

هو راغلم د لمانځه لپاره!

ورپسې یې د اطمینان په ډول وویل چې په ژوند کې دا حالات راځي، خو نر هغه دی چې د لوی الله جل جلاله پر پرېکړو قناعت وکړي، هیڅوک لیکل شوی تقدیر نه شي بدلولای، د خدای همدا خوښه وه، مولوي صاحب خو د همدې هدف لپاره ځان وقف کړی و او خپل منزل ته ورسېده.

Download more from Libtoon.com

○○○

په سعودي کې ژوند نور هم راته سخت شو، هیڅ ملګری نه و چې د خپل زړه غم مې ورسره نیم کړی او ډاډ یې راکړی وای، هر مسافر په خپلو ورځنیو کارونو مصروف و او په دې لټه کې و چې څه ډول د کور لپاره روزي پیدا کړي؟

یو څو شپې تېرې شوې، خو زه بیا هم د مولوي صاحب له شهادته مفصل خبر نه شوم، یو مازدیګر د عبدالبصیر په نوم یوه مجاهد چې له موږ سره په وزیرستان کې پاتې شوی و او د نکې ولسوالۍ اوسېدونکی و، بنو ته په څه کار پسې راغلی و، تلیفون یې را وکړ، تر سلام او کلام وروسته مې د مولوي صاحب د شهادت په هکله پوښتنه ترې وکړه، هغه په لنډه راته وویل چې مولوي صاحب له میرانشاه ښار سره په ډنډه درپخېل سیمه کې د شپې له مخې د یوه ډرون په برید کې له ملګرو سره یو ځای شهید شو، د ملګرو لپاره یې تر ده کشر ورور بلال فاتح د خلیفه صاحب سراج الدین حقاني له لوري مسوول وټاکل شو.

عبدالبصیر غاړې تازه کړې، بیا یې په خبرو پیل وکړ:

د مجنون په نامه یو ملګری یې شدید زخمي شوی، هغه یې په قاچاقي لاره پېښور ته راوړی دی او تر علاج لاندې دی.

Download more from Libtoon.com

مجنـون د مولـوي سـنيگن شـخصي سـاتونکی او د لنـډ محمدخېلـو د داوړو لـه قبیلې څخـه و.

ما سمدستي ورته وويل:

د مجنون شمېره لرې؟

هو لرم يې!

شـمېره مـې تـرې واخيسـته او پـه دوکان کـې د مېـز پـر سـر مـې پـه کتابچـه کـې نـوټ کـړه.

ورپسې مې بصير ته وويل:

د مولوي صاحب د شهادت کوم تصوير لرې، چې غم لږ پرې سپک کړم؟

هو لرم يې!

ما زياته کړه:

دا تصويران به څنگه ما ته را ولېږې؟

بصيـر چې لـه انټرنيـټ سره نااشـنا و، ويـل چې څـوک درځـي ميمـوري کارټ تـه بـه يـې درتـه واچـوم او در و بـه يـې لېـږم!

ما ورغبرگه کړه:

نـه! نـه! يـو کار وکـړه، پـه بـازار کـې د نيـټ کاپـي تـه لاړ شـه، زه پـه ميسـج کـې ايميـل ادرس درتـه لېـږم، د نيـټ کاپـي مسـوول تـه فقـط هغـه Gmail ور ښـکاره کـړه او ورتـه ووايـه چـې دا تصويرونـه دغـه ادرس تـه ولېـږه.

بصير راسره ومنله او ټليفون يې بند کړ.

ما د ساده ټليفون له لارې په ميسج کې د بصير شمېرې ته خپل Gmail ولېږه.

لـه دې وروسـته مـې دسـتي مجنـون تـه زنـگ وواهـه، تـر يـو څـو زنگونـو وروسـته يـې اوچـت کـړ، تـر سـلام وروسـته مـې ځـان ور وپېژانـد او بيـا مـې د صحـت

Download more from Libtoon.com

پوښتنه تـرې وکـړه. د صحـت د ډاډ تـر راکولـو وروسـته زمـا پوښـتنه دا وه چـې د خبـرو لپـاره وخـت لـري، کـه نـه؟

مجنـون چـې پـه پیښـور کـې پـه یـوه روغتـون کـې بستر و او د خبـرو لپـاره نـږدې څـوک ورسـره نـه وو؛ نـو يـې راتـه وويـل:

هــو ولــې نــه، زه د خبــرې لپــاره څــوک نــه شــم پيــدا کــولای، ټولــه شــپه راســره غږېــږه.

مـا د مولـوي صاحـب پوښـتنه تـرې وکـړه چـې زه مسـافر يـم او هيـڅ پـر حقيقـت نه يـم پـوه شـوی، دا پيښـه څـه ډول وشـوه؟

بيا ما او مجنون د شپې تر ناوخته پورې خبرې سره کولې.

Download more from Libtoon.com

## سړی شهید شو

د شمالي وزیرستان د اسمان غبږه به تل له ډېرو د امریکا له بې‌پیلوټه انسانخوارو ډکه وه، درواغ به نه وي که ووایم چې په وزیرستان کې هر ګرځېدونکی وګړی د بې‌پیلوټه الوتکو په وسیله د امریکا تر څار لاندې و. هلته اکثره خلک هم خبر و چې پاکستاني چارواکو دغه بریدونه له امریکایانو سره په پټه منل او تنظیمول. د پروېز مشرف په وخت کې به د ګوتو په شمېر وو، خو چې د پیپل پارټي مشر اصف علي زرداري واک ته ورسېد، له امریکا سره یې د پردې تر شا د لاسلیکونو اوازې ډېر ژر دباندې راووتلې او عیني شواهدو هم همدا اوازې تاییدولې. ظاهراً به یې په رسنیو کې د شکایت روحیه لرله، خو په پټه به یې امریکا ته د بمبار په اجازه سربېره کوارديناټ هم ورکاوه.

په پکتیکا کې پر امریکایي عسکرو تر مرګونو بریدونو او د امریکایي عسکر برګډال تر نیولو وروسته په ۲۰۱۱ م کې د مولوي سنګین فاتح نوم د امریکا متحده ایالاتو د حکومت په تور لېست کې شامل شو، همدا وجه وه چې مولوي سنګین له لا زیاتو امنیتي تهدیدونو سره مخ و. د خلیفه سراج الدین حقاني تر څنګ د امارت ځینو نورو مهمو مشرانو پیغامونه ورته را واستول

Download more from Libtoon.com

چې نور باید خپل تنګ راتګ او له خلکو سره لیدنې محدودې کړي او ځان خوندي وساتي.

مولوي سنګین د خپلو مشرانو خبره هیڅکله پر ځمکه نه غورځوله، ځکه خو یې ځان د شمالي وزیرستان مرکز میرانشاه بازار په شمال لوېدیځ ډانډې درپه‌خېلو سیمه کې په خپل کور کې خوندي کړ، خپل مجاهدین ملګري یې د میرانشاه بازار په لوېدیځه څنډه کې درپه‌خېلو سرای کې په خپل یوه نظامي مرکز کې ځای پر ځای کړل، د ده مجاهدینو ملګرو به وخت پر وخت د ډانډې درپه‌خېلو په سیمه کې امنیتي ګزمې کولې چې په دې سیمه کې د جاسوسانو څار وکړي، هغه تر دې حده ځان محتاط کړ چې د خپلو مجاهدینو پیغامونه یې د لیک په ذریعه د خپل باوري رابط عمري په لاس تر لاسه کول او د لیکونو ځواب به یې بېرته په لیکلي ډول د عمري په لاس لېږل کېده، د اوسېدو ټول ځایونه یې لومړی جدول او بیا یې مستعار نومونه ورکړل چې په دې مستعارو نومونو به یوازې د ده باوري ساتونکي پوهېدل.

مولوي سنګین پوره اووه ورځې له کوره چېرته نه و تللی، د ۲۰۱۳ م کال د سپټمبر د میاشتې پر ٦ مه یې د خپلو باوري ساتونکو له جملې څخه له عارف الله مجنون سره رابطه وکړه او ورته و یې ویل چې سره له نورو ساتونکو کور ته راشه !

عارف الله مجنون د مولوي سنګین له لاربښوونې سره سم له پنځو ساتونکو سره یو ځای په دوو سپینو سراچه موټرو کې له خپل مرکزه د ډانډې درپه‌خېلو پر لوري روان شو. د ډانډې درپه‌خېلو خوړ ته په رسېدو د دوی یو موټر د خوړ په شګو کې ونښت، دوی زیاته هڅه وکړه چې په شګو کې بند موټر وباسي، خو بریالي نه شول، د دې لپاره چې وخت ضایع نه کړي دریو

Download more from Libtoon.com

ساتونکو اجمل مسید، جنت الله اخلاصیار او تاګل صادق د مولوي سنګین د کور پر لور حرکت وکړ او دوه ملګري همدلته په شګو کې بند موټر ته پاتې شول، شل دقیقې وروسته بېرته په داسې حال کې راوګرځېدل چې مولوي سنګین هم ورسره و.

مولوي سنګین په شګو کې د بند موټر په لیدو عارف الله مجنون ته وویل:

زه بازار ته ځم، د فریادي په مرکز کې ملګري راته منتظر دي.

مجنون ور وکتل، د مولوي سنګین څېره ارامه ښکارېده.

خان بادشاه فریادي د هغه یو له تکړه قوماندانانو ګڼل کېده، د خوست ولایت د تنیو ولسوالي اوسېدونکی و.

مولوي صاحب مجنون ته مخ را واړاوه:

تاسې ته له مرکزه بل موټر را لېږم، په هغه یې کش کړئ.

ـ سمه ده، مولوي صاحب!

له دې لنډې مکالمې وروسته مولوي سنګین په بېړه رخصت شو، یو ساتونکي یې د مخابرې په ذریعه نورو مجاهدینو ته وویل چې یو بل موټر راولئ او د ډانډې په خوړ کې په شګو کې بند موټر پرې کش کړئ.

کله چې دوی موټر له شګو وایست په موټر کې عوارض پیدا شوي وو، له جوړولو وروسته مجنون د فریادي مرکز ته راغی او هلته یې د مولوي سنګین پوښتنه وکړه، په مرکز کې مجاهدینو ورته وویل چې هغه خپل موقعیت بدل کړ، همدلته نږدې د سرفراز کور ته لاړ. مجنون د سرفراز کور ته ورغی، مېلمستون ته په ننوتلو یې ولیدل چې مولوي شمس الحق رفیق، فاروق، د تنې تې پي قوماندان قاري بشیر او محمد ځدراڼ له مولوي سنګین سره په بنډار لګیا دي، دوی ټولو د مازدیګر لمونځونه همدلته ادا کړل، د لمانځه

Download more from Libtoon.com

له اداکولو وروسته چې د مولوي سنګین مجلس هم له ملګرو سره پای ته رسېدلی و، دلته له ناستو کسانو یې رخصت واخیست او د شپې لپاره یې په دوو سپینو سراچه موټرو کې پر نامعلوم لور حرکت وکړ.
په مخکې موټر کې مولوي سنګین، نیکم الدین خنجري، تاګل صادق، جمال مسید او د مولوي سنګین موټروان جنت الله اخلاصیار روان و. په وروسته دویم موټر کې شېر نواب ایوبي، ذاهب الله کاروان، عبدالحمید هلال، اجمل مسید او موټروان عارف الله مجنون په دوی پسې شا ته روان وو، په وروسته موټر کې هیچا ته معلومات نه کېدل چې وړاندې بل موټر چېرته روان دی؟ کله چې موټر د غلام خان پر سړک ګړندي روان و ډانډې دریه‌خېلو ته په رسېدو مولوي سنګین په مخابره کې پر عارف الله مجنون غږ وکړ:
تاسې دلته د شپې د خوراك لپاره چرګان راواخلئ او بیا هغه لوړ ځای «د ګل موسی کور» ته راځئ!
مولوي ګل موسی خان چې په نصرت مشهور و، د پکتیکا ولایت د نکې ولسوالۍ اوسېدونکی و، د امارت له لوري د همدې ولایت د نظامي کمیسون مسوول هم پاتې شوی و.
عارف الله مجنون په درګه منډیې کې چرګان او نور د خوراك شیان راواخیستل او د ګل موسی د کور پر لور روان شو. د ماښام لمونځ یې د ګل موسی کور ته ورساوه، ټولو ملګرو همدلته د ګل موسی په مېلسمتون کې د ماښام لمونځونه د مولوي سنګین په امامت اداکړل، ګل موسی پخپله په کور کې نه و او د کورنۍ ځینې نور غړي یې هم نن په کلي کې د یوه افغان مهاجر واده ته تللي وو، په کور کې صرف د ګل موسی یو ورور پاتې و.
له مولوي سنګین سره راغلو ملګرو ټولو دلته یو ځای ډوډۍ وخوړه، د

Download more from Libtoon.com

ماخستن د لمانځـه لـه اداکولـو وروسـته د نـورو شـپو برخـلاف نـن پـر مولـوي سـنګين خـوب وختـي غلبـه وکـړه.

د اسمان لمـن هـم لـه ډرون الوتکـو پاکـه او ارامـه وه، يـوازې د يـوې ډرون بنګـن غږ و چې لـه غـوږو يـې پـر ماغـزو خولـه خښـوله. مولـوي صاحـب پـر ملګـرو غږ وکـړ:

ځملئ خوبونه وکړئ، نن له خوبونو خوند واخلئ چې اسمان ارام دی!

د سـاعت سـتنه د شـپې پـر نهـو بجـو برابـره وه. مولـوي سـنګين لـه خپلـو دوو سـاتونکو سـره دننـه د مېلمسـتون پـه کوټـه کـې ويـده و، عـارف اللـه مجنـون، جمـال مسيد او اجمـل مسـيد د مېلمسـتون د کوټـې د دېـوال تـر څنـګ پرېوتـل. تـاګل صـادق، جنـت اللـه اخلاصيـار او ځينـې نـور ملګـري له مېلمسـتونه څلوېښـت متـره لـرې تـر يـوه ونـه لانـدې ويـده شـول.

د شـپې تپـه تيـاره وه، دوی ټـول پـه درانـه خـوب ويـده وو. شـپه نيمايـي تـه رسـېدلې وه، هغـه بې‌پيلوټـه امريکايـي الوتکـه چـې تـر مازديګـره يـې د ښـکار لپـاره دمـه کـړې وه، لـه سـينې يـې پرله‌پسـې درې توغنـدي را خوشـې کـړل او پـه درنـګ شـېبه کـې يـې د مولـوي ګل موسـی لـه خاوريـن مېلمسـتونه غوټـه لمبـې پورتـه کـړې.

د لومـړي توغنـدي لـه لګېـدو سـره عـارف اللـه مجنـون د توغنـدي هـوا لـه خپـل ځايـه شـل متـره لـرې شـړلی و، هغـه پوهېـده چـې پـر دوی د بې‌پيلوټـه الوتکـې بريـد وشـو، خـو سـترګې يـې لـه خـاورو او لوګـي ډکـې وې هيـڅ يـې نـه شـوای ليـدای.

مجنـون چـې خپلـې سترګې پـه لاسـونو وموښـلې، د کوټـې خـوا تـه پـه زحمـت را ولاړ شـو. و يـې ليـدل چـې د مېلمسـتون کوټـه نـه شـته، پـوه شـو چـې ملګـري يـې

Download more from Libtoon.com

ټـول شـهيدان شـوي دي، ده پـه زخمـي حالـت کـې هڅـه کولـه چـې ځان مولـوي سـنګين تـه ورسـوي، مګـر يـو دم بېرتـه پـر ځمکـه را ولوېـد.

پښـو يـې سـخت درد کاوه، بـې پيلوټـه الوتکـه همداسـې پـه هـوا کـې تاوېـده راتاوېـده، امريکايـان هـم شـايد پـوه شـوي وو چـې د خپلـې الوتکـې سينه يـې د دښـمنانو د فهرسـت پـه يـوه مهـم سـړي يخـه کـړه.



Download more from Libtoon.com

ooo

نیم ساعت شاوخوا مجنون همدلته په زخمي حالت کې د مولوي سنګین په لټون سر و، تر دې دمه د دوی مرستې ته هیڅوك نه وو راغلي، مجنون به کله د ځان د زخمونو په کتلو لګیا شو، په زګېروي کې به یې په زړه ټول زور راووړ او په ژړغوني چیغه به یې وکړه:

مولوي صاحب! وه مولوي صااااحب!

د اجمل مسید غږ یې واورېد:

الله! ملا مې ماته ده!

د مجنون زګېروي په ژړا بدل شوي وو، و یې ویل:

د ټول امارت ملا ماته شوه!

اجمل هم پوه شو چې هغه شپه نن راغلې چې دوی یې دا ډېر وخت وېره لرله.

له بمباره څه وخت وروسته له لاندې کورونو یو سپین‌ږیری او یو ځوان د مرستې لپاره راورسېدل، بابا بې‌چاره حق حیران شهیدانو ته ولاړ و، ځوان د مجنون لور ته ورمنډه کړه چې اوس زخمي و، ځوان غوښتل زخمي خوندي ځای ته ورسوي.

مجنون د ځوان په لاسونو پسې لاسونه ونیول، پورته شو او په ډېر تکلیف یې

Download more from Libtoon.com

ځان د گل موسی د کور دروازې ته ورساوه، کور ته یې ور غږ کړ:
هلئ د خدای په خاطر دومره څه راوړئ چې خپل شهیدان پکې پټ کړو.
هلئ ژر راشئ! پر موږ قیامت دی!!!
په کور کې دننه د بمبار له وېرې تور سکوت و، سپړنه خوت، په لاندې کلي کې د واده له کوره خلکو د بمبار ځای ته منډې را وهلې او بیا ډېر ژر ژر د شهیدانو پر یو ځای کولو لگیا شول.
د کلي خلکو چې مجنون ولید، پوه شول چې دلته ضرور مولوي سنگین راغلی، ځکه مجنون په سیمه کې د مولوي سنگین د خاص ساتونکي شهرت درلود.
مجنون په زحمت د کلي خلکو ته په خبرو لگیا شو:
مولوي سنگین نه دی راغلی، حمله پر موږ وشوه...
مجنون غوښتل چې د مولوي سنگین پر شهادت باید کلی خبر نه شي، ځکه چې د هغه د شهادت په خبر به د مجاهدینو مورال کمزوری شي، مگر خلکو ځکه نه منله چې هغوی پوهېدل عارف الله د ده شخصي موټروان دی؛ نو چې عارف الله دلته و مولوي سنگین خامخا راغلی دی.
د کلي خلکو د ټپیانو لپاره خپل سراچه موټر راووست، عارف الله مجنون پر پښه لگېدلی و، د اجمل مسید ملا زخمي وه او د جمال مسید دواړه لاسونه خوږ شوي وو. درې واړه یې موټر ته پورته او د میرانشاه پر لور روان کړل.
رحیم الله عمري په ډانډې درپه‌خېلو کې د ډرون د توغندیو په غږ پسې له خوبه ویښ شوی و، د میرانشاه او غلام خان عمومي سړک ته په پښو راغلی و، غوښتل یې بمبار درک معلوم کړي چې پر چا شوی او شهیدان څوک دي؟

Download more from Libtoon.com

عمري د مخابرې له لارې زيات کوښښ وکړ چې د مولوي سنګين له ملګرو سره اړيکه ټينګه کړي، خو هيڅ نه بريالی کېده. د سړک پر سر هم په مخابره کې لګيا و چې له چا سره اړيکه ونيسي، په دې وخت کې يې د ټيپانو د موټر پر ځراغونو سترګې ولګېدې، ور نږدې شو. عمري موټر ته د سړک پر منځ ودرېده، د موټر د بريکونو د چيش پيش غږونه پورته شول، موټر د عمري مخ ته په ښوويېدو ور ورسېد، کله چې يې شيشې ته سر ور ښکاره کړ مجنون يې په وينو لړلی وليد، سمدلاسه يې چيغې کړې:

هله ژر کوه حال راته وايه، پوره تباه يو که نيم؟

مجنون په ژړغوني غږ ځواب ورکړ:

سړی شهيد شو!

Download more from Libtoon.com

○○○

د مجنون کیسه چې خلاصه شوه، شپه هم وروستۍ برخې ته نږدې شوې وه. ګنګس وم، خو بیا هم دا تفصیل هغه څه وو چې زړه مې غوښتل له ټکي ټکي یې خبر شم.

پرېوتم، تر ډېره خوب نه راته، رنګارنګ تصویرونه مې تر سترګو تاوېدل. په سعودي کې ژوند نور هم سخت راته ښکاره شو.

په سبا مې هم وضعیت خراب و، د مجاهدینو ملګرو یادګارونو به زیات ځورولم، فکر به مې کاوه چې مولوي صاحب خو د مجاهدینو لپاره د یوې مور حیثیت درلود، نه پوهېږم چې اوس به د ملګرو وضعیت څه ډول وي، وخت ناوخت به فاروق او یا نورو ملګرو تلیفونونه راکول، د هغوی له خولو به هم د ډاډګېرنې پر ځای د نهیلي توري راوتل:

ته هلته څه کوې؟ خپل وطن ته راشه! د عربو مزدوري به دې ژوند هیڅ وخت جوړ نه کړي، راشه په خپل وطن کې به خدای یو ګوله رزق در رسوي.

زړه مې له سفر ډېر ستړی شوی و، رخصتۍ ته مې ګوتې شمېرلې چې ژر د حج فریضه ادا کړم او نور وطن ته روان شم. پټیلې مې وه چې بیا به هیڅ د سعودي مخ هم نه ګورم. دا پرېکړه پټه وه، ورور مې نه خبراوه، هغه ته به

Download more from Libtoon.com

مې د ډاډ خبرې کولې، یوه ورځ مې ورته وویل چې له رخصتۍ بېرته راستون شم، دا ځل به دوکان لرې لویوو چې د کور لپاره پیسې زیاتې وګټو. دا ډول به مې نورې داسې خبرې ورته کولې چې ګواکې بیا راځم. وروروبه مې هم ډاډمن و چې د سړي له سره د جهاد سوچونه الوتي دي.

څه موده تېره شوه، بالاخره د حج شپې را ورسېدې او مکې مکرمې ته روان شوم.

په مکه کې مې د ماښام لمونځ وکړ، وروسته مې خدای ته لاسونه لپه کړل:

اې لویه ربه! ته مې پر زړه قادر یې، زه وطن ته روان یم او هغه هم د دې لپاره چې له خپلو مجاهدینو سره یو ځای شم. تا ته دا سوال کوم چې په دغه لاره کې غلط استعمال نه شم، فقط او فقط د خپل دین د سرلوړي او د وطن د ازادۍ په لاره کې دې قرباني شم. آمین!

ما دا تشویش هم درلود چې خدای مه کړه بیا مې څوک سعودي ته د تجارت لپاره را غلط نه کړي. په مکه مکرمه کې مې له ځان سره قسم وکړ چې زه به بېرته سعودي ته تر هغې د تجارت لپاره نه راځم چې څو مو وطن ازاد شوی نه وي.

په حج کې مې دوولس ورځې تېرې شوې، کله چې بېرته خپل ځای البدع ته راغلم، وطن ته د تګ تیاری مې بشپړ کړ، وحید هم په کابل کې خپل کور ته تللی و، دا چې ما هم د ورور په غوښتنه په پاکستاني پاسپورټ کې د شپږو میاشتو لپاره د افغانستان وېزه ولګوله؛ نو مې د کابل ټکټ هم وکړ.

ورور مې ځکه د افغانستان د وېزې او ټکټ ټینګار راته کاوه چې که پر اسلام‌اباد لاړ شم، شاید په وزیرستان کې پاتې او بېرته د مجاهدینو د لیکو سړی شم.

له وحید سره مې په تلیفون خبرې وکړې، تاریخ مې ورکړ چې په دې ورځ او دغو بجو زه په کابل کې کښته کېږم چې زما لپاره تیار په هوایي میدان

Download more from Libtoon.com

کې له موټر سره ولاړ يې، له کابله په ايستلو کې به همکاري راسره وکړې.
وحيد په خوشاله غږ وويل:
تا دې خدای راولي، هيڅ شي ته به تشويش نه کوې، زه به په هوايي ميدان کې پر همدې تاريخ او ساعت انتظار يم.
بالاخره هغه ورځ را ورسېده چې د سعودي د تبوک له هوايي ميدانه د دوبۍ په الوتکه کې او بيا له هغه ځايه د قطر په الوتکه کې کابل ته را والوتلو، الوتکه په کابل کې ماښام داسې مهال کښناسته چې اووه بجې وې. ما ته د کابل هوايي ډګر تر هغه ډېر خوار ښکاره شو چې ما يې فکر کړی و. له ځان سره مې ډېره خوا بده شوه، د عربي ملکونو او پاکستان هوايي ډګرونه هم تر موږ په ښه معيار جوړ شوي وو.
مسافرو له الوتکې خپل بکسونه را خيستي وو او د دخل لګولو مهر ته په لاين کې ولاړ وو، ما يو څه ډار هم درلود، تشويش مې و چې چا زما راپور پوليسو يا استخباراتو ته نه وي ورکړی، بالاخره مې د ټاپې لګولو نوبت را ورسېد، پاسپورټ مې مسوول ته پر مېز کېښود، سترګې يې پکې وګنډلې او بيا يې ټاپه کړ، وروسته يې پاسپورټ تر څنګ ولاړ په شخصي لباس کې کس ته ورکړ او زه يې تر لاس ونيولم يوه ګوښي ځای ته يې روان کړم، زما زړه ولوېد، کله چې يې يوه اطاق ته داخل کړم، هلته مې وکتل چې نور کسان يې هم راوستلي او له هغوی سره هم پاکستاني پاسپورټونه دي، د زړه درزا مې کمه شوه او سر مې خلاص شو چې مساله زما نه، د پاسپورټ ده.
په اطاق کې له راټولو کسانو مې وپوښتل چې دا يې دلته د څه لپاره راوستلو؟
د ناستو کسانو له منځه يوه پاخه سړي ووېل:
ـ کومه خبره نه شته، هسې ځانونه مطمين کوي چې دا کسان څوک دي؟

Download more from Libtoon.com

ټولو په چوپتیا ور کتل، هیڅا هم تایید نه کړه.

وروسته دوه نفره راغلل او پوښتنې یې شروع کړې، دا چې ټول پاکستاني پاسپورټ لروونکي افغانان وو، پاکه خبره مو ورته وکړه چې زموږ پاسپورټونه ځکه پاکستاني دي چې سعودي په افغاني پاسپورټونو افغانانو ته ویزې نه ورکوي؛ نو موږ دا پاسپورټونه په پاکستان کې په پیسو جوړ کړي او د همدې تحقیق په پایله کې یې ټول را پرېښودو.

موږ چې دباندې راوتلو د نورو مسافرو په پرتله پر موږ زیات وخت وتلی و، زموږ د الوتکې ټول مسافر له هوایي میدانه وتلي وو، وحید ډېر په تشویش کې شوی و، خو بیا یې هم همت له لاسه نه و ورکړی همداسې په هوایي ډګر کې منتظر و، زما په ور رسېدو یې ټینګه غېږه راکړه، په سترګو مه شې کې یې راته وویل چې دې ته نه وم خپه چې ته یې رانه ونیولې، خوا مې دې ته بده وه چې بیا به مې طالبان نه پرېږدي، وایي به چې زموږ سړی یې په ډالرو خرڅ کړ.

ما وخندل او ورته ومې ویل چې طالبان په تا پسې دومره ژر کابل ته نه شي را رسېدلای، په کیسه کې یې مه کېږه.

د کابل له هوایي میدانه ما او وحید ګډ د ده په تورې ډوله خړ رنګه موټر کې حرکت وکړ، ما کوښښ کاوه چې په همدې شپه ما د خوست د موټرو تم ځای ته ورسوي او په شپه کې کور ته ورسېږم، مګر وحید قسم وکړ، ویل شپه دې دلې ده. وحید زورور ملګری و، ناز یې پر ما ډېر اثر کاوه، ورسره هو مې کړه، د وحید کور د کابل په کارته نو کې و.

د دوی کور ته پر لاره د غرونو د کورونو څراغونو زما په زړه کې تر ډېره خپله تصویرونه تازه ساتلي وو.

دا مې په ژوند کې لومړۍ شپه وه چې د کابل په غېږ کې مې سهار کړه.

Download more from Libtoon.com

## له کابله خوست ته

وحید سهار نهه بجې د خوست اډې تـه ورسـولم، یوه سپینه سراچه مې سپېشـل خوست تـه ونیـوه، موټـروان یـې د پکتیا منـګل و.
موټـر حرکـت وکـړ، ساعت تـه مـې وکتـل، د څاښـت لـس بجې وې. پـه لاره کې موټـروان زمـا تـر لنـډو خبرو وروسـته پوښـتنې شـروع کـړې:
نـو تـه چې لـه دومـره اوږدې مسافرۍ او لـه حـج مبـارک څخـه تـازه راغلـی یـې، ولـې دې خپـل خپلـوان مخـې تـه نـه دي راغلـي؟؟
دې ته ورته ګڼې نورې پوښتنې یې هم لرلې.
مـا کـه څـه هـم ډیـرې بهانـې وکـړې، خـو منـګل سـرخوږي نـه پرېښـودم، ټینـګ و چې علـت را وښـیه.
تر ډېر ټینګار وروسته مې ورته وویل چې شخصي دښمني لرم!
دا چې منـګل پـه خوسـت کـې د یـوه غیرتـي قـوم لـه غـړو دي؛ نـو سـړی مطلق پـر دې ودرېـده چـې زه خپلـو خپلوانـو تـه تلیفـون کـوم او موټـر را غـواړم چـې بدرګـه دې کـور تـه ورسـوو! هیـڅ نـر بـه پیـدا نـه شـي چـې تـا تـه دې څـوک پـه بـده سـترګه وګـوري.
مـا پـه ډېـرو زاریـو ځـان تـرې خـلاص کـړ او اخېـر مـې پـر دې قانـع کـړ او چـې

Download more from Libtoon.com

نن خو به تاسې راسره وئ، سبا مې بیا نه پرېږدي، اصلاً زه له خپل راتګه دښمنان نه خبروم، ستا که پر ما زړه دېر خوږېږي، پرې مې ږده چې دا شپږ میاشتې سفر په ارام تېر کړم.

بالاخره خدای موټروان ته په زړه کې د قناعت څرک ور تېر کړ.

موږ لاره په څلورو ساعتونو کې لنډه کړه، د احتیاط له امله مې ډرېور پر دې قانع کړ چې زه په خوست بازار کې بل موټر ته بدلېږم، هغه به مې کور ته ورسوي. منګل دلته هم ټینګ شو چې زه دې رسوم، خو خبره مې ورسره و نه منله، په بازار کې تري بلې سپین‌رنګې سراچې ته ور وختلم، د تنیو پر سړک مې د مردیخېلو کلي خوا ته مزل پیل کړ، شاوخوا پنځلس دقیقې وروسته کور ته ورسېدم.

Download more from Libtoon.com

# په کور کې

کورنۍ له ډېره وخته راته تږې وه. ما په سعودي کې پوره دوه کاله مسافري کړې وه، تر دې مخکې کال شاوخوا د وزيرستان په تيارو کې ورک وم. د کور ماشومان ټول رابانـدې را غونډ وو، له سعودي چې مې خپلوانو ته هر څه راوړي وو، ډېر په ورين تندي يې رانه قبلول. د دوی لپاره ډالۍ مهمې نه وې، ټولو زما په راتګ سترګې يخولې، زه چې دوی په ورکو کې شمېرلی وم، اوس بېرته پيدا شوی وم.

هيڅوک نه پوهېدل چې د سړي د زړه په لوړو ژورو کې داسې يوه هوا چلېږي چې هره شېبه يې له ځان سره وړلای شي.

کور ته پر راتګ مې خپلوان هيڅ نه دي خبر کړي، د کورنۍ غړيو هم ماشومان په دې وېرولي وو چې که مو بهر چا ته خبره وکړه چې له سعودي راغلی؛ نو سمدستي کفار او يا د هغوی ملګري پر کور چاپه را اچوي، دی به يوسي او تاسې به ټول ووژني. وېرېدلو ماشومانو بهر خولې پټې نيولې وې.

ما په کور کې پنځلس شپې وکړې، په دې شپو ورځو کې دبانـدې ډېر نه وتلم، کله کله به بازار ته لاړم، خو له کوم ملګري سره مې نه ليدل.

د ۲۰۱۳ کال د نومبر ۱۱مه وه، د خور خاوند مې نيرمارګل چې زما نږدې ملګری

Download more from Libtoon.com

و، لـه پکتیـکا زېړوک ولسوالي څخه زمـوږ کره راغلـی و، دا چې نیر مـارګل ډېر راته ګران و؛ نـو مـې ځـان تـرې پټ نـه کړ، د شـپې حجـرې تـه ور ووتلـم، زما پـه لیدلو زیـات خوشـاله شـو، مـا د خپـل پلارني کلـي مالومات تـرې کول چې څه حـال دی، د حجـرې پـه کونـج کـې تلوېزیـون هـم چـالان و، خـو اوس رانـه هېـر دي چې کوم چینـل و، ماښـامني خبرونـه پکـې خپرېـدل، دا د ۲۰۱۳ کال د نومبر ۱۱مـه وه، موږ په خپـل منـځ کـې په خبـرو بوخـت و چې ویانـد وویل:

د حقاني شبکې مهم غړی نصیرالدین حقاني ووژل شو!

مـا سمدسـتي تلوېزیـون تـه وکتـل، پـر سـکرین یـې د مولـوي جـلال الدیـن حقانـي عکـس را ښـکاره شـو، خبـر تـه متوجـه شـوم، خبریـال پـه تفصیـل کـې وویـل:

«نصیرالدیـن حقانـي پـرون د یکشـنبې پـر ورځ د نـا ځرګنـدو وسـلهوالو لـه خـوا د پاکسـتان پـه پلازمېنـه اسـلام‌اباد کـې پـه خپـل موټـر کـې ویشـتل شـوی دی.

د حقانـي شـبکې د مالـي چـارو مشـر نصیرالدیـن حقانـي پـه اسـلام‌اباد کـې ویشـتل شـوی او وژل شـوی دی.»

زمـا سـترګې پـه تلوېـزون کـې مېـخ شـوې وې، خولـه مـې خلاصـه وه، خبریـال زیاتـه کـړه:

نصیرالدین حقاني د جلال الدین حقاني زوی دی.

تـر خبریـال وروسـته د افغانسـتان د ملي امنیـت د ادارې یـوه چارواکي هـم دا راپـور تاییـد کړ.

ـ راپورونـه وایـي چـې د نصیـر الدیـن حقانـي مـړی د شـمالي وزیرسـتان پـه مرکـز میرانشـاه کـې خـاورو تـه وسـپارل شـو. د پاکسـتان د سیاسـي چـارو کارپوهـان وایي، چـې د مـلا فضـل اللـه تـر مشـر کېـدو وروسـته د نصیرالدیـن حقانـي وژنـه بـه د پاکسـتان لپـاره سـتونزې لا زیاتـې کـړي.

Download more from Libtoon.com

د سیاسـي او دفاعـي چـارو کارپـوه متقاعـد پوځـي محمـود شـاه لـه مشـال راډیـو سره پـه خبـرو کـې وویـل، چـې دا د پاکسـتان لپـاره ډېـره بدنامـی خبـره ده، چـې د حقانـي شـبکې د ډلـې مهـم غـړی دې پـه اسـلام‌اباد کـې ووژل شـي:

"لومـړی خبـره خـو دا ده، چـې ده پـه اسـلام اباد کـې څـهٔ کـول؟ زمـوږ خـو خپلـه دا انـدازه چـې حقانـي نیټـورک پـه شـمالي وزیرسـتان کې شـته او هغـه هـم د افغانسـتان پولـې تـه نـږدې او پـه پکتیـا، پکتیـکا او خوسـت کـې عمـل کـوي؛ نـو دا چـې پـه اسـلام‌اباد کـې و، دا خـو د پاکسـتان لپـاره ډېـره د شـرم خبـره ده. حکیـم اللـه مسـود سـره چـې د سـولې خبـرې روانـې وې، هغـه پـه ډرون حملـه کـې وژل شـوی دی، دا یـوه مسـاله پاکسـتان تـه جـوړه شـوې ده او دا اوس پـه دې وخـت کـې چـې دا بلـه مسـاله جـوړه شـوه، نـو دا د پاکسـتان لپـاره د بدنامـی یـو سـبب دی او زمـا پـه خیـال پـه دې کـې د پاکسـتان قصـور هـم شـته."

تر دې وروسته بیا خبریالان چالان شو:

د پخوانـي جهـادي قومانـدان جـلال الدیـن حقانـي او سـراج الدیـن حقانـي پـه مشـری د حقانـي شـبکې وسـله‌وال د افغانسـتان پولـې تـه څېرمـه پـه شـمالي وزیرسـتان کـې ځـای پـر ځـای دي او لـه هغـه ځایـه پـه افغانسـتان کـې پـر مېشـتو بهرنیـو ځواکونـو او افغـان سـرتېرو خونـړي بریدونـه کـوي.

حقاني شبکه همداراز د ډله ییزو ځانمرګي بریدونو مخکښه ډله انګېرل کېږي.

یـاده دې وي چـې د پاکسـتان امنیتي ادارو لا تـر دې دمـه د نصیرالدیـن حقانـي د وژنـې د خبـر تردیـد یـا تصدیـق نـه دی کـړی.

د امریـکا متحـدو ایالاتـو درې کالـه مخکې نصیرالدیـن حقانـي او دوه نـور افغانـان د نړیوالـو ترهګـرو پـه نوملـړ یـا لیسـټ کـې شـامل کـړي وو.

امریـکا د حقانـي شـبکه یـوه ترهګـر ډلـه ګڼـي او وایـي چـې پـه افغانسـتان کـې پـه

Download more from Libtoon.com

لویو حملو کې لاس لري.
د حقاني شبکې مشري اوس د جلال الدین حقاني یو بل زوی سراج الدین حقاني کوي.»
د خبر په پای کې مې سوړ اسوېلی وایست، لږ غلی شوم او فکر مې کاوه چې دا څنګه کال دی چې د سر سړي یې رانه یووړل او د ملګرو حوصلې یې را صفر کړې...
په همدې فکرونو کې وم چې ناڅاپه مې ذهن ته د شهید نصیر الدین حقاني په لاس ډالۍ شوی ټوپک ذهن ته راغی، له ځان سره مې وویل چې زما ټوپک به چېرې وي؟
ژر را ولاړ شوم، د نیرمارګل غږ مې واورېد:
چېرته ځې خیر خو دی؟
-هو ژر راځم!
له مېلمستونه کور ته لاړم، سیده د مور کوټې ته ورغلم، هلته مې مور له ماشومانو سره ناسته وه، ما کوټې ته په ور ننوتلو یوه او بله خوا وکتل، بیا مې مور ته وویل:
هغه زما ټوپک چېرې دی؟
مور مې سمدستي را ولاړه شوه:
ولې، ولې څه وشول؟
-هیڅ نه دي شوي مورې، هسې مې ذهن ته راغی...
مور مې خبرې ته څیر وه، و یې ویل:
نه نه څه شوي؟ او په دې توره شپه ټوپک څه کوې؟
مجبور شوم، و مې ویل:

Download more from Libtoon.com

همدا اوس یې په تلویزیون کې وویل چې نصیر الدین حقاني شهید شوی دی، ځکه مې د ده ډالې را یاده شوه!
مور مې ځای پر ځای کېناستله او فقط دا لفظ مې یې واورېده:
واخ اوس به یې مور څه کوي؟
زه هم دې جملې سخت خپه کړم او همدلته د مور په کوټه کې پر کټ کېناستلم، ګرمې اوښکې مې پر مخ روانې شوې، د ډاکټر صاحب یادګارونه مې ذهن ته راغلل چې څنګه یې زه تر لاس نیولی د شمل پر غاړه ګرځولم او څه ډول به یې زه په مخابره کې له خلکو سره غږولم.
زه په همدې فکرونو کې وم چې د مور ژړغوني غږ مې غوږونه وبوږنول:
زویه هغه ټوپک عسکرو وړی دی!
ما یو دم اوښکې پاکې کړې او ورته ومې ویل:
کله او څنګه یې وړی؟
- یو کال مخکې دلته پر سړک ماین وچاودېده، عسکر تالاشي ته راغلل او هغه ستا له ټوپک سره یې زموږ د کور دوه دانې نور ټوپکونه هم یووړل، بیا دې پلار ډېر کوښښ وکړ، خو د خوست په قوماندانۍ کې محمدزمان نومېده که څه نومېده، هغه واپس نه کړ او ټوپکان یې ټول ونیول.
ما هم بېرته له غوسې په دې فکر را وګرځاوه چې ان شاءالله وخت به راځي او له دې محمد زمانه به پوښتنه ضرور کوم، د یوې یوې مرمۍ حساب به راکوي.

Download more from Libtoon.com

## د ډاکټر نصيرالدين شهادت

د ډاکټر صاحب نصير الدين حقاني بيا ليدل مې ارمان و، ځکه په ډېر ماشومتوب کې مې ليدلی و، بې کچې مينه مې پرې راغلې وه، خو په خوست کې چې زموږ له کوره رخصت شو، بيا مې هيڅ و نه ليد.

ډاکټر صاحب تر خليفه سراج الدين حقاني مشر او د مرحوم حاجي صاحب جلال الدين حقاني سياسي استازی هم و، جلال الدين حقاني د امارت په رهبري شوراکې عضويت درلود چې د ناروغۍ په وخت کې به يې په شوراکې په استازيتوب يا خليفه سراج الدين حقاني او يا ډاکټر نصير الدين برخه اخيستله، خو په دې وختونو کې خليفه صاحب امريکايانو ته ډېر مطلوب شوی و او هم مشر حقاني صاحب ناروغ و.

دا وخت به اکثره ډاکټر صاحب په رهبري شوراکې ګډون کاوه، د دې تر څنګ به يې د حقاني صاحب تجاري معاملات، د زخميانو علاج او همدا ډول خارجي سفرونه لکه کويټ، دوبۍ، سعودي او قطر ته کول، که څه هم په دې وروستيو کې ډاکټر صاحب هم د امريکايانو په تور ليسټ کې اچول شوی و، خو زيات خطر يې ځکه نه محسوساوه چې د ده فعاليت تر ډېره سياسي رنګ درلود او د اسلام‌اباد په باراکو سيمه کې يې د کرايې کور پيدا کړی وچې له هغه ځايه خپلو

Download more from Libtoon.com

مسوولیتونو ته په اسانه لاسرسی ولري.
ډاکټر صاحب ته په دې ورځو کې خلیفه صاحب ویلي هم هم وو چې احتیاط کوه، ځان محفوظ ساته، امریکایان ستا د وژلو پلان لري، ځکه خلیفه صاحب ته له ډېرو منابعو دا خبر را رسېدلی و چې امریکایان د ډاکټر نصیر الدین د وژلو په تکل کې دي. همدا شان د خلیفه صاحب ماما چې امریکایانو نیولی و او د ده د ملاقات لپاره به د ده زامن وخت په وخت د انټرنیټ له لارې له پېښوره ورسره غږېدل، حاجي مالي خان خپل بچي ته په خپل کورني شفر کې یادونه کړې وه چې ډاکټر صاحب د امریکایانو ټارګیټ شوی، ځان دې ساتي.
مالي خان خپل بچي ته په خپل کلي کې د یو سور رنګي سړي نوم اخیستی و چې هغه سور سړی پر ډاکټر صاحب سلامونه وايي، مانا یې دا وه چې امریکایان د ډاکټر صاحب د وژلو پلان لري، مالي خان حاجي صاحب دا خبره د شهید بدرالدین حقاني له شهادته څو ورځې مخکې هم خپل بچي ته د انټرنیټ له لارې د ملاقات پر مهال کړې وه، تر هغې توصیې بیا څو ورځې وروسته بدرالدین حقاني چې هغه وخت د فدایانو د کاروان «بدري لښکر» مسوول و، د میرانشاه له بازار سره نږدې د غره په لمن کې د فدایانو د تربیت پر مهال له څو فدیانو سره یو ځای د ډرون د خونخوار بمبار ښکار او ځای پر ځای شهید شو.
د امریکایانو له خوا د ډاکټر صاحب د وژلو د پلان جزئیات نه وو، خو تر ډېره فکر دا کېده چې پر ډاکټر صاحب وزیرستان ته د سفر پر وخت ډرون حمله کېږي، ډاکټر صاحب تر ډېره حده وزیرستان ته سفرونه محدود کړل، خو د دښمن سترګه د یوې بلې کوڅې له لارې ورته برابره شوې وه.
د ډاکټر صاحب نصیر الدین حقاني ادې اسلام‌اباد ته د ده کور ته د تداوي لپاره راغلې وه، ډاکټر صاحب نن شپه همدا کوښښ کاوه چې شپه کور ته ورسوي او

Download more from Libtoon.com

له خپلې مور سره خبرې او مجلس وکړي، خو وار له مخه يې کور ته ټليفون وکړ چې له بازاره څه په کار دي چې را يې وړم؟
له کوره ورته ويل شوي وو چې د ماښام لپاره د کور تر څنګ له نانوايي وچه ډوډۍ را واخلي.
ډاکټر صاحب به اکثره وخت له همدې نانوايي ډوډۍ را اخيسته، ځکه چې دا د يوه پښتانه وه، ډوډۍ يې هم ډېره برابره وه، ډاکټر صاحب په دې سيمه کې هيچا نه پېژاند چې دا د جلال الدين حقاني مشر زوی او سياسي استازی دی، دلته په سيمه کې د افضل خان په نوم مشهور و، خو دا چې د امريکايانو تر جدي تعقيب لاندې و همدلته د مسلسلې ډوډۍ را اخيستلو له امله يې کشف کړی و.
يو ډرېور به هم ورسره و چې هغه به په دې ورځ په رخصتۍ تللی و، خو خپل شخصي ګارډ «منصور» چې له نږدې خپلوانو يې و، هم په موټر کې ورسره و.
له منصور سره به نورې ورځې يو توپانچه وه چې د ګرځولو جواز يې درلود، خو په دې ورځ يې ځکه کور پرېښې وه چې دا په ۲۰۱۳م کال کې د هجري قمري حساب له مخې د محرم لسمه وه، په دې ورځو کې د پاکستان حکومت د وسلې پر ګرځولو کلک بنديز لګولی وي، ځکه چې د اهل تشيع ځانګړي مذهبي مراسم روان وي.
ډاکټر صاحب د نانوايي تر مخ موټر ودراوه، د ډوډۍ د راخيستلو په نيت ور روان شو چې تر شا يې يو موټرسايکل په داسې حال کې ګړندی پسې ورغی چې دوه نفره پرې سپاره او مخونه يې په رومالونو پټ کړي وو.
موټرسايکل د ډاکټر صاحب د موټر تر شا ودرېد، يو نفر ترې راکښته شو او د خپل ټوپک خوله يې د يوه بزدله دښمن په څېر په ډاکټر صاحب پسې تر شا ونيوله او ورته په زخه شو، وار له مخه يې مرمۍ ور تېره کړې وه، ځکه خو يې

Download more from Libtoon.com

چې ځنګه پر ماشه ګوته را ټینګه کړه، په یوه اوږده ضربه یې د ډاکټر صاحب نصیرالدین پر ملا خونخوارې مرمۍ ور پرېښودلې، د مرمیو زور د غرونو په څېر دنګه ځواني پړمخې غوځاره کړه، دا چې دښمن د ټوپک د زور نه و او خوله یې یو څه ترې کړه شوه، څو مرمۍ مخامخ لاړې او په نانوایي کې یې یو بل دنګ پښتون ځوان هم را وغورځاوه.

وېشتونکي په موټر کې په ناست منصور پسې هم مخ را وګرځاوه، خو داسې ښکارېده چې مرمۍ ور ختمې شوې وې، وېشتونکي په منډه خپل موټرسایکل ته ځان ورساوه او په شاګړندي روان شول.

منصور له موټره را منډه کړه، غوښتل یې چې ډاکټر صاحب له خاورو را پورته کړي، د ډاکټر صاحب پلن او د چنار په شان لوړ قد د دې نه و چې یو کس دې یې په یوازې ځان را پورته کړي، منصور مجبور شو چې په خاورو کې ورته کېني، د ډاکټر صاحب سر په خپله غېږه کې کېږدي او سینې ته یې غوږ ور ټیټ کړي چې ژوندی دی او که شهید شوی؟

داسې ښکاره شوه چې د ډاکټر صاحب وروستۍ شېبې وې او د شهادت کلمه یې غلې غلې تکراروله.

منصور چې یې سر را پورته کړ، د بازار خلک ورته را ټول شوي وو، چا نارې وهلې چې روغتون ته یې وړو او چا یې د قاتلانو د نیولو باتې ویشتې، د یو کس موبایل په لاس کې و، غوښتل یې چې له دې صحنې ویډیو وکړي چې د منصور ور پام شول. سمدستي یې موبایل ته لاس ور واچاوه، دا چې کس څوک و هیڅ معلومات و نه شول، خو پر وخت یې له سیمې پښې سپکې کړې.

څو ځوانان راغلل ډاکټر صاحب یې له لاسونو او پښو ونیو را پورته او خپل موټر ته یې جګ کړ، خو موټر ته تر اوچتولو مخکې یې خپل روح حق ته سپارلی و.

Download more from Libtoon.com

○○○

د ډاکټر صاحب جسد په همدې شپه وزیرستان ته انتقال شو او د میرانشاه له بازار سره نږدې د غره په لمن کې د شهیدانو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.
نظامي مجاهدینو ته دنده وسپارل شوه چې د ډاکټر صاحب د وژنې مسوولان پیدا او له منځه یوسي، د دغو مجاهدینو د زیاتو کوښښونو او کشفي معلوماتو له مخې څه وخت وروسته یو شمېر مشکوک کسان ونیول شول او له دوی د تحقیقاتو پر مهال واضح شوه چې د ډاکټر صاحب په شهادت کې د بېلابېلو کړیو لاس و، د وژلو اصلي طراحان یې امریکایان وو او پلان د دوی له خوا د افغانستان د ملي امنیت مشر رحمت الله نبیل ته سپارل شوی و، بیا د هغه له طریقه د پاکستان د حکومتي چارواکو په شمول بېلابېل کسان په دې قضیه کې لوبول شوي وو او همدا ډول پخپله رحمت الله نبیل هم په بېلابېلو مجلسونو کې د ډاکټر صاحب په وژنه افتخار کړی و او د ژوند یوه لویه لاس ته راوړنه یې بللې وه.
د ډاکټر صاحب شهادت رښتیا هم د ختیځ د مجاهدینو لپاره هم د اقتصادي او هم د سیاسي اړیکو په برخه کې درونډ تمام شو.

Download more from Libtoon.com

ooo

د سعودي لـه سـختي او ستړې مسافري وروسـته مـې پـه کـور کـې شـپې يـو څـه ارامـې وې، يـو څـو ورځـې مـې نيرمـارګل هـم همدلتـه راسـره تـم کـړ، د شـپې بـه مـو تـر ډېـره ګپـې سـره کولـې او سـهار تـه بـه دواړه پـه داسـې حـال کـې بـازار تـه ووتلـو چـې مـا بـه يـو څـه مخ پـټ کـړی و او لبـاس مـې بـدل و چـې څـوک مـې و نـه پيژنـي.

مـا بـازار تـه لـه نيرمـارګل سـره يـو ځـای د تـګ راتـګ عـادت خپـل کـړ، دواړه بـه سـهار بـازار تـه وتلـو او پـه دې ورځـو کـې مـې لـږ ډار هـم ورک شـوی و، لـه يـو نيـم دوسـت سـره بـه هـم مخامـخ شـوم.

يـوه ورځ مـې د خوسـت بـازار اړونـد د لرګيـو پـه منډيـې کـې زمـوږ د نـږدې خپلوانو د نجـاري پـه دوکانونـو کـې چـای څښـه، پـه دې ورځ د خپلوانـو مجلـس زيـات خونـد راکـړ، پـه دويمـه ورځ هـم همـدې ځـای تـه لاړم بيـا مـو هـم لـه مجلسـه خونـد واخيسـت، خـو پـه دريمـه ورځ چـې د دوکانونـو تـر مـخ پـه دروازه کـې د لرګيـو پـه کټونـو کـې مـوږ چـای تـه ناسـت وو، زمـا نظـر د معمـول لـه مخـې عـام سـړک تـه و، پـر يـوه کـرولا ډولـه موټـر مـې سـترګې خښـې شـوې چـې مـوږ تـه پـه رسـېدو لـږ سـوکه شـو او پکـې ناسـت پـه وسـلو سـمبال ځوانـان مـې پکـې وليـدل

Download more from Libtoon.com

چې ما ته په ځير ځير ګوري، کله چې له موږ سره په خوا کې د لرګيو تر ټال پنا شوه؛ نو پوه شوم چې ودرېده.

زه هم چمتو شوم، د دروازې غرب مې يې تر غوږ شو، ما هم تېښتې ته ځان ځکه برابر کړ چې هيڅ وسله راسره نه وه، و مې ليدل چې يو کس غلی د لرګيو له ټاله زموږ خوا ته راښکاره شو او زه يې وکتلم، کله مې چې کس وليد و مې پېژاند.

دغه سړي زموږ يو ملګری په دې تور نيولی و چې د ده د زوی کرولا موټر ته يې مقناطيسي ماين ايښود، بيا هماغه وو چې موږ يې له وېرې وزيرستان ته فرار وکړ.

را روان کس چې زه وپېژندلم، لږ يې نظر په ماکې خښ کړ او ما داسې ورته ښکاره کړه چې سترګې مې ترې اړولې او هيڅ مې ورته پام نه دی.

څنګه چې يې بېرته موټر ته حرکت وکړ، پوه شوم چې په موټر کې ناستو ځوانانو ته مې ور په ګوته کوي چې و مې وژني؛ نو راسره ناست کسان مې پوه کړل چې ما ته مشکل پېښ شو، لاړم. دوی زما له مشکلاتو خبر وو، غلي شول. زه سمدستي د دوکان پر جوخته کوڅه په ګړنديو ګامونو ننوتم او د لرګيو په لويه منډيي کې ورک شوم.

په غلطو او کږو وږو لارو مې ځان يوې څنډې ته ورساوه او د کابل پر لوري غځېدلې لارې ته برابر شوم. پر سړک مې يو سراچه موټر تر مردیخېلو ځانګړی ونيو.

پر لار هره دقيقه راته ساعت شوه، خو دا چې زموږ کلي ته له بازار مزل زيات نه و، ډېر ژر کور ته ورسېدم.

کور ته په ننوتلو مې نيرمارګل ته تليفون وکړ او ورته کړه مې چې نن شپه

Download more from Libtoon.com

زموږ کره مه راځه، خدای مه کړه که کوم مشکل جوړ شي چې تا ته څه تکلیف و نه رسېږي. نیر مارګل همداسې وکړل، خو په تلیفون کې مې دا پوښتنه هم ترې وکړه چې هغه کسان چې له امله یې ما ځای پرېښود، څه یې وکړل؟

نیرمارګل وویل چې موږ ېبخي هیڅوک نه دي لیدلي، حیران شوو چې تا د څه له امله موږ پر ځای پرېښودو او په منډه لاړې، خو و یې ویل چې موږ دومره پوه شوو چې ضرور سړي ته یو خطر متوجه شو، ځکه دومره ګړندی لاړ او تلیفون مو سره قطع کړ.

دا چې زما په کور کې د دوو دریو میاشتو د پاتېدو اراده وه، خو دې پېښې مې بیا مخ بلې خوا ته واړاوه.

پرېکړه مې وکړه چې سبا باید وزیرستان ته روان شم او همداسې مې وکړل.

په سبا پرته له دې چې کور ته څه ووایم، بیا وزیرستان ته په داسې سفر روان شوم چې پای یې نه شوای اټکلېدای.

Download more from Libtoon.com

## د بلال قيادت

له سپين سراچه ډوله موټره سټړی ستومان راکښته شوم، دا چې لاره اوږده وه او شاوخوا څلور ساعته مزل مې پر داسې لاره راکړی چې پخه لښ او خامه زياته وه؛ نو مې د مخ ګردونه په دسمال پاك کړل، دسمال مې بېرته پر اوږه کړ او موټروان ته مې كرايه ور وشمېرله.

ساعت ته مې وکتل، د ورځې يوې بجې ته څو دقيقې پاتې وې، ما له خوسته تر راتلو مخکې له فاروق سره تليفوني اړيکه نيولې وه چې ماسپښين به زه د ميرانشاه په بازار کې د خوست د موټرو له تم ځای سره يم، اوس هماغسې شوي وو خو فاروق نه و راغلی، شاوخوا مې وکتل، يو مجاهد مې وليد چې مخابره ورسره وه. پرې غږ مې کړ:

وروره که مخابره لږ راکړې، پر خپل ملګري غږ کوم!

بې له دې چې څه ووايي، مخابره يې راته ونيوه.

ما پکې د پکتيکا د نماينده‌ګۍ پر رسمي نمبر (۱۵۷۱۲) يو څو غږونه وکړل،

ديوانه، ديوانه، ملنګ‌يار، ديوانه!

ديوانه د فاروق او ملنګ‌يار زما تخلص و.

فاروق مې غږ واورېد، د مخابرې نقطه ونيول شوه:

Download more from Libtoon.com

ملنګ‌یاره چېرې یې، زه خو دا د موټرو تم ځای ته در رسېږم!

خوشاله شوم، بیا مې پرې غږ کړ:

زه همدلته له خوست څخه له راغلي موټر سره ولاړ یم.

غږ راغی:

بس لږ منتظر شه!

مخابره مې له منلې وروسته مجاهد ته ورکړه او له څو شېبو انتظاره وروسته مې د تورو شیشو سپینه سراچه تر مخ ودرېده، دروازه راخلاصه شوه، فاروق له خندا په ډکه خوله ترې راکوز شو او ټینګه غاړه یې راکړه. تر ښه روغبړ وروسته مې راوړی بېګ د موټر په ډاله کې کېښود او موږ موټر ته وختلو. فاروق موټر روان کړ، په مزل مزل کې مو د یوه او بل د حال احوال پوښتنه کوله، په خبرو وو چې موټر د یوه کور تر مخ ودرېد. فاروق د موټر ایمبریک راکش کړ او د کوزېدو یې وویل. متوجه شوم، د میرانشا بازار په درپه‌خېلو سرای کې زموږ د یوه دوکاندار ملګري ملک رحیم د کور تر مخ ولاړ وو، زه هم له موټره راکښته شوم او فاروق د رحیم د کور دروازه وټکوله، لږ وروسته دروازه زموږ یوه مجاهد خورشید عادل په داسې حال کې راخلاصه کړه چې پر سینه یې شین کمربند او په لاس کې ټوپک و.

خورشید عادل د خوست د تنیو د سیمې و چې اوس په وزیرستان کې اوسېده، تر دې مخکې یې له القاعده سره تعلق و چې پر کور باندې یې د امریکایي ډرون په بمبارکې پلار او څو وروڼه شهیدان شول، عادل اوس د کور یوازېنی پاتې نارینه و، د کورنۍ سرپرستي هم ور له غاړه شوې وه.

عادل د عادت له مخې ډېر مینه‌ناک و، زما په لیدو یې ټینګه غاړه راکړه، چیغه یې کړه:

Download more from Libtoon.com

اوهووو دا خو ګوګل دی!

زه به د کور ماشومانو ګوګل بللم، عادل به هم له مينې همدا نوم راته اخيست.

بيا يې زما پر اوږه لاس واړاوه، د مېلمستون کوټې ته يې بوتلم، په کوټه کې زيات مجاهدين وو، بلال د کوټې په سرکې ناست و او د ملا سنګين د فاتحې د مراسمو په خاطر يو قاري صاحب تلاوت کاوه.

زه د ادب له مخې همدلته د کوټې په سر کې له مجاهدينو سره خاموش کېناستلم، تلاوت چې ختم شو ټولو په يوه وار بلال ته وويل چې الله جل جلاله دې يې شهادت قبول او منظور کړي، خو تر ټولو ما په اخېره کې وويل چې غږ مې د بلال توجه را واړوله!

حافظ بلال نه و خبر چې زه راغلی يم، سمدستي يې غږ راباندې وکړ:

حاجي صاحب ته کله؟

ما هم وار خطا نه کړ، ور ولاړ شوم او ورغلم په غېږ مې روغبړ ورسره وکړ، وروسته د نورو مجاهدينو د پوښتنو وار شو، دوی ډېرى د د مسيدو له قوم څخه وو.

زه د فاروق په شمول همدلته پاتې شوم، دوه درې ساعته پس مېلمانه رخصت شول. زه، بلال او فاروق پاتې شوو. د بلال ساتونکي هم له مېلمستونه دباندې ناست وو، بلال ته مې د خپلې ارادې وويل، چې نور د تل په مخه همدلته پاتېدل غواړم، څنګه دې خوښه ده؟

حافظ بلال وويل:

دا خو ډېره ښه ده، پر ما هم تر پخوا فشار زيات راغلی، د لالا تر شهادت وروسته خليفه صاحب زموږ له ډلګۍ سره سره د وزيرستاني ملګرو مسووليت هم راته وسپاره، ورپسې د امارت له خوا د لالا د پکتيکا مسووليت هم زما په

Download more from Libtoon.com

غاړه شو؛ نو کارونه مې ښخي زيات شوي، دا به ډېره ښه شي چې همدلته پاتې او په جهادي کارونو کې راسره مصروف شې.

څو شپې ووتلې، زه هم همدلته د بلال د ساتونکو له جملې يو ساتونکی شوی وم، خو ټوپک او کمربند مې نه و، يوه ورځ بلال اويا زره کلدارې راکړې چې ځان ته ټوپک واخلم. له فاروق سره بازار ته لاړم، دا چې ښه ټوپک په يو لک او دېرش زره يا هم تر دې ګران و، ما له فاروق څخه پنځوس زره کلدارې په پور واخيستې چې ښه روسي کلاشينکوف واخلم، په سعودي کې راکړل شوې د عربو خيريه پيسې هم پنځوس زره وې، چې يو کمربند او پنځه دانې سرې ډکې د لمبې جاجورې مې پرې را ونيوې، نور مې نو د جهاد لپاره خپل اسباب بشپړ کړل او ژوند مې شروع کړ.

Download more from Libtoon.com

## د افغانستان د بې‌ثباتۍ دوه ستر لاملونه

د وزیرستان حالات تر پخوا زیات خراب شوي وو، ځکه د پاکستاني طالبانو (TTP) د دوو مهمو قوماندانانو خالد مسید (سجنا) او شهریار مسید تر منځ خپل‌منځي جګړه پیل شوې وه، د حکیم الله تر شهادت وروسته د مسیدو طالبانو سرپرستي سجنا ته سپارل شوې وه چې شهریار یې مخالفت کړی و او له امله یې بیا دوی د یو بل په وژنو لاس پورې کړ.

حالات داسې وو چې هر چا په کوم نوم د یو چا د وژلو اراده کړې وای وژلای یې شوای. زه پس له دوو کلونو مسافري تازه له سعودي عربستانه راستون شوی وم، په مسافرۍ کې مې ډېر داسې څه لیدلي وو چې پخوا یې ما تصور نه و کړی، کله به چې ما د وزیرستان حالات له نورې نړۍ سره پرتله کړل، مجبور به شوم چې له خلکو سره سیاسي بحث وکړم.

یوه ورځ زه او فاروق د میرانشاه بازار د مرغې په سرای کې له خپلو افغان دوکاندارانو سره ناست وو، دوی ځینو دلته د وسلو کار کاوه او بعضو تسبې، مسواکونه او عطر خرخول، ډېری یې د مجاهدینو د کورنیو غړي وو، یو دوکاندار په خوشبوی حاجي مشهور و، د پکتیکا د نکې او ورونه یې زموږ مجاهدین وو، له هغه سره مې د وزیرستان پر حالاتو بحث پیل

Download more from Libtoon.com

کړ. ما ورته وویل چې پاکستان دا سیمې قصداً ناامنه کړې دي او د ځان د ګټې په خاطر یې دلته مختلفو جهادي جنګي ډلو ته ځایونه خوشې کړي، که پاکستان رښتیا وغواړي دا سیمه له جهادي جنګي ډلو ډېر ژر پاکولای شي، مور ورسره جګړه نه شو کولای، ځکه چې د افغانستان د جنګ په مساله کې ښتي یو.

زما د خبرې په اورېدو خوشبوی حاجي سمدلاسه غوږونو ته ګوتې یووړې او خوله یې اسمان ته ونیوه:

توبه توبه ګنهګار شوې، ایمان دې کمزوری شوی دی، له دې سیمې د جهادي او جنګي ډلو تصفیه پاکستان څه چې ټوله نړۍ نه شي کولای...

ما نه غوښتل بحث جنجالي شي، په لنډو خبرو کې مې وویل:

اوهو! حاجي صاحب زه لکه چې ناسم پوه شوی یم، همدا ستا خبره سمه ده.

له همدې دوو خبرو وروسته ما او فاروق خبره بلې خوا ته بوتله، د اوضاع نزاکت مې احساس کړ او ښه مې دا وبلله چې نوره و نه شاربله شي.

زما په اند پاکستان له وزیرستان او نورو قبایلي سیمو د نړۍ د بېلابېلو جنګي - جهادي ډلو له ځای پر ځای کولو د چترۍ کار اخیست، غوښتل یې د دوی تر چتر لاندې هغو ډلو ته د فعالیت او پټېدو زمینه مساعده کړي چې په افغانستان کې عملاً د امریکا او ناټو ځواک پر خلاف په جګړه بوختې وې.

کله چې به امریکا پر پاکستان فشار راووړ چې په قبایلي سیمو کې زمونږ او د افغانستان د دولت مخالفان پټ دي؛ نو پاکستان به ځواب ورکړ چې دا ازادې قبایلي سیمې دي، دلته نه یوازې ستاسې، بلکې زمونږ دښمنان هم غلي دي او د پاکستان امنیت یې هم ګواښلی دی، له دې سیمو د دوی شړل د پاکستان له توانه وتې خبره ده. په دې چل به یې امریکا او غربي نړۍ د لنګې غوا په څېر لوشله.

Download more from Libtoon.com

پاکستان په دې سیمه کې امریکا ته د مطلوبو کسانو او مرکزونو په کواردینات ورکولو زیاتې پیسې او امکانات جیب ته کول او په پښتون‌مېشتو سیمو لکه پېښور، سوات، بنو، مردان... کې پر بریدونو او چاودنو به امریکا او لوېدیځې نړۍ هم دا منله چې په په قبایلو کې مېشتو وسله‌والو جهادي او جنګي ډلو رښتیا د پاکستان امنیت هم له ګواښ سره مخ کړی دی.

اصلاً د پاکستان له جوړېدو راهیسې د دوی بهرنۍ پالیسي پر دې را څرخي چې په ګاونډ کې د هند په څېر قوي او په خپلو پښو ولاړ افغانستان و نه لري. په افغانستان کې یو قوي او په خپلو پښو ولاړ نظام په هیڅ صورت پاکستان ته د منلو وړ نه دی، ځکه دوی همېشه په خپله غېږ کې د افغانستان د نظام دښمنانو ته پناه ورکړې ده، د پاکستان لوی ټارګېټ په افغانستان کې د نظامونو نړول دي، هغه که د هر چا وي.

د پاکستان سر پر دې خلاص شوی چې پښتانه په ډیورنډ نه بېلېږي او د افغانستان هیڅ واکمن او نظام ولوکه دوی ډېرې دوستانه او نږدې اړیکې هم ورسره ولري، د ډیورنډ تر داعیه نه تېرېږي او تر ډیورنډ لاندې ځمکې تر اټکه د افغانستان اشغال شوې برخه او خلک یې خپل وروڼه بولي، ډیورنډ فرضي کرښه او د افغانستان سیندونه چې پاکستان ته بهېږي، دوه هغه ستر لاملونه دي چې له امله یې پاکستان امن او په خپلو پښو ولاړ افغانستان نه شي زغملای.

که وطن اشغال او زه جګړې ته مجبور شوی نه وای ما به په هیڅ صورت د قلم پر ځای ټوپک ته لومړیتوب نه وای ورکړی، خو دا چې د افغانستان اشغال ته د پاکستان له لارې زمینه مساعده شوه، په ماشومتوب کې د اشغال ظلمونه، تر ګرمې بسترې لاندې د پردو الوتکو کړنګهار زه مجبوره کړم چې د

Download more from Libtoon.com

خپل وطن د ازادۍ او استقلال لپاره جګړه وکړم، دا چې پاکستان زما د جګړې له امله خپل هدف تاکلی و بیله موضوع وه، خو په داسې حال کې چې د يو چا هېواد د نظامي قوت له لوري اشغال شي، د هېواد وګړي هيڅکله په ارام نه شي کېناستلای او وسله‌والې مبارزې ته مخه کوي.

Download more from Libtoon.com

## جنګ ته تیاری

د ۲۰۱۴ کال د ۴مې میاشتې ۱۰مه ورځ وه، بلال خپل نږدې ملګري خورشید عادل ته دنده وسپارله چې په بازار کې لویه او واړه وسله پیدا او په پیسو یې واخلي، دا چې عادل له مخه هم د وسلې په استعمال کې ډېر مهارت درلود او په بازار کې یې د وسلو تجارت کاوه، همدا ډول یې د فروش مهم کسان هم ورته معلوم وو؛ نو ډېر اسانه به یې ښه وسله موندلای شوای.

د میرانشاه په بازار کې د وسلې د پېر و پلور ځانګړې مارکېټ او په همدې مارکېټ مشهور و.

دا چې د مولوي سنګین په ژوند یې کورنۍ له لنډې محمدخېلو د میرانشاه له بازار سره جوخت ډانډې ته راکډه شوې وه؛ نو عادل به هر ماښام په ډانډو کې د بلال مېلمستون ته راته او د وسلو د رانیولو په هکله به یې ورځنۍ حساب ورته مخې ته کېښود.

په ډانډو کې د بلال کور د پخو خښتو یوه ښایسته کلا وه، مولوي سنګین ته د ځمکې د خرید او د کور د جوړولو لګښتونه خلیفه سراج الدین حقاني ورکړي وو.

Download more from Libtoon.com

شاخوا لس ورځې تېرې شوې چې یوه ورځ زه په مېلمستون کې ناست وم چې عادل بلال ته راغی، د دوی دوو مجلس پر دې و چې وسله ټوله مکمله شوه، خو ټوله یې په پور اخیستې، چې حساب یې وکړ تر یوه کروړ د ډېرو کلدارو وسلې رانیول شوې وې.

په همدې شپه عمري چې اوس یې د مولوي صاحب تر شهادت وروسته د هغه د ځایناستي ورور بلال د نمایندګۍ چارې پر مخ وړې، حافظ مخاطب کړ چې سبا ته باید ټول زموږ د ډلګۍ مربوط قوماندانان په میرانشاه بازار کې زموږ د خاصو ملګرو دفتر ته را غونډ کړې.
په دې دفتر کې به زموږ د ډلګۍ مربوط فدایان اوسېدل چې له همدې ځایه به عملیاتو ته تلل.
سهار شاوخوا لس بجې له حافظ بلال سره دغه دفتر ته زما په شمول یو څو ساتونکي لاړو، په دې وختونو کې به د بلال موټروانې ما کوله.
په دفتر کې ډېر رش و، ټول هغه وزیرستاني قوماندانان چې د مولوي سنګین تر قوماندې لاندې به په پکتیکا کې جنګېدل، راغلي وو، کله چې د دفتر په لویه کوټه کې سره راغونډ شول، موږ ساتوونکي ټول بهر ووتلو.
زه به وخت ناوخت به د کومې خبرې لپاره بلال ته ورغلم، کوټې ته د ننوتلو پر وخت د قوماندانانو له خبرو یو څه پوه شوم چې پر کوم ځانګړي ځای د جنګ پلان جوړوي.
دلته ناستې شاوخوا درې ساعته وخت ونیو.
وروسته چې ټول راووتل بلال د عمري په لاس هر قوماندان ته لس لس

Download more from Libtoon.com

زره کلـداري خرچـه ورکـړه او همـدا ډول د کمبوداتـو د پـوره کولـو ټټـر یـې هـم ورتـه وډبـاوه، قوماندانـو ډېـر پـه غـرور یـو و بـل تـه کتـل او مـا بـه یـې لـه سترګو دا پیغـام اخیسـت چـې د وخـت اتـلان او د ازادۍ سرسـپارلي ننګیالـي دي، د دوی خبـرو او یـو بـل تـه خنـداوو بـه پـه مـا کـې عجیبـه جذبـه پیـدا کـړه.

مـوږ پـه میرانشـاه بـازار کـې شـاوخوا پنځـه ورځـې نـورې هـم تېـرې کـړې، خـو پـه دغـو ورځـو کـې ځینـو ملګـرو خپـل بوټـان او کمربندونـه تیـارول او ځینـو نـورو بـه خپـل موټـر جـوړول.

Download more from Libtoon.com

# د اور او وینو افق

ماښام ما ته په کور کې بلال وویل چې سهار پر اته بجې په یوه اوږده سفر روانېږو او ټینګار یې وکړ چې باید چمتو اوسو، شپه تېره شوه. سهار اته بجې د بلال تور هایلکس موټر چې نوی یې د کندهار د وېش په بارګینو کې په شپاړس لکه کلدارې اخیستی و او له هغه ځایه یوه کرایه‌کش راوستلی و، د بلال په شمول اته ملګري پکې کېناستلو، له موږ سره د مسیدو د قوم تکړه مجاهد اجمل مسید هم وو چې د مولوي سنګین د خاصو ساتونکو له ډلې او نږدې کال ووت چې اوس له زخمونو رغېدلی و.

موږ له ډانډې سیمې څخه د دتخیلو پر لوري مزل پیل کړ، لس بجې شاوخوا ته ورسېدلو، خو له هغه ځایه مو د کوړمو په طرف مزل شروع کړ، دا لاره لواړه سیمې ته وتلې وه، دلته پر کرښه هیڅ اغزن تار نه و تېر شوی، د تګ راتګ په لاره کې هیڅ مشکل نه و، مزل ډېر ستړی او سرګردانه و، کابو په دریو ساعتونو کې مو ځانونه لواړه سیمې ته ورسول او هلته د والي وردګ کور ته ورغلو.

والي وردګ د مولوي سنګین سیمه‌ییز قوماندان و او له ۲۰۰۱ څخه یې پر دې لاره د مجاهدینو رهبري کوله.

Download more from Libtoon.com

والي هسې وردګ تخلص کړی و، وردګ نه و. د کور تر مخ یې د مجاهدینو ډېر ډبل سیټه موټر ولاړ وو، موږ هم موټر ودراوه، والي وردګ لارې ته را مخکې شو، کله چې یې مېلمستون ته بوتلو، ګورو چې زموږ اکثریت قوماندانان په مېلمستون کې ناست دي، ما ته هیڅ مالومات نه کېدل چې اوس جنګ پر کوم ځای کېږي او له دې سیمې به چېرته ځو؟

د غرمې له ډوډۍ وروسته بلال عادل را وغوښت، عادل تر موږ مخکې دلته را رسېدلی و او ورته و یې ویل چې له کومو قوماندانانو سره وسله کمه وي، هغه ور پوره کړه. له عادل سره زه هم ملګری شوم، دوه هایلکس موټرونه له وسلو ډک وو، د کلاشینکوف او پیکا بکسې مو بېلې کړې، د دفاعي مجاهدینو کمربندونه مو وکتل او په کومو کې چې مرمۍ کمې وې ورته ډک مو کړل، همدا ډول مو د پیکا بکسې، د داشکې بکسې او راکیټ مرمۍ هم ورکړې.

وروسته بلال هغه قوماندانان راولېږل چې د تعرض لپاره ګومارل شوي وو، په تعرضي قوماندانانو کې زموږ د سفر ملګری اجمل مسید هم و، لومړی مو د دوی د ضرورت وړ د کلاشینکوف او پیکا مرمۍ ورکړې او ورپسې مو د دوی هر ملګري ته دوه، دوه ګرنیټونه او همدا ډول د یوه قوماندان په سر د راکټ لنچر پنځه پنځه مرمۍ ورکړې.

دا شپه مو همدلته وکړه او مجاهدین مو پر شاوخوا کورونو تقسیم کړل.

سهار مو له دې ځایه په پکتیکا کې د زېړوک ولسوالۍ پر لوري مزل پیل کړ، د مجاهدینو د موټرو یو لوی کاروان جوړ و، ما و نه شمارل خو شاوخوا څلوېښت او یا تر دې هم زیات، په لاره کې مو د موټرو تر مابین فاصله مراعاتوله چې ډرون یې کشف نه کړي.

زه په مزل کې د بلال له خولې خبر شوم چې په زېړوک ولسوالۍ کې د

Download more from Libtoon.com

امریکایانو پر یوه لوی کمپ تعرضي برید دی، خو په دې وخت کې په دغه کمپ کې امریکایان نه اوسېدل، داخلي عسکرو ته یې پرېښې و چې د ملي اردو او پولیسو سرتېري پکې پراته وو.
ما ته بلال مستقیماً دا و نه ویل چې دلته د جنګ پلان دی، خو د هغه له خولې په موټر کې اجمل مسید ته دا خبره ووتله چې په زېړوک کې به بیا د پیکاګانو کړنګهار جوړ شي، له دې سره زه هم پوه شوم چې د برید هدف همدا ځای دی.
حافظ بلال اجمل ته په ټوکو ټوکو کې ویل چې څو ورځې پس به پر دې لاره ستا ځواني را روانه وي، شهید به یې!
اجمل خندل:
یاره تر دې ژوند شهادت غوره بولم چې برېتو لالی مې نه وي! اجمل مسید برېتو لالی، ملاسنګین یاداوه.
موږ مازدیګر مهال زېړوک ولسوالۍ ته داخل شوو، په سیمه کې تازه پسرلي لمن غوړولې وه، غرونه شنه وو او د غوجرو زېړو ګلانو سیمې ته یوه ارامه ښکلا ور ښښلې وه. موسم باراني وو، له جنتي هوا مو خوند اخیست.
دا چې زېړوک زموږ پلرنۍ سیمه وه او په لوړي ځل له ټوپک او چانټې سره یو ځای د مجاهدینو په یوه لوی کاروان کې ورته راغلی وم؛ نو به مې کله کله د موټر تر شیشې سر ور وایست او په زړه کې مې غوښتل چې کلیوال مې وګوري، چې زه د مجاهدینو په کاروان کې ناست او د وطن د ازادۍ لاروی یم.
ځینې موټر تر زموږ له مخه را رسېدلي وو او دلته پر کورونو او جماتونو تقسیم شوي وو، خو ځینې لا پر لارو وو.
دا چې لاره اوږده وه، مزل ستړي کړي وو، په زېړوک کې مو هم د تنګۍ پر

Download more from Libtoon.com

عام سړک يو څه مزل وکړ او ماښام ته نږدې د ديرکې خولې ته ورسېدو.
د ديرکې په خوله کې د غرونو په مابين کې بلال د موټر سټرينګ تاو کړ او تر يو څو دقيقو مزله وروسته د بلال دوی د ماما ګل سادين کور ته را ورسېدلو، د ګل سادين ماما د کور څنګ ته زموږ د خور کور هم و او زه يو وخت ډېر په ماشومتوب کې دغه ځای ته راغلی وم.
دا ډېره غرنۍ سيمه وه او له دې دوو کورونو پرته شاوخوا نور هيڅوک نه اوسېدل، د دې کورنۍ غړو شپني کوله، د تازه شيدو چای يې راتيار کړ چې په څښلو يې له موږ د لارې ټوله ستړيا هېره شوه.
تر دمې وروسته زه له مېلمستونه راووتم او د دې کور تر څنګ د خور کره لاړم.
خور مې زما په ليدو سخته خوشاله شوه، پس له څو کلونو مو ناڅاپه سره وليدل، يو څو دقيقې همدلته له خور سره پاتې شوم، وروسته په مخابره کې د بلال غږ راغی چې ويل يې، د مخابرې له لارې له قوماندانانو سره رابطه وکوه چې دوی را رسېدلي دي که نه؟
ما هم پر کاغذ د ليکل شوي ليست له لارې منظم پر هر قوماندان بېل بېل غږ وکړ چې دوی ټول را رسېدلي او ځينې يې لا پر لارو وو، خو د ماخستن له لمانځه وروسته ټول را ورسېدل او هدايت مو ورته وکړ چې همدلته د کليو په مسجدونو کې سره ووېشل شئ.
موږ له يوې خوا مزل کړی و او له بلې خوا مو د شپې پيره هم په نوبت وه، دشپې پيره ډېره ستونزمنه او له ستړياوو ډکه وه، نيمه شپه شاوخوا يوه بجه جيټ الوتکې په ډېر شور ماشور سره راغلې، موږ وېرېدلو چې خدای مه کړه موږ او يا نور ملګري هدف نه شو، داسې ښکارېده چې په سيمه کې د امريکا جاسوسانو زموږ د راتګ حال خپور کړی و.

Download more from Libtoon.com

زه، محمد او انس چې د همدې ولایت کې په ارګون ولسوالی کې ډلګی مشر و، پر پیره وو.

انس په ګپ کې محمد ته وویل چې یو شېبه وروسته به جېټ الوتکې پر موږ بمونه را وغورځوي او موږ تاسې درې واړه به ټوټې ټوټې شهیدان شو، روحونه به مو اسمان ته والوځي.

دا چې د جېټ الوتکو شور بېخي د زغملو نه وو، محمد پر انس چیغې کړې:

خدای ته ګوره دا خبرې مه کوه زړه مې چوي!

محمد ډېر ټوکي و، موږ به یې تل خندولو.

تر یو څو پروازونو او چکرونو وروسته د اسمان لمن خالي شوه، فضا ارامه او الوتکې ورکې شوې.

Download more from Libtoon.com

## د زیړوک پر کمپاین تعرضي برید

د ۲۰۱۴م کال د اپریل پر ۲۷م سهار د درکې په خوله کې له وزیرستانه راغلي مجاهدین او قوماندانان را ټول شول، په دوی کې د نکې، زیړوک، ګیان او برمل ولسوالیو داخلي قوماندانان هم وو، خو ډېری وزیرستانیان وو.

دلته له قوماندانانو سره د پکتیکا د اوسني نظامي مسوول بلال په مشري مجلس وشو او د قوماندانانو ټولې اړتیاوې یې پوره کړې، د جنګ لپاره عمومي مسوول ابوبکر محسن وټاکل شو. محسن د وزیرستان د رزمک د سیمې یو پیاوړی مجاهد و چې د مولوي سګین په ژوند به هم ډېر وخت جنګي مسوول ټاکل کېده.

دفاعي مجاهدینو له دې ځایه حرکت پیل کړ او هر یوه خپل ټاکل شوي هدف ته ځان ورساوه.

د زیړوک کمپ د غرونو په منځ کې موقعیت درلود، له دغه کمپ سره جوخت زیړوک ولسوالي هم پرته وه، ولسوالي او کمپ درې دفاعي پوستې لرلې.

دفاعي مجاهدینو د غرونو پر سر د درنې او لویې وسلې تیاری پیل کړ، چار چاپېره د دفاعي مجاهدینو له خوا زکویک، ۸۲، ۸۵او تر ۵۰ پورې BM مزایل ورته تیار او د ټولو وسلو میلونه د زیړوک کمپ ته برابر شول.

Download more from Libtoon.com

مـوږ لـه تعرضـي ملګـرو سـره همدلتـه د ماسپښـین او مازدیګـر لمونځونـه وکـړل، دا چې ملګـري زیـات وو؛ نـو د غرمـې لـوږه مـو همدلتـه لـه دوکانـه پـه راخیستل شـوو ترخـو چڼـو او پاپـړو ختمـه کـړه.

د مازدیګـر لـه لمانځـه پـس مـو لـه تعرضـي ملګـرو سـره رخصـت اخیسـتل پیـل کـړل، اجمـل چـې زمـوږ د سـفر ملګـری و لـه کلـک روغبـړ وروسـته مـې رخصـت کـړ، دا چـې جذبـه وه او لومـړی وار مـې و چـې پـه دومـره لـوی جنـګ کـې داخـل وم، ډېـر ټینـګ شـوم چـې زه هـم بایـد لـه تعرضـي ملګـرو سـره لاړ شـم، خـو بـلال پرېنښـودلم، هغـه وویـل چـې لـه مـا سـره د رابطـې څـوک نـه شـته، مـوږ و تاسـې بـه ګـډ لـه دوی سـره همـکاري کـوو، ټولـه شـپه ده کـه ضـرورت شـو، د ضـرورت لپـاره بـه بیـا ورشـو.

ماښـام نـږدې و، د بـلال پـه شـمول، مـا او حافـظ تبسـم چـې پـه وزیرسـتان کـې یـو مخکښ قومانـدان و، محمـد، انـس او ځایـي اوسـېدونکی ګل سـادین یـو ځـای د زېـړوک کمـپ تـه مخامـخ د دسـکې پـه نـوم د غـره سـر تـه پیـاده مـزل پیـل کـړ او شـاوخوا پـه یـوه سـاعت کـې د غـره سـر تـه ورسـېدو.

د غـره سـر تـه پـه رسـېدو مـې لـه مـا سـره درې مخابـرې چـې یـوه د دفاعـي، دویمـه د تعرضـي ملګـرو او همداشـان درېیمـه همدلتـه پـه خپـل منـځ کـې د اړیکـې لپـاره وه، خلاصـې کـړې، بـلال مـخ را واړاوه:

له ملګرو سره رابطه شروع کړه چې څنګه او کومو ځایونو ته ورسېدل.

مـا بـې لـه دې چـې څـه ووایـم، پـه نوبـت لـه ملګـرو سـره اړیکـه نیـول پیـل کـړل. جنګـي قومانـدان ابوبکـر محسـن ډاډ راکـړ چـې ملګـري ځینـې رسـېدلي او ځینـې پـر لارو دي، د کمـپ دفاعـي او تـر ټولـو سـخته پوسـته یـې د ژرنـدې پوسـته بللـه، ځکـه تـر دې پوسـتې لانـدې یـوه پخوانـۍ ژرنـده وه. د هغـې

Download more from Libtoon.com

پوستې تعرضي ملګري په لاره کې ورک شول، رهبر چې د نکې ولسوالی اوسېدونکی و، لاره خطا کړې وه، له ده سره د لونګين او بلبل په نامه دوه وزیرستاني قوماندانان هم وو.

لونګين او بلبل په وزیرستان کې له عملیاتو وروسته پاکستان ته تسلیم شول او تر اوسه پورې له پوځ سره د ټي ټي پي پر خلاف همکاران دي. په پاکستان کې حالات لاسي داسې برابر کړل شوي وو چې له ځینو ډلو ګټه ور ورسېږي.

لونګين په مخابره کې له رهبره د لارې د ورکېدلو په خاطر ډېر بد الفاظ وکارول، هغه وويل:

رهبر خر شو! لار ترې نه ده خطا، ډارېږي.

په دې وخت کې لا ما خبره نه وه کړې چې د هر قوماندان د نارو او امرونو هیاهوی ګډ شو:

و يې وهه، هله مړ یې کړه، هله ويې تړه...

حافظ بلال پر قوماندانانو غږ وکړ:

تاسې غلي شئ، زه خبره ورسره کوم!

غږونه ارام شول.

کله چې بلال له رهبر سره خبرې وکړې، رهبر وویل:

توره شپه ده، له ما لار خطا شوې، زه نور مخ ته نه شم تلای!

حافظ بلال بیا د نکې ولسوالي پر مسوولانو غږ وکړ:

دا مجاهدین ستاسې سیمې ته ور نږدې دي، تاسې يو بل رهبر ور ولېږئ.

جهانګیر کباډ چې د پکتیکا يو نامتو موټروان و او هر وخت به يې د جنګ له میدانه زخمیان په خپل موټر کې را ایستل، هغه په مخابره کې غږ وکړ:

Download more from Libtoon.com

دا رهبر را واپس کړئ، ما دویم کس در ولېږه، در روان دی.

دا چې نور مجاهدین ټول پوستو او کمپ ته رسېدلي وو؛ نو لېږ د ژرندې پوستې والا ته منتظر شول، رسېدلو مجاهدینو ته مو امر وکړ چې تاسې په خپلو ځایونو کې ځای پر ځای شئ چې دښمن مو و نهویني.

دښمن هم د مخابرې رابطې کشف کړې وې او پوه شوی و چې مجاهدین د جنګ لپاره ور روان دي؛ نو هوایي ډزې او همدا شان د هاوان مرمۍ به یې توغولې چې د غرونو په لمنو کې یې له لګېدلو سره د انسان زړه تر خوله خوت، ګرز به یې تر ډېره د غرونو په ډډو کې وحشیانه انګولاوې خپرولې.

موږ شاوخوا شل دقیقې انتظار وکړ چې رهبر د ژرندې پوستې تعرضیانو ته ور ورسېږي، خو بالاخره دا انتظار ختم شو او لونګین غږ وکړ چې لس دقیقې وخت راکړئ، یعنې رهبر را ورسېد چې زه پوستې ته ورسېږم.

ما له دې لسو دقیقو استفاده وکوله، اجمل مسید مې په مخابره کې یوه شخصي نمبر ته بوتلو، همداسې مې ورسره ګپه شروع کړه، پوښتنه مې ترې وکړه:

ته چېرې ناست یې؟

اجمل ډېر په ټیټ غږ خبرې کولې، ښکارېدله چې دښمن ته نږدې دی، و یې ویل:

زه د کمپ په تعرضیانو کې د لس کسیز ګروپ مسوول یم، زما مسوولیت دا دی چې د کمپ مابین ته داخل شم؛ نو ما ځان رسولی او د کمپ د دروازې په سل مترۍ کې مخامخ له ملګرو سره یو ځای ناست یم.

بیا مې ور نه د دعا غوښتنه وکړه او ورته ومې ویل چې په ډېر سخت ځای کې خدای دعا قبلوي، ما ته دعا وکړه.

اجمل د دعا تر ښنګ دا هم راته وویل چې که په لاره کې کومه غلطي رانه

Download more from Libtoon.com

شوې وي، ښښنه راتـه وکـړه، ځکـه چې زه بيـا نـه درځم!

ما په ناقرارۍ ورته وويل:

ولې؟ غلی شه داسې خبرې مه کوه.

اجمل وويل:

نه، زه پوه يم زه شهيد کېږم!

بيـا يـې حافـظ تبسـم يـاد کـړ چـې فقـط دوې خبـرې دې راسـره وکـړي، حافـظ تبسـم تـه مـې مـخ ور واړاوه، هغـه تيـار لاس را اوږد کـړی و، مخابـره مـې ورکـړه او لـه اجمـل سـره يـې سـلام واچـاوه، اجمـل حافـظ صاحـب تـه وويـل چـې زه جنـت تـه روان يـم، تاسـې چـې راځـئ مـا بـه سـپينې وريـژې درتـه پـخ کـړې وي.

د حافـظ تبسـم پـه څېـره کـې حيرانـي گـډه شـوه، شـايد تصـور يـې کـړی وي چـې سـپينې وريـژې يـې ولـې يـادې کـړې، دا يـې تـازه چهـرې ليدلـې او کـه کـوم بـل راز دی چې پـه خولـه ورغلـې، خـو د خيـر و خيريـت دعـا يـې ورکـړ:

ان شاءالله دښمن مات شوی، بس چې د الله اکبر غږ واوري، کيسه يې ختمه ده.

حافظ تبسم له اجمل سره په خبرو و چې په دويمه مخابره کې لونگين غږ وکړ:

فاتح، فاتح، فاتحه اورې؟

فاتح د مولوي سنگين تخلص و چې بيا وروسته بلال پر ځان کېښود.

حافظ بلال له ما مخابره واخيستله او غږ يې پرې وکړ:

اورم لونگينه!

لونگين وويل:

موږ ورسېدو، ستاسې امر ته منتظر يو.

حافـظ بـلال پـر ملگـرو غږونـه شـروع کـړل او ځـان يـې ډاډه کـړ چـې ټول رسـېدلي او يـوازې امـر تـه منتظـر دي.

Download more from Libtoon.com

حافظ بلال پر ټولو مجاهدینو غږ وکړ:
دعا وکړئ چې خدای تعالی دې نور زموږ ګران وطن ژر تر ژره له اشغاله پاک او پر ځای یې اسلامي نظام حاکم کړي. امین!
وروسته یې دغه ایت شریف تلاوت کړ: «وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى» نارهٔ تکبیر، الله اکبر!
وروسته یې سمدستي پر دفاعي ملګرو غږ وکړ:
ډزې شروع کړئ.
ما د غرونو سرونو ته وکتل چې لومړی د لمبې مرمۍ د کمپ پر لور ور قطار شوې او یوه شیبه وروسته یې غږ را ورسېد.
لاندې د غرونو له ګردنو تېزې لمبې ور الوتې او د مرمیو کړسهار د ګړنګونو غبږه له غرونو داسې ډکه کړې وه چې هر ډز دوه ځله اورېدل کېده.
یوه پړکه به وشوه او وروسته به په کمپ کې لوی انفجار وشو، دا د ۸۲، ۸۵او مزایلو مرمۍ وې چې د مسلکي کسانو له خوا ور ویشتل کېدې.
دفاعي جنګ به شاید یو پاو وخت نیولی وي چې بلال پر ملګرو غږ وکړ:
تاسې ډزې بندې کړئ، اوس وار د تعرضي ملګرو شو.
ما چې کمپ ته وکتل ډېر په نږدې کې د سرو لمبو مرمۍ ور بادېدې، ځای پر ځای به پکې د راکټ ګوزار هم وشو، په مخابرو کې هم دا چیغې شوې:
هله زه زخمي شوم، هله پلانی شهید شو، اې ته چېرته وتښتېدې، زه یوازې یم ...؟ اې له ما ملګري ورک شول!
زما سوچ د مخابرې په همدې غږونو کې بند و چې د یو ملګري غږ مې پکې تر غوږو شو:
اې اجمل یې وویشت، اې اجمل شهید شو!

Download more from Libtoon.com

زړه مې کښته ولوېد، ژر مې مخابرې ته لاس کړ او غږ مې پرې وکړ:
ملګريه اورې؟
دا چې په مخابره کې شور زيات و، په ډېره خوارې مې پر مقابل طرف ملګرو واورېدل چې د اجمل ملګري دويم نمبر ته لاړ شي.
کله چې زه هم په مخابره کې دويم نمبر ته ورته لاړم، ملګري اوتر، اوتر غږ وکړ:
اورې، اورې؟
ـ اورم اورم، اجمل چېرې دی؟
ـ هغه دلته پروت دی، شهيد شو!
له ما خبرې ورکې شوې، حافظ تبسم مې له لاسه مخابره کش کړه او پر مجاهد يې غږ وکړ:
پر کوم ځای لګېدلی؟
مجاهد وويل:
پر زړه او سر باندې لګېدلی، شهيد شو.
حافظ تبسم ور غبرګه کړه:
دوه ملګري ورته تعيين کړئ، عاجل دې يې را وباسي او نور ملګري مخکې کوښښ وکړئ چې کمپ فتح شي.
د دې تر څنګ سمدستي په مخابره کې غږ شو چې د ژرندې پوسته فتح او وسله غنيمت شوه، عسکر وتښتېدل. مجاهدينو يو او بل ته مبارکي ورکړې او بلال پر نورو ملګرو هم غږ وکړ چې ځانونه تکړه کړئ، همدا شپه يې ده.
د غلچکي په نوم د زېړوک د ولسوالي يو نوموتي قوماندان هم په مخابره کې چيغه کړه، الله اکبر زما پوسته هم فتح شوه، دوه عسکر مې ژوندي ونيول،

Download more from Libtoon.com

وسله يې غنيمت او يو څو مړي هم په پوسته کې پراته دي.
مورډ هم په خپلو کې يو او بل ته مبارکي ورکړې، چې د خپلو شهيدانو بدل واخيستل شو. مورډ په همدې خبرو بوخت وو چې حنظله غږ کړ:
له ما ملګري تښتېدلي، څلور شهيدان دي، د ورلو څوک يې نه شته!
حافظ بلال ورته وويل:
ملګري ضرور پيدا کړه چې شهيدان در نه پاتې نه شي.
- په لومړي ځل چې مورډ پوستې ته نږدې شوو د داشکې په برش کې يې څلور واړه شهيدان کړل او ملګرو چې شهيدان وليدل ووېرېدل، منډې يې کړې، اوس زه يوازې پاتې يم، که کومکي ملګري وي چې را و يې لېږئ او شهيدان راسره يوسي.
بلال کوښښ وکړ چې له فارغو ملګرو سره رابطه وکړي، خو هر ملګری له خپلو زخميانو سره مصروف و او ځينو د دښمن غنيمتونه را غونډول.
غلچکي غږ وکړ:
زما په پوسته کې وسله زياته ده، ملګري سخت ستړي دي، دا مو لسمه پېره ده چې ملګري يې کوي او دوه نفره ژوندي عسکر هم راسره دي، که کومکي ملګري وي چې راشي.
حافظ بلال ورته وويل:
نه، ملګري ټول مصروف دي، تاسې خپل کار وکړئ هر څومره چې مو په وس پوره وي.
بيا يې پسې زياته کړه:
ته مخابره نيول شوي عسکر ته ورکړه، خبرې ورسره کوم.
په مخابره کې غږ راغی:

Download more from Libtoon.com

میشنوی امیر صاحب!

د بلال دری نه وه زده، په پښتو یې ورته کړه:

-تاسې خپه نه شئ، هیڅ مشکل نه شته.

وروسته یې لږ نور اطمینان هم ورکړ.

Download more from Libtoon.com

○○○

دا د زېړوک پر غښ کمپ دویم لوی تعرضي برید و، لومړی برید مولوي سنګین هغه وخت پرې وکړ چې امریکایان پکې اوسېدل او خپل ورور یې وربانـدې شهید شو. دویم برید دغه و چې د مولوي سنګین تر شهادت وروسته وشو.

دلته به د دغه جنګ شاوخوا یو نیم ساعت وتلی وي چې په نتیجه کې یې د کمپ دوې دفاعي پوستې ونیول شوې او کمپ او یوه بله دفاعي پوسته چې شهیدان یې وکړل، همداسې پاتې شوې، تر ډېرې خوارۍ وروسته مجاهدین همداسې را ستانه شول او خپل شهیدان او زخمیان یې را واخیستل.

له قوماندان حنظله سره دوه نفره نور ملګري پاتې شوي وو، تر یوه حده یې شهیدان له پوستې څخه لاندې همداسې را کش کړي او بیا په لاره کې د ستړیا له امله تـرې پاتې شوي وو، څلور واړه شهیدان د جنوبي وزیرستان د رزمک سیمې اوسېدونکي وو.

موږ همداسې د غره پر سر ناست وو، ملګري مو د مخابرې له لارې رهبري کول او په خبرو ورسره بوخت وو چې د د دیرکې د خولې پر لوړ غره جېټ الوتکې را واوښتې، په خونخوارو مښوکو کې یې اور غورځېده، د جیټ له اواز

Download more from Libtoon.com

سره بلال پر ملګرو غږ وکړ چې ځانونه خاموشه کړئ، هر یو د ونې په خوا کې کېنئ او له ځایه مه ښورئ.
موږ هم همدلته پر وسلو باندې خپل څادرونه واچول. اوازې داسې لوېدلې وې چې وسلې باید د الوتکو د راتلو په وخت کې پټې وساتل شي، که نه د خاصې ټکنالوژۍ په وسیله یې کشفوي.
د الوتکو شور ټوله سیمه پر سر واخیسته، ځینې وخت به یې د غرونو په منځ کې په ډېره تونده وایستلې او لټ په لټ به یې اړولې، شور به یې د انسان زړه پړک چاوداوه.
موږ هم له خپل ځایه غلی غلی حرکت را وکړ او په غرونو کې سره یو یو شوو. زه او محمد په یو طرف برابر شوو او بلال دوی پر بل لوري لاړل، شاوخوا په شلو دقیقو کې به د غره لمنې ته را رسېدلي یو، الوتکو بېخي بد حال جوړ کړی و. زه او محمد چې د دمې لپاره پر عام سړک کېناستو، پام مې شو چې یوازې جیټ الوتکې نه دي، ډرون هم ورسره دي.
مجاهدین بې پروا وو، په موږ کې دا خبره ډېره عامه وه چې کله یو مجاهد د تعرض لپاره خپل هدف ته روان وي، ډېر احتیاط کوي، د پیشو په شان غلي غلي ګامونه اخلي او بیا غوټه د باز غوندې کوي، خو چې ښکار وکړي د زمري په څېر بې‌پروا روان وي او د ډرون ښکار شي!
رښتیا وه، د ستونزې له امله به د سړي عجله شوه او کوښښ به یې کاوه چې له سیمې ځان وباسي، مګر همدې تلوارې به په بده پېښه واړاوه.
زه او محمد همدلته پر سړک ناست وو، د الوتکو له شوره مو هیڅ خبرې نه اورېدې چې تر شا مې یو کس ودرېد او زه یې تر متو ونیوم، په بېړه یې وویل، هله ځو چې بمبار و نه شي، مخ مې ور واړاوه، د بلال ماما ګل سادین

Download more from Libtoon.com

دی، مـوږ چـې ډېـر سـتړي وو، د مـزل شـیمه مـو نـه درلـوده، خـو مجبـور وو پـه زور مـو پښـې راپسـې ځکولې.

د دیرکـې خولـې تـه چـې نـږدې ورسـېدو، یـو موټـر ولاړ و، هیڅوك ورسـره نـه و او یـو شـهید پکـې ایښـی و. کله چـې موټـر تـه ور نـږدې شـوم، د شـهید مـخ تـه مـې د تلیفـون رڼـا بلـه کـړه، چـې گـورم اجمـل مسـید دی، پـر مـخ یـې وینـه وچه شـوې او نـري برېتونـه یـې تـاو شـوي غونـدې وو، پـه څېـره کـې یـې وقار راتـه وبرېښـېده.

زه د اجمـل د مـخ پـه دیـدن لا مـوړ نـه وم چـې الوتکـې گـړز وهـل، داسـې گـړز و چـې مـا پـه ټـول ژونـد داسـې تندریـز اواز نـه و اورېدلـی، د موټـر لـه بـاډۍ مـې ټـوپ کـړ، نـږدې کنډوالـه دوکانونـه وو، ځـان مـې همالتـه واچـاوه، څـو شـېبې غلی پکـې پرېوتـم او پـر ځـان مـې د قرانکریـم ایتونـه چـوف کـول، الوتکـې دویمـه دوره را وخـوړه، لیـدل مـې چـې لـه خپلـو وحشـي وزرو تېـزې لمبـې راباسـې او د ځمکـې پـر مـخ یـې درب وهـي، مـا فکـر وکـړ چـې پـه الوتکـه کـې څـه مشـکل پېښ شـو راغورځـي، خـو چـې د غرونـو لـه سـرونو پـه تېزه کښـته را خوشـې شـوه، بېرتـه یـې پـه یـوه قهرجـن شـور خولـه اسـمان تـه پورتـه کـړه او پـه هـوا شـوه.

پـه دې وخـت کـې گل سـادین هـم همـدې کنډوالـې تـه راغـی، مـا پـه رپېدلـي غـږ ورتـه وویل:

دا څه شور کوي، دا څه شی دی؟

د گل سادین څېره خړه او توره کېده، وچې شونډې یې وخوځېدې:

الوتکو بمبار شروع کړی، ملگري یې ټول شهیدان کړل!

د دې جملـې پـه اورېـدو مـې پـه بـدن کـې وېـره د اغزیـو پـه څېـر وځغلېـده، د الوتکـو لـه راگرځېـدو سـره بـه مـې ځـان ټـول پـه ځمکـه پـورې سـرېښ کـړ او دومـره زور بـه مـې وکـړ چـې کـه ځمکـه پسـته وای، شـاید پـرې ننوتلـی بـه وم.

Download more from Libtoon.com

موږ دلته د الوتکو له شور او وېرې يو ساعت غلي او خاموش پراته وو، د سهار سپېدې هم په چاودېدو شوې، الوتکو ډېر بمبار وکړ او کړنګهار يې غوږونه راکانه کړي وو. ورو ورو د رڼا له خورېدو سره د الوتکو د ګړبهار لمن په ټولېدو شوه.

د ورځې نهه بجې فضا ټوله پاکه او ارامه شوه، له موږ څخه د الوتکو له وېرې د سهار لمونځونه هم قضا شوي وو، همدلته لاندې بېرته د ديرکې خولې ته راكوز شوو او قضا شوی لمونځ مې را وګرځاوه.

زموږ په ليدلو يو يو نفر له غرونو راكوزېده، زما د مخابرې بيټرۍ هم صفر شوې وې. نږدې يو کليوال دوکان ته لاړم، د يوې مخابرې لپاره مې بيټرۍ پکې پيدا کړې، کله چې مې مخابره په تعيين شوي عمومي نمبر کې خلاصه کړه، د مجاهدينو شور و، چا زخميانو ته موټر غوښتل او چا د شهيدانو د انتقال په برخه کې مرسته. څوک په خپلو ورکو ملګرو پسې ګرځېدل، دومره ناري وې چې د خپل هدف د خبرې تر لاسه کول سخت وو.

Download more from Libtoon.com

○○○

د دې سيمې کليوال لـه مجاهدينـو سره زيـات همـکار وو، ګڼـو کسـانو لـه کورونـو کټونـه را ايسـتلي وو او لـه مجاهدينـو سره د زخميانـو او شـهيدانو پـه راوړلـو بوخت وو، مـوږ د ديرکـې پـه خولـه کـې وو چـې بـلال هـم لـه محمـد سره يـو ځـای راغـی، زمـا پـه ليـدو يـې سمدسـتي را غـږ کـړ:

ژر موټر راوله چې موږ و تاسې ځو!

ما ګل سادين ته وکتل:

موټـر ستاسـې کـره ولاړ دی، مـا تـه موټرسـايکل پيـدا کـړه، ځکـه پـه پښـو دوه پـاوه مـزل دی!

ګل سادين هاخوا دې خوا وکتل او بيا يې ولاړ موټرسايکل ته په کتلو وويل:

دغه دی تيار ولاړ دی، زه يې څښتن را پيدا کوم.

لـه لـږ ګرځېدلـو وروسـته ګل سـادين د موټـر سـايکل څښـتن را پيـدا کـړ او زه يـې خپـل کـور تـه ورسره ولېږلـم، کلـه چـې ورسـېدم موټـر مـې چـالان کـړ، د ګرمېدو پـه خاطـر يـې تـر لـږ معطلـي وروسـته را روان شـوم، کلـه چـې بېرتـه د ديرکـې خولـې تـه را رسـېدلم، غلچکـي دوه نيـول شـوي عسـکر هـم راوسـتلي او مجاهدين پـرې را غونـډ دي، مـا هـم موټـر څنـګ تـه ودراوه، زمـا پـه ليـدو بـلال سمدسـتي

Download more from Libtoon.com

غږ وکړ:

موټر دې راووست؟

هو!

بیا یې وویل:

تاسې ژر اجمل شهید ور اوچت کړئ.

بېرته مې موټر رېورس کړ او په کوم موټر کې چې اجمل مسید ایښی و، له هغه سره مې تر څنګ ودراوه، د کلي خلک او مجاهدین کومک ته راسره ودرېدل، شهید مې په خپل موټر کې ځای پر ځای کړ.

د جېټ الوتکو شور به کله کله راغی، خو نور اسمان خالي و.

حافظ بلال وویل چې همدلته د موټر په باډۍ کې دا عسکر هم کېنوو او دا یې هم وویل چې د موټر چلولو ته به زه کېنم.

عسکر مو را وستل، د دې پر ځای چې سترګې او لاسونه ور وتړو، همداسې مو له شهید سره په باډۍ کې کېنول. زه او محمد هم د موټر په باډۍ کې ورسره کېناستلو.

له دې ځایه مو شاوخوا یوولس بجې مزل پیل کړ.

حافظ بلال د ساحې مدیریت د سیمې قوماندانانو ته وسپاره چې د زخمیانو او شهیدانو خدمت وکړئ او پر وخت یې وزیرستان ته را ولېږئ.

همدا ډول یې حنظله ته دنده وسپارله چې د ور پاتې شویو شهیدانو په اړه دې د سیمې له مشرانو کار واخلي او کمپاین ته دې یې ور ولېږي چې شهیدان راته وسپاري.

لاره اوږده وه، د زېړوک او سپېرې ولسوالي تر منځ یو لوړ پېچومی و چې د ډانګري د سر په نامه یادېږي، پر دغه پېچومي به موټر ډېر په خواری

سره ختل، دا پېچومې دومره ستغ و چې کله کله موټر د شا په طرف تړې رالوېدلې هم دي. دا موږ سمولای ځکه نه شو چې دا ځای مشهور نه شي او دښمن يې د بندولو لپاره پوستې را نه وړي.

کله چې همدلته ورسېدو و مو ليدل چې د مجاهدينو ځينې موټر ولاړ وو، ورسره ودرېدلو، په يو تور هايلکس موټر کې ځلور شهيدان داسې ايښي وو چې د تنګۍ له امله يې جسدونه سر په سر پراته وو.

کله چې ور کوز شوو، و مو کتل چې سېلاب قوماندان دی.

امير زمان سېلاب د جنوبي وزيرستان د رزمک سيمې يو نامتو قوماندان او د خپل پلار ځای‌ناستی و، پلار يې څو کاله وړاندې له امريکايانو سره په جګړه کې شهيد او د خپل وخت پياوړی قوماندان و.

له سېلاب سره مو چې سترې مه شه وکړه، د شهيدانو په اړه مو ترې وپوښتل چې څوک دي؟

سېلاب وويل:

يو مې ورور دی، تازه د سعودي له مسافري راستون شوی و او نور مې ملګري دي.

د سعودي د مسافري غږ مې چې واورېد، پر شهيد مې زړه سخت خپه شو چې څومره سترياوې يې تېرې کړې وي او خلک چې له سفره راشي له خپلې کورنۍ سره په مينه ژوند کوي، خو زموږ سيمه وګوره چې له کومو خونخوارو تيارو سره لاس و ګرېوان ده. مور زوی ته دا دعا نه شي کولای چې له سفره را ستون شې، پر وطن د جګړې يو داسې بشامار خوله خښه کړې چې د انسانانو سرونه له ساه سره تېروي او ان هيڅ انسانان نه ورته ښکاري.

سېلاب ته مو وويل:

Download more from Libtoon.com

څه همکارۍ ته ضرورت لرې چې موږ يې وکړو؟

-يو پړی مې په کار دی چې شهیدان پرې وتړم، ځکه لوړ پېچومي دي هسې نه رانه ولوېږي، ما هم ژر پړی له باډۍ را خلاص کړ او ور مې کړ، بېرته مو حرکت تری وکړ او موټر مو پر پېچومي ور خښ کړ.

پېچومی رښتیا هم اوږد و، ځای پر ځای به زموږ د کوزېدلو ضرورت شو، ما به عسکرو ته وویل چې تاسې مه کوزېږئ، په ځینو ځایونو کې به زور ته هم ضرورت شو چې ما او محمد به موټر ټېله کاوه.

يو ځای موټر په پېچومي کې کمزوري شو، محمد د ځنګ ټوپک د موټر په باډۍ کې کېښود او زور مو ورکړ، موټر چې حرکت وکړ د محمد پښه په څه کې بنده شوه، هغه ودرېد، موټر ډېر تېز حرکت وکړ، د محمد ټوپک د موټر په باډۍ کې پاتې شو، ګورم چې يوه عسکر چې د ننګرهار شینواری او تور رنګه ځوان و، ټوپک ته را ټوپ کړل، ما چې ځنګه ولید سمدستي مې له اوږې ټوپک را کوز کړ او بلوټ مې ورته وواهه، پرې چیغه مې کړه: ټوپک ته لاس ور نه وړې!

عسکر په وارخطایي سترګې را واړولې، سمدستي شا ته شو، موټر هم ودرېد، ما ور منډه کړه او پر محمد مې غږ وکړ:

داسې کار څوک کوي؟ له بندي سره چا ټوپک پرېښی دی؟؟

عسکر ته مې مخ کړ:

ولې دې د ټوپک د را خیستلو هڅه وکړه؟

ژبه يې تاو را تاو شوه:

موټر چې حرکت وکړ، د موټر ډاکه خلاصه ده، ټوپک لاندې لوېده، ما را تم کړ...

Download more from Libtoon.com

چې و مې کتل رښتیا هم ټوپک لوېدلو ته نږدې و، خو عسکر چې په کوم ډول ټوپک ته ټوپ ور اچولی و، داسې نه و چې کواګې له لوېدلو یې بچ کوي، بلکې داسې و لکه په موږ کې چې یې د خالي کولو نیت درلود.
موږ شپه ټوله په ویښه تېره کړې وه، د سهار ناشته او ډوډۍ مو هم دا وه چې په لارو مو د پیپسي بوتلان او بسکېټ را اخیستي وو...
په لاره کې مې له پښتانه عسکر سره زیاتې خبرې وکړې او هغه ته مې وویل چې ایا تاسې نه پوهېدئ چې طالبان یو قوت دی او سیمې یې تر کنټرول لاندې دي؟
عسکر ساه نیولې ناست و، وروسته یې خوله وښورېده:
که زه داسې خبر وای چې طالبان دومره قوت لري چې په سیمه کې یې ساعتونه ساعتونه مزل کېږي، زه عسکرۍ ته نه راتلم.
همدا ډول یې په لاس کې د یوه بنګړي یادونه هم راته وکړه. و یې ویل:
دا مې معشوقې راکړی، که چا رانه اخیست ته یې ممانعت کوه.
دا چې زموږ ملګري زیات شهیدان شوي وو او په لاره کې به له یوه یوه خبرېدلو؛ نو دې خبرو به یې ما ته نوره هم غوسه را وسټله چې دی د معشوقې په غم کې دی، په موږ څه حال دی...
موږ نږدې ماښام په وزیرستان کې لنډه محمدخېلو ته ورسېدو او هلته د اجمل مسید کورنۍ هم منتظره وه، ډېر مجاهدین لارې ته راوتلي وو چې د زخمیانو او شهیدانو په وړلو کې همکاري وکړي، موږ همدلته د ځایي قوماندان سیف الله مرکز ته لاړو چې لږ چای وڅښو او ستړیا مو ورکه شي. شهید په همدې موټر کې د سیف الله ملګرو کورنۍ ته وسپاره.

Download more from Libtoon.com

## د نيول شويو عسكرو برخليک

پر زېړوک د لوی تعرضي برید شاوخوا درې شپې وتلې وې، خو کله چې مو د شهیدانو معلومات وکړل لس ملګري مو په مخامخ جګړه او اتلس نور په بمبار کې شهیدان شوي وو، همدا ډول لسګونه زخمیان هم وو.
په جنګ کې دوې پوستې فتح شوې وې چې درېیمې پوستې ته له حنظله څخه څلور نفره شهیدان ور پاتې شول، پوسته فتح نه شوه، همدا ډول په دغه جنګ کې ۲۸ تنه مجاهدین شهیدان او تر ۲۰ زیات زخمیان شول او ۲ تنه عسکر ژوندي نیول شوي وو.
عسکر مو په وزیرستان کې د لنډ محمدخېلو په سیمه کې د حافظ تبسم په مرکز کې بندیان کړل چې شهید مولوي سنګین به هم ډېر بندیان همدلته ساتل.
محب الله تبسم د همدې سیمې او د مولوي سنګین له مخکښو قوماندانونو څخه و.

مور له وزیرستانه په زېړوک ولسوالۍ کې له حنظله سره رابطې پیل کړې، ځکه څلورمه ورځ شوه چې ورپاتې شهیدان یې نه وو راته سپارلي او کورنۍ یې منتظرې ناستې وې، حنظله به ویل چې مور خپله هڅه شروع کړې او له سرې میاشتې سره هم په اړیکه کې یو.

Download more from Libtoon.com

د سیمې مشران مو ور ولېږل، هغوی ته یې ویلي وو چې موږ ته دې خپل عسکر راکړي، موږ به دا جسدونه ورکړو.
زموږ ځواب معلوم و، د ژوندیو او مړو نه سره کېدل. ورته و مو ویل چې سبا که ستاسي مړي راپاتې شي، بیا یې موږ هم نه درکوو، جګړهییز اصول یو او بل باید مراعات کړو.
همدا ډول حنظله وویل چې د پکتیکا لپاره د سرې میاشتې مسوول زرخاني ویل چې موږ ته د زېړوك د کمپاین مسوول وویل چې خپله وزیر دفاع او یا اشرف غني هم دلته راشي، موږ دا جسدونه نه ورکوو تر څو چې یې هلکي سپو نه وي خوړلي.
د دې پیغام را رسېدلو په موږ کې هم غوسه را ولاړه کړه، بلال امر وکړ چې سبا په دغه تعرض کې ټول هغه شامل قوماندان را جمع کړئ چې ملګري یې پکې شهیدان شوي دي. په داسې غوسه ناك حالت کې به زموږ ځینو ملګرو د قضایه قوې اصولو او اجراآتو ته نوك نه شوای، ځکه موږ به د جګړې په ډګر کې داسې ملګري بایللي وو چې زړه به مو پرې دوه پړکه کېده.
په سبا مو ټول هغه وزیرستاني او داخلي قوماندانان د میرانشاه بازار په خپل ځانګړي دفتر کې را جمع کړل، د دغو قوماندانانو مجلس دلته پر دې و چې د نیول شوو عسکرو د برخلیك په اړه پرېکړه وکړي.
مجلس شاوخوا یو ساعت وخت ونیو، زه له مجلسه بهر ناست وم، د دوی تر منځ خبرې ما وانه ورېدلې چې څه یې سره وویل، خو کله چې مجلس ختم شو قوماندانانو د دفتر په انګړ خبرې سره کولې:
ـ ښا امیر زمان به یې عوضي وژني؟

Download more from Libtoon.com

-سمه فیصله وشوه، چې زموږ د شهیدانو جسدونه نه راکوي ښه ده چې د دوی هم جسدونه ور ولېږو...

-کله یې وژنو؟

-چېرته یې وژنو؟

Download more from Libtoon.com

# انتقام

د لمر سترګه ورو ورو زېړېدله، موږ د همدې انتظار په منځ کې د مازدیګر لمونځ د ډانډې درپه‌خېل د ختیځې څنډې په یوه ځنګل کې وکړ. دا که له یوې خوا ځنګل، له بلې خوا پکې دوه لوی لوی د فوټبال میدانونه هم جوړ شوي وو، موږ به د ورزش په نیت مازدیګر فوټبال دلته کاوه.
د مازدیګر لمونځونه مو د بلال په امامت ادا کړل، موږ له لمانځه پس دعا کوله چې څو موټره زموږ خوا ته را وګرځېدل، ځینې سراچې او نور هایلکسونه وو.
حافظ بلال وویل:
ملګري لکه چې را ورسېدل؟
ټولو ور وکتل، ما چې مخ ور واړاوه له یو فور بای فور تور رنګه موټر څخه عمري را کوز شو او د موټر د باډۍ طرف ته لاړ، و مې لیدل چې د ملي اردو نیول شوي عسکر یې له موټره را کوز کړل او امیر زمان سېلاب یې تر څنګ روان شو. سېلاب چې قوماندانانو جلسې ته راغی هم ناقراره ښکارېده، د زېړوک په تعرض کې یې د ورور په شمول څو ملګري شهیدان شوي وو.
موږ هم پر ځمکه هوار څادرونه را ټول کړل او څنډه مو وهل، زه لېږ ور ګرندی شوم او چې ور ورسېدم، له عمري او نورو ملګرو سره تر سترې مه

Download more from Libtoon.com

شي وروسته مې پر نيول شوي شينواري عسکر لاس واړاوه، د ميدان پر طرف ورسره روان شوم، ورته و مې ويل:
څنګه هغه بنګړي خو به در څخه چا نه وي شکولي؟
عسکر وويل:
هغه يو طالب راڅخه يووړ...
بيا مې ورته وويل:
چېرته يې روان کړی يې؟
-وايي محکمې ته دې بوځو!
د محکمې خبره عمري ورته کړې وه، هغه ويل عسکرو ته مې د پوښتنې په ځواب کې ويل، يوې داسې محکمې ته روان ياست چې يا مرګ دی، يا خلاصون. ښه دا ده چې اودس وکړئ او له خدايه د ټولو ګناهونو معافي وغواړئ. عمري دا هم ويل چې لمونځ يې ډېر په توجه او دقت وکړ او بيا مو در روان کړل.
ما ورغبرګه کړه:
هو محاکمه ده، ان شاءالله کوم مشکل نه شته.
په دې وخت کې مجاهدين را زيات شول، هر يوه کوښښ کاوه چې خپله خبره پر يو چا ومني:
اې ته دلته ودرېږه!
اې هغه ابخوا کړه!
عسکر هلته ودروه!
کله چې عسکرو دا حالات وليدل، پوه شول چې شايد دا دوی د ژوند وروستې مازديګری وي.
هدايت خان شاهين چې د پکتيکا په زېړوک کې د مجاهدينو د سرګروپ مسوول

Download more from Libtoon.com

و، د دواړو عسکرو پر متو یې لاسونه واړول او د میدان مابین ته یې کړل.
ما چې کله ملګري ولیدل، قطار ودرېدل او د یو چا غږ واورېدل شو:
نور څوک به ډز نه کوي، حق د امیر زمان دی، هغه به یې ولي!
امیر زمان له نورو مجاهدینو څخه یو څه تر مخ ولاړ و، فاروق تر ده هم ور ها خوا و، د حالاتو ننداره روانه وه.
شاهین چې عسکر ودرول غږ یې پرې وکړ چې شا ته را و نه ګوري، امیر زمان وار له مخه کلاشینکوف له اوږې را کښته کړی و، خو تر هغه مخکې د فاروق د توپانچې مرمۍ ور ووتلې، امیر زمان د ډزو په اورېدو ټوپک ته سترګه پټه کړه او د ګڼو ډزو په غبار کې دواړه عسکر را وغورځېدل.
عسکر لا سم پر ځمکه پراته نه وو چې موږ هر یوه د ټوپک بولټ کش کړ او خپله سینه مو یخوله.
ډزونه بېخي زیات شول، له میدانه خړ ګردونه ختل، ویشتلي کسان پکې ورک شول او چیغې ناري پورته کېدې:
بس کړئ!
مه کوئ نور ډزونه!
په خپلو کې سره خوړوئ، مه کوئ...
دا لومړی ځل و چې زما تر مخ څوک وژل کېدل او ما لیدل چې ساه ورکوي.
قوماندان شاهین ته دنده وسپارل شوه چې د وژل شویو عسکرو جسدونه به د پکتیکا زېړوک ولسوالۍ ته یوسي او هلته به یې د سیمې د مشرانو په همکارۍ ورسره تبادله کړي، شاهین هم همداسې وکړل او په سبا یې د عسکرو جسدونه په خپل موټر کې واچول او تر ماښامه یې زېړوک ولسوالۍ ته ورسول، دا چې لاره اوږده وه جسدونه خراب شوي وو. شاهین وژل شوي عسکر د زېړوک

Download more from Libtoon.com

په ولسوالۍ کې همدا ماښام د تنګۍ د عامه سړک په څنډه کې واچول او په سیمه کې د مېشتو قوماندانانو حنظله، غلچکي او شاهین تر منځ مشوره وشوه چې څو موږ د خپلو کسانو جسدونه تر لاسه کوو، تر هغې پورې به د دې عسکرو جسدونه خاورو ته وسپارو.

دوی همداسې وکړل، د کلیوالو په مرسته یې جسدونه د دیرکې په خوله کې خاورو ته وسپارل او پوره یوولس ورځې وروسته د سیمې د مشرانو په منځګړیتوب او راشه درشه له مقابل لوري سره هوکړې ته ورسېدل، لومړی یې د سرې میاشتې په امبولانس کې د څلورو مجاهدینو جسدونه په داسې حال کې را ورسول چې فقط هډوکي وو، کله چې د جسدونو د خرابۍ په اړه حنظله له مشرانو وپوښتل چې دا څنګه فقط هډوکي دي؟

د سیمې یوه کس ورته وویل چې دا جسدونه یې د زېړوک په بازار کې پنځه ورځې پر سړک اچولي وو، د دوی رینجر او همدا شان ټانګونه به د خلکو تر مخ پرې ختل، کله چې یې غوښې د موټرو ټایرونو ورسره یووړې؛ نو بیا یې د سیمې خلکو ته امر وکړ چې څنګ ته یې کړي او چېرته خاورې پرې واړوي، بیا د سیمې خلکو هم همداسې وکړل.

زموږ قوماندانانو د مجاهدینو د جسدونو هډوکي سره بېل او په څلورو تابوتونو کې ځای پر ځای کړل، همدا ډول یې د عسکرو جسدونه هم د سرې میاشتې له خوا په راوړل شوو تابوتونو کې د هغوی د همکارانو په مرسته سم کړل، مجاهدین یې وزیرستان او عسکر یې د زېړوک کمپاین ته ولېږل.

د نظامي ژوند پولې له داسې عقدو ډکېدای شي چې قوانین او مقررات هلته کله کله د پل ایښودلو ځای هم نه مومي. داسې فکر کوم چې قوانین د سړو مغزو په دالانونو کې انګازې خپرولای شي او بس.

Download more from Libtoon.com

## د لالا امریکانی

زیات وخت لـه بـلال سـره ګرځېدم، بیـا بـه مـې یـو څـه رخصتـي وکـړه، ځکـه بـلال د پکتیـکا مسـوولیت درلـود، ژونـد یـې ټولـه ورځ مصـروف و چـې بیـا بـه زه هیـڅ پکـې دمـې تـه نـه فارغـېدم، کلـه بـه مـې چـې ځـان تـرې ګوښـه کـړ او یـا بـه مـې رخصتـي واخیسـته، زه او فـاروق بـه ګـډ ګرځېـدو.

دا ورځ هـم مـا ځـان لـه حافظ بلالـه را جـلا کـړی و او سـهار زه او فـاروق د دوی د کـور تـر څنـګ پـه جـوړ شـوي خاوریـن مېلمسـتون کـې چـې چاردېوالـي یـې هـم خاورینـه وه او دوه اطاقـه پکـې وو، سـهارنۍ ناشـتې تـه ناسـت وو، زه او فـاروق د ځوانـۍ پـه ګپـو کـې بوخـت وو چـې د مولـوي سـنګین تـر ټولـو کوچنـی زوی بیت اللـه راغـی، د اطـاق پـه دروازه کـې ودرېـد، پـه وړه ژبـه یـې وویـل:

اې هغه د لالا امریکانی خلاص شوی!

ما مخ ور واړاوه:

څنګه خلاص شوی، کوم امریکایي؟

بیت الله وویل:

هغه د لالا امریکانی!

فاروق ور غبرګه کړه:

Download more from Libtoon.com

برګډال؟

بیت الله وویل:

ـ هو هو، هغه!

ما پوښتنه وکړه:

تا ته چا وویل؟

ـ د ادې راډیو کې یې وویل.

د فاروق مورکې که څه هم د عمر له لحاظه ځوانه وه، خو په وجود کې یې څه پاتې نه وو، د دوو ځوانو زامنو شهادتونو او همداډول د هجرت تکلیفونو له ښې ایستلې وه، هغې به هیڅ وخت سهارني د ۷ بجو خبرونه نه قضا کول، حتما به یې د افغانستان د جنګ مسایل ترې اورېدل.

زه او فاروق ژر را ولاړ شوو، د کور کوټو ته ورغلو، و مو لیدل چې د کور په انګړ کې د کورنۍ غړي پر راډیو را ټول او یو غوږ ورته ناست دي.

په ور نږدې کېدو ودرېدلو، خبریال ته وغږېده:

امریکایي سرتېری بو برګډال شاوخوا پنځه کاله مخکې په پکتیکا ولایت کې وروسته له هغه د وسله‌والو طالبانو له خوا وتښتول شو، چې هغه له خپلې پوځي اډې وتلی و.

طالبان وایي چې برګډال یې په یوه سرحدي سیمه کې امریکایانو ته سپارلی او هغوی د دوی پنځه بندیان هر یو محمد نبي عمري، ملا فضل اخوند، عبدالحق وثیق، ملا نور الله نوري او ملا خیرالله خیرخواه له ګوانتنامو څخه دربیم هېواد قطر ته سپارلي.

د خبر په اورېدلو مې فاروق ته وکتل، هغه له مور سره پر کټ ناست و او زه ولاړ وم، ورته و مې ویل:

Download more from Libtoon.com

دا ځنګه دومره په خاموشي کې خلاص شوی، هيڅ ترې خبر نه يو؟

فاروق وويل:

ضرور به بلال ته معلومات وي، راځه چې بازار ته لاړ شو او هغه وګورو.

زه او فاروق پر موټرسايکل سپاره شوو او د بازار په طرف په فکرونو کې ډوب مزل مو پيل کړ.

که له يوې خوا خوشاله وو چې د امارت لوړپوړي مشران را ازاد شوي، خو له بلې خوا ګيله هم راته ولاړه وه، مور ويل مولوي سنګين هم تازه شهيد شوی، د پکتيکا ټول مجاهدين د يتيمانو په څېر پاتې دي، داپه دې هم زړه راته کم شو چې نه پوهېدو د پکتيکا له کوم مسوول سره به پکې مشوره شوې وي، که نه؟

زه په همدې فکرونو کې وم چې په بازار کې فاروق په درېخېلو سرای کې د عمري د دفتر تر مخ موټرسايکل ودراوه او دفتر ته ننوتلو.

په دفتر کې زيات مجاهدين وو، عمري په خپل اطاق کې پر توشکه ناست وو، تر روغبړ وروسته مو ورته وويل چې راځه هغې بلې کوټې ته چې يو خبره وکړو.

عمري هم را ولاړ شو او له ناستو ملګرو يې اجازه را وخيستله دويمې کوټې ته راغلو، کوټې ته په ننوتلو سره فاروق عمري ته وويل:

له برګداله خبر شوې چې خلاص شوی دی؟

عمري وويل:

هو اوس ملګري راته وويل، هغه هم له راديو خبر شوی و.

ما ور غبرګه کړه:

ته د بلال نماينده يې، له تا سره به دې هکله چا خبره کړې وه؟

عمري وويل:

Download more from Libtoon.com

نـه، حافـظ صاحـب هـم اوس رابطـه کـړې وه چـې دا کار څنګـه شـوی او راتـه و یـې ویـل چـې کـه خلیفـه صاحـب تـه ووایـې چـې تـه تـرې پـه جریـان کـې یـې کـه نـه؟

عمـري پسـې زیـات کـړه چـې لـه خلیفـه صاحـب سـره مـې د جمیـل لـه لارې رابطـه وکـړه، هغـه ځـواب رالیـږلـی چـې هـو زه پـه جریـان کـې یـم، خـو دا چـې وخـت کـم و، تاسـې پکـې خبـر نـه شـوئ، د امـارت لـه خـوا عاجـل امـر وشـو چـې برګـډال دې سـیمې تـه ورسـوئ.

عمري لږ چوپ شو، بیا یې خبرې وغځولې:

اوس کـه هـر څـه دي د امـارت امـر نـه شـوای ماتـولای، ضـرور بـه د مشـرانو پکـې کـوم مصلحـت وي او پـر دې خبـره بایـد هیـڅ زور و نـه کـړو چـې د پکتیـکا مجاهدیـن ولـې پکـې خبـر نـه شـول، کـه څـه هـم چـې د خبرېدلو حـق یـې درلود.

ما هم ور غبرګه کړه:

هـو! د امـارت پـه امـر کـې هیڅـوک هـم بـې امـري نـه شـي کـولای، خـو کـه د پکتیـکا مشـران وار لـه مخـه لـږ پـه جریـان کـې شـوي وای، د دوی حوصلـې بـه هـم لـوړې سـاتل شـوې وای چـې پـه مشـوره کـې ورسـره داخـل وای، سبا بـه یـې ګیلـه هـم نـه وای.

لـه یـوې خـوا کـه مـا د مجاهدینـو د خبرېـدو او نـه خبرېـدو پـه اړه اندېښـنې لرلـې، لـه بـل طرفـه مـې د برګـډال کـور تـه د ستنېدو تصـور هـم زړه تـه لاره کـړې وه. مـا ویـل چـې څـه بـه کـوي؟ څه بـه وایـي؟ لـه مـور و پـلار سـره بـه یـې لومـړۍ خبرې پـه څـه اړه وي؟ مونیـکا لـې بـه ورغلـې وي او...؟

Download more from Libtoon.com

## د برګهال تبادله

احمد حاجي چې د امارت له خوا د جنوب شرق او شمال شرق حوزې مالي اداري مسوول و، له پېښوره د سورلۍ په موټر کې سترې ستومانه راغلی او د میرانشاه بازار ته را رسېدلی و، لالهانده او په فکرونو کې ډوب و چې څه ډول به خلیفه صاحب پیدا کړي او په کوم شکل به د چا په توسط خبره ورسوي چې د ملاقات وخت ژر ورکړي، ځکه رابط ته یې هم نه شواې ویلای چې احمد حاجي دا سې کوم پیغام راوړی چې له هغه سره تر ډېره د امارت برخلیک تړلی دی.

د خلیفه صاحب د خاص رابط جمیل له لارې یې خلیفه صاحب ته خپل پیغام ور ورساوه چې عاجل درسره ګورم او خبره مهمه ده، خلیفه صاحب چې د احمد حاجي دا بېړنی غږ واورېد؛ نو یې عاجل خپل ځای چې د میرانشاه او غلام خان تر منځ په درګه کې و، راوغوښت او احمد حاجي لا سترې مه شې نه وه پوره کړې چې خلیفه صاحب ته یې وویل:

ضروري خبره ده، د امیرالمؤمنین قاصد پیغام رالېږلی.

پر افغانستان د امریکایي اشغال د تیارو تر خورېدو وروسته ملا محمد عمر مجاهد پټ شوی و او ملاقاتونه یې نه کول، خو د برجسته مسوولانو لپاره یې

Download more from Libtoon.com

یو قاصد معرفي کړی و چې د هغه په لاس به یې پیغام ورته رساوه.
تر دې وروسته اوس بله عجیبه دا وه چې په دې وخت کې پخپله لوی ملا صاحب محمد عمر مجاهد وفات شوی و چې د ده له مرګه د خلیفه صاحب سراج الدین حقاني په شمول اکثره ډېر لوی کسان هم خبر نه و.
خلیفه صاحب چې د احمد حاجي دا خبره واورېدله، ټوله توجه یې ورکړه او ورته و یې ویل:
ښه وایه، څه پیغام دی خدای دې خیر کړي!
احمد حاجي یو خوا بل خوا وکتل، زړه نا زړه و چې څنګه وکړي، ځکه په اطاق کې د خلیفه صاحب کشر ورور انس حقاني هم ناست و چې خلیفه صاحب پرې ډېر اعتمادي و، ځکه خو یې ورته وویل چې خبره بې غمه وکړه، څه دي؟
احمد حاجي وویل:
ملا صاحب خبر را لېږلی او ویلي یې دي چې نور مو ړ ټول کارونه خلاص کړي، خو سبا ته تر لسو بجو پورې هغه امریکایي چې تاسې په پکتیکا کې نیولی، په افغانستان کې موږ امریکایانو ته سپارو او د ځای کواردینات باید امارت ته ورکړو.
خلیفه صاحب غلی شو، په مجلس کې چوپتیا خپره شوه.
برګډال د سرو زرو هغه چرګ و چې په قطر کې د امارت او امریکا تر منځ لومړنی ناستې ته یې زمینه مساعده کړه او په قطر کې له امریکایانو سره د ملاقات لوی دلیل د برګډال تبادله وه او له پنځو کلونو راهیسې د برګډال په تبادله په وار وار د قطر په دفتر کې خبرې شوې وې چې هغه وخت د قطر د دفتر رییس طیب اغا و.

Download more from Libtoon.com

د برګډال پر سر په خبرو کې له اولې ورځې شرایط همدا وو چې پنځه کسان د امارت مهم بندیان به پرې تبادله کېږي، خو اوباما د دې خبرو منلو ته هیڅ تیار نه و او دا ناستې د پردې تر شا کېدې، وخت یې زیات نیولی و، ګنې په دې وختونو کې د خلیفه صاحب ماما حاجي مالي خان هم امریکایانو نیولی و چې د خلیفه صاحب نظامي ملګرو به ده ته بار بار ویل چې د تبادلې په لیست کې باید مالي خان حاجي هم ور اضافه شي، خو خلیفه صاحب له دې وېرې په تبادله کې د یوه شرط په توګه نه و یاد کړی چې خدای مه کړه که پر تبادله وخت تېر شي او په مابین کې په برګډال څه وشي بیا به د پړې ګوته ټوله موږ ته نیول کېږي او د تبادلې ټول واک خلیفه صاحب امارت ته ورکړی و.

خلیفه صاحب زړه نا زړه و چې اوس څنګه وکړي او دومره مهم بندي څنګه په ناخبرۍ کې امریکایانو ته وسپاري چې پنځه کاله یې نظامي ملګرو لکه د اور په منځ کې ورسره ژوند کړی، ځکه دا هره ثانیه خطر و چې امریکایان به چاپه ووهي او یا به هوایي برید وکړي. خلیفه صاحب په تشویش کې و، هغه نظامي ژوند کړی و او پوهېده چې په دغسې مسایلو کې اعتماد کول سخت دي، بل دا چې امریکایان د باور وړ خلک نه دي. له احمد حاجي سره هم نور معلومات نه وو، فقط دومره یې ویل چې د قطر ملګرو ډاډ تر لاسه کړی.

خلیفه صاحب ښه وګڼله چې له نظامي ملګرو سره هم مشوره وکړي، خو وخت ډېر بېړنی او اعتماد سخت و، خپل بل ورور حافظ عزیز یې چې په دې وخت کې د شهید بدرالدین حقاني ځایناستی یعنې د فدایانو مسوول و، را وغوښت. د حافظ عزیز مشوره هم همدا وه چې موږ خو لږ باید خبر شو،

Download more from Libtoon.com

هسې نـه سبا کومـه مساله پېښـه شـي چې بيا د پـړې ګوتـه مـوږ تـه نيـول کېږي. خبـره پـای تـه و نـه رسـېده، دوی د ماسپښـين لمانځـه تـه پورتـه شـول، خليفـه صاحـب تـر سـلام اړولـو وروسـته يـو دم مـخ را واړاوه:

نـور فکـر بايـد و نـه کـړو چې بنـدي ورکـړو، کـه نـه؟ دا د مـلا صاحـب «مـلا محمـد عمـر مجاهـد» امـر دی، کـه هـر څـه کېږي امـر يـې واجـب دی، اوس فکـر پـه دې پـه کار دی چې څنګـه بنـدي داخلـي ولاياتـو تـه نقـل کـړو او پـه کـوم ځـای کـې يـې ورکـړو؟ دا يـې هـم وويـل چې دغـه يـو امانـت دی، زمـوږ مسـووليت متابعـت دی، نـور بـه تـوکل کـوو.

دا پوښـتنې کېـدې راکېـدې چې خوسـت ښـه دی، پکتيـا او کـه پکتيـکا؟ څکـه دا سـيمې داسې وې چې د امريکايانـو لـه پوښـښـه لـرې وې، مشـوره پـر خوسـت راغلـه چې مـزل هـم کـم دی او لار يـې هـم ښـه ده، تـر ډېـره لـه خطرونـو پـه امـن ده.

برګـډال پـه دې وختونـو کې لـه ميرانشاه بـازار سره پـه نـږدې حـدودو کې د خليفه صاحـب ډېرو خاصـو ملګرو ساته. د شپې خبر راغـی چې سبا خـو د ميرانشاه پـر سـړک د پاکستانيو پوځيانـو ګرځ‌بنديز دی!

پـه دې وختونـو کې د ميرانشـاه حـالات بېخـي خـراب شـوي وو، د اسـمان فضـا بـه ځينـې وخـت داسې وه چې ۱۰ او ۱۵ ډرون بـه پـرې ګرځېدلـې، پاکسـتاني پوځيـان بـه چې لـه خپلـو کيمپونـو وتـل؛ نـو بـه يـې لارې د عامـو خلکـو پـر مـخ وتړلـې او هـر هغـه عـام کـس چې بـه پـر لاره وليـدل شـو پـر سـر بـه يـې وويشـت، ځـای پـر ځـای بـه يـې وواژه، لـه دې املـه ډېـر ځوانـان شـهيدان او زخميـان شـول.

سبا هماغه ورځ وه چې پر لاره د پاکستانيو پوځيانو کاروان تېرېده او لاره بندېده.

د ټولو يکې يوه پوښتنه وه:

Download more from Libtoon.com

ښه نو اوس څه کوو؟

خلیفه صاحب وویل:

قاري معراج را وغواړئ، ادرس به ورکړو چې بندي سبا عاجل یوې ځنډې ته وباسي.

قاري معراج د خوست و او د خلیفه صاحب د اعتمادي نظامي مجاهدینو له جملې و.

قاري معراج عاجل را وغوښتل شو، ورکړل شوي مسوولیت ته یې یې لستوڼي ونغښتل او له خپلو څو ملګرو سره یې له میرانشاه بازاره د برګډال د ساتنې ځای ته مزل پیل کړ.

خلیفه صاحب ډېر په تشویش کې و او له ډېره فشاره یې په اطاق کې قدمونه شروع کړل، ځکه له یوې خوا د اسمان فضا ټوله له ډرونونو ډکه وه، هره شېبه د بمبار خطر و او له بلې خوا سبا لسو بجو ته له میرانشاه تر خوسته د یوه داسې چا امانت رسول وو چې د امریکا د برې او ناکامۍ تار ورسره تړلی و.

احمد حاجي خلیفه صاحب ته وویل:

دا تاسې ځومره ټینګ خلک یاست، دا پنځه کاله مو برګډال څنګه وساته؟ زه دا ځلور پنځه ساعته په دې موضوع کې داخل شوم، نږدې دی چې زړه مې وچوي، خو تاسې پنځه کاله دا سړی وساته او هیڅ اثر یې درباندې نه دی کړی. دا سختي به زه حتما ملا صاحب ته بیانوم.

له څه خبرو اترو وروسته قاري معراج دوی په توره شپه کې په میرعلي کې ټاکل شوي هدف ته رسېدلي وو او برګډال یې په داسې طریقه له کوره په بوجۍ کې د نورو بوجیو تر څنګ رایستلی و چې ګواکې له کوره کډه

Download more from Libtoon.com

بارېږي، دوی دا کار ځکه کړی و چې ډرون یې تعقیب نه کړي او خدای مه کړه په دې وروستیو مرحلو کې د مجاهدینو د لاس ښکار ضایع نه شي.
تاکل شوې وه چې سبا لس بجې بايد برګډال د خوست په ببرک تانه سیمه کې د ځايي مشر نعیم کوچي کور ته رسېدلی وي.
دا پر خلیفه صاحب د شدید انتظار شپه وه چې تر سهاره او بیا تر لسو بجو به یې په ډېره ترخه ناکراري کې تېره کړه، دا چې تر لسو بجو هم خبره جوته شوې نه وه، انتظار نور هم په سختي واوښت، دا انتظار شېبه په شېبه پسې اوږدېده او اخېر د ماسپښین لمونځونه هم وشول چې ملګرو هیڅ رابطه و نه کړه.
د خلیفه صاحب په شمول مشخصو ملګرو دا انتظار په ډېره سختی تېراوه چې د ماسپښین او مازدیګر په منځ کې ملګرو رابطه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې دوی په خیر رسېدلي او ملګرو وویل چې موږ خو په لاره کې د باران او اوبو له امله وځنډېدو، دا چې وخت کم و د نظامي ملګرو لپاره مو یونیفورم هم نه دی اماده کړی او همدا ډول مو د امارت سپین بیرغ هم پیدا نه کړ، مګر په لاره کې مو په هدیره کې له یوه قبره سپین بیرغ را پرې کړی او په یوه لرګي مو پیېلی دی.
خلیفه صاحب هم ورته وویل چې په جنګ کې پر اسونو باندې نال نه وهل کېږي، همدا کفایت کوي.
بیا یې د هغه افغان ترجمان شمېره ورکړه، دا شمېره د قطر له دفتره خلیفه صاحب ته رالېږل شوې وه چې د برګډال ځای به دې شمېرې ته په ګوته کړئ.
قاري معراج هم له خلیفه صاحب سره له خبرو پس سمدستي شمېره ډایل

Download more from Libtoon.com

کړه او لـه یـوه افغـان ترجمـان سـره یـې خبـرې پیـل کـړې، د ځـان تـر ور پېژندلـو وروسـته یـې سیمه ور ښـووله.

لـه لږ ځنډه وروسـته سـیمې تـه امریکایـي هلیکوپټر ورسـېدل، تر یـو څـو پروازونو وروسـته یـې یـوه څرخکـه کښـوله او پـه داسـې حـال کـې نظامـي ملګـرو برګـډال د خـړ رنګـه پـور بـای پـور دوه سـپټه موټـر لـه شـا سـیټه را کـوز کـړ چـې د برګـډال سـترګې لـه لمـره برېښـېدلې، ځکـه پـه میاشـتو یـې لمـر نـه و لیدلـی او همدلتـه یـې لـه سـترګو تـرې تـاو کـړې پټـۍ غورځولـې وه.

برګـډال پـر متونـو بـرګ دسـمال اچوالـی و، حیـران و چـې څـه پېښ شـول او څـه پیښـېدونکي دي؟ هیـڅ لـه ځانـه خبـر نـه و چـې څـه دي او دا هلیکوپټـر د چـا دی یـا ولـې ناسـت دی؟

مـا چـې هغـه پـه وزیرسـتان کـې لیدلـی و، د بنګنـې لـه اواز سـره بـه یـې لـه مخـه رنـګ والـوت او ویـل بـه یـې چـې اوبامـا ډېـر ظالـم دی، مـا وژنـي. دې ډار تـه پـه کتلـو زه خپلـه حیـران یـم چـې د داسـې هلیکوپټـرو پـه منـځ کـې د ده زړه ولـې نـه دی درېدلـی؟

اوس دوو ملګـرو د هلیکوپټـرو پـه طـرف تـر متونـو نیولـی ور روان کـړی و، پـه لاس کـې یـې یـو جـوړه افغانـي کالـي او پـه کالـو کـې مجاهدینـو پـه خپلـه مخه پـټ خط ورتـه ایښـی و چـې اوبامـا تـه پکـې لیـکل شـوي وو چـې زمـوږ خـاوره پرېـږده!

لـه هلیکوپټـره امریکایـي عسـکر لـه یـوه افغـان ترجمـان سـره پـه منـډه د برګـډال پـه طـرف را روان شـول، خـو د موټـر او هلیکوپټـر تـر منـځ پـه فاصلـه کـې مجاهدیـن او امریکایـي عسـکر سـره ورسـېدل، افغـان ترجمـان د دې پـر ځـای چـې لـه مجاهدینـو سـره پـه ښـي لاس سـتړي مـه شـې وکـړي پـه چـپ لاس یـې وکـړه، داسـې ښـکارېدل چـې پـر دوی سـخته وېـره پرتـه وه او تـر سـتړي مـه شـې وروسـته

ټول د برګډال په تالاشي لګیا شول، د هغه په لاس کې خلطه وه چې پکې جامې او اوباما ته لیکل شوی خط و.

په دې منځ کې یوه مجاهد په خپله لهجه پر برګډال افغانستان ته د بیا نه راتلو ناره وکړه:

"بیا افغانستان ته رونشې!"

دا جمله په رسنیو کې دومره مشهوره شوه چې د ډېرو خلکو په خوله وه.

امریکایي عسکرو د برګډال له لاسه خلطه واخیستله او همالته یې وغورځوله، دی یې په وروستي ځل له مجاهدینو هلیکوپټر ته اوچت کړ او هلیکوپټر یې د کابل پر لوري والوځاوه.

څه وخت وروسته د هماغې مشهورې جملې مجاهد او قاري معراج دواړه د ډرون خوراک شول.

شاید علت یې دا وي چې د الامارة د همدې صحنې په نشر شوې ویډیو کې د دوی مخونه بلر «خپ» شوي نه وو. دا بې احتیاطي سره له دې شوې وه چې دوی ته یې د ځېرو د پټولو سپارښتنه هم ډېره په ټینګار شوې وه.

Download more from Libtoon.com

# پنځه مجاهدين

برګډال د ۲۰۱۴م کال د مې په ۳۱مه د مجاهدينو له زندانه خلاص او په تبادله کې امريکايانو وسپارل شو، د ده په بدل کې د افغانستان اسلامي امارت لوړپوړي مشران وو: محمد نبي عمري، خير الله خير خواه، عبدالحق وثيق، ملا فاضل او نور الله نوري.

د برګډال په اړه د امارت او امريکا تر منځ خبرو د مذاکرې بنسټ جوړ کړ.

د دغو پنځو کسانو خلاصون داسې نه و چې په افغانستان کې طالبانو ته وسپارل شول، دوی په قطر کې قطريانو ته په دې شرط ورکړل شول چې يو کال به بهر سفر نه کوي، خو کورنۍ يا نږدې خپلوان يې کولای شي چې د ليدو لپاره قطر ته ورشي او د دوی د تګ راتګ په اړه به هيچا ته مشکل نه جوړېږي.

بالاخره د دغو ټولو بنديانو کورنۍ قطر ته ورغلې او د خپلوانو له جملې يې حافظ انس حقاني او حافظ رشيد هم يو ځای د محمد نبي عمري ليدو ته روان شول، حافظ رشيد د محمد نبي عمري ورور و، حافظ انس او حافظ رشيد چې په هغه وخت کې دواړه قطر ته لاړل، هلته يې له خپلو مشرانو سره وليدل.

Download more from Libtoon.com

خو د بېرته راتلو په وخت کې د قطر په هوايي میدان کې په داسې حال کې قطريانو ونیول او امریکایانو ته یې وسپارل چې پر ژمنه یې پښې کېښودې.

د قطر دا دوکه بیا تر ډېره د اسلامي امارت د مشرانو په زړونو کې د یوې گنډې په توگه پرته وه او تر ډېره به د مذاکراتو په جریان کې اعتماد پرې نه کېده.

Download more from Libtoon.com

## مخ په ختمېدو رخصتي

سعودي ته زما د تګ شپې په را رسېدو او رخصتي په ختمېده وه، له يوې خوا مې قسم کړی و چې نور به هلته نه ځم او له بل لوري که مې دلته ژوند پيلولای، اقتصادي مشکل راته پېښېده. له ځان سره مې سوچونه کول چې همدلته پاتې شم او بچيان په خوست کې پرېږدم؟ که هغوی دلته راولم؟ که دلته راشي، مصارف به يې څنګه پرې کوم؟

په همدې فکرونو کې وم چې زموږ يو خپل چې په سعودي کې هم نږدې سره پاتې شوي وو او د راز دوست مې هم و، ذهن ته راغی چې هغه به مې هرو مرو لاسنيوی وکړي.

په ميرانشاه بازار کې پي سي او ته ورغلم او زر سلام ته مې زنګ وواهه.

زرسلام زما د غږ په اورېدو زيات خوشاله شو او و يې ويل چې سړيه ورور دې په دوکان کې يوازې پاتې وي، خلک رنګارنګ خبرې کوي، وايي ويزه يې وسوځوله، اوس خو دې وخت ډېر کم پاتې دی، کله راځې؟

ما ووېل:

د همدې لپاره مې تليفون درته کړی چې د ټيکټ غم وخورم، در روان يم...

زرسلام سمدستي ووېل:

Download more from Libtoon.com

د ټکټ روپۍ زه در لېږم، څو روپۍ دي؟

پنځوس زره کلدارې!

زرسلام وویل:

یو ساعت پس به د حوالې او دوکان نمبر درکړم، پیسې نغدې ترې واخله او ټکټ وکړه، نور راځه چې رخصتي دې ختمه ده.

خبرې مو خلاصې کړې، تلیفون بند شو.

لږ وروسته یې د دوکان ادرس راکړ او ټینګار یې وکړ چې دستي د ټکټ غم وخورم. ما مننه ترې وکړه، پیسې مې را واخیستې، سمدستي راووتلم او د فاروق دوکان ته لاړم. فاروق دا وخت په میرانشاه بازار کې په مالي خان نومي سرای کې د موټرو د ټایرونو دوکان اینبی و چې کور ته یوه حلاله ګوله پیدا کړي.

د زر سلام پیسو ته خو مې وار له مخه خپله اراده راته معلومه وه، خو په عین حال کې مې دا هم احساسوله چې پنځوس زره قرضداره خو شوم، مګر معلومه نه ده چې کله به یې پرې کړم.

فاروق ته مې وویل چې ما یو تصمیم نیولی، غواړم بچیان مې له خوسته دلته را انتقال کړم.

ـ دا خو به ډېر خوند وکړي، زموږ د کور مېلمستون دی، که یې لږ سره برابر کړو د شپې به ټول یو ځای یو.

زه هم ډېر خوښ شوم چې همدلته د بلال حافظ یا فاروق دوی د کور تر څنګ کور برابر کړم.

فاروق ته مې وویل:

هلته به د څه شي ضرورت شي؟

ـ نور شیان ټول په کور کې شته، فقط د خپلو بسترو او د اطاق د ضرورت وړ

Download more from Libtoon.com

شیانو غم وخوره، د پیسو لپاره به بلال ته ووایو، خرڅ به درکړي.

-نه نه، دومره پیسې راسره شته چې د یوه اطاق شیان پرې واخلم، خو فقط کور کتل غواړي.

مازدیگر چې کله ډانډې ته لاړو، په کور کې مې له خپلې خور سره هم مشوره وکړه، هغې هم زما خبره ډېره خوښه کړه، ورپسې د فاروق دوی د کور تر څنګ یو خاورین کور ته چې دوه اطاقونه یې درلودل ورغلو، دلته به وخت ناوخت د بلال مېلمانه پکې وو، و مو کوت، په اطاقونو کې تیار فرشونه وو خو فقط بسترو او یوې المارۍ ته اړتیا وه چې سهار مې همدا ټول د ضرورت وړ شیان د زرسلام د ټکټ په را لېږلو پیسې را نیول او د نوي ژوند د پیلولو په سوچ مې پکې ځای پر ځای کړل.

Download more from Libtoon.com

○○○

مازدیگـر زه او فـاروق پـه موټرسـایکل کـور تـه روان وو، دا ورځـې پـه بـازار کـې داسـې خبـرې کېـدې چـې پـر وزیرسـتان عملیـات پیلېږي، مـا فـاروق تـه اندېښنه ښـکاره کـړه چـې دا عملیـات خطرنـاک دي، خـو هغـه چنـدان دا بـاور نـه کاوه، بیا مـې پـه ګپـو کـې ورتـه وویـل چـې زه تـازه کـور راولـم هسـې نـه د کـور سـامان مـې دلتـه پاتـې وي او مـوږ پـه تېښـته یـو.

فـاروق پـه خنـدا خنـدا کـې د عملیاتـو خبـره پـه اسـانه را اړولـه، ویـل یـې هسـې چورتونـه وهـې.

پـه همـدې کـې کـور تـه را ورسـېدو، مـوږ دا شـپه پـه کـور کـې وکـړه، دا چـې موسـم یـو څـه ګـرم و زه او فـاروق د کوټـې پـر چـت ویـده شـوو، پـر سـهار چـې کلـه لمانځـه تـه پاڅېـدو او د سـهار خـړه رڼـا پـه خورېـدو وه، لـه بـازار سـره نـږدې یـوه چاودنـه وشـوه، کلـه چـې ورتـه ځیـر شـوو یـو شـین دود لتېـده، پـه هغـه وخـت کـې مـا لـه ځـان سـره ګلکسـي ۷ موبایـل را وړی و، سمدسـتي مـې جېـب تـه لاس کـړ او لـه لوګـي مـې ویډیـو شـروع کـړه، ورپسـې بـل انفجـار وشـو، خـو دا انفجارونـه همـدا دوه نـه وو، پرلهپسـې شـروع شـول.

فاروق وویل:

Download more from Libtoon.com

دا خو داسې دي لکه د پاکستاني پوځیانو له خوا چې توپونه را ویشتل کېږي.
ما چې څه خبرې ته خوله جوړوله، فاروق منډه کړه، و یې ویل:
زه رادیو راوړم چې خبرونه څه وايي!
زه همداسې په ویډیو اخته وم چې فاروق بېرته د کوټې چت ته له چالانې راډیو سره را وخوت، د راډیو اوږد انتن شوربېده، خبریال ویل:
پاکستانیو ځواکونو ډیورنډ کرښې ته څېرمه د شمالي وزیرستان په قبایلي سیمه کې د مېشتو سخت‌دریځه وسله‌والو پر ضد پراخ پوځي عملیات پیل کړي.
د پاکستاني پوځ د عامه اړیکو دفتر «ISPR » پر یکشنبه په خپله خبرپاڼه کې ویلي، چې د دې هېواد ځواکونو د پاکستان وزیر اعظم په وینا په شمالي وزیرستان کې د مېشتو سخت‌دریځه کورنیو او بهرنیو وسله والو پر ضد د "ضرب عضب" په نامه پراخ پوځي عملیات پیل کړل.
فاروق ما ته وکتل، بیا غوږ شوو:
خبرپاڼه همداراز وايي، چې په شمالي وزیرستان کې مېشتو کورنیو او بهرنیو ترهګرو د پاکستان پر خلاف جنګ پیل کړی، د دې هېواد اقتصاد او د شمالي وزیرستان ولسي ژوند یې په ټپه درولی او زموږ ډېری سرتېري یې وژلي دي. اوس وخت راغلی، چې د دغو ترهګرو پر ضد کوټلي ګامونه پورته کړل شي.
موږ دواړه چوپ ، خو خبریال لګیا و:
ـ د پاکستان حکومت په شمالي وزیرستان کې د دې پراخو او لویو پوځي عملیاتو پرېکړه تر هغه وروسته کړې، چې پاکستاني وسله‌والو طالبانو او د ازبکستان اسلامي غورځنګ په نامه د دې تحریک یوې بلې ډلې د روانې میاشت پر اتمه نېټه د پاکستان د ستر ښار کراچۍ پر یوه نړیوال هوايي ډګر خونړی برید کړی و، چې په ترڅ کې یې لږ تر لږه ۳۰ کسان وژل شوي وو.

Download more from Libtoon.com

د پاکستان د دفاع وزیر خواجه اصف په وزیرستان کې د پوځي عملیاتو د پیل تر رسمي اعلان وروسته له رسنیو سره په خبرو کې وویل، په شمالي وزیرستان کې مو تر ژور غور و فکر وروسته د پوځي عملیاتو پرېکړه وکړه او په خبره یې چې دا عملیات به د وروستي ترهګر تر وژنې پورې دوام ولري.
نوموړي زیاته کړه، چې په شمالي وزیرستان کې پوځي عملیات د وخت اړتیا ده او موږ اوس مجبوره یوو، چې په دغو سیمو کې د مېشتو کورنیو او بهرنیو وسلهوالو پر ضد پراخ پوځي عملیات وکړو او هغوی منطقي انجام ته ورسوو:
"زموږ ځواکونو د یکشنبې په سهار په شمالي وزیرستان کې پوځي عملیات پیل کړي دي. زموږ سرتېري به په مېړانه د ترهګرو مقابله وکړي او دوی به له منځه یوسي. د ترهګرۍ له امله زموږ ښوونځي، مدرسې، جوماتونه، کلیساوې او بازارونه غیر محفوظه شوي او د خلکو ورځنی ژوند په ټپه دریدلی دی. اوس موږ د ترهګرو پرخلاف د یوه پرېکنده جنګ پرېکړه کړې، څو په سیمه کې سوله را منځ ته کړو."
فاروق راډیو پر ځمکه ایښې وه، ما انتن ته کتل، خو غوږونه مې خبر ته څک وو:
اصف همداراز وویل، موږ ډېره هڅه وکړه، چې له وسلهوالو پاکستاني طالبانو سره د مذاکراتو له لارې شخړې اوارې کړو، خو هغوی مذاکرات زموږ کمزوري وګڼله او زموږ پر ځواکونو یې خونړي بریدونه وکړل.
د نواز شریف په مشرۍ د پاکستان حکومت د روان کال په فبرورۍ کې له وسله والو پاکستاني طالبانو سره د سولې خبرې اترې پیل کړې او د همدې هدف لپاره یې یوه کمېټه هم وټاکله.

Download more from Libtoon.com

دا خبرې اترې هغه مهال د ځنډ ښکار شوې، چې وسلهوالو پاکستاني طالبانو د اپریل په ۱۶مه له حکومت سره اعلان کړی شوی موقتي اوربند پای ته ورساوه او پر پاکستانيو ځواکونو يې خونړي بريدونه وکړل.

د پاکستان پوځي مقامات وايي، چې په شمالي وزيرستان کې يې د يکشنبې په ورځ هوايي بريدونه کړي، چې په ترڅ کې لږ تر لږه ۱۰۵ وسله وال وژلي او د دوی ۸ مرکزونه يې هم له منځه وړي دي.

دوی همداراز وايي، له افغان دولت يې غوښتي چې په شمالي وزيرستان کې د پوځي عملياتو پر مهال دې له دې سيمې سره د لګېدلې پولې کلکه څارنه وکړي.
د پاکستان ځينو سياسي ګوندونو د دې هېواد د حکومت له خوا په شمالي وزيرستان کې د پراخو پوځي عملياتو د اعلان هرکلی کړی.

د يادونې وړ ده، چې د پاکستان کورنيو چارو وزارت په شمالي وزيرستان کې د پوځي عملياتو تر اعلان وروسته د خيبر پښتونخوا په ګډون د پاکستان په ټولو سترو ښارونو کې امنيتي تدابير لا سخت کړل."

کله چې خبرونه پای ته ورسېدل، فاروق ولاړ شو، ورته و مې ويل: اوس څنګه کوو؟

فاروق په ډاډ وويل:

هيڅ نه شته خدای به خير کړي، که داسې څه وای ضرور به له مشرانو خصوصاً خليفه صاحب څخه حال راکړل شوی وای.

فاروق ځکه ډاډه و چې په خبرونو کې د ۱۰۵ طالبانو د شهادت خبره هم وشوه چې هيڅ حقيقت يې نه درلود.

ما ور غبرګه کړه:

ته راځه چې لاندې کوز شو، بهر پوښتنه وکړو چې دا توپونه له کومه ځايه

Download more from Libtoon.com

راغلل او کوم ځای ولي؟

زه او فاروق چې لاندې را روان شوو، له سړکه زموږ د کور خوا ته سپینه سراچه راغله، ما فاروق ته وویل چې ښایي بلال راغی.

بهر چې را ووتلو سراچه د کور تر مخ ودرېدله، بلال او ملګري یې ترې راکښته شول، تر روغبړ وروسته بلال وویل چې پاکستان عملیات شروع کړي او مشران وایي چې دا عملیات پنځلس ورځې دي؛ نو دا هم وایي چې باید د پنځلسو ورځو په مخه کورونه خالي او ضروري شیان سره نقل کړو.

موږ په همدې خبرو لګیا وو چې د کور تر شا مو د مرحوم حقاني صاحب له مدرسې «منبع العلوم» څو موټره فدایان ملګري په پلاتکوچ موټرونو کې تر موږ تېر شول، کله چې موږ لږ ور وړاندې شوو، یوه له مجاهدینو ډکه سراچه هم پسې وه، و مو دروله او پوښتنه مو ترې وکړه چې چېرته ځي.

هغوی وویل چې خلیفه صاحب وایي ملګري د ټل په طرف وباسئ او د ضرورت شیان هم درسره یوسئ.

حافظ بلال له موټروانه د خلیفه صاحب پوښتنه وکړه چې هغه چېرې دی؟

موټروان وویل:

ټولو مشرانو ځانونه خوندي کړي دي.

موږ هم همدلته له موټروان سره رخصت واخیست او بېرته د کور مخې ته راغلو، هلته په سپینه سراچه کې عمري او سپین طالب چې د سپېرې والسوالۍ مجاهد و او دا وخت یې د عمري مرستیالي کوله، راغلل.

دوی هم موټر له موږ سره تر څنګ ودراوه.

تر روغبړ وروسته عمري هم همدا وویل چې موږ ته قومي مشرانو وویل چې تر څو پوخ سیمه بېرته پرېږدي تاسې باید یو څو ورځې کورونه خالي

Download more from Libtoon.com

کړئ او د ضرورت شیان درسره یوسئ، همدا ډول یې وویل چې یوازې طالبان نه، دلته ټول وزیرستانیان له سیمې بارېږي او فقط ضروري شیان وړي.
زموږ همدلته پر دې مشوره راغله چې زه، فاروق او شاهین چې د زېړوک سرګروپ او د بلال د تره زوی و، باید کور جنوبي وزیرستان رزمک ته نقل کړو، ځکه جنوبي وزیرستان په عملیاتو کې نه و.
په کور کې ضروري وسله سره را ټوله شوه، د عمري په ګډون بلال پکتیکا ته د تګ نیت وکړ چې هلته خپل مسوولیت هم سمبال کړي او ملګري هم هغې خوا ته منظم کړي.
موږ په همدې ورځ د بلال لپاره سلاح ځانګړې کړه، یو تور ډاټسن مو ورته بار کړ چې موټروانې یې عادل کوله، رخصت مو کړل او تري پاتې څو ټوپکونه مو سره وویل چې جنوبي وزیرستان رزمک ته یې راسره یوسو.

Download more from Libtoon.com

## ضرب عضب عملیات

گرده ورځ مو د میرانشاه په بازار او شاوخوا سیمو کې د لاری موټر په پیدا کولو پسې تېره کړه، پاکستاني پوځ اعلان کړی و چې ضرب عضب عملیات به د ۲۰۱۴م کال د جون پر ۱۶ مه پیلوي، خو وړاندې له دې چې دوی عملیات پیل کړي، هلته مېشت جهادي تنظیمونه ټول د عملیاتو له پیلېدو خبر او له سیمې په وتو لګیا وو، پاکستان د دوی د وتلو لپاره ټولې لارې خلاصې پرېښې وې.

مازدیګر ناوخته موږ پر دې بریالي شوو چې درګې منډیې ته نږدې په یوه کلي کې د کرایې لاری موټر پیدا کړو.

د لاری له موټروان سره مو خبره وکړه چې تر رزمک پورې به زموږ کورنۍ او د کور اړین سامان رسوي، موټروان وویل چې اوس ناوخته دی سهار اته بجې ستاسې کور ته ځان در رسوم.

موږ دغه شپه په داسې حال کې په خپل کور کې سبا کړه چې په شاوخوا سیمو کې د پاکستاني پوځ د توپونو او هاوانونو مرمۍ لګېدلې او چاودلې، خو تلفات یې نه درلودل، ځکه دوی د خلکو د وېرولو په خاطر د استوګنې له سیمو لرې غرونه، غونډۍ او خالي ځمکې ویشتې.

Download more from Libtoon.com

د شمالي وزيرستان عام ولسي وګړي زيات په وېره کې وو، ځينو همداسې ډک کورونه پرېښودل او د بنو ولسوالۍ پر لور له خپلو کورنيو سره يېلې پښې پر قير سړک سوځنده لمر ته د موټرو د نشت له امله پلي روان وو، دوی د پاکستاني پوځ له عملياتو خپل ځان او کورنۍ امن ځايونو ته رسولې.

ځينو خلکو بيا له صبره کار اخيست چې هم ځان او هم د خپل کور ضروري سامان له ځان سره خوندي ځای ته انتقال کړي، له نورو سيمو شمالي وزيرستان ته راغلې لارې پوځ همداسې خلاصې پرېښې وې، ځکه څوک سم نه پوهېدل چې عمليات ولې، څه ډول او د چا خلاف کېږي ؟

زه هغه مهال پوهېدم چې دا عمليات پاکستان هغه وخت هم کولای شول چې لومړی ځل په دې سيمه کې مختلفو وسله‌والو ډلو د طالب په نامه سر راپورته کاوه.

وروسته د طالب له شتونه پاکستان په دې سيمه کې دوې ګټې پورته کړې، لومړی دا چې د ای ايس ای او نورو استخباراتي ادارو کسان يې د طالب په لباس کې په دې سيمه کې ځای پر ځای کړل چې هر هغه د فکر او نظر خاوند چې د پاکستان د پاليسيو مخالف وي، په نښه کړي.

دغه تور شکلونه چې پاکستاني استخباراتو د طالب په نامه په سيمه کې ځای پر ځای کړي وو، د شمالي وزيرستان زيات شمېر مخور قومي او سياسي مشران...
يې د جاسوسانو په نامه ترور کړل، دوی په دې ډول له يوې خوا طالب پرې بدناماوه او له بلې خوا يې په وزيرستان کې د سر سړی خاورو ته لېږه چې سبا دلته د دوی د پاليسيو د تطبيق پر وړاندې خنډ و نه ګرځي.

زه داسې فکر کوم چې دا لړۍ پاکستان جاري ساتي، خو يوازې شکل يې بدلوي.

Download more from Libtoon.com

په سبا زموږ در دروازې تر مخ لارۍ هارنونه ووهل، د کور د ضرورت وړ شیان مو په لارۍ کې واچول، خو زما د اطاق شیان مو پرته له دې چې زه دې یې استعمال کړم، په کوټه کې بند کړل، که څه هم زموږ اراده د لسو یا پنځلسو ورځو وه، خو ما ته لږ په زړه کې ودرېدل چې بېرته بیا وزیرستان ته را تګ نه شته، موږ د سمندر څپو اخیستي یو چې چېرته یې غوځار کړو همالته به مو غورځوي. زه اوس دې ته خوشاله وم چې څه شکر بچیان خو مې نه دي راوستلي.

موږ له وزیرستانه د کور ضروري شیان په لارۍ موټر کې بار کړل او د کور مېرمنې او ماشومان مو نیم لنډ کروزر سور رنګ موټر کې کېنول چې فاروق چلاوه، ځینې له ما سره په سپینه سراچه ډوله موټر کې سپاره شول او شاهین او ورسره درې مجاهدین ملګري لارۍ ته ور وختل.

فاروق په رزمک کې تر مخ له چا سره خبره کړې وه، هلته د سیمې مشرانو زموږ د کور لپاره یو بند ښوونځی ځانګړی کړی و چې د څو شپو په موخه پکې اوسېږو.

موږ شاوخوا یوولس بجې له کوره حرکت وکړ، د میرانشاه په بازار چې وتلو ټول بازار بند و، زما موټر چې د رزمک د موټرو تم ځای ته ور نږدې شو؛ بږ شو یوه سپینه سراچه له کوڅې په ډېره تونـدۍ را ووتله، نږدې یې زما موټر وهلی و، شیشه چې مې کښته کړه او غږ مې پرې وکړ چې وروره لږ پام خو کوه!

موټروان چې وپېژندلم چې طالب یم، سمدستي یې را غبرګه کړه:

-که تورزن یې، تښته مه، تاسې خو ویل چې د پاکستان پوځ کافر دی، ورته تم شه اوس جنګ ورسره وکړئ!

Download more from Libtoon.com

ډېره راته عجيبه وه، په وزيرستان کې چا طالب ته د ور کتلو جرات نه شواى کولاى، خو په دې ورځ يې ما ته داسې ستوغې خبرې وکړې. ما هم چې فکر وکړ چې ښځينه او ماشومان راسره دي؛ نو مې ځان کنترول کړ او تېرې روان شوم.

په لاره کې مې د دې سرې خبرې بيا بيا په ذهن کې تاوېدې چې ناڅاپه مې په مرغې سراى کې خوشبوى حاجي ذهن ته راغى، هغه ته مې ويلي وو چې که پاکستان وغواړي په ساعتونو کې دا سيمه له موږ پاکولاى شي، خو هغه د توبې او ګنهګارېدو خبره کړې وه.

ارمان مې وکړ. کاشکې نن راسره واى چې حالات يې په خپلو سترګو ليدلي واى، بيا مې فکر وکړ چې ضرور به هغه هم په کومه يوه لاره پياده په منډو وي.

د ماښام لومړي ستوري را ختلي وو چې رزمک ته ورسېدو، دا چې د کور د مېرمنو لپاره مو د خوراک ترتيب نه و؛ نو د ماښام ډوډۍ هلته ګاونډيانو راته تياره کړې وه.

Download more from Libtoon.com

○○○

په رزمک کې موسم ډېر جنتي وو، له منظرو به مو خوند اخیست. رزمک یوه سړه سیمه ده، په ګرمي کې د پاکستان له هرې څنډې خلک ننداري ته ورته راځي چې ځینې وخت به موږ هم له شمالي وزیرستانه ورته راغلو.

رزمک که څه هم په جنوبي وزیرستان کې دی، خو له شمالي هغه سره یې ډېر توپیر نه و، همدلته به هم خلک له وسلو سره ګرځېدل او جهادي خوځښتونو فعالیت کاوه، خو په دې وخت کې دلته قومي اتحاد شوی و او پرېکړه یې کړې وه چې هیڅوک دلته د خپلې خوښې حکومت نه شي جوړولای، ځکه که دلته عملیات وشول خلکو ته مشکلات پېښېږي.

همدا ډول یې طالبانو ته هم اجازه نه ورکوله چې په بازار کې دې فعالیت وکړي او ښکاره وګرځي، خو زه، فاروق او شاهین چې شاید د افغان طالبانو فقط همدا درې نفره دلته وو موږ ته یې هیڅ نه ویل، د سیمې خلکو زموږ ډېر احترام کاوه.

لویه ستونزه دلته د کرفیو «ګرځ‌بندیز» وه چې ځلوېښت ورځې به غځېده، یو ساعت به د ضرورت لپاره بازار ته تللي چې په همدې یو ساعت کې به دې د کور لپاره د ځلوېښتو ورځو شیان پیدا کول.

Download more from Libtoon.com

د دې سـتونزې لـه لاسـه د رزمـک د سیمې عـام خلـک لـه سـخت تکلیـف سـره مـخ وو، د پاکسـتاني پـوځ لـه خـوا د ګرځبندیـز علـت زمـا پـه فکـر دلتـه پـر وزیرسـتانیانو راج منـل وو.

وزیرسـتان یـو یاغـي باغـي عـادت لـري، پـوځ د خپلې سـلطې د تمثیـل لپـاره تـر دې غـوره لاره نـه لیـده.

مـا او شـاهین دلتـه لـه فـاروق سـره د رزمـک پـه کـور کـې شـاوخوا شـپږ میاشـتې تېـرې کـړې.

وخـت ناوخـت بـه د تلیفـون لـه لارې خبرېـدو چـې پـه پکتیـکا کـې بلال لـه ملګرو سـره یـو ځـای پـر کومـو تعرضونـو اختـه دی، دغـو اوازو بـه زه او شـاهین تشـویقولو چـې بایـد د تشـکیل لپـاره پکتیـکا تـه لاړ شـو، خـو کلـه چـې بـه مـو د فـاروق تـر مـخ خبـره وکـړه، هغـه بـه بیـا ځـان رانـه خپـه کـړ او ویـل بـه یـې چـې تاسـې مـا دلتـه یـوازې پرېـږدئ او ځـئ؟

دې خبرې به بیا زما او شاهین پښې را وتړلې، خو بالاخره ډېر په تنګ شوو.

یوه ورځ چې ګډ ناست و، فاروق ته مو سپین وویل:

پـه هـر صـورت چـې وي مـوږ نـور درځخـه ځـو، تـر څـو بـه دلتـه لاس تـر زنـې رنـې سـترګې ناسـت یـو؟

تـر ډېـرو خبـرو او دلایلـو وروسـته مـو فـاروق تـه د همـکارۍ لپـاره د رزمـک د سیمې زمـوږ د ډلګـی ملګـری مجاهـد ډګـروال ور لاس کـړ. سـهار پـه اووه بجې مو پـه داسـې حـال کـې لـه فاروقـه رخصـت واخیسـت چـې مـا څلـور سـوه کلـدارې تـرې قـرض کـړې.

زه، شـاهین او دوه مسـید ملګـري مـخ پـر پکتیـکا روان شـوو، د رزمـک پـه غرونـو کـې دتهخېـل سـیمې تـه را واوښـتلو چـې شـاوخوا نهـه سـاعته پیـاده مـزل مـو وکـړ.

Download more from Libtoon.com



ځای: چرکونډی، رزمک (جنوبي وزیرستان، کال ۲۰۱۴م)

شپه مو له خپلو ملګرو مجاهدینو سره په دته‌خیلو کې وکړه او پر سهار په یوه بای فور موټر کې پکتیکا ته روان شوو.

مازدیګر ناوخته ګیان ولسوالی او د شپې په دویمه برخه کې په زېړوک کې زما پلرنـي کلي ته را ورسېدو.

له ستړیا او ستونزو ډکه شپه مو د شاهین د ماما مولوي تواب خان کره وکړه، دغه سړي په خورا اخلاص د مجاهدینو خدمت کاوه.

Download more from Libtoon.com

## جوشېدلې وينې

زېړوك د پكتيكا په لوېديځه څنډه كې يوه له هغو ولسواليو ده چې د سيمې خلك يې غريبان او اقتصاد يې په غرونو كې د لرګيو له مزدوريو او همداډول د زنغوزو په موسم كې د زنغوزو (جنغوزو) له دركه جوړ كړى.
پر دغو خلكو د غربت د سپېرې سيلۍ تر څنګ بې‌تعليمي هم خوله لګولې ده او دا چې كلينكونه او سړكونه يې نه شته، د يوې عادي ناروغي تداوي هم د مرګ په بيه ورته تماميږي.
دوى د روسي ښكېلاك پر وړاندې هم د افغانستان د دفاع ته سپر ولاړ وو او د امريكايي يرغل پر ضد يې هم خپل د مسووليت پېټى پر اوږو بار ګرځاوه.
زېړوك زما پلرنى ټاټوبى و، خو موږ د روسي ښكېلاك په وخت كې وزيرستان ته وكوچېدو چې بيا له هغه ځايه په ۲۰۰۱م كال خوست ته راغلو.
د زېړوك ولسوالۍ لپاره د اسلامي امارت مسوول سميع الله حنظله و چې ما په دې كال د هدايت خان شاهين تر امر لاندې فعاليت شروع كړ، زه له رزمكه په همدې تشكيل كې د شاملېدو په نيت راغلى وم.
په دې ولسوالي كې مې ژوند ځكه ښه و چې ټول كليوال وو، هيڅ د مسافرۍ احساس مې نه پكې كاوه، موږ به وخت ناوخت په زېړوك كې د ملي اردو

Download more from Libtoon.com

پر مېشت کمپ او همدا ډول د ولسوالۍ پر ودانۍ چریکي بریدونه کول.

په دغو بریدونو کې نامتو قوماندان حیات الله غلچکی له هغو قوماندانانو څخه و چې دښمن به یې د نوم له اورېدلو سره سیمه خالي کوله، زړه یې نه شوای کولای چې له ده سره د مقابلې میدان ته راکوز شي.

زه به وخت ناوخت له غلچکي سره چریکي بریدونو ته تلم، بالاخره زما او د غلچکي تر منځ ملګرتیا تر دې حده ورسېده چې هیڅ مو د بېلوالي اراده نه شوای کولای.

د دې وخت والي بلال مور ته د موټرسایکلو لپاره پیسې راکړې چې دا مې تر ټولو ښه ورځ وه، ځان ته مې موټرسایکل واخیست او کړې وړې اوږدې او نرۍ لارې مې پرې لنډولې.

یوه ورځ غلچکي وویل:

د زېړوک د منځکۍ په سیمه کې پر مېشت عمومي سړک له لوړې پوستې څخه عسکر د اوبو لپاره راکښته کېږي، د سبا لپاره هغو ته کمین نیسو او وژنو یې.

مور دا د خره پوسته بلله، ځکه عسکرو به پورته اوبه په خره خېژولې.

منځکۍ په زېړوک کې له هغې ځنګلي سیمې څخه وه چې امریکایان او د دوی ملګري به له مرګونو بریدونو سره پرې مخېدل.

حضرت الله بندیوان چې په وزیرستان کې د هماغه سیمې مشهور شاعر و، د هغو قوماندانانو له جملې و چې په دې سیمه کې یې پر امریکایي قطارونو زیات کمینونه وهل.

یوه ورځ بندیوان وزیر ما ته په منځکۍ کې هغه میدان را وښوو چې د ده په وینا، دلته یې امریکایي عسکر د ترخو مندتو په څېر له ټانګونو د ټوپک د

Download more from Libtoon.com

مرمیو پـه زور را وغورځـول او پـه سیمه کې مېشـتو کلیوالـو یـې د لاسـونو ګوتـې او څـو ژبـې راټولـې کـړې وې.
دا خبره بیا ما ته د سیمې عیني شاهدانو هم تایید کړه.
پـه منځکـی کـې د کمیـن پـه ارتبـاط مـوږ لـه ولسـوال حنظلـه سـره هـم رابطـه وکړه، حنظلـه وویـل چـې زه هـم درسـره ځم.
سبا مـوږ اتـه ملګـري د وزړ لـه دوکانونـو د کېښـام پـه طـرف روان شـوو او هلتـه مـو د حنظلـه پوښـتنه وکـړه، خـو د سـیمې خلکـو وویـل چـې هغـه وختـي منځکـی تـه اوښـتی دی.
د منځکـی او کېښـام تـر منـځ لـوړ لـوړ غرونـه ولاړ وو چـې مـوږ بـه موټرسـایکل پـه لمنـو کـې درول او بیـا بـه دلتـه پـر یـوه لـوړه څوکـه چـې د سـروټې پـه سـر مشـهوره ده، ور اوښـتلو.
مـوږ موټـر سـایکل ودرول، زه او غلجکـی تـر ملګـرو لـه مخـه شـوو او پـه پښـو مو مـزل شـروع کـړ، د سـړوټې سـر د کېښـام لـه طرفـه لنډ خـو د منځکـی لـه طرفـه ډېـر لـوړ و. مـوږ چـې یـې کلـه سـر تـه ورسـېدو لانـدې د منځکـی پـر ځنګل بانـدې د سـهاني موسـم شـبنم پـروت و، پـه لیـدو مـې یـې اخ وکـړ چـې کاشـکې زمـوږ وطـن لـه یرغلګـرو پـاک وای چـې دلتـه پکـې د اروپـا او نـورو ملکونـو پـه څېـر یـو نړیـوال پـارك او پکـې زانګوګانـې جـوړې شـوې وای. د نـورې دنیا خلـك یـې لـه لـرې لـرې ننـدارې تـه راتـلای او زمـوږ د وطـن بچیانـو او لونـو تفریـح پکـې کـولای...
خـو دا چـې زمـوږ وطـن لـه کلونـو راهیسـې د دربدریـو، جنګونـو او یرغلونو ښـکار دی، د تفریـح پـر ځـای یـې پـه دښـتو او غرونـو کـې د یـوه او بـل پـر وژنـو خپل ټټرونـه یخـوو.

Download more from Libtoon.com

زه په همدې خیالونو او فکرونو کې وم چې ګرز زموږ تر څنګ د هاوان مرمۍ ولګېده، موږ ټولو یوې او بلې خوا ته منډې کړې، غلچکي تر ما وړاندې دې د زېغوزي د ونې تر شا کېناست، زه تر یوې بلې ونې پټ شوم.

غلچکي ته مې غږ کړ:

دا څه شي و؟

د غلچکي غږ راغی:

لاندې له کمپاین څخه عسکرو ولیدو، احتیاط کوه چې د زیکویک فایر را نه کړي.

لاندې ځنګل ته مې وکتل، په ځنګل کې د وړو ټوپکو ډزې وې، ژر مې مخابرې ته لاس کړ او پر حنظله مې غږونه شروع کړل، غلچکي وویل:

ته حنظله څه کوې؟

په بېړه مې وویل:

لاندې په منځکۍ کې د ټوپک ډزې دي، داسې ښکاري چې حنظله تر موږ له مخه پر عسکرو کمین وهلی.

زه له غلچکي سره په خبرو وم چې حنظله غږ وکړ:

اورم، اورم ملنګ‌یاره!

ما وپوښتل:

دا ډزونه د څه دي؟

حنظله په تېز غږ وویل:

موږ پر عسکرو کمین وواهه، یو عسکر مو مړ کړ!

بیا یې د ګپ په ډول پسې زیاته کړه:

اوس تاسې نران شئ یو عسکر ووژنئ!

Download more from Libtoon.com

ما غلچکي ته وکتل:

دې لېوني خو کمین وهلی!

غلچکي ووېل:

بس موږ و تاسې هم روانېږو، دا ړانده هاوانونه دي، ما فکر کاوه چې موږ يې هدف یو.

موږ د غره له سره د منځکې ځنګل ته په منډه شوو، شاوخوا شل دقیقې وروسته مو هلته ځانونه ورسول.

هلته په ځنګل کې د یوې غونډۍ پر سر چې په ونو پوښلې وه، یو ځای کېناستلو، ساه مو وهله، د دمې تر ځنګ مو د جنګ ترتیب هم جوړاوه.

موږ دلته یوه مخامخ غونډۍ خوښه کړه چې له دې ځایه به د عسکرو موقعیت وڅارو چې دوی چېرې کمین نیولی، دا چې موږ ورته کمین نیوای هغه وخت تېر شوی و، ځکه حنظله پر عسکرو کمین داسې مهال وهلی و چې دوی په خوړ کې له یوې چینې د پوستې لپاره اوبه وړلې، په نتېجه کې یې یو عسکر ترې وژلی و. قهرېدلي عسکر په ځنګله کې د طالبانو په لټون سر وو.

موږ دلته ساه جوړه کړه، تعیین شوي ځای ته مو حرکت وکړ، تر یو څه مزل وروسته چې کله غونډۍ ته نږدې شوو؛ نو د غونډۍ په لمن کې مو ټوپکونو ته احتیاطي مرمۍ ور تېرې کړې.

له ما سره په یو لاس کې ټوپک او په بل کې یوه د راکټ مرمۍ وه، اته واړه ملګري د غونډۍ سر ته ګډ روان شوو. ځنګل دومره لوی و چې په یو متر کې څوک نه ښکارېدل.

د غونډۍ سر ته په نږدې کېدو وو چې زما غږونه تر غوږ شول، غلچکي ته

Download more from Libtoon.com

ور نږدې شوم غلي مې ورته وویل:
دلته خو څوك وغږېدل لکه چې عسکر دې غونډۍ ته را رسېدلي! غلچکي را وکتل:
هو، ما هم واورېدل، خو زما ګومان دی چې عسکر دلته نه شته لاندې په کلي کې غږېږي، باد يې غږ راوړي.
دا چې وخت کم و، پر ځای د دې چې ملګري پوه کړم چې متوجه شئ، ځان مې له ملګرو لږ راګوښه کړ او فکر مې وکړ چې که عسکر وي، د ټوپک يوه ضربه به موږ ټول ورېبي، ښه ده چې زه لږ بېل او مخکې يم.
په همدې توګه چې د غونډۍ سر ته ور ورسېدم، مخ ته مې نږدې په دوه متري کې کړپا شوه، زما ټوله توجه يې جلب کړه، په ډېر شدید نظر مې ور کتل او همداسې ورو ورو ور روان وم، یو څو قدمه چې ورغلم او د ونې پر یوه ستڼه ور واوښتم، پر یو دنګ چنارقده ځوان مې سترګې ولګېدې چې د ملي اردو پتلون يې اغوستی، پړانګي رنګ نری بلوز يې پر تن او د اوږده کارميلي ټوپک پر ماشه يې ګوته نیولې وه.
وخت حساس شو، مخ مې شا ته نه شوای اړولای چې ملګري چېرې دي او نه مې د راکټ مرمۍ پر ځمکه غورځولای شوای، ډارېدم چې له کړپ سره به مې ووینې، ګوته يې تیاره پر ماشه ایښې ده په یوه ثانیه کې مې بلې دنیا ته لېږلای شي.
ځای پر ځای ودرېدم، شا ته ملګرو ته مې په لاس کې د راکټ نیولې مرمۍ وښوروله چې یو څوك يې رانه واخلي او زما لاس دې کولو ته ور خلاص شي.
په دې وخت کې د مصطفی په نامه د دیرکې اوسېدونکی یو ملګری خوا ته

Download more from Libtoon.com

راغی، فکر کوم لومړی جنګ یې و.

عسکر تـه مـوږ نـه ور ښـکارېدو، ښـی څنـګ یـې مـوږ تـه و. لانـدې د نـورو ملګـرو د پښـو څرپـا تـه داسـې ترهېدلـی څیـر و لکـه پـر مـخ چـې یـې کورکمن پاشـلي وو.

د مصطفی سـترګې چې پـر عسـکر خښـې شـوې، سمدسـتي یـې چپـه ګونـډه ورته ماتـه او چپـه سـترګه یـې د ټوپـک زخـې تـه پټـه کـړه، پـه یـوه بـرش کـې یـې عسـکر داسـې وشـاړه لکـه بـاد چـې یـې یوسـي.

غلچکي غږ وکړ:

مه کوئ ډزونه، دا ولې کوئ!؟

ما پرې ناره کړه:

عسکر دي، غلچکیه شا ته شه!

پـه دې وخـت کـې متقابلـې ډزې شـروع شـوې، جګـړه وار پـه وار تونـده شـوه، مـا هـم د راکـټ مرمـۍ وغورځولـه او مخامـخ مـې ډزې پیـل کـړې، دا چـې نـور عسـکر د ګـڼ ځنـګل لـه املـه نـه لیـدل کېـدل خـو د یـوه او بـل غږونـه مـو اورېدل.

د ځنـګل د ونـو شـنې څانګـې مرمیـو لـه ځـان سـره یـوې بلـې خـوا تـه ماتولـې.

د ډزو سـاعت ووت، ورو ورو مـوږ پـه جګـړه کـې شـا تـه تـرې راتلـو، وېرېدلـو چې د شـا لـه طرفـه نـور عسـکر راپسـې را نـه شـي او محاصـره مـو نـه کـړي.

د عسکرو نارې مو اورېدې:

د پنجاب بچیانو تسلیم شئ!

خـو مـوږ بـه د همـدې چیغـو پـه بـدل کـې د الله اکبـر لـه نـارو سـره یـو ځـای د ټوپـک ضربـې ورکـړې او بیـا بـه د عسـکرو غږونـه غلـي شـول.

پـه دې جګـړه کـې همـدا یـو عسـکر وژل شـوی و او یـو هماغـه و چـې حنظلـه او

Download more from Libtoon.com

ورسره ملګرو وژلي و. زموږ ملګرو ته هیڅ تلفات نه وو اوښتي.

د وژل شویو او یا هم د زخمي عسکرو معلومات به موږ ته د زېړوک د ولسوالۍ په بازار کې مېشتو دوکاندارانو راکول. د دوی د راپور په بنسټ به مو معلومات د خپل ولایت د اطلاعاتو له استازي مولوي نافذ او بیا هغه د امارت له ویاند ذبیح الله مجاهد سره شریکول.

Download more from Libtoon.com

## ګنډلي وېښتان

په زېړوک کې مو چريکي جنګونه ډېر تېز کړي وو، په عسکرو کې له کمپه د راوتلو جرأت ختم شوی و، که به کوم يوه له احتياطه سروغړونه وکړه، له بدې پېښې سره به مخ کېده.
داسې هم نه وه چې په زېړوک کې مجاهدين زيات وو، ما هلته ډېر وخت تېر کړ، خو يوازې تر لسو دوولسو مجاهدين مې پېژندل.
په دې شپو ورځو کې له ګيان څخه ترابي موړ ته د ولسوال په صفت را تبديل شو، ترابي له موړ، د بهرنيو تشکيلونو او خپلې ډلې له ملګرو سره مشوره وکړه چې بريدونه نور هم پراخ کړو. په دې بريدونو کې درندې وسلې هم وې.
ترتيب جوړ شو او ټول ملګري ټاکلي هدف ته روان شوو. ما، غلچکي او شاهين ته داسې ملګري راکړل شوي وو چې ډېری يې د بنو د مروتو اوسېدونکي وو.
تر ضرب عضب عملياتو وروسته په تشکيلونو کې د مروتو او ټانګ د سيمو د ځوانانو شمېر لوړ شوی و. ښايي علت يې دا و چې د وزيرستان ډېر مجاهدين دې سيمو ته راکډه شوي وو، په سيمه کې ځوانان تشويقول او په تشکيلونو کې ورسره راتلل.

Download more from Libtoon.com

د دې سيمو ځوانان د وزيرستاني هغو په ځېر نه په جنګ کې تکړه وو او نه يې د مسافري زور درلود. اوږ تشکيل به يې يوه يا دوې مياشتې و.

په بريد کې موږ ته «د پري پوسته» په نامه پوسته راکړل شوې وه.

غرمه يوولس بجې د «پري» د کلا څنګ ته نږدې غونډۍ ته ورسېدو، پر دې پوسته ډېر بريدونه به موږ له همدې غتې څخه کول.

موږ د نورو ملګرو را رسېدو ته منتظر وو، زموږ د دې جنګ قوماندان شاهين تاکل شوی و، د مروتو مجاهدينو شاوخوا څارله او هر يوه به بېله بېله پوښتنه ترې کوله چې هدف کوم ځای دی؟ شاهين يې ستړی کړ، د ځان د خلاصولو لپاره يې په ګپ کې د «پري» کلا ور په نښه کړه چې دغه قرارګاه ده.

د پري کلا رښتيا هم قرارګاه ته ورته وه، بېخي لوی لوی او پلن دېوالونه يې لرل، په سيمه کې مشوره وه چې موټر ورباندې ګرځېدلای شي.

ټول ملګري ځايونو ته ورسېدل، ترابي امير صاحب دعا وويله او عمليات پيل شول. د راکټ او پيکا ګرزهار پورته شو. ما په خپل روسي کلاشينکوف پوسته يو يو ډز ويشته. د څنګ ملګرو مې وار په وار ضربې کولې.

د جنګ د منځ خبره داسې وه چې بلد به شوې، بيا به دې ضربې نه کولې. کوم خلک چې به تازه راغلي وو او ځانونه به يې تورزن معرفي کول، په يوه برش به يې ټوله ججوره تشه کړه. لومړی به ما هم همداسې کول.

ما ډزې بندې کړې، غوښتل مې ملګري وګورم چې څنګه دي، د مروتو مجاهدينو ته پام شو چې د ټوپک ججورې ور بدلوي، د بلوټ له کشولو سره د ټوپک خوله لاندې د «پري» کلا ته نيسي او ضربې پرې چلوي.

سمدستي پوه شوم چې د دوی د شاهين خبره زړه ته لوېدله، د پري کلا رښتيا قرارګاه ورته ښکاري.

Download more from Libtoon.com

چیغې مې پرې شروع کړې:

بندې کړې، ډزې بندې کړئ...!

هیچا هم غږ نه اورېد، له هغې خوا هم د مرمیو باران وو، په ډېر تکلیف مې متوجه او د غره له سره لېږ را کوز کړل، شاهین را ورسېد، ناره یې کړه:

څه وشول، خیر خو دی؟

ما وویل:

الله دې غرق مه کړه، د پرې کلا مروتو تباه و برباد کړه، جنګ یې ټول پر کلا شروع کړی!

شاهین په خندا شو:

ما خو ګپ ورسره لګاوه، دوی رښتیا پرې شروع کړې؟

ځوانانو سترګې حیرانې غړولې.

دا چې پرې پخپله قوماندان پاتې شوی و، کور یې هم په دې سیمه کې و او ډېر جنګونه یې لیدلي او بلد وو، ځانونه یې غلي کول او بل یې د خوندیتوب لپاره ځایونه هم لرل، که نه په دومره مرمیو کې به بیا حتماً زیان ور اوښتی و.

لږ وروسته راغلم، هر ملګري ته مو په ګرم جنګ کې مورچه ور په نښه کوله، له یوه ملګري سره په خبرو وم چې د شا له خوا بل یوه تر لمن ور کش کړم، څه خبره یې کوله خو ما نه اورېده. بې پامه را ولاړ شوم، له دې سره سم مې داسې احساس کړه لکه مرمۍ چې ما ته را الوځي او پر سر مې لګېږي. ملګري ته مې مخ کړ، د شا له خوا مې سر داسې کړپ وکړ لکه څوک چې دې په لرګي ووهي، ما فکر وکړ چې د شا له خوا چا په لرګي ووهلم، خو تر شا مې هیڅوک نه و.

سر ته مې لاس ور ووړ، په ګوتو را معلومه شوه چې پکول مې پرې دی،

Download more from Libtoon.com

ګوتې مې لاندې ور وړې، ګرمې را ولګېدې. لاس ته مې وکتل، په وينو و، ځای پر ځای کېناستم.

ملګري مې لاس وليد چې په وينو دی، سمدستي يې ناره کړه:

هله را په شا کېږه چې عسکر را نه شي!

ډار ځکه و چې په دې لوړو ژورو کې مزل سخت و، کله چې به عسکر په مخابره کې وپوهېدل چې زخمي را شوی دی، دوی به هم خپل زور واهه او را وتل به چې ځانونه په زخمي پسې ورسوي، دا ډول يې زموږ دوه ملګري شهيدان کړي هم وو.

زه پر ځان پوهېدم چې خدای ساتلی يم او ژور نه يم خوږ شوی، د سر اصلي هډوکی بچ دی، يوازې يې باندېنۍ څرمن ورسره وړې. دوه ملګري راسره شول او په منډو مو پيل وکړ.

په منډو کې به کله ډاډه شوم چې ښه يم، خو کله به مې تشويش شو چې په توده وينه کې يم، شايد وروسته خراب شم.

لاندې چې کلي ته را ورسېدو، له هغه ځايه يې په موټر کې يوه کليوال ډاکټر ته يوووړم چې هغه مې د سر د اته کوکه زخم د تداوي په وخت کې وېښتان هم پکې را ګنډلي وو.

Download more from Libtoon.com

## پر جومات زما لګېدلي مرمۍ

یو مازدیګر غلچکي راته وویل چې دلته د مدرسې ځینې شاګردان راغلي او وایي چې چریکي عملیات راته برابر کړئ.

د مدرسې شاګردان چې به په جذبه کې شول، بیا به یې په څو ساعته کې د عملیاتو د ترتیب غوښتنه کوله، دا زموږ لپاره ډېره سخته وه چې دومره ژر د عملیاتو یو کامیاب پلان تیار کړو، خو د برابرولو کوښښ به مو یې ځکه کاوه چې له جنګ سره بلد او مجاهدین زیات شي، کنه استادانو به هیڅ نه راسره پرېښودل.

له غچلکي سره توافق ته ورسېدم. د ملګرو څلور موټرسایکل مو برابر کړل، له ما او غلچکي سره دوه ملګري وو، څلور مو د مدرسې شاګردان راسره کړل.

د دابي کلي د جومات تر مخ مازدیګر د کلي ځوانان او سپین ږیري ناست وو، غلچکی له هغوی سره روغبړ ته ورګرځېد، ما کوښښ کاوه چې ځان ژر د زېړوک د کلي غونډۍ ته ورسوو، هدف مو هلته د زېړوک په بازار کې د تالاشي پوسته وه.

زه له ناستو کلیوالو همداسې بې سلامه را تېر شوم، مخامخ له دوکان سره څنګ ته یوې وړې لګډې ته کوز شوم، غوښتل مې ځان د زېړوک کلي

Download more from Libtoon.com

لارې ته په پټیو کې برابر کړم.

شاوخوا دېرش متره مخامخ راته له لګېدې لوړ پټې وو. تر ځان مې څادر تاو کړی و چې وسله پټه شي، مګر څنې مې ښکارېدې.

لګېدې ته چې کوزېدم د شا له خوا مې غلی غږ واورېد:

ملنګ‌یاره مه ورځه!

ما چې تصمیم نیو، په منډه لګېدې ته رسېدلی وم.

مخامخ چې مې پټې ته وکتل، پر پوله یې د ملي اردو عسکر ګوته پر ماشه او راکټ پر اوږو مورچه ناست دي. د بدن وېښتان مې نېغ نېغ ودرېدل، حیران وم چې جنګ کوم، که واپس کېږم؟؟

په همدې سوچونو مې زړ مخ را وګرځاوه، عادي بېرته په راختلو شوم. پر اوږو مې د مرمیو د لګېدو احساس کاوه، ډار مې د بدن په رګ رګ کې غځېدلی و، خو منظم روان وم، قدمونه مې وار په وار تېزېدل، د دوکان کونج ته ورسېدم، دلته دومره تېز را بدل شوم لکه په ماشومتوب کې چې د شپې سړی د بلا له ډاره د مور د کوټې په دروازه ننوځي.

د دوکان تر څنګ ودرېدم، فکر مې کاوه چې غلچکی دوی همدلته دي، خو یوه بوډا را غږ کړ:

ځان خلاصوه هغوی تللي!

لاندې مې وکتل، د سړک په منځ کې د مدرسې یو طالب د موټرسایکل په چالانولو لګیا دی، خو نه چالانېږي.

ور منډه مې کړه، موټرسایکل مې ژر ژر وکوت، خو نه پوهېدم چې څه پرې شوي وو، نه چالانېده.

ژر مې دوی ته د خپل موټرسایکل کیلي ونیوه، ورته و مې ویل:

Download more from Libtoon.com

تاسې درځئ، هلئ، زه درځم!

د مدرسې يو طالب زما د موټرسايکل ملګرى و، فاروق نومېده، د خوست و. هر څومره مې چې د تګ ورته وويل، خو نه تلو. زه له ده سره په خبرو وم چې يو دم يې غبر کړ:

عسکر راغلل!

شا ته چې مې وکتل، په سپين لباس کې يو سوررېږى کس چې راکټ يې په لاس کې دى، زموږ په پنځوس متري کې را روان دى او تر څنګ يې داسې غوټه لس پنځلس د ملي اردو عسکر را په منډو دي.

دغه رېږور کس د پنجشېر و، دلته د ملي اردو قوماندان او په قاري مشهور و. ډېر وخت به ورسره مخامخ کېدو، په زېړوک کې تر ټولو قوماندانو په جګړه کې تکړه و او مجاهدينو ته به يې ډېر کمينونه نيول.

موټرسايکل مې پرېښود، فاروق هم راسره منډه کړه، خو بېرته د سړک په منځ کې ورته په کمين کې شوو. د ټوپک بلوټ مې کش کړ او ضربه مې ورکړه. عسکر يوې او بلې خوا ته ولوېدل. قوماندان قاري د جومات دېوال په مخ کې راکړ، پټ شو. فاروق هم ډزې پرې پيل کړې. شاوخوا پنځلس دقيقې به وتلې وې چې موږ ترې شا ته شوو. غلچکي دوى هم په پښو را ورسېدل چې ژوندي يې وليدو ډېر خوشاله شوو، د غلچکي په شمول بېرته په عسکرو پسې غلي غلي ور روان شوو. کله مو يو ځاى کوت او کله بل ځاى خير کېدو، شاوخوا څلوېښت دقيقې ځار به مو کړى وي چې يوې خوا ته مو هم څوک مو هم تر سترګو نه شول.

موږ وېره لرله چې عسکر دلته په دوکان يا جومات کې راته پټ نه وي، خو خو مجبور وو چې غلي غلي مخ ته ورشو، ځکه زموږ موټرسايکل ور پاتې

Download more from Libtoon.com

و، دا ډېره د شرم خبره وه چې عسکرو به موټرسایکل درځخه بوت.
لږ چې ور تېر شوم او د جومات تر مخ مې پروت موټرسایکل ولید لا شکمن شوم چې عسکرو کمین نیولی، ځکه که تللي وای خو موټرسایکل یې حتمي ورسره بېوه.
چمتو چمتو ورغلم، د موټرسایکل څنګ ته ودرېدم، له دوکانه یو ځوان راووت، ما پرې غږ کړ:
عسکر څه شول؟
ـ هغوی په منډه لاړل!
موږ ژر ژر دوکان او جومات وکتل، عسکر تللي وو. وروسته مو د کلي له ځوانانو سره ګډه د جومات هغه ځایونه وکتل چې زما مرمۍ پرې لګېدلې وې.
ځوان وویل:
یو عسکر زخمي شو، خو خلک ناست وو، شکر هغوی خدای ټول بچ کړل، کنه مرمۍ د چا تر سر تېرې شوې، د چا څنګ ته ولګېدې.
وروسته خبر شوو چې عسکرو څو کلیوال په وهلو وهلو له ځان سره بېولي وو، هغوی چې یې را خوشې کړل، ځینې موږ ته راغلل او کیسه یې وکړه چې هلته قاري ویل طالبان تاسې راته راوستلي وو.
موږ ته اطلاع راغلې وه چې په دوی کې یې ځینې سپین ږیري ډېر وهلي او بې‌ابه کړي هم وو.

Download more from Libtoon.com

## بې اوبو بیرغ

منځکۍ سیمه د زېړوك په ختیځه برخه کې له ارګون ولسوالي سره نښتې او ځنګلي لمن يې د زېړوك عمومي سړك ته ور رسېدلې وه.

له دې ځنګله په استفاده به وخت ناوخت پر عمومي سړك د ملي اردو پر اکمالاتي کاروان هم کمینونه وهل کېدل، د حکومت له خوا که څه هم له سړك سره جوختې د غرونو څوکې په مورچلو پوښل شوې وې، خو څکه ناکامې وې چې د ځنګل له امله يې مور نه شواى هدف کولاى.

دا ډول به د خاص راپور په بنسټ وخت ناوخت عام سړك ته د تالاشي لپاره هم ور وتلو.

نوی چې به چا ته ټوپك په لاس ورغلی و، په هغه کې به تونديي او سختدريځي زياته وه، د مشرانو خبرې يې چندانې په نظامي ډګر کې غوږ ته نه لوېدې. ښايي علت يې دا و چې خپل زړورتوب ثابت کړي.

یوه ورځ مور له غلچکي دوی سره دغه سړك ته د موټرو د تالاشي لپاره ووتلو، شاوخوا دوه ساعته مو دلته موټر ولټول، خو کوم دښمن مو پکې پیدا نه کړ.

په یوه سراچه کې د افغانستان «تور، سور، زرغون» کوچنی ملي بیرغ را

Download more from Libtoon.com

څرېده، هلته ما ته دا یوازې د دښمن بیرغ ښکارېده. د دې لپاره چې ځان تورزن ثابت کړم، تر ټولو ور وړاندې شوم او را پرې مې کړ، د موټر ډریور مې راکښته کړ او همدا د رخت له ټوټې جوړ بیرغ مې پرې خوړ، موټروان د اوبو اجازه غوښته، خو ما د اوبو د څښلو اجازه نه ورکوله.
موټروان بیرغ په سختۍ تېر کړ او بیا مو د تګ امر ورته وکړ.

Download more from Libtoon.com

## درې کسان

سره له دې چې زېړوك زموږ خپله سيمه وه، د ديني جذبې له وجهې موږ د شخصي بديو وېره هيڅ نه درلوده. ما ته هم دلته او هم په لاره کې ستونزې را ولاړېداى شواى، ځکه زما کور په خوست کې و، خو موږ د هر هغه چا په وړاندې ډېر سخت وو چې په حکومت کې به يې وظيفه کوله.
يوه ښه خبره دا وه چې د زېړوك په سيمه کې يوازې درې کسان زموږ په تور ليست کې وو چې و يې وژنو. يو بسمل نومېده، د همدې ولسوالۍ د سوري کلي اوسېدونکی و او ويل کېدل چې د سي ای اې د جاسوسی تر څنګ د کمپاين کباړ هم پلوري. امارت کباړ هم بند کړی و.
دويم د سال په نامه يو سپين ږيری چې هغه هم د همدې کلي و. د هغه په اړه ويل کېدل چې په کور کې د اردو د عسکرو او امريکايانو درېشی پرېمنځي، نوم يې مولوي سنګين د وژنو په ليست کې اچولی و. يو چا ورته ويلي وو چې دا خو سپين ږيری دی، مولوي سنګين ورته ويلي وو چې هيڅ مې دا فطرت نه شي برداشت کولای چې يو افغان دې د اشغالګرو درېشی پرېمنځي.
درېيم کس ايلم نومېده، ايلم د اردو قوماندان و چې د همدې ولسوالي د علمي کلي اوسېدونکی و.

Download more from Libtoon.com

په دغو کسانو پسې موږ شپه ورځ یوه کړې وه چې و یې نیسو او و یې وژنو.
د دوی پر کورونو مو څو څو ځله چاپې واچولې او حتی له عسکرو سره به مخامخ واوښتلو چې د جنګ په نتیجه کې به په تېښته تري ازاد شوو.
دا کسان مو په شکلونو نه پېژندل، خو هڅه به مو ډېره وه چې و یې نیسو.
یوه ورځ مازدیګر زه او غلچکی د ایلم په وژلو پسې د هغو کلي ته ورغلو، د دوی کلی په دوه سوه متري کې د ولسوالي له ودانۍ سره پروت و، کور یې په کلي کې د ماتې زنګي په نوم پر یوه داسې غونډۍ موقعیت درلود چې د کمپاین دفاعي پوستو ته مخامخ و او د جنګ په صورت کې به ډېر په مشکله تري راکوزېدلې.
مازدیګر موږ د زېړوك له ولسوالي سره په خوا کې د دابې په کلي کې چې له پوستو او کمپه پناه و، موټرسایکل ودرول او په پښو د ایلم کلي ته ور روان شوو، زه او غلچکی مخکې او څلور ملګري تر شا راپسې روان وو.
کله چې د ایلم کور ته ور وختلو، د کور تر مخ د ټلوېزیون پر انټن یو توره بړیره لرونکی سړی لکه د مدرسې طالب چې وي، اخته و، انټن یې جوړاوه.
کس ته مو سلام ور واچاوه، تر وعلیکم السلام وروسته یې د چایو ست راته وکړ، موږ مننه تري وکړه.
بیا زه او غلچکی ورسره کېناستو او د ایلم پوښتنه مو تري وکړه، ورته و مو ویل چې چېرې وي؟
پر دې غونډۍ دوه کورونه وو، یو لږ وړاندې او یو همدا و. د انټن جوړوونکي وړاندې کور ته ګوته ونیوه او و یې ویل:
هاغه کور یې دی!
بیا یې پسې زیاته کړه:

Download more from Libtoon.com

ایلم ډېر چالاکه سړی دی، د ښځو په جامه کې ګرځي.
موږ چې دا خبره پوره کوله د پوستې له خوا ډزې راباندې شروع شوې.
ژر همدلته د کور مېلمستون ته ننوتلو، عسکر مو ولیدل چې پر سړک زموږ د غونډۍ خوا ته منډې را وهي. موږ د همدې مېلمستون له خوا ډزې پرې شروع کړې، جنګ ولګېد...
د راکټونو د فایرونو او همدا ډول د پیکا د ډزو په تبادله مو جنګ سره وغځېد.
د کور څښتن زارۍ کولې، واړه بچیان یې یادول چې دلته جنګ مه کوئ!
موږ ورته ووېل چې موږ اوس څه وکړو، ځانونه خو ژوندي په ګوتو نه شو ورکولای، جنګ ته مجبور یو.
بالاخره د عسکرو له خوا ډزې سوکه شوې. دوی کوښښ کاوه چې غونډۍ محاصره کړي.
له همدې موقعې په استفاده موږ مېلمستون پرېښود او لاندې د کلي خوا ته منډو ته مو ملا وتړله.
لاندې په همدې کلي کې د کلي ښځو چای او اوبه مخې ته راوړې وې او د غزا مبارکیانې یې راکولې.
ما هم په همدې اوبو د جنګ ستړې تنده خړوبه کړه او فکر مې کاوه چې له دومره شدید جنګ سره سره بیا هم زموږ خویندې نه وېرېږي او اوبه راته راوړي. له ځان سره مې وېل چې د افغانستان هره پېغله ملالـه ده.

Download more from Libtoon.com

ooo

پـر سـبا مـوږ تـه د زېـړوك پـه كچـه قومـي مشـران راغلـل او د پرونـي جنـګ پـه اړه يـې ګيلـه راوړه، ويـل يـې چـې تاسـې لـه يـوه كـوره پـر كمپايـن حمله كـړې او زمـوږ و تاسـې تـر منـځ دا وعـده شـوې وه چـې د كلـي لـه منځـه بـه پـر عسـكرو حملـه نـه كـوئ.

مـوږ صفـا خبـره ورتـه وكـړه چـې مـوږ د ايلـم نومـي قومانـدان پـه نيونـه پسـې تللـي وو، دا چـې عسـكر خبـر شـول ضـرور ستاسـې لـه كلـي چـا اړيكـه ورسـره نيولـې، مـوږ مجبـور شـوو چـې جنـګ وكـړو، بـلا لاره نـه وه.

ورپسـې مـو دا هـم ورتـه وويـل چـې دا يـوه ورځ نـه ده، هـر هغـه كـس چـې لـه حكومـت سـره يـا وظيفـه كـوي يـا يـې پـه تېـر كـې وظيفـه كـړې وي، لـه تاسـې مشـرانو مـو هيلـه ده چـې راتـه تسـليم يـې كـړئ او مـوږ بـه ځانګـړې كارډ وركـړو، نـه بـه بيـا تاسـې پـه تكليـف ياسـت، نـه مـوږ.

د قومـي مشـرانو لـه منځـه د سـر كاتب په نامه يوه مشـر چـې له موږ سره ډېر مخلص او همـكار و، ټـمـر وډبـاوه، ويـل يې زه ايلم تاسـې ته راولم چې تسـليم خـط وركړئ، خـو شـرط يـې راته داكېښـود چـې هغه به بنـدي كوئ يـا وهئ نه!

مـوږ ورتـه وويـل چـې هـر څـوك پـه خپلـه خوښـه لـه مـوږ سـره يـو ځـاى كېـږي،

Download more from Libtoon.com

مـوږ یـې وهـو نـه، بلکـې پـه غـاړه کـې ګلان ور اچـوو.
مـوږ پـه همـدې هوکـړه سـره وکـړه، سـهار نهـه بجـې مـو سـره وټاکلـې چـې لـه دابې کلـي سـره پـه لانـدې پټیـو کـې بـه مـوږ ایلـم تـه منتظـر یو.
سبا همداسـې وشـول، مـوږ چـې ورتلـو سـرکاتب لـه یـوه نفـر سـره د غنمـو د پټـې پـر پولـه را روان و، موټرسـایکل د سـړک غـاړې تـه ودرول، مـوږ درې نفـره وو؛ شـاهین، غلچکـی او زه.
لانـدې ور کـوز شـوو، خـو کلـه چـې سـرکاتب تـه ور نـږدې شـوو، ګـورو چـې تـر څنـګ یـې هغـه کـس را روان دی چـې لـه کـوره یـې مـوږ لـه عسـکرو سـره جنـګ کـړی و او مـوږ تـه یـې د ایلـم پـه اړه ویـل چـې هغـه ډیـر چالاکـه انسـان دی.
ما سرکاتب ته وویل :
ایلم دې څه کړ؟
سرکاتب له خندا شین شو:
دا ایلم دی، خو تېره ورځ خدای له تاسې بچ کړی!
موږ حیران شوو او بیا مو په خپلو کې ښه سره وخندل.
ایلم وویل:
تاسې راته صفا ووایاست په هغه ورځ مو په ما څه کول؟
مـا ورتـه قسـم وخـوړ چـې کـه مـوږ پېژندلـی وای چـې ایلـم یـې، پـه هغـه ځـای مو وژلـې، ځکـه سـتا پـه مـرګ پسـې درغلـي وو. بیـا مـې شاباسـی ورکـړ چـې افریـن دې سـتا پـر جـرأت وي، هیـڅ دې رنـګ تغییـر نـه شـو او مـوږ دې خطـا کـړو.
بیا مو ګډ سره وخندل.
د ایلـم لا هـم وېـره پـه زړه کـې وه، خـو مـوږ همدلتـه پـر سـپین کاغـذ یـو اطمینانـي خـط ورکـړ چـې مـا شـاهین او غلچکـي ورتـه پـرې لاسـلیکونه وکـړل، پـه کاغـذ

Download more from Libtoon.com

کې مو له مجاهدینو وغوښتل چې دغه کس موږ ته تسلیم شوی، که کوم ځای مو ونیو هیله کوو چې له موږ سره یې په اړه رابطه وکړئ او ځان اطمیناني کړئ.

ایلم دا هم راته وویل چې که ستاسې خوښه وي زه به کله خوست ته بار کړم، خو موږ اجازه ور نه کړه.

د ده کور پر یوه داسې موقعیت باندې و چې که بار شوی وای، هلته د حکومت پوسته ورته راتله.

ایلم توافق راسره وکړ چې کور نه باروي، خو کله چې له موږ رخصت شو څو ورځې پس خبر شوو چې خوست ته کله شوی او په کور کې یې عسکرو پوسته جوړه کړې ده.

Download more from Libtoon.com

# زلزلې

په ختيځ وزيرستان کې د ضرب عضب له عملياتو وروسته د مجاهدينو د دمې ځای ورک شو. بلال له خپلو قوماندانو سره پر دې مشوره هوکړې ته ورسېد چې په هر صروت وي بايد د مجاهدينو د اوسېدو لپاره په پکتيکا کې يوه ساحه فتح او له دښمنه پاکه شي.

په همدې اساس يې له ډېرونه کرښې سره نږدې سيمو ته پام وکړ چې تر ټولو لومړی توجه يې ګيان ولسوالۍ ته وکړه. ګيان په پکتيکا کې له برمل ولسوالي سره نښتې ده چې ځينې ساحې يې د خوست له تنيو او سپېرې ولسواليو سره لګېدلې دي.

که څه هم د ګيان ولسوالي ودانۍ پخوا فتح وه، خو لا يې هم په څنډو کې د اردو دوه لوی کمپونه او پوستې وې، مګر دوی به د کمپونو او پوستو له ودانيو د باندې نه شوای راوتلای.

څو ورځې له مخه په ګيان ولسوالي کې د ځايي مجاهدينو په همکاري بلال د ملي اردو پر يو کمپ چې «ولې واست» يې باله او همدا ډول پر دوو خطرناکو دفاعي پوستو تعرضي بريد کړی و، په دې بريد کې پنځه مجاهدين شهيدان شوي او ځينې نور زخميان وو، خو دغه کمپ او پوستې يې نيولې نه وې.

Download more from Libtoon.com

مازدیګر د مخابرې له لارې خالقیار چې د بلال له شخصي ساتونکو څخه او په قوم د شمالي وزیرستان مسید و، له غلچکي سره رابطه وکړه او زه، شاهین او غلچکی یې ګیان ولسوالي ته وغوښتلو، په سبا موږ ګیان ته په موټرسایکلونو حرکت وکړ، له موږ سره درې موټرسایکله وو چې له ما سره د الماس په نامه یو فدایي ملګری سپور و، غلچکی او شاهین په جلا موټرسایکلونو سپاره وو.

موږ له زیړوکه غرمه حرکت وکړ چې ماسپښین ناوخته ګیان ته ورسېدو، ګیان ته لاره خامه او له زیړوک څخه بیا تر ډېره په غرونو کې تللې وه، په ګیان کې مو له بلال سره د مخابرې له لارې پیدا کړل او درې واړه همدلته د غره په لمن کې ورسره کېناستلو.

حافظ بلال پر تندي لاس تېر کړ، و یې ویل:

راتلونکې پنجشنبه همدلته په ګیان کې پر ولې واست کمپاین تعرضي برید لرو. دوې دفاعي پوستې یې خطرناکې دي!

تر لږ چوپتیا وروسته یې خبره وغځوله:

تاسې ته د مزار د پوستې دفاعي جنګ په برخه در رسېدلی، د کمپ پر ودانۍ او د غره په لوړه څوکه چې تر ټولو خطرناکه پوسته وه، د سنګري پوسته یې بولي، هغې ته هم تعرضیان او دفاعي ملګري تیار دي.

موږ بلال ته چوپه خوله غوږ نیولی و، یوازې سرونه مو ورته ښورېدل، دا یې هم وویل چې تعرضي ملګري ټول د شمالي وزیرستان دي، داخلي ملګري دفاعي جګړه کوي.

دا چې دفاعي جنګ ډېر سخت نه و، موږ هم توافق وکړ، بېرته د ملګرو د برابرولو لپاره زیړوک ولسوالي ته روان شوو او ماښام ورسېدو.

Download more from Libtoon.com

په گیان کې مو چانتې ډکې او د راکټ د مرمیو کمبود پوره کړ.

دفاعي جنګ ډېر زحمت نه غوښت، لا به ورته خوشاله وو، ځکه په پنځوس متري کې یا تر دې لرې به هدف ته کېناستلې او لومړی ډز به تا وربانددې کاوه. کله چې به دې پوسته په راکټ، ۸۲ یا ټوپکو وویشته، هدف به یو څه کمزوری شو. دفاع به شاوخوا شل دقیقې وخت نیو؛ نو به پر تا د جنګي قوماندان له خوا غږ وشو چې تاسې اوس غلي شئ، د تعرضیانو وار دی. له دې سره به تعرضیان پر هدف ور وتښتېدل، دېوال ته په رسېدو به یې ګرنیټونه ور غورځار کړل، هدف به فتح شو.

تعرضي جنګ به بیا زیات اغېز درلود، ټوله ورځ به ورته خپه وو، خو دا چې زموږ دفاعي جنګ په برخه و، په خپلو منځو کې مو خندل، خو د تعرضي جنګ د ملګرو پر مخونو نری شبنم پروت و، ډېر په تشویش کې به وو، یو نیم به بیا ډېر خوشاله وو.

موږ نږدې ماښام له دې ځایه حرکت وکړ، دا چې د مزار پوستې دفاع زموږ وه او لاره یې هم لنډه او تر سنګري پوستې یو څه اسانه وه، تر ټولو موږ وړاندې خپل ځای ته ورسېدو، ملګرو ته مو صبر وکړ، د سنګري پوستې ملګري په

Download more from Libtoon.com

لاره کې ورک شول، هغوی ته موږ ډېر انتظار وکړ، زه په خپل ځای کې لږ ویده شوی وم، خو په یوه غږ مې سترګې وغړېدې:

الوتکې دي!

زه ژر را پاڅېدم، اسمان ته مې سترګې جګې کړې رښتیا هم یو جهاز روان و، زما تر څنګ بل مجاهد ملګري هیبتي غږ وکړ چې نه نه تبلیغیان دي!

تبلیغیان به موږ د سوارلۍ جهازونو ته ویل. بېرته مو ډار ورک شو.

د سنګري پوستې ملګري هم شاوخوا د شپې یوه بجه ورسېدل، کله چې جنګ شروع شو، شاوخوا نیم ساعت به یې نیولې وي. ملګرو ډېر کوښښ وکړ، خو هیڅ پوسته او کمپ فتح نه شو.

بېرته مو هلته نږدې کلي ته واپسي را وکړه، کله چې کلي ته را ننوتلو او دلته د مېشتو کورونو په مېلمستونونو ته کې تم شوو، الوتکې را ورسېدې، خو د خدای فضل و ملګري ټول په کورونو کې تقسیم شوي وو، بمبار و نه شو.

ستړی ویده شوی وم، الماس مې په خوب لیده چې په دیرکه کې زموږ د کور پر مخامخ غره ولاړ وي، په ملا راکوږ شي او د څپلۍ بند وتړي. ما ته د سلام په دود لاس وخوځوي او تر غره واوړي. له دې سره را ویښ شوم، ساعت مې چې وکوت د سهار څلور بجې وې.

غرمه موږ په الماس پسې ګرځېدو چې حرکت وکړو، خو خبر شوم چې په دې جنګ د لسو تعرضي ملګرو په منځ کې الماس هم شهید شوی دی.

غلچکي د الماس د شهادت د خبر له اورېدو سره سم راته وویل:

سهار ته نږدې مې په خوب لید، د سپینو سرویس بوټانو بندونه یې تړل، ما ته یې سلام وکړ چې لاړم. بیا را ویښ شوم، خو چې بیا ویده شوم بیا مې لید، د مجاهدینو په یوه کاروان کې روان وي، سلام راته وکړي او بیا ووایي چې لاړم.

Download more from Libtoon.com

ما غلچکي ته په حيراني وکتل:

والله ما هم په خوب لید، همداسې د تګ په حال کې مې لید.

بیا مې خپل خوب پوره ورته بیان کړ.

زموږ د سفر دغه فدایي ملګری الماس، د جنګ پر مهال بلال له موږ بېل او پر سنګري پوسته له تعرضي ملګرو سره یو ځای کړی و.



Download more from Libtoon.com

# رمه

موږ په زېږوک کې لا دمه نه وه کړې چې بلال بیا د مخابرې له لارې رابطه وکړه او بیا یې له ما سره غلچکي او شاهین درې واړه ور وغوښتلو، کله چې ګیان ته ورغلو ویل یې چې په هر صورت وي دا سیمه له دښمنه پاکوو.
موږ پلان جوړ کړی، دوې ورځې وروسته بیا پر همدې «ولې واست» کمپاین برید کوو، خو دا ځل مهمه دا ده چې تر ټولو سخته پوسته «سنګري» ستاسې ده او تاسې به پرې د تعرضي ملګرو له جملې یاست!
ما، غلچکي او شاهین درې واړو په خپلو کې سره وکتل، رښتیا هم د تعرضي جګړې غبرګ درونـد و. یوه شېبه سره غلي شوو، بیا مو ورته وویل چې ستا هر رنګه خوښه وي، زموږ خوښه ده.
حافظ بلال وپوهولو چې نور ملګري او هر څه تیا دي، بس سبا نه بل سبا باید موږ له زېږوکه خپل ملګري راټول او دلته حاضر کړو.
موږ درې واړو بېرته زېږوک ته حرکت را وکړ، په لاره کې پر ټولو چوپتیا خپره شوې وه، په موټرسایکلونو کې مو هغسې مستي نه لیده، رښتیا یې هم زور غوښت او په تشویش کې وو چې څه به کېږي؟ زخمیان کېږو به؟ هلته خو چې زخمیان شو د ډاکټر هیڅ امکان نه شته، ځکه یو خوا وزیرستان راپسې

Download more from Libtoon.com

بند دی او بل خوا د هر طرف لارې. که به شهیدان شو؟ یا فاتحان؟
په همدې سوچونو کې زېړوک ته را ورسېدو، په سبا مو ملګري تیار کړل او بل سبا سهار وخت مو سره تعیین کړ چې باید موږ ګیان ته سهار وختي په داسې حال کې مزل وکړو چې هلته د غرمې دوولس بجې شاوخوا ورسېږو. همداسې وشول، د غرمې شاوخوا ۱۱:۳۰ بجې وې چې موږ له سپېرې ولسوالۍ څخه د ریزو له سیمې څخه د ګیان ولسوالۍ پولو ته ور واوښتلو. دا لاره تر ګیان بازاره پورې په یوه ځنګل کې تللې وه، موږ چې په ځنګل کې لږ وړاندې مزل وکړ، د خپلو ملګرو ولاړ موټر مو ولیدل. موږ هم یوه شوو چې د جنګ لپاره تیاری همدلته نیول کېږي، د تېر برعکس په موټرسایکلو نه، بلکې ټول په دوو فور بای فور پیکپ ډوله موټر کې راغلو چې شخصي مو راکرایه کړي وو، موټر سایکل مو په زېړوک کې ځکه درولي وو چې دا ځل موږ عملاً د تعرضي ملګرو له جملې وو او د برخلك پته نه لګېده چې ژوندي ځو، زخمیان کېږو او که به مو شهیدان وړي؟
موږ موټر د ملګرو له موټرو سره په خوا کې ودرول، شاوخوا دوه ویشت ملګري وو چې په ځنګل کې پیاده غونډۍ ته ور جګ شوو، و مو لیدل چې ټول ملګري ناست او په خپلو کې په مشوره بوخت وو، بلال هم تازه د نویو سپینو سرویس بوټونو مزي ټینګول، موږ هم ور ورسېدو، له ستړي مه شې وروسته بلال عادل ته وویل چې د دوی د ضرورت وړ شیان ورته پوره کړه.
موږ له عادل سره یوه موټر ته لاړو، کمربندونه مو له مرمیو ډك او تعرضي ملګري بېل کړل، غلچکي مو پر پوسته د جنګ مشر شو، شاهین یې مرستیال او تر څنګ یې زه هم تعرض ته واخیستلم.

Download more from Libtoon.com

حکیم خان غمخوار چې په زیړوک کې زموږ د مشرانو ملګرو له جملې څخه و، هغه د دفاعي جنګ مسوول شو او ورسره شاوخوا لس نفره ملګري شوو، په تعرض کې زموږ د درې ملګرو په شمول ۱۴ نفره شوو.
موږ وسله پوره کړه او هر ملګری دلته د يوې او بلې ونې خوا ته له خپل همزولي سره په خبرو بوخت شو، زه د ونې په خوا کې د نکې ولسوالی له نامتو موټروان جهانګیر کباډ سره په ګپو لګیا وم، جهانګیر ګباډ د مولوي سنګین د تشکیل لپاره تر ټولو تکړه موټروان و، کباډ هغه سړی و چې د جنګ په وخت کې به يې ټپیان تر ټولو مخکې را ایستل.
زه او کباډ سره په ګپه وو، ما ورته ویل:
ګوره که زخمي شوم ژر راځه چې له دې ځایه مې وباسې!
کباډ چې له ما سره يې ډېره کلکه انډیوالي وه، راته کړه:
اول دې خدای بېخي زخمي کوه مه او که بیا هم کومه پېښه وشوه چې مرم هم ځان در رسوم، بې غمه شه!
په اسمان کې ډرون الوتکو شور جوړ کړی و، لږ وېره راسره وه چې هسې نه هدف شوي یو، موږ لا په خبرو وو چې د موټر غږ راغی. له ما وړاندې خالقیار له بلال سره غږېده، هغه ته مې ور ناره کړه:
های دا موټر د چا راغی؟ ورته ووایه چې دلته مه راځه پاس ډرون دي، کشف مو نه کړي!
د خالقیار غږ راغی:
دا موږ را غوښتی، ملګري او یو څه اکمالات يې را ورسول.
زه بیا له کباډ سره په خبرو شوم، خو په دې وخت کې ناڅاپه له اسمانه دومره لوی شور راغی چې ما ویل چې غوږونه يې را پرې کړل، ما لا اسمان

Download more from Libtoon.com

تـه نـه وو کتلي چې پرله‌پسې درې مزایـل لـه مـوږ کابـو ۴۰ متـره لـرې ولگېـدل، اواز یـې دومـره خـراب کـړو چې کبـاډ لـه بـدې ورځـې پـه ونـه او مـا پـه کبـاډ غـبـږ وگرځولـه، د کبـاډ لـه خولـې فقـط د الله الله نـارې ختلـې.

شـاوخوا مـې وکتـل، د ونـو پـه منـځ کـې تـور دودونـه راغلـل، ملگـري څـوک پـه منـډو وو، ځینـو د ونـو پـه سـتو غـبـږې بدلـې کـړې وې او د هـر یـوه پـه خولـه دا چیغـه وه چې مـه تښـتئ، مـه تښـتئ ډرون مـو څـاري!

مـوږ ټـول د همـدې وېـرې لـه املـه څـو دقیقـې همدلتـه تـر ونـو لانـدې غلـي ناسـت وو، خـو د ډرون لـه ښـکار شـوي ځایـه خـال خـال ډزې کېـدې او یـو نیـم بـه پکـې کوچنـي انفجـار وشـو، داسـې ښـکارېده لکـه د دوو طرفونـو لـه خـوا چې جنـگ شـروع وي.

زه تـر ونـه لانـدې لـه کبـاډ سـره غلـی وم چې تـر شـا د قدمونـو غـږ راغـی، شـا تـه چې مـې وکتـل بـلال لـه خلقیـار سـره یـو ځـای زمـا تـر شـا ودرېـدل، زه راپاڅېـدم، د بنگنـو غـږ دومـره تېـز و لکـه پـه اسـمان کـې چې د یـوې طیـارې پـه انـدازه خالي ځـای پاتـې نـه وي.

حافظ بلال ته مې په تلواره وویل:

څوك څوك شهیدان شول؟ څوك یې وویشتل؟

ده وویل:

د ترابي پر ملگرو باندې یې وارونه وکړل.

محمـد اکبـر ترابـي همدلتـه پـه گیـان کـې یـو لـه مخکښـو ډلگـی‌مشـرانو څخـه و.

ورپسـې بـلال زیاتـه کـړه:

هغـوی تـه مـوږ هدایـت کـړی و چې پـه موټـر کـې وسـله او ملگـري راوړئ، دلتـه چې را رسـېدل بـس پـه دا نـږدې ځـای کـې د دښـمن هـدف شـول، اوس معلومـه

Download more from Libtoon.com

نه ده چې ټارګېټ له کومه ځایه شول!؟
بیا یې یوې بلې خوا ته وکتل، و یې ویل:
اوس پته نه لګېږي چې څوک شهیدان او څوک زخمیان دي، خو ځینې ملګري مو پسې ور ولېږل چې زخمیان ځنګ ته کړي.
ما ورغبرګه کړه:
ښا دا ډزې؟
-موټر لکه چې اور اخیستی، بار وسلې پکې چوي.
له بلال سره مو همدلته مشوره وکړه چې ملګري بېخي زیات دي، باید ورته وویل شي چې څو ډرون لا کنټرول شوې نه وي، هیڅ دې له دې ځایه نه خوځېږي. که کوم ملګری حرکت وکړي نورو ملګرو ته هم خطر دی.
پر همدې خبرو یې هوکړه راسره وکړه. ملګرو ته مو وویل چې باید څوک له ځایه و نه خوځېږي.
بمبار دلته مازدیګر وشو، دا چې څلورو ډرون الوتکو ټوله سیمه ځارله مو پر همدلته د شپې تر ناوخته پاتې شوو، د بمبار ځای ته ورتګ نه کېده، وېره وه، دلته سلګونه مجاهدین وو، که څوک ورتلای دغه مجاهدین هم هدف کېدل.
دوی ته مو د همکارۍ لپاره لاندې له کلي کلیوال را وغوښتل، د شپې ناوخته د مخابرې له لارې له کلیوالو سره رابطه وشوه او و یې ویل چې د وسلې په بار موټر کې ټول یوولس مجاهدین وو، لس شهیدان شوي او یو شدید ټپي دی.
دا ټول د یوې ډلګۍ ملګري وو.
پر مور د شپې شاوخوا لس بجې له پاسنۍ ځنګلي سیمې د وزو رمه راغله،

Download more from Libtoon.com

دا چې ډرون هم لېږ قرارې شوې وې، له بلال سره مو مشوره وکړه او ښه مو ګڼله چې ملګري په همدې رمه کې د وزو په شکل له دې ځایه ووځي او ځارګره ډورن پوه نه شي چې دا رمه ده، که انسانان.

همداسې مو وکړل، شاوخوا درې سوه ملګري له همدې رمې سره یو ځای په ملا ګور ګور روان شوو، نږدې یو کیلومتر یا تر دې هم زیات لاندې کلي ته په رمه کې کښته او هلته په کورونو کې تقسیم شوو.

دا چې د تعرض لپاره مو همدا نن شپه ټاکلې وه او د غتې اسلحې دفاعي ملګري تول خپلو ځایونو ته رسېدلي وو، بېرته د بلال هدایت ته په تمه شوو، ورته و مو ویل چې څنګه کوو؟

هغه وویل چې نن ملګري بمبار وهلي ترهېدلي دي، د مخکې تګ لپاره به سبا سهار مجلس کوو. نن همدلته په کومو کورونو کې چې تقسیم شوي یاست خوبونه وکړئ، همدا ډول یې وویل چې د غتې وسلې دفاعي ملګري هم بیرته را واپس کوو.

دا چې موږ نیمه ورځ تر ډرون الوتکو لاندې تېره کړې وه او هره شېبه مو د مرګ انتظار کړی و؛ نو د تعرض د نه کېدو او خوبونو خبره ډېره خوږه رابانـدې ولګېده، تر یوه کوچني قیامت وروسته همدلته په یوه کلیواله حجره کې خواږه خوب وړي وو.

Download more from Lisboon.com

# د پنجاب زامن

سبا مو له لمونځونو وروسته بیا هم تر نهو بجو پوري خوب وکړ، کور به ناشته راوړه، مور لا پای ته نه وه رسولې چې بلال په مخابره کې غږ وکړ:
ـ همدلته نږدې مخامخ ځنګل ته ټول ملګري په احتیاط راشئ!
موږ یو بل ته وکتل او لاسونه مو ګړندي کړل، ناشته ختمه شوه. دا فکر مو کاوه چې خپلو ځایونو ته مو رخصتوي، خو کله چې ورغلو ټولو ملګرو ته یې وویل چې پر کمپ تعرض د نن د شپې کوو. د ټولو تعرضي قوماندانانو نظر دا و چې پرونۍ بمبار د ملګرو روحیه ځپلې، ښه دا ده چې دا برید یو څو ورځې وځنډېږي، بل دا چې د دښمن څارګرې الوتکې مو لا هم پر سر ګرځي؛ نو تعرض به د ډېرو سرونو په قیمت راته تمام شي.
حافظ بلال یو عادت درلود چې یو ځل به یې د جنګ اراده وکړه بیا به یې نه واپس کوله، اوس هم پر خپله خبره ټینګ پاتې شو. موږ که هر څو ډېر ټینګار وکړ چې دا تعرض باید یو څه وخت معطل شي، خو بلال و نه منله او پرېکړه وشوه چې له ماښامه وروسته هر قوماندان خپل ټاکل شوي ځای ته حرکت وکړئ.
زه، غلچکی، شاهین او غمخوار څلور واړه په یوه موټر کې د ګیان بازار ته

Download more from Libtoon.com

لاړو او هلته مو د غرمې ډوډۍ وخوړه چې د شپې لپاره لبر چمتو شو. په بازار کې پر پوسته زموږ تعرضي ملګری یعقوب چې له زېړوکه راسره راغلی و، په مخه راغی او ویل یې چې د خېټې درد راته لګېدلی، ډاکټر ته راغلی یم. دا یې هم وویل چې په تعرض کې برخه نه شم اخیستلای او بیا یې پسې یاده کړه چې اجازه راکړئ.

موږ په خپلو کې سره وکتل او په سترګو کې سره پوه شوو چې سړی ډارېدلی؛ نو له همدې ځایه مو اجازه ورکړه.

ورځ مو همدلته په بازار کې تېره کړه او ملګري مو د کلي په یوه مېلمستون کې پرېښي وو، ماښام مو له ملګرو سره رابطه وکړه چې باید بازار ته راشئ او خپل ټاکلي هدف ته چې د شپې په دوولس بجې خان رسول وو، تیار شو.

ملګرو همداسې وکړل، د ماښام له لمانځه وروسته راسره یو ځای شول او له کمپه داسې په یو نیم کیلو متر کې مو موټر ډرایور ته پرېښود او را واپس یې کړ، موږ د ولې واست د کمپ دفاعي مورچې ته چې سنګري یې بلله، په پښو ور روان شوو.

مخابره چې مو خلاصه کړه ټولو تعرضي او دفاعي ملګرو خپلو ځایونو ته مزل پیل کړی و، لاره به مو لا نیمه نه وي وهلې چې ډرون الوتکه رابانده لبر را ټیټه شوه، زوږ یې داسې وېرول کول چې ګومان کېده له هرې دورې سره به یې مزایل موږ په لوګیو کې ورک کړي، خو بیا به داسې و نه شول.

په لاره کې لبر د دمې لپاره کېناستلو، هر ملګری په تشویش کې و، خو ځینو ملګرو به د نورو ملګري لپاره ډاډه خبرې کولې. زموږ یو ملګري متقي به د ټوکو په حال کې ویل چې ډارېږئ مه، په پوسته کې قسم دی که پیشو هم وي، موږ

Download more from Libtoon.com

به چې ورته وکتل بیا به یې وویل چې هو پیښو خو نه شته، خو انسانان شته!
موږ به په خندا شو...
په همدې خبرو او ټوکو وو چې زما تر څنګ ناست ملګري چیغه کړه او ځای پر ځای ځملاست، په خاورو کې ورغړېده، زه یې سخت وډارولم، د چیغې له اواز سره یې ما فکر وکړ چې مزایل راغلل.
ملګرو ټولو شور جوړ کړ:
دا څه وشول؟ اې په ده څه شوي؟
د اریانا په نوم ملګری چې د خوست ولایت د رېزو د سیمې و، بس په خاورو کې رغښت او لکه لېونی یې ژړل.
لږ اوبه مو پرې واچولې، وروسته یو څه نرم شو او بیا یې وویل:
هیڅ مزل نه شم کولای، په ګوردو کې مې کانې دي او اوس هغو حرکت پیل کړی چې درد یې له کنتروله وتلی دی.
غلچکي وویل:
دا خو به ملګري درسره کړو واپس به دې کړو.
اریانا په زګېروي کې وویل:
هو بله لار نه شته!
غلچکي هم یو ملګری ورسره کړ او د واپسۍ اجازه یې ورکړه، خو له اجازې سره اریانا یو دم ښه سم روان شو. زه غلچکي ته ور نږدې شوم، ورته و مې ویل:
سړی ډارېدلی و، په ناروغي یې ځان خلاص کړ.
غلچکي وخندل:
هو دا جنګ دی، له مرګ سره لوبې دي، د ډېرو انسانانو له توان څخه پورته دي.

Download more from Libtoon.com

مـوږ بـه شـاوخوا نیـم سـاعت دلتـه دمـه کـړې وي، خـو چې لـه ملګـرو سـره مـو رابطـه وکـړه، ډېـرې یـې خپلـو ځایونـو تـه نـږدې شـوي وو، بیـا نـو مـوږ هـم غلـی غلـی مـزل پیـل کـړ.

شـاوخوا یـو سـاعت کې مـوږ لـه سـنګري مورچې سـره مخامـخ پـه سـل متـري کې کېناسـتلو، دا چې غمخـوار زمـوږ د پوسـتې دفاعـي قومانـدان و، هغـوی مـو همدلتـه رخصـت کـړل، ورتـه و مـو ویـل چې د ځـان لپـاره نـږدې مناسـب ځـای پیداکـړئ چې زمـوږ شـه دفـاع وکـولای شـئ.

مـوږ همدلتـه د یـوه لـوی کمـر پـه خـوا کې پټ ناسـت وو، دا چې پـه پوسـته کې مېشـت عسـکر وار لـه مخـه د مخابـرې د تعقیـب لـه املـه خبـر شـوي وو؛ نـو یـې د پوسـتې لـه دفاعـي ټاپوګانـو دبانـدې کلـه کلـه هوایـي ډزې کولې او همـدا شـان پـه پوسـته کې یـوه ماشـوم چیغـې وهلـې: "د پنجـاپ زامنـو اوس بـه مـو پټـه سـره لګـېږي، اې پنجاپیـه وینـم دې مـه راځـه، وژنـم دې پنجاپیـه..."

مـوږ دلته شـاوخوا نیم سـاعت انتظـار وکـړ او دا انتظار داسـې و لکه ټولـه ورځ مو چې دلتـه تېـره کـړې وي، ځکـه کله به د پوستې لـه خوا ډزې کېـدې چې یـوه نیمه مرمۍ بـه زمـوږ مـخ تـه پر کانـي وتښـېده او کله به یې مسـتقماً لاسـي بېجلـي زمـوږ خواته را رڼـا کـړه چې فکر بـه دې کاوه و یـې لیدو، خو داسـې به نه وو شـوي.

شـاوخوا نیـم سـاعت وروسـته بـلال د مخابـرې لـه لارې غـږ وکـړ چې د فاعـي او تعرضـي ملګـري ټـول خپلـو ځایونـو تـه رسـېدلي، د دعـا لپـاره تیـار شـئ!

د وطـن د ازادۍ، اسـلامي نظـام د حاکمیـت او همـدا ډول د شـهیدانو د شـهادتونو د قبلېـدو دعـا وشـوه او ورپسـې بـلال د قـران کریـم دا ایـت شـریف تـلاوت کـړ: (وَ مـا رَمَیْـتَ إِذْ رَمَیْـتَ وَ لٰکِـنَّ اللـهَ رَمـی)

له همدې سره جوخت یې غږ وکړ:

Download more from Libtoon.com

ملګرو ډزې شروع کړئ!

له غرونو څخه پر پوستو او کمپ باندې پرکې شوې، د زکویک د لمبه یي مرمیو قطارونه زموږ پوستې ته راغلل، ګولۍ چې له دېوال سره ټکر کېدې بېرته به د یوې رڼا په شکل اسمان ته الوتلې، له موږ سره نږدې د وړو اسلحو دفاعي ملګرو هم پر پوسته د پیکاګانو، ټوپکو او راکټو ګړز او ګړوز جوړ کړ او په همدې شور کې موږ ته غلچکي په چیغه کې وویل چې راتښتئ چې پوستې ته ور نږدې شو!

پوسته رښتیا هم په لوړه څوکه وه، دې څوکې ته په یوه ساه ختل سخت ستونزمن وو، خو موږ په یوه منډه د غونډۍ تر نیمایي ځان ورساوه چې پوستې ته به شاوخوا ۳۰ متره مزل پاتې و، هلته مو لږ دمه وکړه، وروسته غلچکي په مخابره کې پر دفاعي ملګرو غږ وکړ چې تاسې ډزونه بند کړئ او موږ ته یې امر وکړ چې په ما پسې را منډه کړئ، ټولو په یو وار په غلچکي پسې منډه کړه، خو کله چې د پوستې اغزن تار ته ورسېدو ډېر لوړ او په مهارت سره ځای پر ځای شوی و، له پوستې څخه د باران په څېر مرمۍ وربېدلې او ملګري د تار په پرې کولو مصروف وو، خو تار هیڅ لار نه راکوله، وروسته مو د ځان کوټونه (جمپرونه) ورته وایستل او اغزن تار مو یو څه دومره بېل کړ چې ډېر په خواري پکې یو انسان ننه شي، مګر جامې یې نیوې او بدن یې را خوړاوه.

موږ په همدې تار کې بند وو چې یو عسکر له پوستې راووت او زموږ پر خوا یې په یو برش کې د ټوپک جاجوره را خالي کړه، دا چې زما، غلچکي او شاهین په شمول شاوخوا ٦ شپږ کسان دلته غوټه سره ولاړ وو؛ نو د ټوپک له برش څخه په ځمکه څملاستو، کله چې عسکر ننووت غلچکي زموږ تر

Download more from Libtoon.com

ځنګ پر راکټچي غبږ وکړ چې پوسته په راکټ وولـه، ملګري را شـهيدانوي! مـا چې لانـدې وکتـل، زمـوږ په منځ کې دوه ملګري ناسـت وو، زه ور ټيټ شـوم چې ګـورم متقـي ناسـت دی، غږ مې پرې وکړ چې راجګ شـه، هغـه وويـل چې قسمت نـه جګېږي دا هـم را ولاړ کړه. قسـمت زمـوږ د زېړوك ولسـوالي د کېښـام د سـيمې يـو مجاهـد و، فکـر کـوم دا يـې په تعرض کې لومړی ګـډون و. مـا چې د قسـمت پـر مټ لاس کېښـود او را کـش مې کـړ، سـرې پـر ځمکـه ځملاسـت، ور ټيټ شـوم، خـو سـر مې خـلاص شـو چې لګېدلی، دسـتي مې غلچکـی خبـر کـړ، يـو ملګـري ژر کوچنـی سـاده ټليفـون را وکيـښ، ور رڼـا يـې کـړ، پـه قسمت کې هيـڅ نـه و پاتـې او ډېرې مرمـۍ پرې لګېدلې وې، شـهيد و. مـوږ د پوسـتې نيمايـي برخـه د راکټـو پـه ګوزارونـو تخريـب کـړه چې د راکټ مرمـۍ را خلاصـې شـوې، همدلتـه پـه اغـزن تـار پـه ډېـره خـوارۍ ور واوښـتو او د پوسـتې دېـوال تـه مـو ځانونـه ورسـول، د پوسـتې اطاقونـو تـه مـو د وړو وړو کړکيـو لـه لارې ګرنيټونـه ور شـروع کـړل.

مـوږ بـه دلتـه شـاوخوا پنځه ويشـت دقيقـې جنګ کـړی وي، پـه عموم کې تعرضي جګـړې کـم وخـت نيـو او معلومـات بـه کېـدل چې کـوم طرف بـری مومي.

کـه څـه هم زمـوږ حوصلې يو څـه د راکټ د مرميو له خلاصون سره کمزورې شـوې وې، خـو غلچکـي بيا هـم يـوه اطاق تـه د کړکـۍ لـه لارې ګرنـټ ور واچـاوه او نور لـه مـا سـره پـه خبـرو شـو، ويـل يې چې لـه ملګـرو ګرنيټونـه را پيدا کـړه. پـه همدې خبـرو کـې خپـل لاس د ګرنيـټ له اچولو سره دننه پـه کړکۍ ترې هېـر و، د ګرنيټ له انفجـار سـره يـې د څـو چرو لـه املـه لاس زخمي شـو او چيغه يـې کړه:

زخمي شوم!

د غلچکـي لـه چيغـې سـره د ملګـرو حوصلې ماتـې شـوې او هـر يـوه دا خبـرې

شروع کړې چې عسکر ډېر دي، دا پوسته نه شي فتح کېدای، خو دا چې غلچکی ډېر پیاوړی او په جګړو کې باتجربه قوماندان و، په زخمي حالت کې یې مخابره را واخیستله او له بلال سره یې رابطه وکړه، ورته و یې ویل:
زه هم زخمي شوم، یو ملګری را شهید شوی او مرمۍ را کمې دي، څه وکړو؟
حافظ بلال سمدستي وویل:
اکثریت ملګري واپس شوي، تاسې که مخکې تګ کولای شئ لاړ شئ، که نه زخمیان او شهیدان را وباسئ چې درنه پاتې نه شي.
موږ خپل وس وکړ، خو مخکې تګ نه کېده، دژې پرله پسې رابانـدې زیاتېدې، ښه مو وبلله چې په منډه له شهید سره ځان وباسو.
له پوستې پر موږ خال خال ډزې روانې وې چې بېرته یو یو په اغزن سیم کې تېرې راوتلو، موږ ګومان کاوه چې شهید له اغزن تاره بهر دی خو منځ ته یې چې راغلو زه پر شهید وختلم، غلچکي ته مې غږ کړ چې یو ملګری دلته هم شهید دی!
کله چې ور ټيټ شوم، قسمت و. قسمت د اغزن تار په منځ کې پروت و.
دا چې زه او غلچکی وروسته پاتې وو او ملګري د واپسي د غږ په اورېدلو ټول په منډه تللي وو؛ نو غلچکی په زخمي لاس لږ راسره کومک شو چې شهید له تاره وباسو، خو د شهید په را اوچتولو مو وس و نه رسېد، همداسې مو تر پښو را ونیو، په تار کې مو راکش کړ، جامې یې په تار پورې ونښتې، عسکرو له دفاعي ټاپوګانو پرله پسې وارونه رابانـدې کول؛ نو د زور په راته نه وه لګېدلې، له شهید څخه جامې په تار کې پاتې شوې او له غونډۍ مو همداسې په کشولو را روان کړ. دا چې ځوړ و، د شهید جسد مو ډېر اسانه پکې کشولای شوای، غلچکي یو څه همکاري راسره وکړه، خو دا چې لاس یې زخمي و، شهید یوازې ما ته را

Download more from Libtoon.com

پاتې شو او په منډو مې لاندې را کشاوه. تیاره وه، د غونډۍ په نیمايي کې مې له یوه لوی پانځ څخه چې شاوخوا شپږ یا اوو متره لوړ و، پښه خطا شوه، له شهید سره لاندې را ولوېدم، په ځمکه چې ولګېدم د شهید جسد مې پاس پر سینه ونښت، پر ټټر مې دومره زور راغی چې فکر مې کاوه ټولې پوښتۍ مې ماتې شوې، خو بیا را ولاړ شوم او ځان مې وکوت، روغ وم، بېرته مې د شهید پښه پیدا کړه او په کشولو مې شروع وکړه.

غلچکی رانه ورک شو، خو دومره پوهېدم چې باید هغه کمر ته ځان ورسوم چې وروستۍ دمه مو ورته کړې وه، ما شاوخوا لس دقیقې مزل وکړ چې هلته ورسېدم. ملګري ناست وو، له رسېدو سره سم مې یوه داسې ستړیا احساس کړه چې له خبرو لوېدلی وم، د ملګرو په منځ کې په داسې حال کې ور ولوېدم چې د شهید پښه مې په لاس کې کلکه نیولې وه او له کمربنده پرته یې پر بدن د کشولو له امله هیڅ د کالیو ټوټه پاتې نه وه.

په زوره زوره ساه مې اخیسته، ملګرو ویل چې څوک یې، څوک یې؟

ما فقط ساه اخیستله، خو لږ مې ساه د نوم د اخیستلو لاره راکړه، و مې ویل:

ـ ملنګ یا...ر.

موږ دلته شاوخوا لس دقیقې کېناستو چې غلچکی هم را ورسېد، زموږ په لیدو یې سمدستي وویل:

تاسې دلته څه کوئ، هلئ ملنګ‌یار ته ورشئ چې شهید یې په یوازې ځان را روان کړی!

ملګرو سمدستي ورته وویل:

هغه دغه دی را رسېدلی!

غلچکی خوشاله شو، سمدستي یې وویل:

Download more from Libtoon.com

هلئ وخت مه ضایع کوئ الوتکې راځي شهید نیسئ چې وړو یې.
ټول ملګري له سختې ستونزې سره مخامخ وو، خو زه یو څه ډېر ستړی وم.
نورو څلورو ملګرو شهید تر ېښو او لاسونو ونیو او واپسي مو پیل کړه.
لاره که څه هم لنډه وه، خو ستړیا ډېره راته اوږده کړه، غلچکي په مخابره
کې پر بلال غږ وکړ:
موټر راولېږه، له موږ سره شهید دی چې سخت یې ستړي کړي یو! بلال د
یو ملګري نوم واخیست چې له موټر سره در لېږلی، په مخابره کې غږ پرې
وکړئ.
غلچکي چې کله غږ پرې وکړ هغه وویل چې زه په لار کې درته ولاړ یم،
راځئ!
غلچکي ورته غوسه شو:
موږ زیات مزل راکړی لږ مخکې راشه، هیڅ شی نه شته چې الوتکې را
ورسېږي، بیا نه شو وتلای.
-نه زه مخکې نه شم درتلای، تاسې باید راشئ.
په دې وخت کې بلال هم پرې غږ کړ:
-مخکې ورشه، ملګري ستړي دي، دښمن نارامه دی، هیڅ مشکل نه شته!
خو هغه په خپله خبره ولاړ و:
-له پوستې ډزونه راکوي، موټر ولي!
اصلاً ډارېده، که نه له پوستې موږ ډېر مزل راکړی و او تر یوه غونډۍ راته
پنا وه، موټر یې نه لید، غلچکي په مخابره کې په لوړ غږ وویل:
حافظ صاحب دا درواغ وايي، پوسته ډېره لرې ده، هسې ډارېږي، هیڅ شی نه
شته، مخ ته دې راشي، که نه چې ملګری ور ولېږم بیا موټر په زور ترې راولو.

Download more from Libtoon.com

حافظ بلال پرې غږ وکړ:

د بیت المال موټر دی، د همدې لپاره مې اخیستی چې د ملګري خدمت پکې وشي، که ته نه شې ورتلای بیا زه بل ملګری در لېږم چې موټر در نه واخلي، خو دا خبره واوره چې بیا موټر هغه ملګري ته په ډالۍ کې ورکوم.

رابطه قطع شوه.

زه سختې جګړې وهلی وم، خو پر دې مې سر خلاص و چې باید ژر له سیمې ووځم؛ نو د ژر وتلو لپاره موټر ضروري و، سمدستي مې غلچکي ته کړه چې زه به ورشم؟

غلچکي پر بلال غږ وکړ:

ملنګیار ور لېږم، هغه ته دې د موټر کیلي ورکړي.

حافظ بلال ور غبرګه کړه:

ملنګیار ور ولېږه، خو پوه یې کړه چې وروسته بیا موټر هغه ته ور نه کړي.

زه هم ور په منډه شوم، تر یو څه مزل وروسته مې په مخابره کې پرې غږ وکړ:

د موټر څراغونه راته بل کړه، زه دې نه وینم!

له هغې خوا هیڅ ځواب رانغی، زه په سړک ور روان شوم چې موټر به یو ځای ولاړ وي. تر نږدې یو کیلو متر مزله وروسته ولاړ موټر ته ور ورسېدم. دا داسې ځای و چې پوستې په دوه کیلومتري کې ورته پرتې وې، په منډه ور وختلم او حرکت مې راوکړ.

بېره مې له دې ډاره هم کوله چې الوتکې را نه شي او سیمه ژر خوشې کړو.

کوم موټر به چې له تعرضه وروسته د ټپیانو یا شهیدانو وړلو ته ځانګړی شول، ځینو ډریورانو به سستي کوله او یو بل به یې ور مخکې کول چې لار ورته وګوري، خو دا کار که دوی له احتیاط او یا له ډاره هم کاوه، غلطي وه،

Download more from Libtoon.com

ځکه هغه موټروان کامیاب و چې لومړی ځان ساحې ته ورسوي او شهیدان یا زخمیان را واخلي، وجه یې دا وه چې په لومړي سر کې به الوتکې نه وې او دښمن به یوې داسې جگړې وهلی و چې هیڅ به یې دز نه شو کولای، خو کومو ډریورانو چې به سستي کوله، پر هغوی به یا اکمالاتي قوه را ورسېده او یا به پرې الوتکې راغلې چې د بمبار ښکار او شهیدان به شول.

د زخمیانو او مړیو د انتقال چل ما په پکتیکا کې له جهانگیر کباړ څخه زده کړی و، هغه به له گرمو تعرضونو زخمیان په خپل موټر کې را ایستل، کباړ راته ویلي وو چې داسې ورځ هم راغلې چې ما زخمیان ډاکټر ته هم رسولي، له سیمې هم وتلی او ان پرېوتلی او ویده شوی یم، بیا خبر شوی یم چې چا سستي کوله هغه په بمبار کې شهیدان شوي دي.

زه موټر ته ور ورسېدم، د موټر څراغونه همداسې بل وو او چالان یې پرېښی و، هغه مجاهد په موټر کې نه و. ورته کېناستلم، مخکې مې په ډېر سرعت را روان کړ.

لاره ډېره خرابه او کندې وه، خو ما د الوتکو له وېرې په کپرک او ناهوارو پسې سر نه گرځاوه، گړندی مزل مې کاوه. غلچکي دوی ته را ورسېدم او شهید مو د موټر باډۍ ته ور جگ کړ، د موټر په باډۍ کې مو د موټر د پټولو تاټ پرې وغوړاوه او پرده یې خونديي شوه.

ملگرو ته مې وویل چې په باډۍ کې باید یو کس ورسره کښني، خو ټول ویل چې عاجل وخت دی، الوتکې په را رسېدو دي، حرکت وکړه، موږ به پښو درځو. رښتیا هم وخت وتلی و، الوتکې را رسېدې.

هیڅوک راسره و نه ختل، ځکه په دې وخت کې د جنگ وخت وتلی و او موټر له ویشتلو سره مخ کېدای شو.

Download more from Libtoon.com

موټر تـه وختلـم او پـه داسـې سـپېله مـې مـزل شـروع کـړ چـې پـه موټـر کـې مـې نـور کـش ختـم کـړی و. پـه لار کـې جمپونـه وو، موټـر بـه يـې ځينـې وخت داسـې پورتـه کـړ چـې فکـر مـې کاوه څلـور واړه ټايرونـه يـې پـه هـوا شـول.

شاوخوا يـو پـاو مـزل مـې وکـړ چـې نـږدې يـوه کلـي تـه ورسـېدم او لـه کلـي سـره پـه خـوا کـې مـې ونـې وليـدې. موټـر مـې ژر د ونـې بېـخ تـه کـړ چـې دلتـه يـې پټ ودروم او الوتکـې وګـورم.

موټـر چـې مـې ګل کـړ پـه اسـمان کـې د الوتکـو لـه شـوره پـه غـوږو هيـڅ نـه اورېـدل کېـږي، سـپوږمۍ پـه لوېـدو وه، بې پامـه مـې د يـوې ورې غونـډۍ پـر سـر يـوه کـور تـه منـډه واخيسـته. کلـه چـې ور ورسـېدم ګـورم چـې د مېلمسـتون دروازه خلاصـه ده، ور ننوتـم، زيـات تعرضـي ملګـري را رسـېدلي او همدلتـه پـه خـواږه خـوب ويـده دي.

مـا هـم لـه جېبـه تليفـون را وکيـښ او رڼـا مـې ولګولـه، پـه دې وخـت کـې يـو مجاهـد غـږ وکـړ:

څوك يې؟ څوك يې؟ رڼا مړه کړه، بهر الوتکې دي!

پـه مېلمسـتون کـې مـې پـر يـوه خالـي ځـای سـترګې ولګېـدې او ژر ورغلـم، د څملاسـتي لپـاره پکـې وغځېـدم، د موټـر کيلـۍ مـې لـه سـر سـره جوختې کېښـودې او د سـختې سـتړيا لـه لاسـه خـواږه خـوب دېـر ژر پـه غېـږ کـې ټينـګ ونيولـم.

په دې غږ مې سترګې را رڼې کړې چې ويل، ملنګ‌ياره ناوخته دی ځو!

مـا چـې سـترګې وغړولـې د سـهار لمونـځ قضـا شـوی و، د لمـر وړانګـو پـر سـيمه روڼ سـهار شـيندلی و، غلچکـی مـې وليـد چـې لاس يـې پـه دسـمال تړلی، سـترګې يـې لـه خوبـه سـرې اوړي، مـا تـه يـې وويـل:

ژر مخ پرېمنځه، ظالمه تا ښه خوب کړی، ملګري ټول شهيدان شوي!

Download more from Libtoon.com

ما سمدستي وويل:

ولې، ولې څه شوي؟

غلچکي وويل:

ته په بمبار نه يې پوه شوی؟

-نه، څوک شهيدان شوي؟

غلچکي وويل:

د شپې الوتکو د کمپ پر تعرضيانو په واپسي کې بمبار کړی چې تر څلوېښتو پورې ملګري شهيدان شوي.

-انا الله وانا اليه راجعون!

فقط همدا مې تر خوله ووتل او غلی شوم.

وروسته مې چې په مېلمستون کې ها خوا دې خوا وکتل، هيڅوک نه وو، زه چې را جګېدم د کور خاوند چای او وچه ډوډۍ راوړله، ما هم ژر مخ پرېمينځه او بيا مو له تور چای سره ډوډۍ وخوړه.

له ناشتې وروسته غلچکي راته وويل:

شهيد دې څه کړ؟

ما ژر جېب ته لاس کړ او کيلی مې وکتله، بيا مې فکر شو چې هغه خو دې له سره نږدې ايښې وه، ور ولاړ شوم، کله چې د ملاستې ځای ته ورغلم نه وه، ډېره مې وکتله، اخېر مې غلچکي ته وويل:

شهيد په موټر کې دی، خو کيلی نه شته!

هغه وويل:

موټر چېرې دی؟

-دا لاندې ونو کې مې درولی!

Download more from Libtoon.com

ـ هلته خو موټر نه و.

ما ور غبرګه کړه:

دا ډرېور نه وي بېولی!؟

زه او غلچکی سمدستي له مېلمستونه را ووتلو، د ونو خواته چې راغلو موټر نه و، پوه شوو چې هغه ډرېور له ما کيلي پټه کړې او موټر يې څکه بېولی چې پوهېده دا موټر بيا نه راکوي.

ما غلچکي ته وويل:

شهيد به يې څه کړی وي؟

غلچکي را وکتل:

هغه به يې په بازار کې ضرور ډاکټر ته ور کوز کړی وي.

موږ په همدې خبرو بوخت وو چې موټرسايکل رابانـدې راغی، غلچکي وويل چې راځه له موټرسايکل سره لاړ شو، ما هم ورسره ښه کړه، موټرسايکل راته ودرېده او ورسره سپاره يې کړو، د ګيان د بازار پر لوري مو حرکت وکړ. د اسمان لمن پاکه وه، د هيڅ الوتکې زوږ نه اورېدل کېده، داسې ښکارېده چې بېګاه يې سينه په سرښندونکو غازيانو يخه کړې وه او اوس يې ستړې غبرګې د دمې لپاره خپلو هوايي ميدانونو ته ستنې کړې وې.

له يوه څه مزل وروسته بازار ته ورسېدو، دا چې يو کليوال بازار و ټولو موږ پېژندلو، له ستړي مه شې وروسته يو ملګری راغی زه او غلچکی يې څنګ ته کړو او و يې ويل چې ستاسې شهيد مو له بازاره کلي ته وړی، راځئ چې ورشو او ورپسې يې زياته کړه چې داسې خو څوك نه کوي لکه تاسې چې کړي!!

ما ورته وويل:

ولې څه مو کړي؟

Download more from Libtoon.com

سړي سترګې زما په سترګو کې وګنډلې:

ستاسې ملګري په ډک بازار موټر را ننه ایست، پر ځای د دې چې شهید پکې سم کړي، د شهید هیڅ کالي نه وو، همداسې بې پردې یې په بازار را ګډ کړ او خلکو پرې غړونه وکړل، شهید مو ترې راکوز کړ او اوس ستاسې ډریور له موټر سره ورک دی، شهید یې موږ ته را پرېښی!

زه سمدستي پوه شوم او ورته ومې ویل:

دا زموږ ملګری نه دی، دې ډریور موږ ته بېګاه موټر نه راووست چې بیا بلال دا موټر ما ته تحفه کړ او و یې ویل چې هر هغه څوک چې په دې موټر کې شهیدان وباسي، د هغه شو. بیا غلچکي زه ور ولېږلم، په لاره کې زه په یوه مېلمستون کې ویده شوم، ډریور تعقیب کړی یم، له ما یې د موټر کیلۍ پټې کړې او زما له ډاره یې شهید ته پام شوی نه دی، را روان کړی یې دی او اوس نو تښتېدلی دی.

سړي حیران را کتل.

بیا له همدې ځایه شهید ته ور روان شوو، شهید کلیوالو د کلي په یوه جومات کې ایښی و او ځینې ځوانان یې په صفایي لګیا و، کله چې زه او غلچکی ور ورسېدو، د شاهین په شمول زموږ نور مجاهدین ملګري هم راغلي او د شهید سر ته ولاړ وو.

شهید پر پالنګ پروت و، سینه خو یې مرمیو غلبېل غلبېل کړې وه، خو اغزن تار او په ځمکه راکشولو یې پر مخ تغمې او زخمونه هم جوړ کړي وو او له لرې معلومېدل چې دغه شهید په ځمکه کښول شوی دی.

Download more from Libtoon.com

## ژړانده مور او بوډا شوی پلار

په زېړوک کې به وخت ناوخت چريکي بريدونو ته تلو، د زېړوک پر کمپ او د دغه کمپ پر دفاعي پوستو، همدا شان به په منځکۍ کې د درازکوف په عملياتو مصروف وو او ځيني وخت به د کشفي راپور پر اساس د منځکۍ د عمومي لارې سر ته د تالاشۍ لپاره هم وتلو.

د دمې ځای مو همدا پلرنی وطن و، په زېړوک ولسوالۍ کې د تنگي د ځدراڼو کورونه. دا اکثريت زموږ خپل و خپلوان وو، زما خو د دوو خويندو کورونه هم همدلته وو.

وخت ناوخت به شپنۍ چاپې هم راتللې او له چاپو سره به جنگ ډېر سخت و، ځکه ټوله سيمه به يې په ماډرنه او پرمختللې ټکنالوژۍ څارله، د الوتکو له شوره او همدا ډول د څرخکو له غور و پره به هيڅ انسان د جنگ تاب نه درلود، هر چا به له کلي څخه د غره په طرف منډې وهلې او ځان به يې خوندي سيمې ته ايست.

دا چې ما تر ډېره وخت د خپلې خور په کور کې تېراوه؛ نو ډېر مې په کورنۍ پسې خپه نه وم، خو بيا به مې هم وخت ناوخت د مور په شمول د بچيانو ياد د زړه دروازه را ټکوله، بالاخره يوه ورځ مې تصميم ونيو چې بايد

Download more from Libtoon.com

یو څه وخت بچیان دلته راولم، د دیرکې په خوله کې د ګل سادین د کور تر څنګ په یوه غره کې دوې وړې کوټې وې، ژمی به زموږ خور چې په یوه شپون واده وه، پکې اوسېده. پرېکړه مې وکړه چې باید دلته د ځان لپاره یو موقتي کور جوړ کړم.

له خور سره مې مشوره وکړه، هغوی هم ډېر خوشاله شول او راته و یې ویل چې هو دا کوټې فعلاً زموږ په کار نه دي، کور ورته راوله. له دې وروسته مې یوه ورځ له بلال سره هم مشوره وکړه، هغه هم راته وویل چې د یو څه وخت په مخه دلته کور را نقلوو، که خطر زیات و، زه به هم راشم.

ما چې خبرو ته خوله جوړوله، پسې زیاته یې کړه:

زموږ کور هم فاروق له رزمک څخه وانه ته بېولی او هلته یې ښایسته ځای پیدا کړی چې د وخت په تېرېدلو سره که زمینه مساعده شوه، بیا به هلته لاړ شو!

ما وویل:

ښا فاروق دوی وانه ته کله شوي؟ ولې رزمک د پوځیانو له لوري محاصره نه و؟

-هو، کورنی څلور شپې او ورځې پرلهپسې په غرونو او کچه لارو کې وانه ته په پښو او موټرو کې مزل کړی، څو ورځې وړاندې په جنوبي وزیرستان کې هلته رسېدلي، وانه یو کوچنی بازار لري چې د میرانشاه د بازار تنده پرې ماتېدای شي.

زه هم خوشاله شوم، په زړه کې مې ویل چې څه د دمې لپاره بیا یوه سیمه پیدا شوه.

په تېزۍ مې غوښتل چې تصمیم مې عملي کړم، پرېکړه مې وکړه چې باید له مور سره په ټلیفون خبرې وکړم، په دې وختو نو کې مې یو څو وارې د ټلیفون له لارې له کورنۍ سره تماس نیولی و، دا چې په خپله سیمه کې وم، کله به چې کلیوال خوست ته لاړل، مور به مې زما پوښتنه ضرور ترې کوله.

Download more from Libtoon.com

ما د کلي له یوې پې سي او څخه مورکی ته تلیفون وکړ، له اوکې کولو سره یې راته وویل:

-اه بچیه؟

مور مې پوهېده چې له زامنو پرته هیڅوك هم زنګ نه ورته وهي او کله مې چې خبرې وکړې، مور مې بیا وویل:

-وخ بچیه ته یې؟

دې غږ مې په زړه کې څړیکه تېره کړه، شاوخوا څلور کاله مې سمه نه وه لیدلې، د سعودي له دوه کلنې مسافري چې را وګرځېدم کور مې یو څو شپې وکړې او د مور د لیدو تنده مې ماته نه شوه. دوه کاله اوس نور د جهاد په لوړو ژورو کې وتلي وو.

مور ته مې وویل:

ادې څنګه یې؟ در باندې ګران نه یم لکه چې؟

مور مې لږ غلې شوه، خو داسې ښکاره شوه لکه ژاړي چې، زه هم غلی شوم، په سترګو کې مې اوښکې را ډنډ شوې او مور مې بیا په غلي اواز وویل:

زویه کاشکې زه ژر مړه شم چې له غمه دې خلاصه شم!

ما ورغبرګه کړه:

مه کوه مورې! خدای دې نه کړي، اوس مې تصمیم نیولی چې سبا په تا پسې یو موټر در ولېږم او زما له بچیانو سره یو څه وخت دلته راشې، یوه دوې میاشتې به راسره تېرې کړې چې بیا زموږ پته هم نه لګېږي، ګوره کومې خوا ته شو.

مور مې وویل:

نه بچیه! زه خو دې د پلار له پرېکړې پرته هیڅ هم نه شم کولای، خو

Download more from Libtoon.com

مازدیگـر چـې دې پـلار لـه بـازاره راشـي ورتـه و بـه وایـم.

-نه مـورې! پـه ابـا بانـدې دا خبـره ضـرور ومنـه، زه سـبا موټـر در لېـږم، کـه ابـا خبره نه مني، پخپلـه پسـې درځم.

مور مې وويل:

نه نـه بچيـه تـه مـه راځـه، دلتـه مـوږ تـه سـتا پـه سـر مشـکل جـوړوي، زه بـه دې نـن لـه پـلار سـره خبـرې وکـړم چـې څـه وايـي.

Download more from Libtoon.com

○○○

د ماسپښین لمونځ مې د تنګي په خوړ کې وکړ، بېرته مې شين کمربند تر ملا ټینګ او تور روسي کلاشينکوف ځنګ ته کړ، د کلي دوکان ته د شنو چايو د څښلو په نیت ور روان شوم، دوکان ته په ننوتلو يو چا د شا تر لمن کش کړم، چې مخ مې ور واړاوه، کوچنی خوريی مې «امين الله» و.

ورته و مې ويل:

څه وشول؟

امين الله په وړه ژبه وويل:

ادې او ابا راغلي کور ته دې غواړي!

د ابا د نوم په اورېدلو مې عجيب احساس وکړ، وروسته بېرته وډارېدم چې ځنګه به د مخامخ کېدو جرأت ورسره کوم.

خوريی مې په موټرسايکل راسره کېناوه، له دوکانونو لاندې په کلي کې د خور کور ته ور کوز شوم، کور ته چې ورسېدم يو سپينه ډاټسن موټر ولاړ او سامان پکې بار و، دا چې کليوالو کورونو چاردېوالی نه درلودې؛ نو دروازې ټکولو ته هم ضرورت نه و.

امين الله مې مخکې کړ، ځنګه چې د خور کوټې ته ننوتم، پر مور مې

Download more from Libtoon.com

سترګې ولګېدې چې پر کټ ناسته وه، خو مور هغه مور نه وه پاتې! هیڅ مې نه منله چې دا دې زما مور وي، څېره یې ډېره بدله شوې وه، داسې ښکارېده لکه سل کلنه بوډۍ چې وي. مور مې په دوو کلونو کې ټول صورت خوړلی و، هلته پوه شوم چې د یو بچي په جدایي د مور وجود څه ډول رژېږي.

له دروازې مې ګړندي ګامونه ور واخیستل، غېږه مې تړې وه چې مور ته یې ورکړم، خو مور مې فقط په کټ کې لاسونه راته اوچت کړل.

ما پرې غبر کړ:

را پورته شه مورې!

خوله یې وښورېده:

پښې مې له کاره لوېدلې، نه شم پورته کېدای.

همداسې مې په کټ کې غېږه ورکړه، په کوټه کې خاموشي وه، یوازې د مور سلګیو به ماتوله. ما ځان کلک کړی و، خو خبرې مې نه شوای کولای. تر ډېره مې سر په غېږ کې ور نیولی و چې د خور غږ مې واورېد:

ابا هم تا ته ولاړ دی!

شا ته مې مخ را واړاوه، پلار مې امسا په لاس ما ته غېږې ته منتظر ولاړ و، چې ورته را و مې کتل، ډېر بوډا او ژوبل شوی و.

دا هغه ابا و چې زوی یې د سترګو ور پورته کولو جرأت نه شو کولای، خو په اصل کې په زړه دومره نری و چې په هماغه زوی پسې یې په دوه کاله کې ځان بایللی و.

ور ولاړ شوم، ټینګه غاړه مې ورکړه.

Download more from Libtoon.com

ooo

دا هماغـه دوې ختيـنـې كوټـې وې چـې د زېـړوك پـه لوېدځـه برخـه كـې د ديركـې د خولـې پـه نامـه سيمې سـره نـږدې پـه يـوه دره كـې ودانـې وې، چټونـه يـې ټيـټ وو، خـو ښـه‌والی يـې دا و چـې د ګل سـادين ځـدراڼ كـور ‌را نـږدې و، دی زمـا د كورودانـې هـم مامـا كېـده. شـاوخوا خپلوانـو همـدا ځـای ښـه راتـه واېسـاوه.
زه چـې بـه نـه وم هـم بـه مـې ورتـه اندېښـنه نـه وه او بـل دا سيمه تـر ډېـره لـه چاپـو بـې غمـه وه. سـړك لـه دې درې ښـه بېرتـه و او د دې پېچلـې درې لاره هـم پـه مشـكله پيـدا كېـده.
د كـور لـه سـامانه پـلار بـې غمـه كـړی وم، هـر څـه تـه چـې اړتيـا وه، د يـو څـو مياشـتو لـه خـوراك او څښـاك سـره يـې راتـه راوړي وو.
مـا ابـا تـه نـه وو ويلـي چـې د كـور شيانو تـه ضـرورت دی، خـو زمـا پـه ناخبـري كـې دا هـر څـه را ورسـېدل. پـلار مـې څـو شـپې راسـره پاتـې شـو، خـو بېرتـه لاړ.
مـور مـې تـر ډېـره راسـره پاتـې وه، مـا دلتـه شـاوخوا دوه كالـه ګـوزاره وكـړه، مـور مـې څـو ځلـه خوسـت تـه ولېږلـه او بيـا بـه بېرتـه راتـه راغلـه، زمـا پـه ديـدن داسـې وغوړېـده لكـه پـه للمـه كـې يـو تنـدې وهلـې ګل تـه چـې اوبـه ور شـروع كـړې، تـر ډېـره يـې ناروغـی وركـې شـوې. زه هـم ورسـره خوشـاله وم، لـه ورځنيـو كارونـو او

Download more from Libtoon.com

همداشان له چریکي جګړو ستړی ستومان به په موټرسایکل مازدیګر وخت کور ته راغلم.

دا چې خور مې شپنه وه، یوه وزه یې د چایو لپاره راته رالېږلې وه، د مازدیګر چای به مې له مور سره یو ځای وڅښه او د ماشومتوب مینه به مې پرې ماته شوه.

جېب مې تش و، فقط د ورځني ژوند پایه یو څه څرخېدله.

یوه ورځ ستړی ستومان له څو ورځني سفره کور ته راغلم، موټرسایکل مې د کوټې تر مخ ودراوه او له ځان مې ګردونه صفا کړل، مشر زوی مې بدر الدین را منډه کړه او ستړي مه شي یې راسره وکړه، ما له ملا کمربند ور خلاص کړ، ور مې کړ چې کوټې ته یې یوسي او زه د مازدیګر لمانځه ته اودس تازه کړم.

مېرمنې مې زما د موټرسایکل له غږ سره د اوداسه لپاره بدنۍ راته ډکه کړې او په لاس کې نیولې وه، ټوپک مې موټرسایکل ته ودراوه، مېرمنې مې ستړي مه شي راسره وکړه او له سفره وروسته یې د خیر و خیریت په پوښتلو ځان ډاډه کړ، ما د اوداسه بدنۍ ترې را واخیسته، زه د کوټې تر مخ د مخ په پرېمنځلو لګیا شوم، دا مې تر شا ولاړه وه، زه پوه شوم چې په زړه کې یې څه خبره ده، مخ مې ور واړاوه:

که څه پېښه شوې وي، خبره وه مې!

دې وویل:

نه څه نه شته.

لږ غلې شوه، بیا یې وویل:

په کور کې د ډوډۍ لپاره وړه نه شته!

Download more from Libtoon.com

زه چې د جېب له حاله خبر وم، مېرمن مې هم زما له حاله آگاه وه، ځکه خو يې زړه نه شواى کولاى چې په دې ناوختي کې ما ته دا بده خبره وکړي.
زما په جېب کې دېرش کلدارې وې، له خبرې سره يې ډېر په تشويش کې شوم، اودس مې و نه ودراوه، خو ورته و مې ويل:
اوس خو ناوخته دى، د گل سادين دوى کره به بدرالدين ور رهي کړو او نن به دوى وچه ډوډۍ را ولېږي.
دې بدرالدين را وغوښت، ما مخ وچ کړ او له بدرالدين سره تر يوه ځايه په پښو لاړم، په لاره کې مې ورته وويل:
گوره، هلته به ورته ووايې چې زموږ کره ناروغان دي، نن وچه ډوډۍ تاسې راته پخه کړئ!
سره له دې چې په کليوال ژوند کې گاونډيان يو بل ته په درد خوري او يو بل ته لاس سره نيسي، خو موږ بايد وړه ور وړي واى او بيا مو د ډوډۍ پختن تري غوښتى واى، خو دا چې وړه نه وو، سترگې مې پرې پټې کړې.
د گل سادين کورنى تر ډېره په جهاد کې شامله وه، خو دا چې شپني يې کوله، اقتصادي حالت يې يو څه ښه و. دوى د مجاهدينو له حاله ښه خبر وو.
په دې شپه يې ډوډۍ راته پخه کړې وه او له ماښامه وروسته پخپله له خپل کوچني زوى سره په داسې حال کې راغى چې د وچې ډوډۍ دسترخوان يې په غېږ او د ترکارۍ کوچنى دېگ يې په لاس کې نيولى و. تر سلام کلام وروسته همدلته په کوټه کې کېناستو، زه گل سادين او بچيان مې يو ځاى په ډوډۍ خوړلو بوخت شوو.
گل سادين څو مړۍ وروسته خوراک ودراوه، راته و يې ويل:
گوره دلته زموږ و ستاسې گاونډيتوب دى، هر څه ته چې دې ضرورت کېږي،

Download more from Libtoon.com

ما ته به وایې، یوازې ګاونډیتوب نه، ستا کورودانه زما خورځه ده، یو کور دی، زما چې هر شی په وس کې وي، نه یې سپموم.

ما ورته وویل:

هو، پوهېږم، ځکه خو مې نن ډاډه غږ دربانډې وکړ، یوازې نن نه، هر وخت چې مې لاس بند شوي، غږ مې تر تا دی، دلته له خدایه را لاندې بې تا بل څوک نه لرم، خامخا درته وایم.

ګل سادین ته مې له زړه دعا وکړه.

په سبا چې کلي ته راغلم، له یوه کلیوال دوکانداره مې دوې بوجۍ وړه را قرض کړل او کور ته مې په یوه خره بار را ولېږل.

زموږ کورنی ژوند همداسې تېرېده، بعضې وخت به د موټرسایکل د تېلو روپۍ نه وې، خو کلیوالو دوکاندارانو به همکاري کوله، قرض به یې راکاوه، ځینو کلیوالو به نغدي قرض هم راسره وکړ، یوه ورځ چې د اختر شپه را روانه وه، د بچیانو د جامو د ګنډلو روپۍ نه وې، خیاط جامې ګنډلې وې، خو پیسې یې غوښتې، هر خیاط په اختر کې قرض نه کوي، شاهین چې زموږ د ډلګۍ سرپرست و او بلال به هم د مجاهدینو لپاره یو څه پیسې ورکولې، ورته و مې وویل چې نن خو راسره هیڅ پیسې نه شته، که لږ خرڅ راکړې. شاهین دوه زره کلداري راکړې چې د خیاط قرض پرې لنډ نه شو، خو په کلي کې مې د حیات ګل په نامه له یوه بل کلیواله دوه زره نورې هم واخیستې چې د خیاط غاړه ووتله.

په همدې ورځ مې له کالیو سره کور ته یو څه مېوه هم راوړه.

Download more from Libtoon.com

## ښاري رڼاوې او د ښځو زولنې

پـر اوږو تـورې ګرګوتـي ښځـې او چترالي پکـول؛ دا دود تـر ډېره له وزيرسـتانه راغلی و، خـو کلـه چې پاکستاني پوځيانو پر وزيرسـتان عمليات نـه وو پيل کـړي، د ژمي د دمـې لپـاره بـه زمـوږ ټـول ملګـري له پکتيـکا وزيرسـتان تـه تلل. که څـه هم تـر ډېره مجاهديـن لـه سيمه‌ييز سـټايل څخـه متاثره شـوي وو او ښځـې يې پرېښـې وې، خو ډېـرو مجاهدينـو خپلـې ښځـې د دې په خاطـر هم اوږدولـې چې بازار ته لـه تګه پرې منع شـي او خـدای مـه کـړه د بـازار پـه رنګينو کـې د جهاد سـتړی مزل چـې پای يې رڼـا دی، تـرې هېر نه شـي.

هـر چا بـه چې ښځـې درلـودې هغـوی بـه يـې نيـول او زندان تـه اچـول. کـوم ځوان چې بـه پـر ښځـو دوه کالـه خـواري کـړې وه، بيا بـه يې ښـار ته د تـګ زړه نه شـوای ښـه کـولای، ځکـه يـا به يې خپلـې ښځې پـه اوبو وړلـې او يا بـه دی زندان تـه ننوت.

زه هـم د هغـو ځوانانـو لـه جملې وم چې تصميـم مـې ونيـو بايـد پـه ښځـو ځـان د ښـار لـه شـديدې تنـدې را وګرځـوم، زمـا ښځـې بايـد داسـې زولنـې شـي چې خپلو پښـو تـه را ولوېـږي او ښـار تـه مې لـه تګـه بنـد کـړي. د ځوانـۍ پـه درشـل کـې د ښـار غېـږې تـه ور ګـډ شـوی وم؛ نـو اوس ځـان تـرې را نيـول اسـانه خبـره نـه وه. ما همدلته په زړېوک کې د ښځو د اوږدولو تکل کړی و.

Download more from Libtoon.com

○○○

ماسپښین و، د کلي په دوکان کې مې له غمخوار سره د شنو چایو پر سر بنډار اچولی و چې بهر د مجاهدینو تور رنګه ډاټسن موټر ودرېد، کله چې ور ووتلو ګورو چې بلال دی، راکښته شول، ستړې مه شې مو ورسره وکړه، لږ وروسته مې د تګ پوښتنه تري وکړه:

چېرته روان یاست او له کومه راغلئ؟

هغه وویل:

-له نکې ولسوالۍ راغلو.

دا چې هغه وخت مشکلات زیات وو، پر هیچا اعتماد نه شوای کېدای؛ نو یې لږ خنګ ته کړم، غلي راته وویل:

چا ته وایه مه، وانه ته کور ته روان یم، دا چې ژمی دی، غواړم چې دا ځل یې په خپل کور کې له مور سره تېر کړم. د وزیرستان له اپریشن وروسته مې کور سمې شپې نه دي کړې، همدلته په سفر سفر یم.

ما غوږ ورته نیولی و، پسې زیاته یې کړه:

ته څه کوې، راځه راسره لاړ شه!

ما ورغبرګه کړه:

Download more from Libtoon.com

والله خوند به یې کړی و، خو کور مې دلته دی!

حافظ بلال وویل:

کـور ولېـږه خوښـت تـه، سبا یـا بـل سبا عـادل او مرحبـا هـم راځـي، د وسلې بـار موټـر ورسـره دي، لـه هغـو سـره راشـه. شـوقي خـان مرحبـا د بـلال د خاصـو ډریورانـو لـه جملـې و.

لـه دوی چـې خبـر شـوم چـې وانـه تـه ځـي او تیـار موټـر ورسـره دي؛ نـو سـخت خوشـاله شـوم، پرتـه لـه دې چـې نـور فکـر وکـړم، توافـق تـه ورسـره ورسـېدم. بیـا یـې د خـرڅ لپـاره لـس زره کلـدارې راکـړې او دوی مـې رخصـت کـړل.

ماښـام چـې کـور تـه راغلـم، مـور مـې هـم پـه کـور وه، ورتـه و مـې ویـل چـې مخکـې ژمـی را روان دی او زمـا د کـور هـم دلتـه ډېـر وخـت ووت، ښـه دا ده چـې یـو څـه وخـت تاسـې خوسـت تـه لاړ شـئ.

مور مې وویل:

نه بچیه، موږ دلته له تاسره ښه یو!

خـو مـا ډېـره پـه چـل ول قانـع کـړه چـې خـدای مـه کـړه کـه دلتـه د دښـمن لـه خـوا چاپـه ووهـل شـي، بیـا بـه لـه مشـکلاتو سـره مـخ شـو، ښـه دا ده چـې تاسـې یـو څـه وخـت لاړ شـئ.

مور مې هم راسره ومنله.

دا چـې ګل سـادین د کـور لپـاره تـور ډاټسـن موټـر درلـود، پـه همـدې شـپه مـې خبـره ورسـره وکـړه چـې زمـوږ د کـور ماشـومان او ښـځینه بـه سـبا خوسـت تـه تـه وړې، د لارې د خـرڅ لپـاره مـې پنځـه زره کلـدارې ورکـړې، همـدا ډول مـې مېرمنـې تـه هـم دوه زره ورکـړې، تقریبـا د وانـه د سـفر لپـاره لـه مـا سـره اتـه زره پـه جېـب کـې پاتـې وې.

Download more from Libtoon.com

مـا د کـور تـول غـړي پـه سـبا د ګل سـادین پـه موټـر کـې خوسـت تـه رخصـت کـړل. مـور او مېرمنـې مـې تـر ډېـره د موټـر پـه شیشـه کـې په مـا پسـې کتـل، زړه مې داسـې و لکـه لـه بدنـه مـې چـې یـو څـوک پـه ژوندونـي څرمـن باسـي.

موټـر چـې پـه نـږدې کنـډو پنـا کېـده، د مـور لاسـونه مـې ولیـدل چـې ټیکـرې یـې راکـش کـړ او لـه مخـه یـې اوښـکې پـرې پاکـې کـړې.

یوه شېبه زه هم ځای پر ځای غلی ودرېدم، بدو سوچونو په مخه کړم:

ښا اوس به دا ژوند تر کومه حده پر اوږدو ګرځوم؟

پای او برخلیک څه دی؟

وطن کله فتح کېږي؟

بیـا مـې پـه ډېـر تکلیـف لـه دې فکرونـو ځـان را وایسـت، بېرتـه د کوټـې مخـې تـه راغلـم، پـر موټرسـایکل مـې پښـه واړولـه، خـو د موټرسـایکل پـه روانولـو سـره مـې چـې خپلـه تشـه کوټـه ولیـده، زړه مـې ډک شـو او بـې اختیـاره اوښـکې مـې وڅڅېدلـې.

موټرسـایکل مـې د کلـي پـه طـرف روان کـړ، پـه لاره کـې مـې زړه تـه پـر دې ډاډ ورکـړ چـې د ژمـي پـه تېرېـدو بـه لـه جنوبـي وزیرسـتان وانـه څخـه بېرتـه راځـم، بیا بـه دلتـه کـور ابـادوم، مـور او بچیـان بـه بیـا را غـواړم، خـو د انقـلاب داسـې سـپېره بـاد و چـې هیـڅ یـې خپـل واک تـه نـه پرېښـودلو.

د دې بـاد ځپـې چـې بـه واخیسـتې، لـه اختیـاره بـه یـې وغورځولـې، هـر چیـرې بـه یـې چـې پـر ځمکـه وویشـتلې، هماغلتـه بـه دې د ژونـد یـو نـوی بې‌برخلیکـه بـاب شـروع شـو.

Download more from Libtoon.com

## یخ مزل

وانه ته زما له تګه غلچکی هم خبر شوی و، د کلي په دوکانونو کې یې راته وویل چې زه هم درسره ځم، لږ به چکر ووهو دا څو کاله کېږي په زېړوک کې یم، په تنګ شوی یم.

د غلچکي تر څنګ غمخوار او انس هم راسره تیار شول، انس اصلاً په زېړوک کې د کېښام د سیمې و، اصلي نوم یې عمر جان و، که څه هم کوچنی و خو د مور مشر زوی و، په ډېره اوله ځوانی کې له مورږ سره یو ځای شوی و.

په دویمه ورځ سهار عادل او مرحبا له نکې څخه را ورسېدل، له دوی سره درې ډبل‌سېټي ډاټسنان او درې واړه له وسلې بار وو، دا سلاح دوی له نکې څخه وانه ته انتقالوله، یو موټر ته مرحبا ناست و او دویم عادل چلاوه.

مورږ له زېړوکه د سهار په اته بجې په داسې حال کې حرکت وکړ چې د ژمي سپېرو او سړو بادونو پر سیمه خوله خښه کړې وه، ځای ځای پرته واوره یې پوکله، په لاره کې به موټر تیندک خوړ، په مورږ کې په فزیکي کار کې عادل ډېر پیاوړی و، کله به چې موټر ونښت، ده به د دې پر ځای چې ځان د واورې له یخنی وساتي، همداسې به یې ټوپ کړ، د موټر ټایر ته به ور

Download more from Libtoon.com

لاندې شو، په لاسونو به يې واوره تړې لرې کوله.

لاره که څه هم لنډه وه، خو واورو او د سړك لوړو ژورو دوې شپې او دوې ورځې په لېونې سفر کېباسلو، له زېړوك څخه ګيان او له ګيانه برمل ولسوالۍ ته په دښتو، غرو او رغونو کې لاړو.

ډوډۍ به مو د کليو په مسجدونو کې وخوړه او بيا به مو مزل پيل کړ.

دويمه ورځ د خواجه خدر په لوړه څوکه انګور اډې ته په يوه داسې لار واوښتو چې په دې لاره کې پوځيان نه وو او اغزن تار لا هم نه و غځېدلی، خو ورو ورو د کرښې پر سر د پوځيانو د پوستو د جوړېدلو چارې روانې وې او ځای پر ځای اغزن تار هم نصب کېده.

د خواجه خدر پر تېره څوکه درونډ موټر نه خوت، موږ کښته شوو او د کسانو را رسېدو ته تم شوو.

تر واوره د غرونو راوتلي سرونه تور ښکارېدل، راختلي لمر هم ولي نه تودول، لاندې د انګور اډې په طرف ورغلو، مرحبا ما ته په لاس اشاره وکړه، ويل يې چې په هغه لاندې ځای کې که پاکستاني پوځ پوستې ځای پر ځای کړې نه وای، موږ له دې اوږده مزل سره نه مخامخ کېدو.

مرحبا دا هم وويل چې پوځيان لګيا دي ورو ورو لارې بندوي، شايد داسې وخت راشي چې د دې لارې ارمان به هم کوو او په هغو پېچومو کې به په ساعتونو ساعتونو په پښو ځو چې د موټر د تلو راتلو هيڅ لاره به موجوده نه وي.

موږ په دويم ماښام ستړي ستومانه له انګور اډې د منډګۍ په يوه غره وانه ته را واوښتلو، تکل مو وکړ، دا چې په لاره کې پاکستاني پوځيانو پوسته اچولې وه، د موټر لاره يې بنده کړې وه، تر څنګ يوه پټه پياده لاره وه، بېرته را واپس شوو او د سرې کنډې لارې ته مو تقريبا درې ساعته مزل وکړ، په دې

Download more from Libtoon.com

لاره هم د پوځیانو چېک پواینټ و، خو د لارې مشکل یې نه جوړاوه او په ورین تندي یې اجازه راکړه.

مرحبا ویل دا چې نن دومره په ورین تندي اجازه راکوي، خو ګورئ به چې دا لاره به هم یوه ورځ راپسې بندېږي، بیا به د خندا په نوم یوې بلې لارې ته مجبور یو، هغه تر دې ډېره سخته او اوږده ده.

په سره کنډه را واوښتلو، شاوخوا دوه نیم ساعته مو په داسې سړک مزل وکړ چې کله به پوخ و او کله خام. عادل او مرحبا پخوا هم پرې تللي او راغلي وو، د بلال کور له وانه بازارسره نږدې په «غوایي خوله» سیمه کې و،کور ته مخامخ یې له موټره راکوز شوو.

ما له ځانه ګردونه پاک کړل، خپل روسي کلاشینکوف مې ځنګ ته کړ، عادل د مېلمستون دروازه را وښووه، زه چې د مېلمستون دروازې ته رسېدلم، د موټر په اواز پسې فاروق دروازه را خلاصه کړه، لږ راته ځیر شو، و یې کتلم، بیا یې ناڅاپي چیغه کړه:

ملنګ‌یار یې؟

ما په خندا ورته وویل:

هو ملنګ‌یار یم!

-باووو دا څنې!

ټینګه غاړه یې راکړه، څنې مې که څه هم ډېرې لویې نه وې، خو تر غوږونو اوښتي سرونه یې اوږو ته رسېدل.

(دلته باید د هغه وخت د څنو تصویر هم واچول شي)

له خټو په جوړ کور کې ختینې حجرې ته ننوتلو، د ننه بلال هم ناست و او د خالقیار په شمول یو څو نور ملګري هم، له سترې مه شي وروسته زه

Download more from Libtoon.com

له فاروق سره څنګ په څنګ کېناستلم او له رزمک څخه دلته د راتګ او همدا ډول په زېږوک کې زما د اوږد تشکيل خبرې مو سره کولې.
ما او فاروق بيا له ډېره وخته وروسته نن اوږدې کيسې سره کولې.

Download more from Libtoon.com

○○○

په مېلمستون کې د سهار له لمانځه وروسته په خواره خوب ویده وم چې په سر باندې یو چا وښورولم:

پاڅه چې بازار ته ځو ناوخته دی!

سترګې مې وغړولې، فاروق مې سر ته ولاړ و، په لاس کې یې یو جوړ کالي او شامپو نیولي وو.

بیا یې زیاته کړه:

ژر راځه، ولمبېږه او کالي بدل کړه. له ناشتې وروسته بازار ته ځو، نوي کالي درته اخلم.

ستړیا مې حس کوله، د راپورته کېدو توان مې نه درلود، شاوخوا مې وکتل، نور ټول تللي وو، یوازې زه او فاروق پاتې وو.

په ډېره خواري را پورته شوم، لږ وروسته مې د فاروق راوړي کالي اغوستي وو.

له حمامه وروسته مې وجود سپک شو، سترګې مې وغړېدلې، فاروق ته مې وکتل:

وجود مې سپک شو، سترګې مې رڼې شوې. زه خو چې وانه ته راغلی یم، اوس په هوښ راغلم او پوه شوم چې ستا تر څنګ یم.

Download more from Libtoon.com

فاروق وخندل:

دا چې په بازار کې ایسکریم درباندې وخورم بیا به دې پته لګېږي.

ما هم پر شونډو ژبه تېره کړه او ورته کړه مې چې چای پرېږده ایسکریم ته مې ور رسوه، فاروق وخندل، و یې ویل:

ایسکریم نه تښتي، چای وڅښه اوس ما ته رارسېدلی یې، نور به بیا رانه لاړ نه شې.

موږ د سهار له چایه وروسته د شهید مولوي صاحب کور ته حرکت وکړ، د تورو شیشو سراچه وه، وانه بازار ته څېرمه د پوځیانو یو لوی بیس هم و، خو له خپلو ټاپوګانو نه شول راکوزېدای او نه یې پر مجاهدینو کار درلود، بازار ته په رسېدو د طالبانو یو چیک پواینټ ته ورسېدلو چې کتار کتار موټر ورته ولاړ وو، ما فاروق وپوښت:

دا څوک دي؟

فاروق وویل:

دا د امن کمیټې په نامه د پاکستان د حکومت اربکیان دي چې ځانونه مجاهدین بولي، مشري یې د ایوبي په نامه یو کس کوي چې له ده سره د تاج محمد تاج، عین الله، محمد ولي ملنګ او شعیب په نومونو څلور قوماندانان دي او دا هر قوماندان یوه میاشت د امن په نامه حکومت دلته اعلان شي چې په بازار کې له دوکانونو مالیې اخلي او په هغو پیسو خپل مرکزونه او د ملګرو خرڅ برابروي.

فاروق پسې زیاته کړه:

وانه له میرانشاه وروسته د مجاهدینو دویم کور دی، تر ډېره د میرانشاه تنده پرې خړوبېدای شي، ځکه چې یو لوی بازار او پکې د سلاح مارکیټ دی، خو کاشکې دا اربکیان پکې نه وای.

Download more from Libtoon.com

ما ورته وویل:

اربکیان څه مشکل جوړوي؟

فاروق ځواب راکړ:

دلته دوی د امن په نامه حکومت اعلان کړی او د پاکستان حکومت یې تر شا ولاړ دی، دوی دلته هیڅ بهرنی مجاهد نه پرېږدي، موږ هم ډېر په احتیاط ورسره چلېږو.

په همدې خبرو کې د تلاشۍ لپاره چېک پواینټ ته ورسېدو، شیشه مو ورته کښته کړه، یو کس د امن د کمېټې والا راغی، په تروش تندي یې په فاروق کې سترګې خښې کړې:

ـ د چا ملګري یاست؟

فاروق ورته وویل:

د حافظ بلال!

بیا کس وویل:

سمه ده ورځئ!

کله چې روان شوو فاروق وویل:

دې کسانو ښه پېژندلو، خو قصداً سترې کول کوي!

ما وویل:

ګوزاره به کوو، دا چې له میرانشاه وروسته د دمې یوازېنی ځای وانه دی؛ نو ګوزاره په کار ده.

Download more from Libtoon.com

## وانه

لکه څه ډول چې انګرېزانو د Divide and rule «بېل يې کړه، ابل يې کړه» تر پاليسي لاندې پښتانه د ډېورنډ په فرضي کرښه يو له بله بېل کړل، همدا ډول يې وزيرستان چې پخوا د توچي په نامه يادېده، په شمالي او جنوبي وزيرستانونو ووېشه.

جنوبي وزيرستان ايجنسي چې مرکز يې وانه دی، د افغانستان له پکتيکا سره د شريکې پولې ايجنسي ده. هغه مهال چې د بريتانوي امپراتوري په حدودو کې لمر نه ډوبېده، د جنوبي وزيرستان خلکو له انګرېزانو سره په تش لاس جګړې کولې او د دې سيمې هر کاڼی يې د انګرېز په وينو رنګ کړی و، ښه مثالونه يې ملا پوونده مسيد، ملا حمزه الله احمدزی، ملا شېرعلي خان مسيد «جنګي ملا» او په وروستيو کې بهرام خان او پير ملا خان يادولای شو.

په ۱۹۱۹ م کې چې شاه امان الله خان د ازادۍ جګړه کوله، د انګرېزانو خلاف لومړنی پاڅون په وانه کې وشو، شکي په دره کې د اصيل خان کلا د انګرېزانو خلاف د جنګ عمومي قوماندانې وه او دا کلا انګرېزانو خوني کلا يا د افغانستان دفاع وزارت بلله.

د ازادۍ او نجات په دواړو جګړو کې د وانه د خلکو قرباني بې مثاله وې.

Download more from Libtoon.com

د دوی د قربانیو له کبله د افغانستان د وخت حکومتونو بیا دوی ته مختلفې نظامي رتبې او موقفونه ورکړل چې ښه مثالونه یې فرقه مشر رمضان خان مسید او فرقه مشر انګورخان یادولای شو.

همدا ډول د شوروي په خلاف جګړه کې دا خلک د افغان مجاهدینو او مهاجرینو تر څنګ کلک ودرېدل، په خپله غېږ کې یې په ورین تندي ځای ورکړ، ښه مثال یې د کلېوالو د زېړي کمپ او د اعظم ورسک په سیمه کې د بغېړ نظامي غونډ یادولای شو.

کله چې امریکا او ناټو پر افغانستان یرغل وکړ، دا سیمه او دا خلک یو ځل بیا د افغان مجاهدینو او مهاجرینو کوربانه شول، چې په لومړیو کې دلته د نېک محمد وزیر او ملا نذیر په نامه د مخکښو قوماندانانو تر قوماندې لاندې د وانه مجاهدینو په افغانستان کې د امریکایي یرغل په خلاف وسلهوالې مبارزې ته مخه کړه، چې یو څو کاله پس نېک محمد وزیر په وانه کې د امریکایي ډرون له خوا په نښه شو او له څو ملګرو سره په شهادت ورسېد.

ملا نذیر وروسته د امن کمېټې په نوم د پاکستاني حکومت په خوښه یو تنظیم جوړ کړ چې د وانه د سیمې اکثریت مجاهدینو خپل ملاتړ ورسره اعلان کړ، د وخت په تیرېدلو سره ملا نذیر د پاکستان حکومت په غوښتنه په خپله سیمه وانه کې د بهرنیو مجاهدینو پر خلاف پراخ عملیات پیل کړل چې په نتیجه کې یې تول ازبک مجاهدین ځیني شهیدان او ځینې یې له سیمې پسې تېښتې ته اړوتل، پاکستاني حکومت ملا نذیر مجبور کړ چې هغو مسید مجاهدینو ته هم باید په وانه کې ځای ور نه کړي چې د «تحریک طالبان پاکستان» په نامه د پاکستان پر خلاف د بیت الله مسید په مشري یې جهاد اعلان کړی و.

Download more from Libtoon.com

ملا نذیر که څه هم د وانه سیمه په خپل واک کې اخیستې وه، خو امریکایي ځارګرو الوتکو ملا نذیر هم و نه باښه، بالاخره یې یوه ورځ دانسنې د سفر په حال کې امریکایي توغندي وخوړ او د دوو مخکښو قوماندانانو په شمول یې ملا نذیر هم شهید کړ. وروسته میدان باول خان ایوبي وزیر ته پاتې شو، ایوبي وزیر تر خپل کنترول لاندې پاس د فاروق په خوله یاد شوي څلور مخکښ قوماندانان لرل چې د وانه په سیمه کې به هر قوماندان ته یوه میاشت ځانګړې کېده چې خپل حکومت وکړي او ملګرو به یې د لارو پر سر چېک پواینټونه اچولي وو، په بازار کې یې له دوکانونو او همدا شان په کلیوالو لانجو کې مالیې اخیستلې چې هر قوماندان ته به پنځه میاشتې وروسته نوبت ورته.

Download more from Libtoon.com

○○○

زه او فـاروق د وانـه د بـازار پـه يـوه ايسـكريم خانـه كې د ايسـكريم پـه خوړلـو لگيا وو، د ايسـكريم خانې يـوه كوچنـي شـاگرد چې افغـان و، لـه فـاروق سـره ځانگړې مينـه درلـوده، بـار بـار بـه ورتـه راتلـو او د شيانو د كمبـود پوښـتنه بـه يې كولـه. فـاروق مـا تـه وويـل چې دا ماشـوم مـا تـه ډېـر احتـرام لـري او د وانـه لـه مجاهدينو څخـه سـتړى شـوى دى.

مـوږ ايسـكريم همدلتـه وخـوړ، بيـا فـاروق وويـل راځـه د وانـه يـو مشـر دى هغـه تـه دې وروليـم چې هغـه لـه افغانانـو سـره سـخته مينـه لـري او دفتـر تـه چې يې هر څـوك ورشـي او ځـان افغـان ور معرفـي كـړي، پـه نيمـه شـپه منـډې ورسـره وهـي چې زياتـره افغانانـو تـه يې شـناخته كارډونـه هـم ور جـوړ كـړل.

لـه ايسـكريم‌خانې را پورتـه شـوو، د ايسـكريمو روپـۍ فـاروق لنـډې كـړې، كـه څـه هـم پـر مېـز پيسـو تـه ناسـت كـس ډېـر ټينـگ شـو خـو فـاروق ونـه منلـه، پـه ايسـكريم خانـه كې كوچنـي شـاگرد ژر تـش گيلاسـونه پـر مېـز كېښـودل، لانـده لاسـونه يې پـه خپلـو كاليـو پـاك كـړل او مـوږ يې رخصـت كـړو.

مـوږ د همـدې ايسـكريم خانې مخامـخ يـوه پمـپ تـه پـه سـړك ور پـورې شـوو، فـاروق پـه لار كې راتـه وويـل چې دا پمـپ د هغـه ملـك دى، پـه پمـپ كې يې

Download more from Libtoon.com

له یوه شاګرده پوښتنه وکړه:

عارف وزیر راغلی؟

شاګرد وویل:

هو پاس په خپل دفتر کې ناست دی.

موږ همدلته له پمپ سره په خوا کې یو مارکېټ ته ننوتلو او په مارکېټ کې دویم پوړ ته وختلو، په دویم منزل کې یو اطاق و چې تر مخ یې مهاجر افغانان ولاړ وو، فاروق د اطاق دروازه وټکوله، دړه چې خلاصه شوه مخامخ یو ببرځنی پلن ځوان چې ږیره یې خړبیلې وه، ناست و. د فاروق په لیدو را ولاړ شو او فاروق ته یې ټینګه غاړه ورکړه، وروسته یې له ما سره هم ستړې مه شې وکړه او فاروق زه ورته معرفي کړم، ورته و یې ویل:

دا زموږ د کورنۍ غړی دی، که خدمت یې و ورته کوه یې.

فاروق له دې خبرې سره ما ته مخ کړ:

دا عارف وزیر دی چې زموږ لپاره ناممکن کارونه کوي!

عارف وزیر فاروق ته وخندل، بیا یې وویل:

تاسې مجاهدینو ته هر کار کوم، خو د واړه له مجاهدو مې ساته، هغه چې دلته راته را نه ولې!

ما چې په اطاق کې یوې بلې خوا ته وکتل، پر دېوالونو د افغانستان تور، سور، زرغون بیرغ نصب شوی و. کله چې کېناستلو ما فاروق ته غلي وویل:

دا خو ما ته د حکومت کس ښکاري، نظریاتي جوړ نه دی، بیرغ ته دې پام دی؟

فاروق وخندل او د عارف وزیر په مخ کې یې وویل:

بیرغونه پرېږده، دا عارف وزیر هغه کس دی چې کویټې ته یې څو ځله زموږ زخمیان د علاج لپاره یووړل.

Download more from Libtoon.com

د گپ په انداز يې پسې زياته کړه:

نـور سـر مـوږ هـم نـه پسـې گرځـوو چـې دی کافـر دی کـه مسـلمان، خـو زمـوږ کار دلتـه پـرې چلېږي.

عارف هم له خندا شين شو او راته و يې ويل:

گوره په نظريو به کار نه سره لرو، نور چې دلته هر خدمت وي زه تيار يم.

بيا يې فاروق ته مخ ور واړاوه، و يې ويل:

سـهار ستاسـې شـپېته نفـره ملگـري راغلـي وو، پـه تشـکيل روان وو، ډوډۍ يـې پـه کـور کـې راسـره وخـوړه، رخصـت مـو کـړل...

بيـا فـاروق مـا تـه وويـل چـې هغـه زمـوږ ملگـري وو، لـه بنـون مـروت څخـه گومـل تـه پـه تشـکيل روان وو.

Download more from Libtoon.com

ooo

په وانه کې ژوند ډېر ښه روان و، خو دا چې زموږ د ډلګۍ ملګري زيات وو او همدا ډول بلال د پکتيکا مسووليت هم درلود؛ نو وانه تر ډېره زموږ په ملګرو ډک شو چې د امن کمېټې وسله‌والو ته داسې حالات د زغم نه وو، وخت ناوخت به د پاکستان د حکومت له خوا هم خبر ورته را لېږل کېده چې دا کسان له خاورې وباسئ.

دا چې دلته د امن په نوم وسله‌والو د افغانستان اسلامي امارت تر قيادت لاندې په افغانستان کې له امريکايي اشغال سره جګړې ته هم خپل سرتېري بېلابېلو ولايتونو لکه غزني، پکتيکا او زابل ته لېږل؛ نو له دې امله يې موږ ته ښکاره نه شواى ويلاى چې دا سيمه پرېږدئ، خو د لارو پر سر به يې په پوښتنو په تنګولو، ځينې وخت به يې په لاره کې د ملګرو موټر درولي وو او تصديق‌پاڼه به يې ترې غوښته چې په هغه وخت کې د تصديق‌پاڼې اسانتيا موجوده نه وه.

ځينې وخت داسې هم شوي چې له دوى سره به زموږ ملګري لاس و ګرېوان شول، حتى خبره به دې ته نږدې شوه چې سره ووژني خو بيا به ورته څوک سبب شول او تر منځ به يې فيصله وکړه.

Download more from Libtoon.com

یوه ورځ د سهار په چای د خپل کور په مېلمستون کې ناست وو چې سپین طالب ته زنګ راغی، سپین طالب په دې واخت کې په وانه کې د بلال د نمایندګۍ کارونه پر مخ وړل او عمري چې په میرانشاه کې نماینده و، هغه پر شمالي وزیرستان د پاکستاني پوځیانو د ضرب عضب له عملیاتو یو څو کاله وروسته پېښور ته تللی و او له هغه ځایه یې د پکتیکا ولایت د مجاهدینو ضروریات پوره کول.

سپین طالب چې زنګ اوکې کړ، یو سیمه‌ییز قوماندان و، کله چې د سپین طالب خبرې ورسره خلاصې شوې بلال ته یې وویل: دا پلانی قوماندان و، ویل یې چې نن تاسې ملګري بازار ته مه را لېږئ چې د وانه مجاهدینو «وسله‌والو» پروګرام درته جوړ کړی دی، نیسي یې!

حافظ بلال وویل:

دا څنګه خبره ده چې زما ملګري نیسي؟

موږ غلي شوو، وروسته بلال غوسه او ناڅاپه راولاړ شو، و یې ویل:

ځئ چې ور ووځو!

موږ که ډېر هم بلال ته وویل چې ته مه ځه موږ به ورشو، و به ګورو چې څه دي، خو هغه و نه منله، کور ته لاړ او خپل فېلډر موټر یې را وایست، شخصي ساتوونکي یې ورسره کېنول او زه او فاروق هم په خپل سراچه موټر کې تر شا پسې روان شوو، په لاره کې ځای پر ځای چیک پواینټونه وو، خو د نورو ورځو په څېر چلند یې راسره وکړ، کومه نوې رویه یې و نه کړه، مګر بلال سیده د وانه بازار ته روان و، په بازار کې د عین الله د مرکز تر مخ ودرېدلو، کله چې موږ مسلح له موټرو کښته شولو، د دوی ملګري هم ودارېدل او یوې خوا بلې خوا چمتو شول، بلال سیده مرکز ته ننوت او دننه

Download more from Libtoon.com

چې عین الله ولیدلو هغه پوه شو چې بلال غوسه دی؛ نو یې مخې ته ورته را منډه کړه او غېږه یې ورکړه، په خندا خندا یې ورته وویل چې خیر خو دی، څه مشکل دی؟

حافظ بلال په تروش تندي ورته وویل:

نور مو ستړی کړی یم، نن له ما سره خبره خلاصه کړئ چې موږ دلته د اوسېدو لپاره پرېږدئ که نه؟ که بله اراده مو وي، نن راغلی یم چې زړونه سره یخ کړو.

عین الله چې ډېر هوښیار سړی و، بلال ته یې په خندا وویل: سړیه چې تا څوک له وانه باسي، زه هم درسره وځم، هیڅ تشویش به نه کوې، راځه دننه په اطاق کې کېنو، دا د سړو مغزو خبرې دي.

دې خبرې پر بلال هم تاثیر وکړ او سر یې سوړ شو، اطاق ته ورسره ننوت، تر ډېره همالته ناست وو، وروسته زه خبر شوم چې تاج محمد هم په اطاق کې و او بلال ته یې اطمینان ورکړ چې تاسې ته موږ هیڅ خطر نه پېښوو.

خو دا خبرې به دوی بار بار کولې، بیا به یې هم ملګري په یوه او بله لاره ستړي کول، اصلاً موضوع له موږ سره د وانه د سیمې د خلکو نږدېوالی و چې دې نقطې به دوی ته زور ورکاوه او نه یې شوای زغملای چې د وانه عام ولس له موږ سره نږدې پاتې شي، ځکه دوی وېرېدل چې له موږ سره نږدېوالی به یې د دوی په ورکه تمام شي، خو د وانه د سیمې خلک د دوی له کرداره تر پزې راغلي او د بدیل په لټه کې وو.

زه او فاروق به په وانه کې تر ډېره یو ځای ګډ ګرځېدو، دا چې زه د ژمي لپاره راغلی وم، خو د ژمي په نیمایي کې له زېړوک څخه راسره راغلي ملګري غلچکی، غمخوار او انس بېرته تللي وو، زما هم زړه تخنېده، د تشکیل تنده

Download more from Libtoon.com

مې د ژمي له وتلو سره ورځ په ورځ زیاتېده، کله به مې فاروق ته تر غوږ ور تېره کړه چې زه هم تشکیل ته تیاری نیسم، خو د فاروق زړه به نه و چې زه ترې لاړ شم. ما به هم فاروق ته ډېره کلکه خبره نه شوای کولای، هیڅ مې د خپګان زړه نه وربانـدې کېده، خو داسې هم نه وه، هغه ورځ را روانه وه چې باید دا د زهرو ګیلاس مې پر سر اړولی وای.

Download more from Libtoon.com

## بوړنوونکی غږ

د پسرلي وړمو پر ونو او بوټو وزرې غوړولې وې، داسمان په شنه چمن کې مرغانو د خوښۍ اتڼونه کول، د باد نرمو څپو یوه بله خوا عطرونه پاشل، د لمر زرینې وړانګې د غرونو پر څوکو د ژوند انځورګرۍ ته اړم وې. جګ نری ځوان چې تورو او ګوړګتو څنو یې تول کلي ته ښکلا ور ښله خواته راغی.

په عاجزانه انداز یې وویل:

ملنګ یاره تشکیل ته به دواړه یو ځای لاړ شو، ما یوازې مه پرېږده!

ما چې د فاروق عاجزانه انداز ته وکتل، پوه شوم چې د ځوان په زړه کې ډېر درد پروت دی؛ نو په نرمه لهجه مې ورغبرګه کړه:

فاروقه! که له ما سره ته هم لاړ شې په کور کې هیڅ کوم داسې مشر نه شته چې د مېلمنو او کور خدمت وکړي، ته خو د مور ډېر نازولی زوی یې که لاړ شې سخته به درپسې وځورېږي، ته مه ځه او څه وخت له مور سره په کور کې تېر کړه، زه چې را واپس شم بیا به لاړ شې.

فاروق سر ټیټ کړ غلی شو، بیا یې یو سوړ اسویلی وکېښ او اسمان ته یې وکتل:

یا الله ته خو مې شهید کړې چې نور له دغو غمونو او نصیحتونو خلاص شم!

- فاروقه! خیر دی، دا د زهرو غړوپ زما لپاره وکړه، که مرګي ګوزار و نه کړ

Download more from Libtoon.com

او روغ راغلم، په هماغه ورځ لاړ شه او د کور تولې چارې ما ته پرېږده.

فاروق نرمه موسکا وکړه، پر برېتو يې ګوتې تېرې کړې، و يې ويل:

سمه ده!

موټر يې چالان کړ، پر ما يې غږ وکړ:

راځه بازار ته ځو، ته بختور خو هسې هم سبا روان يې، بوټان، واسکټ او يو څه نور د تشکيل لپاره سامان به درته واخلم!

ما وويل:

ياره فاروق جانه! په خوله دې برکت شه، څه چې ځو هسې نه بيا رانه پښېمانه شې.

فاروق له خندا شين شو او بيا په موټر کې روان شوو.

زه په موټر کې چالان شعر ته په ډېر ژور سوچ کې تللی وم چې ناڅاپه بند شو او فاروق موټر د سړک يوې غاړې ته ودراوه. ما ورته وويل، ولې څه چل وشو؟

فاروق را وکتل:

لاس پورته کړه چې يوه دعا وکړو!

ما هم په حيرانتيا لاسونه لپه کړل، د ده مخ ته مې په ځير ځير کتل، فاروق په ژړغونې انداز وويل:

يا الله! ملنګ‌يار له تشکيل څخه زما د شهادت په اورېدلو را واپس کړې!

زه حيران شوم، په خنداخندا کې مې پرې آمين ووايه.

بيا مې وويل:

ياالله ته خو وينې چې سنګر ته زه روان يم او شهادت فاروق په بستر کې درڅخه غواړي.

Download more from Libtoon.com

فاروق غلی شو او موټر ته یې حرکت ورکړ.

په لاره کې مو نورې هم ډېرې خوږې کیسې او ټوکې وکړې، په مزل هیڅ پوه نه شوو، بازار را ورسېد او د سامان په اخیستلو مو پیل وکړ.

بالاخره مو ټوله سودا وکړه او ما ته یې هم ډېر په مینه د خپلې خوښې واسکټ، بوټونه او نور اړوند شیان واخیستل او مازدیګر ناوخته کور ته راغلو.

د تشکیل لپاره څو تنه نور ملګري هم راغلي وو، شپه مو ښه په ګپ شپ تېره کړه.

سهار وختي د ملا له اذان سره پاڅېدو، ډېر خوشاله وم، ځکه یوه طرف په داسې سفر تلم چې هغه الله ج او د هغه رسول الله صلی علیه وسلم ته ډېر محبوب او پاک و او له بلې خوا د نړۍ له ظالم، وحشي او مکار دښمن سره د معرکې ډګر ته وړاندې کېدم. دا دوې خبرې ما ته تر هر څه زیاتې د فخر او خوښۍ وړ وې، لاړم غسل مې وکړ، نوې کالي مې واغوستل، سترګې مې نرۍ توري کړې او د فاروق اخیستل شوی واسکټ مې پر کمربند د پاسه واغوست.

له ناشتې وروسته فاروق وویل چې تاسې موټر تیاروئ، ناوخته دی، زه ژر راځم.

موټر زموږ د ملګري یو سرګروپ چې خطرناک نومېده، د هغه و او هغه د شپې لا راغلی و، سامان کم و، د فاروق له واپس راتلو سره موږ ټول سامان ور جګ کړ او لس ملګري ورسره تیار شوو، خطرناک غږ وکړ:

سامان بیا هم ښه وګورئ، څه شی درځخه پاتې نه شي، مزل اوږد دی، بیا پسې نه شو راګرځېدلای.

ما ویل:

ان شاءالله څه نه دي پاتې!

پر فاروق مې غږ وکړ:

Download more from Libtoon.com

غاړه راکوه، بیا خدای خبر چې سره ووینو!
فاروق سرې سترګې را واړولې او غېږې مو سره چاپېرې کړې، تر ډېره مو په غېږو کې سره ونیول، په لاس کې یې یو پټ کاغذ راکړ او غلي یې وویل: ګوره اوس یې و نه ګورې، جېب ته یې کړه، پټ یې بیا په لاره کې وګوره، خو چې ورسېږې حتماً بیا اطمینان راکړه!
سمه ده.
فاروق ته مې وکتل، سترګې یې له اوښکو ډکې وې. زه یې هم وارخطا کړم، حرکت مو پیل کړ. زه د موټر د شا په سیټ کې وم، له لږ مزله وروسته مې د فاروق خط راوکیښ، ګورم چې د پنځه زره کلدارو نوټ یې پکې نغښتی دی، و مې خندل، بیا مې د مخ په جیب کې په ډېره مینه کېښود. زه لږ خاموش شوم، خطرناک غږ رابانديې وکړ:
ظالمه فاروق سخت درپسي خپه شو، هسې ترې راتلې.
- پر زخمونو مې مالګې مه دوړوه، دا دالله جل جلاله دین دی، قرباني غواړي، قوي عزم، کلک هوډ. موږ و تاسې چې دا قرباني ور نه کړو څوک به یې ورکوي؟
لاره مو لنډوله، کله به ملګري نظمونو ته غلي وو او کله به مو زاړه یادونه سره چېړل.
دوې ورځې مو مزل وکړ، د راکړل شوي هدف ځای پکتیکا ولایت زېروک ولسوالي وه، ماسپښین هلته ورسېدو، د کلي په دوکانونو کې ودرېدلو، لمونځونه مو وکړل، د خوراک لپاره مو د کلي له خلکو ډوډۍ را واغوښتله. زه په کلي کې بلد وم، د کلي مشران د سترې مه شې لپاره راتلل، خو دا ځل د معمول خلاف تر بل هر وخت زیات خلک راغلل، تر جوړ تازه وروسته را یاد

Download more from Libtoon.com

شول چې فاروق به مې ټلیفون ته منتظر وي، زه ودرېدم، د کلي مشر محمد حسين غږ راباندې وکړ:

چېرته ځې؟

ـ یو ټلیفون کوم!

ـ چا ته ؟

ـ فاروق مې په وانه بازار کې انتظار کړی، خبروم یې چې زه ځای ته ورسېدم.

ـ لږ کېنه بيا به يې وکړې!

خو زه د دوکان تر دروازه وتلی وم، غږ مې ور وکړ:

نه! حاجي صاحب هغه بيا کور ته ځي، هلته صرف په بازار کې ټليفون کار کوي.

له دې خبرې سره روان شوم.

پې سي او ته ور ننوتم، ما لا نمبر نه و داير کړي چې محمد حسين نفر پسې را ولېږه، وايي ملنګ‌ياره محمد حسين دې غواړي، وايي يو ځل دې دلته راشي.

سوچ مې وکړ، ما ويل چې که ور نه شې وايي به چې د مشرانو احترام ورسره نه شته، بس ټليفون مې پرېښود ورغلم.

ورته مې وويل حاجي صاحب خالي مې ټليفون کاوه راتلم، ده راته کړه چې ټليفون به وکړې ډېر وخت دی، ته دلته کينه. غلی شوم او کېناستم، خو په دوکان کې ناستو خلکو په ډېر ځير ځير راته کتل، حيران شوم ما ويل خدايه خير کړې. محمد حسين راته وويل:

ملنګ‌ياره په هغه پورې کلي کې يوه زنانه مړه ده، د هغې فاتحې ته ورغلی يې؟

Download more from Libtoon.com

دلته لېر شکمن شوم، ما ویل خدای مه کړه لکه چې مور مې په حق رسېدلې او اوس مې خبروي، زړه مې ناڅاپه درزېده شروع کړل او وسوسو واخیستم، د حاجي خواته نېږدې ورغلم، ورته و مې ویل:

زه پوهېږم څه پېښه شوې، خو دلته راته ونه وایې خلک دي، خدای مه کړه هسې نه چې...!

هغه زیاته کړه:

ولې څنګه؟

غلي مې ورته وویل:

لکه چې مور مې په حق رسېدلې؟

ـ نه یاره هغه خو الحمدلله اوس بېخي روغه ده، خو په وانه کې څوک یادوي چې جنګ یې سره کړی!

ما سمدستي ورته وویل:

حافظ صاحب خو به نه وي شهید شوی؟

و یې ویل:

نه، د هغه کشر ورور فاروق یادوي چې د پاکستان پوځ شهید کړی دی.

د دې خبرې په اورېدو سره په ځان پوه نه شوم، زړه مې دردونو ونیو، خو احساسات مې کنټرول کړل، په زحمت مې وویل:

دا چا ویل، هسې درواغ دي خو زه اوس ترې راغلم!

ـ نن سهار موږ خبر شوو، ته خو پرون ترې راوتلی وې!

نوره مې د مشر خبره زړه واخیسته، خدای خبر چې په کوم انداز به مې نورې پوښتنې ترې کړې وي او زه به څنګه شوی وم، یوازې دومره پوهېدلم چې سترګو مې له حده زیات سوی شروع کړ او د (پي سي او) په طرف روان شوم.

Download more from Libtoon.com

چې د ننه شوم په (پي سي او) کې د مشال راډیو خبرونه لګېدلي وو، خبرونو ته مې توجه و نه کړه، زموږ د دفتر نمبر مې ډایل کړل، بند وو، نور څو شناخته نمبرونه مې هم ډایل کړل، هغه رُخ نه شول.

په سوچ کې شوم کوم چې بل نمبر پیدا کړم، ناڅاپه د مشال راډیو په خبرونو کې وویل شول:

- د حقاني شبکې یو مهم قوماندان په جنوبي وزیرستان کې وژل شوی دی

ورته غوږ شوم:

- د حقاني شبکې قوماندان په جنوبي وزیرستان کې د پاکستان د امنیتي ځواکونو او وسلهوالو تر منځ په نښته کې وژل شوی دی، حکومتي چارواکو او د طالبانو منابعو مشال راډیو ته ویلي، جګړه هغه مهال ونښته چې د حقاني شبکې قوماندان فاروق ځدراڼ او لس نور وسلهوال په جنوبي وزیرستان کې یوې امنیتي پوستې ته ورسېدل.

د فاروق ځدراڼ ورور سنګین چې په پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د حقاني شبکې مهم قوماندان و، د ۲۰۱۳ م کال په سپټمبر میاشت کې د امریکا د بې‌پیلوټه الوتکې په حمله کې وژل شوی و.

د سنګین پرځای د هغه بل ورور بلال ځدراڼ ټاکل شوی او فاروق ځدراڼ یې مرستیال و.

د راپور په اورېدو سره مې یقین پوخ شو او بې اختیاره مې اوښکې را توی شوې، زړه مې غوښتل چې ښه په چیغو چیغو وژاړم، خو غیرت مې د چیغو اجازه نه راکوله، لاړم په چوکۍ کېناستم، خپل څادر مې سره غوټه کړ او په دواړو لاسونو مې په خپل مخ پورې کلک ونیو.

اوښکو مې مخ ګرم کړی و چې غلچکۍ راغی او تر مټ یې ونیولم، و یې ویل:

Download more from Libtoon.com

ـ ملنګ یاره زړه مضبوط کړه، انقلاب دی، دا خو پکې راځي، موږ او تاسې خو راوتلي د همدې لپاره یو، دالله جل جلاله په لار کې مو شهادت تر ټولو ستر ارمان دی، هیڅ د خپګان او تشویش خبره نه ده...

خو زه دومره سخت سلګو نیولی وم چې یوه خبره مې هم نه شوای کولای، خالي مې خپل لاس تري راکشاوه، ما غوښتل چې لږ مې یوازې پرېږدي.

غلچکي ډېر ټینګار وکړ، له دوکانه یې دباندې وایستلم او یو ګوښې ځای سره کېناستو، غلچکی هم له خبرو لوېدلی و، خبرې مو نه شوای سره کولای، سرونه مو ځوړند نیولي وو او پر ځمکه مو د یو تېره کاڼي په څوکه لیکې کشولې.

نږدې دوه ساعته به په همداسې حالت کې وو چې غلچکي وویل:

ملنګ یاره بس کړه، مشران هم راغلل، لږ ځان ټینګ کړه!

اوښکې مې ژر ژر پاکې کړې او مخ مې په څادر وچ کړ.

مشران چې را ورسېدل، د سلام له اچولو سره سم کېناستل، ویل یې اوس هر څه شوي، له صبره پرته بل څه نه شو کولای. سبا وختي ځانونه تیار کړئ چې وختي ځو، موږ هم دا خبره خوښه کړه.

شپه مې په ډېر بد حالت کې تېره کړه، د مزل په ستړیا خو ظاهراً نه پوهېدم، خو ستړیا او ویر دواړه یو ځای وو.

سهار مو د وانه په طرف حرکت وکړ، لاره اوږده وه، ما د فاروق یادونه چېړل، دوی په کوم مجلس بوخت وو چې ناڅاپه زما د فاروق هغه خبره را یاده شوه:

یا الله ملنګ یار له تشکیل څخه زما د شهادت په اورېدلو را واپس کړې!

په دې سوچ کې بې‌اختیاره ژاړه راغله، په موټر کې ټول چوپ شول، صرف زما د سلګیو غږ و.

Download more from Libtoon.com

غلچکي چې له ما سره په وروسته سیټ کې یو ځای ناست و، ځان ته ور نږدې کړم او مشرانو ته یې ویل، د ملنګ‌یار له زړه زه خبر یم چې فاروق څومره وربانديې ګران وو.

خو غلچکي هم ځان کنټرول نه کړ، اوښکې را وبهېدې، مشرانو ډېرې تسلی راکولې، خو زموږ په زړونو کې سرې لمبې بلېدې. ماښام ناوخته برمل ولسوالي ته راورسېدو او په بازار کې کښته شوو، (پي سي او) ته ورغلم موږ ویل چې وانه ته خبر ورکړو چې موږ در روان یو، هسې نه چې فاروق خاورو ته وسپاري. د دفتر نمبر مې ډایل کړ، شاهین تلیفون اوچت کړ، له سلامه پس مې ورته وویل چې ګرانه په هر څه خبر یم، خو صرف دومره کار وکړئ چې رانه خښ یې نه کړئ، موږ در روان یو.

ـ سمه ده ګرانه، موږ درته انتظار یو او تر اوسه یې لا جسد هم نه دی راکړی!

ما په تلواره وپوښتل:

ولې له چا سره دی؟

ـ دلته د پوځ کیمپ ته یې راوړی، نن درېیمه ورځ ده چې خلک ور لېږو، هغه ځواب راکوي، خو نن مو څو مخور مشران ور لېږلي، غالب ګومان دی چې نن به یې راکړي.

ـ سمه ده!

لږ خوشاله هم شوم، ځکه فکر مې وکړ چې ان شاءالله زه به هم ور ورسېږم او په وروستي دیدن به یې مشرف شم.

د (پي سي او) والا ته مې روپۍ را ویستلې، له روپو یې ډېر کلک انکار وکړ او راته کړل یې چې چای به هم راسره څښئ، هم تنده او ستړیا حس کوله، چای ته ورسره کښناستلو.

Download more from Libtoon.com

د (بي سي او) والا چاى راووړ، ما چاى څښلو چې د فاروق هغه خبره رایاده شوه:
ښه ملنګ‌یاره که زه شهید وم او هلته په سنګر کې د مورچې خوا ته پروت وم او ته خبر شې ته به څه کوې؟
اوښکې مې د چایو پیالې ته ور وڅڅېدلې، غلچکي غلي راته وویل:
د خدای پار دی، لږ زړه مضبوط کړه، له خلکو شرم دی.
غلچکي ښايي ښه نه پوهېده چې د فاروق هر یاد زغمل د زهرو څښل دي.
چاى مې همالته پرېښود، بهر لاړم او ښه ډېر مې وژړل، دوی هم راغلل، د غلچکي غږ مې واورېد:
دلته چې څه کوې کوه یې، خو د خلکو په مخ کې لږ زړه مضبوطوه، له خلکو شرم دی، وایي به چې شهیدان یې نه دي لیدلي، که څه کیسه ده!؟
ما پاس ور وکتل او خبره مې بدله کړه:
سمه ده، بس بیا داسې نه کوم، شپه چېرې کوو؟
ـ دلته زموږ ملګری شته د هغوی کره ورځو.

Download more from Libtoon.com

## کاشکې مې آمین نه ویلای

لاره سمه نـه وه راتـه معلومـه، خـو د کـور والا وویـل مـا تـه معلومـه ده، رهبـري مـو زه کـوم او راسـره روان شـو. دا چـې پـر خواجـه خـدر غـر د موټـر لاره د پوځیانـو د نـوې پوسـتې لـه خـوا تـړل شـوې وه، دا د غـره لـوړه څوکـه مـو پـه یـوه قاچاقـي لاره پـه پښـو شـاوخوا پـه پنځـو سـاعتونو کـې را لنـډه کـړه او د غـره لـه سـره مـو ملگـرى بېرتـه رخصـت کـړ.

انگـور اډې تـه شـاوخوا پـه یـو سـاعت کـې کښـته شـوو، لـه انگـور اډې مـو موټـر ونیـو، د منهگـی غـره لمنـې تـه یـې ورسـولو، مخکـې موټـر مـزل نه شـوای کـولای، دا چـې د پوځیانـو پوسـتې مشـکل جـوړاوه لـه دې ځایـه بېرتـه د پښـو مـزل تـه مجبـوره شـوو. پـه شـاوخوا دریـو سـاعتونو کـې مـو دا مـزل را لنـډ کـړ او لـه غـره را واوښـتو، د وانـه اطرافـو تـه داخـل شـوو.

نـور نـو زه هـم بلـد وم، دلتـه مـو پـه یـو وړوکـي کلـي کـې سـپین یـو سـپټه ډاټسـن د غوایـي خولـې سـیمې تـه کرایـه کـړ، پـه دې سیمه کـې د بـلال کـور و.

د مازدیگـر لمـر پـه ډوبېـدو و چـې کـور تـه ورسـېدو، موټـر مـو د کـور مخـې تـه ودراوه، لـه راکوزېـدو سـره سـم مـو د کـور ماشـومان ولیـدل، ټولـو رامنـډه کـړه او غېـږې یـې راکولـې، پـه یـوه غـږ یـې وویـل:

Download more from Libtoon.com

ته خبر يې؟ دادا شهيد شو! اوس مو خښ کړ، کافرانو په ټوپک ويشتلی و!
د شهيد مولوي سنګين فاتح کشر زوی چې ډېر هوښيار و، هغه مې را جلا کړ:
بيت الله! دادا مو رښتيا خښ کړ؟
ـ هو، ماسپښين مو خښ کړ!
ته نه راتلې، ماما ويل چې هغه پاتې شو، لار بنده ده، بس خښ مو کړ.
نه پوهېږم چې په دې وخت کې مې زړه ځنګه کلک شو، هيڅ مې خپګان نه احساساوه، شايد وجه به دا وه چې ما په لاره ډېر ژړلي وو، په خندا مې بيت الله ته وويل:
سمه ده، هيڅ خبره هم نه ده، موږ و تاسې به هم شهيدان کېږو. بيا مې راته ګران بيت الله کلک په سينه پورې ونيو او له ځان سره مې په غېږ کې واخيست.
حجرې ته له خندا په ډکه خوله ور ننوتم، مېلمانه زيات وو، له جوړ په خير وروسته مو فاتحه وکړه، زما په ځنګ کې د فاروق کشر ورور يحيی هم ناست و، هغه ته مې غلي غوږ کې وويل:
ګرانه موبايل در واخله، د فاروق تصويران راته ور ولېږه!
هغه همداسې وکړل، له لږ ځنډ وروسته يې موبايل راکړ، سمدستي مې جېب ته کړ. له دې سره مې ورته وويل چې لاړ شه کور ته يو موټر راته را وباسه، له بازاره څه راوړم.
يحيی لاړ، زموږ د کور غټه دروازه د حجرې شا ته په دې بل طرف کې وه، موټر يې بهر راوايست، زه له مېلمانو د باندې د بازار په پلمه راووتلم او د کور مخ ته ور بدل شوم، موټر ته کېناستم، يحيی ته مې وويل:
ګرانه څوک در نه خبر نه شي چې ملنګ يار د فاروق قبر ته لاړ.
ـ خو اوس ناوخته نه دی؟

Download more from Libtoon.com

-ژر راځم!

- سمه ده.

د قبر پوښتنه مې ترې وکړه چې په کوم طرف کې دی؟

-د قبلې خواته، نوی قبر دی او پر سپین بیرغ باندې په تور خط غټې پرې لیکل شوي: شهید حضرت فاروق "دیوانه".

حرکت مې وکړ، هدیره نږدې وه، تر لږ مزل وروسته ورسېدم، د هدیرې په منځ کې سړک و، د قبلې په طرف مې موټر را تاو کړ، لږ مخکې مې پر یو نوي جوړ شوي قبر سترګې خښې شوې، په خواکې مې موټر ورسره ودراوه. له موټره کښته شوم، سپین بیرغ باد ورو ورو ښوراوه، پرې لیکلي وو: شهید حضرت فاروق "دیوانه"

په دعا ویلو مې شروع وکړه او د قبر سر ته کېناستم.

موبایل مې را واخیست او د فاروق د تصویرونو فولډر ته یکې لاړم، پر لومړي تصویر مې چې سترګې ولګېدې، ناڅاپه مې د فاروق یوه خبره را یاده شوه چې راته ویلي یې وو:

شهید خو به وم، خو ستا د راتلو لپاره به مې دواړې سترګې خلاصې پرېښې وي!

رښتیا چې زما راتلو ته یې دواړې سترګې خلاصې نیولې وې، څنګه چې یې ویلي وو هماغسې یې زما لارې څارلې، خو زه را و نه رسېدم. له ځان سره په خبرو وم، ما ورته ویلي وو چې له زما له راتلو وروسته به سترګې پټوې چې د قبر خاورې پکې توی نه شي. لکه ماشوم کله به مې وژړل او کله به مې د ځوانیمرګ یادونو ته بې‌اختیاره وخندل.

ما په موبایل کې په تصویر کې د فاروق پر سترګو خپلې سترګې ګنډلې وې

او دومره ورته څېر شوم چې په موبایل کې تصویر راڅخه ورک شو.
پوی نه شوم چې څومره وخت به وتلی وي، خو یو وخت مې پام شو پر سکرین یې په ولاړو اوښکو کې خپله څېره را ښکاري.
د موبایل پر سکرین مې لمن تېره کړه او نور عکسونه مې یې را واړول.
د پاڅېدو توان مې نه درلود، ډېر تر ناوخته یې د قبر سر ته ناست وم.
پر هر څه مې خبرې ورسره وکړې، د ځوانیمرګ هر یاد مې داسې پلټه لکه مخامخ چې ورسره ناست وم، د هرې خبرې ځواب به یې راته راکاوه.
پر هغه آمین مې افسوس وکړ چې ما په موټر کې د ده د دعا پای ته ویلی و، زه څه خبر وم چې هغه دعا به زموږ ځښتن ته د قبلېدو وړ کېږي.
په زړه کې مې پرله پسې ویل:
اه کاشکې مې هغه آمین نه وای ویلی...
تونده سلګیو واخیستم، ما ویل هغه وخت چې د فاروق پر نازک تټر د بزدل دښمن مرمۍ ښښېدله، څه احساس به یې کړی وي؟ او څه به یې سترګو ته درېدلي وي؟؟
همدا دوې پوښتنې وې چې هیڅ ځواب نه شوې او لا هم بې ځوابه پاتې دي.
په همدې فکر کې وم چې بیا مې اوښکې را توی شوې، که هر څومره مې زړه ته ډاډ ورکاوه، خو د نازولي فاروق فراق ډېر سخت و، هیڅ قرار مې نه درلود او هر یاد ته مې یې بیا او بېل بېل ژړل، هرې خبرې ته مې یې په جار او قربان ځوابونه ورکړل او ډېرې چیغې مې ورته وکړې، خو پر فاروق انبار خاورې پرتې وې، هیڅ یې غږ نه را خوت.

Download more from Libtoon.com

## بندېدونکې خلاصېدونکې لارې

وانه د فاروق په سترګو خوند راکاوه، بې فاروقه وانه راته خړ ډاګونه او دردوونکي راغونه ښول. فاروق زما تکیه وه، د ضرورت پر وخت به مې بې پامه سترګې ور واوښتې او همکارۍ ته به یې را ودانګل، خو پرته له فاروقه ما ته د جهادي لارې سفر داسې ښو لکه یو کس چې د کورنۍ سرپرست وټاکل شي او په خپلو متو همت شروع کړي.

له شهید مولوي سنګین څخه فاروق ته پاتې شوې سپین سراچه موټر ما ته را پاتې شوه. سهار نهه بجې به له کوره په داسې حال کې ووتلم چې ټوله لار به فاروق پر ذهن را ورېده، بازار ته په تللو به چې د پاکستانیو پوځیانو پر کمپ تیرېدلم په زړه کې به مې وینې راغونډې شوې، کله به وډارېدم چې دا وینې مې دې ته اړ نه کړي چې د پاکستانیو پوځیانو پر کمپ د موټر او ټانکر برید و نه کړم او یا د ټوپک میل د دوی پر هغو خړو خاورینو بوجیو سوړ نه کړم چې موټر بم یې هم نه شي تخریبولای.

بیا به مې سوچ وکړ چې که جنګ وکړم دوی ته هیڅ زیان نه اوړي، ځکه دوی د بوجی تر شا قرار دي، بهر نه راوځي.

په بازار کې به زه او فاروق تر ډېره یو ځای پیاده ګرځېدلو، کله به چې په

Download more from Libtoon.com

بازار کې په پښو کښته شوم ډېرو ملګرو راسره د مخامخ کېدو زړه نه شواى کولاى، هغوى هم ما ته بې فاروقه خوا بدېده، دوى به زما ډېر قدر کاوه او هر چا د شهيد فاروق د ملګرتيا په خاطر احترام راته درلود.

په ايسکريم خانه کې هغه شاګرد چې فاروق يې ښه ابسېده، ما ته به يې اوس په ډېر عاجزانه انداز سلام را اچاوه، په سترګو کې يې ډېر درد پروت و، پوهېدم چې د فاروق ابدي سفر يې ځوروي، خو ما او هغه شاګرد تر اخيره د فاروق ذکر سره و نه کړ، شايد دى هم پوهېده چې د فاروق د نامه په يادولو به بې درېغه اوښکې وبهېږي.

څو ورځې وروسته مې ورور؛ مېرمن او بچيان د فاروق فاتحې ته راوستل، د شپې يې راته وويل چې په دومره اوږدو لارو مو په ژوند مزل نه و کړى.

څو ورځې وروسته هغه بېرته لاړ او مېرمن او بچيان مې خور همدلته تم کړل. دا يې هم راته وويل چې ته بايد نور له ځان ته تشکيله تېر شې او هر څه چې بلال درته وايي، هغه کوه، اوس فاروق نه شته، بايد لاسنيوى يې وکړې.

ما هم زړه تينګ کړ او پوه شوم چې نور له خپلواکې لوبدلى يم، مسووليت مې لا درونډ شوى احساس کړ او د ټولو هغو مجاهدينو د خدمت بار مې په خپله غاړه کې لوبدلى وليد چې فاروق به کاوه.

د فاروق تر شهادت وروسته په وانه کې د امن کمېټې په نوم د وسله والو چلند نور هم راسره تونډ شو، داسې ښکارېده چې دوى ته د پاکستان د پوځ له خوا شکايت شوى وي او ورته ويل شوي وي چې دا مجاهدين بايد د وانه له سيمې ووځي، ځکه هسې نه د فاروق د انتقام فکر ولري. دا خبرې به موږ ته په کمېټه کې مېشتو د راز ملګرو کولې.

حافظ بلال او ورسره د شمالي وزيرستان جنګي قوماندانانو دا فيصله وکړه چې

Download more from Libtoon.com

خدای مه کړه په وانه کې په کومه فتنه وانه وړو، پرېکړه یې وکړه چې ملګري به په پکتیکا کې په جنګ مصروف کړو.

دا چې بلال له مخه د پکتیکا پر مرکز ښرنه د تعرضي برید پلان جوړ کړی و او وسله یې ورته تیاره کړې وه؛ نو د عادل په شمول یې څو ملګرو ته دنده ورکړه چې دا سلاح باید د پکتیکا سروبي او یا هم ګومل ولسوالي ته نقل شي.

په څو ورځو کې سلاح د بلال له کوره د خنډ په یوه اوږده لار ګومل ته نقل شوه، ځکه د فاروق تر شهادت وروسته د سرې کنډې لار پاکستانیو پوځیانو کلکه وتړله او هیڅ ډول موټر ته یې د تللو اجازه نه پرې ورکوله.

د خنډ په لاره کې هم د پاکستانیو ملېشو چیک پواینټ و، خو هغوی کوم مزاحمت نه جوړاوه، د پاکستاني پوځ له لوري که څه هم په موږ پسې افغانستان ته د تګ لارې ورو ورو تړل کېدې، خو داسې هم نه کېدل چې زموږ د تلو مخه دې مکمله ونیول شي، که به یوه لاره بنده شوه، بله اوږده لار به راته خوشې شوې وه، لکه یو ډول دې چې د ځان تابع ګرځوي او در ښکاره کوي چې که زموږ تابع کېږئ نه، موږ به مو ورځ تر بلې له مشکلاتو سره مخ کوو!

موږ دا فکر درلود چې دوی مو ځکه نه خپه کوي چې پټه وېره رانه لري.

د وسلې د لېږدولو په جریان کې بلال د وزیرستان ټولو قوماندانانو ته امر وکړ چې هر قوماندان باید د تشکیل ملګري د نورو کلونو په پرتله دوه چنده را وغواړي چې نور د تلو وخت دی، قوماندانانو همداسې وکړل، هغه قوماندانان چې د تشکیل لپاره به یې ۲۰ ملګري له کورونو را غوښتل هغوی څلوېښت را وغوښتل او هغه چې ۱۰ و هغوی ۲۰ کړل...

د ټولې وسلې د لېږد له بشپړېدو سره سم د قوماندانانو ملګري څوک له بنون،

Download more from Libtoon.com

څوک له پېښور او څوک له ډېره اسماعیل خان... څخه را ورسېدل.

دوی له دې سیمو څخه راغلل چې پر شمالي وزیرستان تر ضرب عضب عملیاتو وروسته د شمالي وزیرستان اوسېدونکي ټول دغو سیمو ته کوچېدلي وو. همدا ډول په داخل کې پر ملګرو باندې هم غبر شوی و چې ځانونه چمتو کړي.

Download more from Libtoon.com

## مالگین شیرچای

د پسرلي لمنې غوړېدلې وې، په نورو سیمو کې به د دې موسم په راتلو خلکو له مستې هوا او سیلونو خوند اخیست، خو نه پوهېږم د چا ښېرا وه چې موږ ته به جنتي پسرلی په قیامت بدل و، نړدې دوستان به یې رانه واخیستل، ورک به یې کړل...

د جنوبي وزیرستان په وانه کې د غوایي خوله سیمې تر خوا چې د بلال کور او د فدیانو مرکز و، زموږ ټول ملګري د سهار تر نهو بجو دې ځای ته را ټول شول، ما ته حضرت عمر زیات وویل چې ته مه ځه، اوس فاروق هم شهید شوی، په کور کې څوک راسره نه شته، خو ما و نه منله، د بلال هم همدا خوښه وه چې باید په تشکیل کې ورسره لاړ شم.

دلته شاوخوا ۳۲ د مجاهدینو ډاټسنان راغونډ شول، نږدې ۴۰۰ ملګري را ټول شوو، زه له کباډ سره په موټر کې برابر شوم او بلال موږ ته فدایان راکړل چې دا به له تاسې سره وي.

موږ له دې ځایه د ورځې په یوولس بجې د کاروان په شکل حرکت وکړ، د موټرو باډۍ او سیټونه ټول ډک وو، د موټرو پر پټه د مجاهدینو پښې ځوړندې وې او په لاره کې موټر د زیات بار له امله یو خوا بل خوا زنګېدل.

Download more from Libtoon.com

مـوږ لـه وانـه څخـه ګومـل ولسـوالۍ تـه د خنـډ پـه چیـک پواینـټ واوښـتلو، دا چې لـه مـوږ سره ټـول د جنوبي وزیرسـتان مجاهدیـن وو او کورنـۍ یـې لـه ضرب عضـب عملیاتـو متاثـره شـوې وې، د پاکسـتانیو ملېشـو د خنـډ پـر امنیتـي چیـک پواینـټ یـې د پاکسـتان مرده‌بـاد نـارې ور شـروع کـړې، دا چـې ملګـري زیـات او پـه سـترو او وړو وسـلو سـمبال وو، پاکسـتانیو ملېشـو فقـط راتـه کتـل او خنـدل یـې، شـاید پـه زړه کـې بـه یـې همـدا ویـل چـې اوس لاړ شـئ، دا لار بـه هـم دربانـدې بنـده کـړو، بیـا بـه بېرتـه د سـوالګرو پـه شـکل راتـه محتـاج یاسـت.

مـا پـر ملګـرو ډېـر غږونـه وکـړل چـې پـر خپلـو کسـانو د کرارېـدو امـر وکـړي، پـر ملېشـو دې چیغـې نـه ور وهـي، ځکـه بیـا بېرتـه د زخمیانـو او شـهیدانو د انتقـال پـر وخـت مشـکل راتـه جـوړوي، خـو دا چـې ملګـري زیـات وو هیچـا هـم غـږ نـه اورېـده، بالاخـره مـو موټریـز کاروان تـرې را تېـر کـړ او ګومـل تـه را واوښـتلو.

ګومـل ولسـوالي د پکتیـکا پـه جنـوب کـې او تـر ډېـره یـوه دښـته ده چـې ډېـره غټـه سـاحه لـري، خـو وګـړي پکـې کـم اوسـېږي، د ګومـل دښـته لـه هغـو دښـتو یـوه ده چـې پـه پکتیـکا کـې یـې تـر ټولـو زیـات شـهیدان پـه خپلـه غېـږه کـې دفـن کـړي. ډرون بریدونـه د پکتیـکا پـه کچـه تـر ټولـو زیـات پـه دغـه سیمه کـې شـوي، دلتـه هیـڅ داسـې ځنګل یـا ونـه نـه وه چـې غازیـان دې لـه دښـمنه پکـې پـټ شـي، کلـه بـه چـې د غازیانـو کاروان د ډرون لـه خـوا پکـې کشـف شـو، تـر هغـې بـه یـې ویشـتل چـې ډرون تـه بـه توغنـدي ور ختـم شـوي نـه وو، داسـې هـم شـوي چـې پـه یـوه ورځ کـې دلتـه د ډرون لـه خـوا ۵۰ او ۶۰ مجاهدیـن شـهیدان شـوي.

مـوږ دا ورځ شـاوخوا ۱۶ سـاعته پـه لـوړو ژورو کـې مـزل وکـړ، د شـپې د ډوډۍ اشـتها مـو پـه لاره کـې د کلیوالـو دوکانونـو پـه ترخـو چنـو او پیپسـي ګانـو لـه منځـه یـووړه.

Download more from Libtoon.com

زما تر څنګ د وزیرستان ډېر ځوانان مازدیګر د شیدو په چایو عادت وو، د ستوماني او سرګرداني له امله مو زیاته رضا ورته کېده، د خوشامند په خره دښته کې د ځايي اوسېدونکو یوې کړدۍ ته ودرېدو چې که شیدې وې او چای را پوخ کړئ ډېر احسان به مو وي، د کور مالک په ورین تندي کور ته منله کړه، شل دقیقې وروسته له یوې لویې تورې شوې چایجوشې سره راغی، کېناست او ګیلاسونه له شیدو ډک کړل. موږ سخت خوشحاله شوو او سره و مو ویل چې نن ټوله شپه په همدې یوه پیاله چایو مزل کولای شو، خو چې کله مو غړوپ ترې وکړ د شیدو چایو ته یې مالګه ور اچولې وه چې له دې سره موږ هیڅ عادت نه وو، ځینو ملګرو خو د خولې غړپ خاورو ته توی کړی و، ما هم ډکه پیاله پرېښودله، د کور مالک ته مو وویل چې موږ د مالګین چای په څښلو عادت نه یو، خو ستا یې ډېر کور ودان. د کور مالک ډېر ټینګ شو چې نور چای راتیاروي، خو دا چې له موږ موټریز کاروان تللی و، همداسې ترې رخصت شوو چې د مازدیګر د چایو هغه اشتها مې تر ډېره په خیال کې ګرځېده. د شپې دریو بجو ته کم وخت پاتې و چې په خوشامند کې یوه کلي ته ورسېدو، هلته مو موټر ځای پر ځای کړل. موږ ته وویل شول چې سبا باید هیڅوک دباندې و نه وځي چې څوک خبر نه شي. سبا ورځ څوک دلته په مسجدونو او څوک د کلیو په مېلمستونونو کې تېره کړئ.

د سهار له لمانځه وروسته زه او کباړ د فدایانو په شمول دلته په یوه کلیوال جومات کې وغځېدو او په خواږه خوب ویده شوو.

Download more from Libtoon.com

# د خیر غونډۍ

غرمه لـه خوبـه تـازه را پاڅېدلـی وم، هڅوکـو مـې دردونـه کـول، ځـان کمـزوری غونـډې راتـه ښـکارېده، د خپـل کـور د گرمـې ډوډۍ پـه بـوی پسـې خپـه وم چې جومـات تـه زمـوږ یـو فدایـي ملگـری را ننـوت، و یـې ویـل:

ملنـگ یـاره دلتـه زمـوږ د ملگـري کـور دی، هغـه د غرمـې ډوډۍ تیـاره کـړې ده، ځنگـه کـوو هلتـه نـه ورځـو؟

د کـس پـه اړه چـې مـې مالومـات وکـړل، زمـوږ یـو مجاهـد ملگـری و، هغـه پـه کـور کـې چـرگ حـلال کـړی و، د کبـاډ پـه شـمول فدایـان ملگـري هـم ټـول هلتـه ورغلـو، مېلمسـتون یـې پـه وطنـي توشـکو پوښـلی و، لـه سـتړې مـه شـې بعـد مـې ورتـه وویـل:

کاشکي د شپې خبر وای ځه خواږه خوبونه به مو کړي وو!

همدلتـه مـو پـه مېلمسـتون کـې ډوډۍ وخـوړه، د ماسپښـین لمونځونـه مـو هـم وکـړل، مازدیگـر تـه لـږ وخـت پاتـې و چـې لـه جوماتـه یـو مجاهـد راپسـې راغـی، و یـې ویـل چـې احسـان مولـوي صاحـب دې غـواړي.

مولـوي احسـان د جنوبـي وزیرسـتان د رزمـک د سـیمې د مولـوي صاحـب یـو پخوانـی قومانـدان و چـې د مولـوي سـنگین تـر شـهادت وروسـته یـې هـم جهـادي

Download more from Libtoon.com

کارونو ته ادامه ورکړې وه، اوس یې د بلال تر قومانده لاندې پکتیکا ته تشکیلونه کول.

مسجد ته ورغلم، مولوي احسان مې ولید، په ګردونو لړلی و، پوښتنه مې ورسره وکړه، بیا یې وویل:

تا خو ښه خوب او دمه کړې، موږ خو سخت ستړي شوو!

-راځه زموږ د ملګرو کور دی، هلته به لاړ شې، و به لمبېږې، جامې به بدلې کړې چې لږ دمه شې.

احسان وویل:

نه زه بېرته ځم، فقط د دې لپاره راغلم چې د ماښام له لمونځونو سره سم بیا موږ و تاسې مزل پیلوو، ځو غزني ته اوړو.

ما پوښتنه وکړه:

هدف څه دی؟ اوس موږ تر کومه ځایه مزل کوو؟

-هدف مرکز ښرنه ده او عملیات مو هم پر ټول مرکز دي!

-ګوره مرکز ښرنه د پکتیکا زړه دی، پر ښار تعرض به مو له ډېرو تلفاتو سره مخ کړي او که د ښرنې مربوط بلد ملګري یا مجاهدین په دې عملیاتو کې فعاله برخه وانه خلي، زموږ د ختیځې پکتیکا او یا د وزیرستان مجاهدین خو نابلده دي، فکر نه کوم چې فتح دې یې په برخه شي، که څه هم جهادي لار ده او توکل په کار دی، خو د تعرض لپاره هم باید یو منظم پلان موجود وي.

مولوي احسان تر لږ سکوت وروسته وویل:

هو، بلال رسیدلی دی او د پکتیکا د لوېدیځ مجاهدین هم ټول د اقبال تکل په سرپرستي کې رسېدلي دي.

Download more from Libtoon.com

تـکل پـه دې وخـت کـې د پکتيـکا د نظامـي کمېسيون مسـوول و او پـه ښـرنه کـې د وفـادار پـه نـوم د يـوې ډلگـۍ د مشـرانو ملگـرو لـه جملې و.
مولـوي احسـان مـا تـه دا هـم وويـل چـې د پکتيـکا لپـاره د امـارت لـه خـوا لـه راکـړل شـوې بوديجـې مـو د پيسـو زياتـه برخـه اقبـال تـکل تـه د همـدې لپـاره ورکـړه چـې د دغـه تعـرض لپـاره مجاهديـن پـرې تيـار کـړي.
مـا نـوره خبـره را ټولـه کـړه، و مـې ويـل چـې سـمه ده، زمـوږ مسـووليت جنـگ کـول او ستاسـې پـلان جـوړول دي، نـور مـو کـه ژونـدي پـرې نيسـئ او کـه مـو پـرې شـهيدانوئ ستاسـې خوښـه ده.
مولوي احسان په خندا کې راته وويل:
زه هم له تاسې سره يم، لرې د خير پر غونډۍ باندې نه درته کېنم.
ښـرنه کـوم عـادي ځـای نـه و، دا د يـوه داسـې ولايـت مرکـز و چـې پرتـه لـه ښـاره يـې نـوره هـره سـيمه پـر امريکايـي اشـغالگرو او د دوی پـه داخلـي ملگـرو تنگـه وه، دوی پکـې هيـڅ ډول گزمـې او لـه خپلـو کمپونـو بهـر چکـر نـه شـوای وهـلای.
د سـرغړونې پـه صـورت کـې بـه د وخـت د غازيانـو لـه داسـې گوزارونـو سـره مـخ شـول چـې د ټانگونـو او وجودونـو اندامونـه بـه يـې تـر ډېـره پـر سـړکونو پراتـه وو.
دا هغـه پکتيـکا وه چـې د وخـت غازيانـو پکـې پـه لومـړي ځـل امريکايـي افسـر ژونـدی تـر لاسـه کـړی و.
د ملاسـنگين پـه څېـر غازيانـو پکـې د امريکايـي اشـغال پـر وړانـدې د جنگـي ډگـر سربښـندونکې کارنامـې ثبت کـړې وې.

Download more from Libtoon.com

ooo

د ماښام لـه لمانځـه وروسته لـه دې ځایـه زمـوږ موټـر پـه پټـو ځراغونـو ووتـل، د کباډ سترګو لـه تیارې سره حساسیت درلـود، موټـر تـه زه کېناستم. لار نـه راتـه معلومېـده، خـو کاروان مخکـې رهبرانـو رهبـري کاوه، مـوږ پـه هغـوی پسـې روان وو. لاره اوږده او لـه کږلېچونـو ډکـه وه.

شپه مـو همداسې پـه غرونـو او دښتو کـې راووهلـه، شـاوخوا یـوه بجـه وه، یـو داسې کلـي تـه ورسېدو چـې زمـوږ پـه یوکیلومتـرۍ کـې د غرونـو پـر سـرونو مسلسلې پوستې وې، لـه پوستو بـه لېـزران را روښـانه کېـدل، نـه پوهېـږم چـې دوی تـه پتـه د موټـرو لـه غـورا لګېدلـې وه او کـه بـه پـه سیمه کـې کـوم ارتباطي حـال ورکـړی و، یـو نیـم هوایـي ډز بـه یـې هـم کاوه، دوی شـاید پـر ځـان ډارېـدل چـې ممکـن زمـوږ هـدف د دوی پوستې وي، خـو دلتـه زمـوږ هـدف دمـه وه، د عملیاتو نیـت او پـلان مـو د پکتیـکا پـر ښـرنه و.

کباډ د مخ په سبټ کې ویده شوی و، غږ مې پرې وکړ:

کباډه!

هغه ژر ټوپک ته لاس کړ:

څه دي؟ څه دي؟

Download more from Libtoon.com

ـ هیڅ نه شته، خو یوې خطرناکې سیمې ته داخل شوي یو، چمتو شه!

ـ دا به مرکز ښرنه وي؟

ـ نه، ما ته هیڅ مالومات نه کېږي، خو چمتو اوسه.

په لار کې په موټرسایکل سپاره مجاهدین راغلل او ما ته یې وویل چې د موټر څراغونه دې روښانه کړه، دلته هیڅ ډار نه شته. ما د پوستو طرف ته لاس ونیو، خو دوی وویل هغه نه شي را کوزېدای، بې غمه راځئ.

بیا مې د سیمې پوښتنه وکړه، هغوی وویل چې دا د غزني شلګر ولسوالي ده، تاسې خپل هدف ته را رسېدلي یاست، موږ ستاسې د رهبرۍ لپاره راغلي یو، د هوسایي، خوراک او خوب لپاره. د ځای ترتیب مو له مخه لا درته کړی دی.

لږ وروسته پر یوه کلي ورګډ شوو چې بیا پسې تری ووتلو، پورته د غره د ډډې خوا ته لاړو او همدلته ټول موټر چې شاوخوا ۳۰ ته به یې تعداد رسېدلی و، په کورونو، مرکزونو او مسجدونو کې ځای پر ځای شول او ځینې موټر په کومه بله سیمه کې د ښرنې بازار ته څېرمه پاتې شوي وو، هغوی تر ډېره د لویو وسلو دفاعي مسوولان وو.

دا شپه زموږ لپاره ډېره ستونزمنه وه، یو خوا مو مزل کړی او له بلې خوا مو د خوب لپاره ځایونه مناسب نه وو.

د غزني مجاهدینو زموږ ډېر خدمت وکړ، په داسې یو غریبانه وخت کې چې مجاهدینو د موټرسایکلو د تېلو پیسې نه درلودې، په دومره ډېر تعداد مېلمانه یې په خوندوره ډوډۍ ماړه کړو چې شمېر یې کابو ۴۰۰ ته رسېده. د دې تر څنګ یې په داسې حال کې لاس راکړی و چې هره شېبه د داسې بمبار امکان و چې ځمکه پر بل مخ راباندې واړوي.

Download more from Libtoon.com

سهار دوی غبرنه و راباندې کړی، په خوبونو ماړه او پخپله را ویښ شوو. زه له ملګرو سره په غره کې په یوه لاسي جوړه شوې سمڅه کې ویده وم، ځان مې په چړیکي بستره کې نغښتی و، ارام مې زیات کړی و، خو لکه چې لاندې ځمکه لبړ نمجنه وه، ملا مې درد کاوه. له سمڅې چې راووتلم، و مې لیدل چې ډېری مجاهدین له خوبه را پاڅېدلي او هر یو له خپل ملګري سره په خبرو بوخت دی. ځینو تازه د غره په چینه کې لامبلي وو، د لمر وړانګو ته په خپلو وېښتانو په برابرولو بوخت دي، ما هم ځان د موټر په اینه کې وکوت، وېښتان مې ګردونو ډېر خیرن کړي وو، ځان مې لټ په لټ کولو، که نه غوښتل مې چې ولمبېږم، خو دا وخت تر ماسپښینه رانه اوږد شو او و نه لمبېدم.

کله چې مې د ماسپېښین لمانځه ته تیاری نیو، مولوي احسان راغی او قوماندانان یې ور وغوښتل، زه هم د خپل موټر د ملګرو په مشری ورغلم، هلته یې راته وویل چې له دې ځایه بېرته واپسي ده او هر موټر باید د پکتیکا چهار باران ولسوالۍ ته ځان ورسوي.

ملګرو په یوه خوله ورته وویل:

دا دومره مزل او تکلیف مو چې وکړ دا د څه لپاره؟

مولوي احسان دومره وویل چې دا دې خدای جل جلاله قبول کړي، خو اوس امر دا دی چې بېرته باید ځانونه چهارباران ته ورسوو.

ټولو ملګرو خپلو موټرو ته حرکت وکړ، زه مولوي احسان ته ور نږدې شوم، پر اوږه مې لاس ور کېښود، ورو مې وویل:

څه وشول؟ مولوي صاحب تعرض ناکام شو، که څنګه؟

مولوي صاحب په خنداکې وویل:

Download more from Libtoon.com

څدراڼو ستاسې پاچاهي ده، کله مو يوه خوا بوځئ او کله بل خوا، موږ خو مو سره وشکولو!

ما ورته وخندل:

اوس خو امر تا وکړ چې چهارباران ته لاړ شئ، دا څنګه ده؟

ـهو تعرض ناکام شو، شايد د پکتيکا پر سروبي ولسوالۍ بريد وکړو!

ـدا تعرض ولې ناکام شو؟

ـموږ پوره اماده ګي نيولې وه، څلور موټربم لوی موټر وو چې يو به د ولايت پر ودانۍ او دويم به د KPF پر بيس کېږي چې هلته عزيزالله کاروان اوسېږي، دوه نور هلته مهمې قرارګاوې دي پر هغو انفجار کوي، ورپسې به مجاهدين ښار ته داخلېدل، مګر زموږ ملګري خو دا دي تول ځای ته رسيدلي وو، اقبال تکل غلطي وکړه هغه وويل چې زموږ ملګري ځينې پټ شوي دي او ځينې نور بهانې کوي.

څکه خو بلال د مخابرې له لارې لږ سختې خبرې هم ورسره وکړې او ورته ويې ويل چې ما د بوديجې زياته برخه هم د همدې لپاره درکړه او تا ملګري هم تيار نه کړل. له دې خبرو وروسته موږ هم بلال ته وويل چې د دوی ملګري راسره نه وي، زموږ ملګري دلته نابلده دي، په يوازې ځان تعرض نه شي کولای، بايد خپل ملګري په بل کوم ځای استعمال کړو چې تر ډېره پرېکړه نه ده شوې، خو اوس شايد پر سروبي ولسوالۍ د تعرض پرېکړه وشي.

موږ به هغه تعرض ناکام باله چې بېرته به يې له کولو منصرف شوو.

Download more from Libtoon.com

# د لوړې اتڼ

موږ ماسپښین د غزني له شلګر ولسوالي بېرته پکتیکا ته په داسې حال کې مزل پیل کړ چې د مولوي احسان له طرفه راته د لارې د سفر مسوول حافظ حکمت الله خالد چې د شمالي وزیرستان د دتخیلو د سیمې یو مخکښ قوماندان و، وټاکل شو. موږ بېرته لاره لنډوله او هر موټر خپل ملګري کېنولي وو، زه که له یوې خوا ډېروري زیات ستړی کړی وم، له بلې خوا کباډ هیڅ نه منله چې موټر وچلوي، هغه به د ګپې په شکل راته ویل چې زه نور سپین ږیری شوی یم، نور موټر تا ته در پاتې کېږي، ته به یې چلوې!

ما به که ډېر ورته وویل چې اوس خو یې لږ وچلوه، هغه به نه منله.

لاره ډېره اوږده وه، لوړې ژورې راتلې او په ځینو ځایونو کې به داسې پېچومې راغلل چې لاندې به دې وکتل پښو به دې کار پرېښود، په ډېر تکلف مو دا لارې ووهلې.

مازدیګر ته نږدې په لاره کې سخته لوږه رابانده راغله، زما تر مخ د حکمت الله حافظ موټر روان و، هغوی هم وږي شوي وو. شاوخوا مو سترګې غړولې، لږ وړاندې مو په یوه دښته کې کږدۍ ولیده چې تر مخ یې موټر ولاړ او د خلکو ګڼه ګوڼه ده، د حکمت الله حافظ د موټر له باډۍ څخه د ړنګې زلفې

Download more from Libtoon.com

په نامه یوه ساده مجاهد چې د بنون د بکخېلې سیمې اوسېدونکی و، ما ته اشاره وکړه چې په کړدۍ کې واده دی، بیا یې په لاسونو اتڼ وکړ چې لږ اتڼ به ورته وکړو، ډوډۍ به پرې وخورو.

ما هم په لاس د موافقت د سوک بڼه ګوته ورته جګه کړه چې خوښه مې ده.

کله چې کړدۍ ته داسې په سل متره کې ور نږدې شوو، ړنګې زلفې حکمت الله خالد ته غږ وکړ چې موټر ودروه، د واده له کوره وریږې را اخلو ملګري وږي دي. موټر ودرېد، موږ ودرېدلو، ملګري ډېر سخت وږي وو؛ نو یې همدلته په شګه کې په اتڼ شروع وکړه، ما هم په ړنګې زلفې پسې اتڼ ته ور ودانګل، د ړنګې زلفې عجیب کلیوال اتڼ زده و، د ډول د نه شتون له امله یې همداسې په خوله ډول شروع کړ او ځینې نور ملګري د کړدۍ په طرف په ډوډۍ پسې ورغلل، موږ دلته سم اتڼ وکړ او په پردي واده کې مو ځانونه د ډوډۍ لپاره خولې کړل.

د اتڼ په منځ کې غږ وشو چې هغه ملګري چیغې وهي، تاسې غلي شئ چې څه وایي؟

کله چې غلي شوو کړدۍ ته ورغلي ملګري را وپس شوي وو او ویل یې ژر موټر ته وخېژئ وشرمېدلو، دلته مړی شوی دی، واده نه دی.

د مړي په خبرېدلو سره ما موټر ته منډې کړې او سیټ ته وختلم، ملګري ټول په منډو موټرونو ته وختل او حرکت مو وکړ، سخت خجالته شوو، په لاره کې چا خندل او چا ویل چې بس زما به دوه ورځې ډوډۍ ته زړه و نه شي.

Download more from Libtoon.com

## د اوسپنې خلک

موږ دا شپه ټولـه د چهـار بـاران پـه طـرف تـر سـبايي پـه مـزل تېـره کـړه او سبا شـاوخوا لـس بجـې لـه ګوملـې ولسـوالۍ د چهاربـاران علـيزو اډې تـه ور کښـته شـوو، دا چـې ټولـه شـپه مـو نهـاره تېـره کـړې وه؛ نـو لـوږې سـخته خولـه خښـه کـړه، د دې اډې تـر څنـګ بـلال هـم پـه کـوم کـور کـې مېلمـه و او اوس را رسـېدلی و، د ذاکـر پـه نامـه يـوه ملګـري يـې زه او کبـاډ د دې اډې پـه دوکانونـو کـې ولیـدو، موږ تـه يـې غلـي وويـل:

دلتـه مـې د غرمـې لپـاره د مېـږې غوښـه تيـاره کـړې ده، د ټولـو ملګـرو نـه کېـږي، خـو دا نـور ملګـري يـو جومـات تـه ورسـوئ، تـه او کبـاډ يعنـې دوه نفـره راسـره ځايـېږئ.

موږ هـم همداسـې وکـړل، ملګـري مـو پـه يـوه کليـوال جومـات کـې کښـته کـړل چـې ډوډۍ همدلتـه وخـوري، زه او کبـاډ بېرتـه ذاکـر تـه راغلـو. د غرمـې ډوډۍ مـو وخـوړه او د غرمـې پـه ډوډۍ کـې وطنـي شـلومبې عجيـب خونـد وکـړ چـې پـه سيمه کـې يـې پـه وطنـي شـرابو شـهرت درلـود.

دلتـه مـو يـو څـو ورځـې تېـرې کـړې، بـلال د مولـوي احسـان پـه شـمول قـاري مجنـون تـه چـې د پکتيـکا پـه سـروضه ولسـوالۍ کـې سـرګروپ و، دنـده سـپارلې

Download more from Libtoon.com

وه چې پر سروبي ولسوالي د تعرضي برید پلان جوړ کړي.
قاري مجنون او مولوي احسان د دې ولسوالي له ځینو اربکیانو سره په رابطه کې وو، مخامخ یې ملاقات ورسره کړی و، په پلان کې پر ولسوالي یو موټربم برید و او ورپسې تعرضیانو برید کاوه، بالاخره تر څه انتظاره وروسته دا ورځ هم را ورسېدله.
مازدیګر له سروبي ولسوالی سره نږدې زه او کباډ له بلال سره لوړې څوکې ته په پښو روان شوو چې جګړه له نږدې وڅارو، موټر مو د غره له لمنې سره ودرول، کله چې غره ته ختلو بلال ما او کباډ ته وویل:
تاسې لاندې له کلي لږ وچه ډوډۍ را پیدا کړئ، د شپې تعرض ناوخته دی، وږي کېږو.
ما او کباډ همداسې وکړل، موټر ته بېرته راکښته شوو، موټر مو را چالان کړ او نږدې د کوچیانو یوې خېمې ته ورغلو، د کور خاوند یوه ټیکاله وچه ډوډۍ راوړه او ورسره یې دوې لوښې د اوداسه اوبه هم را اخیستې وې، کله چې ما یوه ټیکاله ډوډۍ ولیده؛ نو مې کباډ ته وکتل، په سترګو کې سره پوه شوو چې موږ خو هلته ۱۱/۱۰ ملګري یو، یوه ډوډۍ به مو بس نه شي، خو د کور څښتن ته مو څه و نه ویل، په وریږ تندي مو ترې واخیستله.
زه او کباډ په اودسونو لګیا شوو، د کور څښتن پوښتنې شروع کړې:
ـ له کومه ځایه راغلي یاست؟
ـ چېرته ځئ؟
ـ د چا ملګري یاست؟
کله مې چې ورته وویل چې د شهید مولوي سنګین ملګري یو او همدلته د تشکیل لپاره راغلي یو، کوچي سمدستي ودرېده او افسوس یې وکړ، و یې ویل:

Download more from Libtoon.com

مولوي صاحب خو ډېر نر سړی و، یوه شپه زما په خېمه کې مېلمه و په خوشامند کې...

له دې خبرې سره روان شو او ناره يې کړه:

زه بېرته راځم!

سړی چې کږدی ته روان شو، کباډ په لږ ټيټ غږ ووېل:

چمتو شه هسې نه دښمن وي، کوم مشکل جوړ نه کړي.

زه خپل ټوپک ته لږ ور نږدې شوم، لږ وروسته سړی راووت، په لاس کې يې دېګ بخار او دسترخوان وو، د دېګ بخار هوا لا پوره نه وه وتلې، زموږ تر مخ يې کېښود.

په صميمانه انداز يې ووېل:

دا مو تازه لري پوخ کړی او دا دی اوس مکمل تيار شوی، دا چې تاسې د يوه داسې اتل قوماندانان ياست دا دېګ بخار ستاسې شو او په قسمت کې مو و.

موږ که ډېر ورته ووېل چې دا ستا د کورنۍ حق دی، موږ يې نه وړو، خو سړي نه منله. همدا ډول مو ورته ووېل چې بيا به يې نيم کړو، خو سړي وچ کلک قسم وکړ.

دېګ بخار مو تر‌ې راوړ، زه او کباډ بېرته هغه ځای ته راغلو چې بلال دوی د غره سر ته رخصت کړي وو.

مزل زيات و، په مخابره مو د غره په سر کې شاوخوا د شپې يوولس بجې سره پيدا کړل.

دا چې ملګري د ولسوالۍ ودانيو ته نږدې شوي وو، موږ ګرم دېګ‌بخار خلاص کړ او همدلته مو تورې شپې ته ګرمه ډوډۍ داسې په خوند وخوړه چې مزه يې اوس هم زما په خوله کې ده.

Download more from Libtoon.com

موږ تر ډوډۍ وروسته یو څه وخت نور هم تېر کړ، د فدايي موټر د ولسوالۍ پر لور حرکت وکړ، موږ شپېږ شمارلې چې پر ولسوالۍ به تعرض پيلېږي، خو ناڅاپه جېټ الوتکې راغلې، قاري مجنون په مخابره کې غږ وکړ چې اربکيانو دوکه وکړه!

حافظ بلال سمدستي پر ملګرو غږ وکړ چې په ډېر احتياط هر ملګری بېله بېله واپسي را وکړئ. په اربکيانو کې چې کوم رهبران وو، هغوی معلومات له دښمن سره شريک کړي، هر ملګری ځان له بمباره پټ کړئ.

له دې سره ژر ژر لاندې يو يو د غره له سره پټ پټ را کښته کېدلو، له يو څو دقيقو سره اسمان ټول له الوتکو ډک شو، ډرون بېخي په ټيټ پرواز دايرې شروع کړې، په مخابره کې دا غږ هم وشو چې ولسوالۍ ته د ټانګونو يو لوی قطار را داخل شو. موږ که څه هم پر ملګرو او خپله مو د مخابرې رابطه بنده کړې وه چې له هوا کشف نه شي، خو تشويش مو زيات و چې که بمبار شروع شي، تر څلور سوه زيات ملګري دي، تلفات به زيات راته واوړي، هغه هم په داسې حال کې چې موږ هيڅ جګړه نه ده کړې.

موږ د الوتکو له وېرې ډېر په صبر له غره راکښته شوو، په را کوزېدو کې شاوخوا څلور ساعتونه ولګېدل، د سهار د سپېدو له چاودلو سره د غره لمنې ته را خواره شوو، هلته مو د چينو په اوبو اودسونه وکړل او همدلته مو تر ونو لاندې د بلال په امامت د سهار لمانځونه ادا کړل.

دا وخت د الوتکو شور هم يو څه کم شوی و، فقط دوې جېټ الوتکې په هوا کې تاوېدلې، رڼا وار په وار زياتېده، موږ په موټر کې کېناستلو خو حرکت مو نه کاوه، د ورځې اته بجې شوې چې د کوم کليوال جنازه پر سړک تېرېده، موټرونه قطار پکې را روان وو، موږ هم له وخته استفاده وکړه،

Download more from Libtoon.com

موټر مو په همدې لیکه کې ننه‌ایستل او له سیمې پکې ووتلو.
په لاره کې له جیټ الوتکې یو مزایل را خطا شو، له الیزو اډې سره نږدې د یوه مجاهد پر موټر ولګېد، همدا پکې ناست مجاهد شهید شو.
په شپه کې زه او کباړ له بلال څخه جلا شوو، د الیزو په کلي کې یو جومات ته د بندار په نیت ور وران شوو، په دې جومات کې زموږ فدایان ملګري اوسېدل، خو چې د جومات تر څنګ ودرېدلو ګورو چې د جومات دروازه بنده ده، په اسمان کې ډرون الوتکې خطرناک پروازونه کول، داسې ښکارېده چې د سهار په مزایل یې سینه نه ده یخه شوې.
کباړ ته مې وویل:
د جومات دروازه خو قلف ده اوس به څه کوو؟
کباړ وویل:
راځه له یوه کلیواله به د قلف کیلي پیدا کړو، که جومات ته دننه نه شو ډرون بمبار رابانـدې کـوي.
په کلي کې هیڅوک نه لیدل کېدل، له ډېر تلاش وروسته مو یو ځوان پیدا کړ او و مو پوښت:
د جومات ملا امام چېرې دی؟ موږ ته د جومات کیلي راکړئ چې شپه همدلته وکړو.
ځوان وویل:
کلي پرېکړه کړې چې تاسې به په جومات کې شپه نه کوئ، ځکه ستاسې پر ملګرو تېره شپه بمبار زموږ کلیوال ټول وېرولي دي ، خدای مه کړه نن شپه پر تاسې بمبار وشي. که وچه دوډۍ غواړئ زه به یې درته راوړم، نور د شپې لپاره پاس غره ته لاړ شئ.

Download more from Libtoon.com

کباډ ته مې مخ ور واړاوه:

راځه چې د چاربارانو بازار ته لاړ شو، هلته به په یو کلیوال هوټل کې شپه وکړو، دا څه وزیرستان نه دی چې خلک هر خطر درسره قبول کړي.

کباډ هم له نهیلۍ ډکې سترګې نیولې وې.

زما ښه په یاد دي چې په وزیرستان کې به مهاجر مجاهدین په کوم کور کې مېلمانه شول، د کور غړو به په دې خاطر له مجاهدینو سره یو ځای شپه تېروله او خطر به یې پر ځان مانه، چې که د ډرون بمبار پرې کېده خلک به وایي چې کورنۍ پیسې وربانـدې واخیستې.

Download more from Libtoon.com

○○○

موږ د تشکیل تنده په همدې سیمه کې ماته کړه، شاوخوا درې میاشتې پاتې شوو او بلال د پکتیکا مسوولیت له همدې سیمې اداره کاوه، د سروبي له تعرضه وروسته مو پر گومل ولسوالي تعرضي برید وکړ، خو د دې ولسوالۍ ودانۍ مو تر لاسه نه کړه.
زه هم د بلال په غوښتنه او د ضرورت لپاره یو څو وارې وانه ته د ده په شخصي موټر کې لاړم، خو ډېرته به راغلم، کله به مې د تشکیل ملگري وانه ته د واپسي په حال کې وړل او کله به چې د سروبي او یا هم د اومنې پر پوستو چریکي جنگونه وشول، د هغوی زخمیان به مې لېږدول، بالاخره د ژمي په رارسېدو ټول ملگري وانه ته روان شوو.

Download more from Libtoon.com

## په جنتي وانه کې دوزخي ژوند

که څه هم پر شمالي وزيرستان د پاکستاني پوځيانو تر عملياتو وروسته وانه راته دويم کور و، خو ژوند پکې اسانه نه و، ځکه هلته له پاکستانيو پوځيانو سره په رابطه کې د امن کمېټې موږ ته رنګارنګ مشکلات جوړول. په بازار کې به يې هر هغه څوک له موږ پټ ډاراوه چې موږ ته به يې کورونه يا دفترونه په کرايه راکول. همداشان به يې دوکاندارانو ته هم ويل چې پر دوی باندې سودا مه خرڅوئ، خو موږ ته به دغو ټوپکيانو مخامخ هيڅ نه ويل، ډېر احترام به يې راکاوه.

وخت ناوخت به يې پر چيک پواينټ په تکليفولو، حال دا چې موږ به يې پېژندلو چې دا پلانی او پلانی ځای ته روان دي. کله کله به داسې هم کېدل چې يوه ورځ به يې مجلسونه راسره کول، په دا سبا به يې مشکلات راته جوړول.

دا چلند د فاروق له شهادته مخکې يو څه نرم و، خو دا ځل چې وانه ته له تشکيله را وګرځېدلو، وضعيت ډېر سخت شوی و.

داسې ښکارېده چې په وانه کې د پاکستاني پوځ کمپ زموږ د ملګرو له شتونه د وېرې احساس کوي، دوی ډارېدل چې دا خلک د شهيد فاروق د

Download more from Libtoon.com

بدل اخیستلو نیت لري، خو موږ هیڅ دا اراده نه درلوده، ځکه چې زموږ د اوسېدلو ځای په ټوله دنیا کې تنګ شوی او یوازې همدا وانه راپاتې و. په وانه کې به ځینو مخلصو مشرانو هم همدا خبره کوله چې دلته د امن پر کمېټې د پاکستان فشار دی او ورته وایي چې دا خلک له دې ځایه وباسئ، هسې نه پر کمپ او یا نظامي قرارګاوو کومه حمله وکړي.
دغه حالات وار په وار داسې ځای ته ورسېدل چې په وانه بازار کې زموږ د ناستې ځای ورک شو. کله به چې وانه ته لاړو او کوم دوکان ته به ورغلو چې ورسره کېنو، هغه دوکاندار به راته ویل چې په موږ تاسې سخت ګران یاست، خو که مو دلته د وانه ټوپکیان ووینې چې ناست یاست، بیا موږ خپلو دفترونو ته ور غواړي او وایي چې دا خلک مو ولې درسره کېنولي وو، په یوه او بل نامه مو ستړي کوي.
ټوپکیان داسې هم نه وو چې دوی فقط دلته په وانه کې ګرځېدل، دوی به له امارت سره تر ډېورنډ فرضي کرښې را دې خوا افغانستان ته هم تشکیلونه کول او په پکتیکا، غزني او زابل... کې به د امریکایي اشغال پر خلاف جنګېدل، د دوی امیران به تشکیل ته نه تلل، بلکې د ټیټې کچې ملګري به یې زموږ له ډلګۍ مشرانو سره لېږل.
موږ په دې حالاتو کې زغم سخت ستړي کړو، اکثره وخت به زه او شاعر بندیوان وزیر زموږ له پخواني قوماندان سره چې د شمالي وزیرستان اوسېدونکی و، ګډ ګرځېدلو. روژه وه، ماسپښین به له کوره بازار ته لاړو، په بازار کې به ټوله ورځ په پښو وګرځېدلو، خو د ناستې لپاره به هیڅ ځای نه و، موږ به بېرته د دمې لپاره له بازاره ووتلو او د وانه له بازار سره نږدې به تر سره پل لاندې په خوړ کې کېناستلو.

Download more from Libtoon.com

کله به د ځایي مشر عارف وزیر اطاق خلاص و، هغه ته به د دمې لپاره ورغلو، خو دا چې په هغه ځای کې به د خلکو بیروبار زیات و، موږ به دمه نه شوای پکې کولای، بېرته به راووتلو.

د بندیوان د شعر ښاپېرۍ هم په دې وختونو کې ډېره مایوسه شوې وه، اوس یې ده ته هغه توري نه ډالۍ کول چې ځوانان به یې د جګړې لیکو ته پرې جوشول:

**زما د ګران وطن خـــــزان هم له بهـــــار ښکلی و**

**د بلې خاورې پسرلي په خـــــدای که خوند راکوي**

**زه بــندیـوان چـه ګل ټومـبـم پـر ځان پــرده اچـوم**

**ګنې په دې وخت کې مستي په خدای که خوند راکوي**

د وزیرستان یو ستایل و، هر ځوان به د روژې په مازدیګر پر غوږونو پاس ګلان ټومبلي وو او هغه ګل به د مستۍ او خوشالۍ پیغام لېږداوه، خو په دې وخت کې موږ له مشکلاتو او مایوسۍ سره مخ وو، ګلان به مو ټومبلي وو، خو له زړونو مو مستي او خوشالۍ کډې کړې وې.

Download more from Libtoon.com

## د ارادې بدلون

د پکتیکا برمل او جنوبي وزیرستان پر فرضي کرښه انګور اډه کې د پاکستانیو او د هغه وخت د افغانستان د حکومت جګړه ونښته، په دې جګړه کې زیات مشکل جوړ نه شو، خو فقط یو څو ډزې تبادله شوې، د شپې د تحریک طالبان پاکستان ډلې د برمل له لوړو غرونو د پاکستانیو پوځیانو کمپ په توغندیو ویشتلی و او همدا ډول یې پر یوه فرضي کرښه د پاکستانیو پوځیانو پر پوسته تعرضي برید کړی و، څو ورځې پس د وانه سیمې ځینې مشران چې اوس یې له ما نومونه هېر دي، بلال ته د مجلس لپاره راغلل او په مجلس کې یې ورته وویل چې موږ په کمپ کې یو، د پاکستاني پوځ کرنېل غوښتي وو او هغه راته وویل چې بلال دې په انګور اډه کې د ملي اردو پر کمپ تعرضي برید وکړي او د دې برید ټول مصارف به موږ ورکړو، همدا ډول یې وویل چې کرنېل دا هم ویل چې د دوی لپاره به پېښور ته د زخمیانو په وړلو او راوړلو کې هم اسانتیا راولو.

حافظ بلال چې تازه یې د چنار په شکل دنګ ځوان فاروق پوځیانو شهید کړی و، غوسه یې کنترول نه کړه، ورته و یې ویل:

زه چې د پاکستان او افغانستان تر منځ له نښتې خبر شوم ما وغوښتل چې له

Download more from Libtoon.com

موقعې ګټه واخلم او په انګوره اډه کې پر مېشت د ملي اردو پر کمپ تعرض وکړم، خو دا چې د پاکستاني پوځ دا خوښه ده، زه تر خپل نیت تېر شوم. زه به بل ځای د تعرض ترتیب جوړ کړم او هیڅکله به د پوځیانو په غوښتنه دلته برید و نه کړم.

مشران هم غلي شول، یو او بل ته یې وکتل. بلال نور هم ور تېز شو:

که بیا دلته راغلئ او د پاکستانیو پوځیانو کیسه مو راوړه ستاسې هم خیر نه شته!

له دې خبرې سره بلال ځای پر ځای را ولاړ شو او له اطاقه ووت.

Download more from Libtoon.com

○○○

د پکتیکا په ګیان ولسوالي او یا نورو سیمو کې د تعرض پر مهال چې کوم زخمیان شوي وو، شمېر یې ۱۴ نفرو ته رسېده چې دوی یو ځل پېښور ته د علاج لپاره وړل شوي وو او دویم ځل یې بیا وړل، په دغو زخمیانو کې د منتظر په نامه هغه کس هم و چې له فاروق سره زخمي شوی و او په زخمي حالت کې له پاکستانیو پوځیانو په تېښته خلاص شوی و.

په پېښور کې زموږ نماینده عمري چې پر وزیرستان تر پاکستاني پوځي عملیاتو وروسته پېښور ته تللی و، هلته یې یو څه پېژندګلوي جوړه کړې وه چې وخت ناوخت به یې له پاکستانیو ادارو سره رابطه کوله او له وانه به یې زموږ زخمیان پېښور ته رسول.

حافظ بلال عمري ته وویل چې دا ۱۴ زخمیان د وانه په مرکز کې پراته دي، که پېښور ته د نقلولو طریقه جوړه کړې.

یو څو ورځې وروسته مازدیګر عمري سپین طالب ته تلیفون وکړ او ورته و یې ویل چې همدا مازدیګر زخمیانو ته موټر ونیسه او مشخصات یې له ما سره شریک کړه چې د ای ایس ای یو کرنیل له ما سره وعده کړې چې زخمیان به زه پېښور ته درته ورسوم.

Download more from Libtoon.com

سپین طالب همداسې وکړل او بلال د لارې خرڅ ورته تیار کړ، موټر له زخمیانو بار شو او د پېښور خوا ته یې حرکت وکړ، له وانه څخه پېښور ته پر غځېدلي سړک د تنایي په نوم د پوځیانو پر چیک پواینټ باندې د زخمیانو ډک موټر پوځیانو ودراوه، له عمري سره او همدا ډول د حزب اسلامي ګوند له نمایندګانو سره تر ډېرو رابطو کولو وروسته هم و نه توانېدلو چې ۱۴ زخمیان دې خوشې کړو، ټول یې ورک کړل. دغه کرنیل له موږ سره دوکه وکړه. سره له دې چې وروسته وروسته ځینې تر یو کال او ځینو تر اتو میاشتو تري تم کېدا وروسته پیدا او ازاد شول، خو له ځینو سطحي زخمیانو یې هم پښې پرې کړې وې.

پوځیانو به چې کله هم زخمیان ونیول له زندانه به یې تر ۸ میاشتو او یا هم تر دې زیاتې مودې تېرولو مخکې نه را پرېښودل، د کومو زخمیانو چې به پښې زخمي وې هغه به یې هم ترې پرې کړې وې.

له دغو زخمیانو یې هم بېل بېل څوك په اتو میاشتو او څوك په یوه کال کې را خوشې کړل.

ما ډېر وخت وروسته عمري په پېښور کې ولید، راته ویل یې چې دا رابطه ما ته د کرنېل ثناء الله په نامه یوه کرنېل کړې وه، دا کرنېل هماغه کس و چې له عمري یې پر انګور اډه برید ته د بلال هڅول غوښتي وو.

په وانه کې مو ژمی په ډېر تکلیف تېر کړ، کله چې د پسرلي ورځې را نږدې شوې د پکتیکا پر غرونو پرتې واورې وار په وار په رڼو چینو بدلې شوې؛ نو ټولو قوماندانانو ښه وګڼله چې ټول ملګري پکتیکا ته تشکیل وکړو.

بالاخره د سلګونو وزیرستانیانو ملګرو په ګډون مو د پکتیکا چارباران ولسوالی ته تشکیل وکړ چې په وانه کې له مشکلاتو هم په امان شو او خپل مسوولیت هم ادا کړو.

Download more from Libtoon.com

# پر چارباران برید

د پکتیکا چاربـاران ولسـوالي تـه مـو د بریـد پـلان جـوړ کـړ چې د سـپینه پـر پوسـتو او قـرارګاوو حملـه وکـړو. د بریـد پـه پـلان کـې زه لـه کبـاډ سـره موټـر تـه ورکـړل شـوم او راتـه وویـل شـول چې مـوږ بـه لـه سـیمې زخمیـان باسـو او واړـه تـه بـه یـې رسـوو.

مـوږ د چاربـاران د الیـزو د اډې پـه نـوم لـه یـوه کلیـوال بـازاره پـه مازدیګـر کـې د سپینه خـوا تـه حرکـت وکـړ، ماښـام ناوختـه د غرونـو پـه منـځ کـې د سـپینه غبـرږې تـه نـږدې شـوو، پـه لاره کـې د قومانـدان حکمـت الله موټـر خـراب شـو، د هغـه پـر جوړولـو مـو کار پیـل کـړ، دا موټـر پـه داسـې ځـای کـې خـراب شـو چې کـه لـه جنګـه وروسـته قـوه راتـلای، زمـوږ د محاصـرې امـکان ډېـر و، ځکـه ټـول ملګـري همدلتـه معطـل شـوو چې موټـر جـوړ کـړو.

د شـپې ۱۲ بجـې شـوې، خـو لا هـم تیـار نـه شـو. د موټـر د جوړښـت تریـخ انتظـار مـې د فـاروق پـه یادونـو خـوږاوه، خـو لـه سـره دې یـې زیـات ځـور هـم راکاوه، بیـا بیـا مـې یـې ارمـان راتـه چې کاشـکې راسـره وای.

همـدې یادونـو داسـې حـال تـه ورسـولم چې ناڅاپـي مـې لاسـونه لپـه کـړل او خـدای تـه مـې دعـا وکـړه چې «نـور مـا تـه پـه همـدې جنـګ کـې شـهادت

Download more from Libtoon.com

راکړې! » لومړی ځل و چې لـه زړه مـې شـهادت غوښـت او پـه همـدې جنـګ کـې مـې غوښـت. پرېکـړه مـې وکـړه چـې لـه کبـاړ څخـه بـه پټېـږم، جنـګ تـه بـه ځـم.

د موټـر د ترمیم وخت نـور هـم پسـې وغځېـده، شـاوخوا دوه نیمې بجې شوې، بـلال پـه مخابـره کـې غـږ وکـړ چـې موټـر تـه نـور معطـل نـه شـئ، ملګـري دې دا نـور موټـر پوسـتو تـه نـږدې کـړي، سـهار تـه لـږ وخـت پاتـې دی.

Download more from Libtoon.com

## د سپينه پر قرارگاه تعرضي بريد

سهار درې بجې مو د بلال له امر سره سم موټر دريور ته پرېښود او موږ ټول د ټاکلي هدف پر لور روان شوو.

خالقيار مسيد له ځينو ملگرو سره پياده روان شو، ما له ځان سره پرېکړه وکړه چې د خالقيار په ملگرو کې به له کباډه پټ جنگ ته ځم. همداسې مې وکړل، غلی په ملگرو کې ورسره روان شوم، په لاره مې د کباډ چيغې اورېدلې چې زما نوم يې اخيست، ورو ورو يې غږ رانه ورکېده، موږ په يوه وچه دښته کې گړندی مزل پيل کړی و، ځای پر ځای غونډۍ وې، خو نوره ټوله هواره دښته وه.

په لاره کې خالقيار ته ور نږدې شوم:

خالقيار! قرارگاه ته خو لا هم مزل پاتې دی، د قرارگاه په اکمالاتي لاره کې کمين منظم کېنول شوی؟ داسې نه که له کمينه د دښمن ټانگونه را واوښتل په دا دښته کې مې فکر نه کېږي چې څوک دې ژوندی ترې خلاص شي!

خالقيار مخ راواړاوه، متعجب شو، و يې ويل:

ته ولې راغلی يې؟

- هسې راغلم، زړه مې فيصله کړې وه.

Download more from Libtoon.com

ـ ګوره واپس شه، تازه هغه بل «فاروق» هم شهید شوی، نور څوک دي؟

ما وخندل:

نه اوس راغلی یم، مرګ و ژوند د خدای په لاس کې دي، زه ضرور ځم!

بیا خالقیار وویل:

هو کمین منظم ناست دی، د اومنې ولسوال د حماس مولوي صاحب ملګرو اکمالاتي لار بنده کړې.

موږ په پښو شاوخوا یو ساعت ګړندی مزل وکړ، په لاره کې له څو پوستو سره نږدې تېر شوو.

خالقیار ویل چې دا د قرارګاه دفاعي پوستې دي او دا یې هم وویل چې زموږ و تاسې هدف د قرارګاه د تعرضیانو دفاع ده.

زه خپه شوم، ما فکر کاوه چې خالقیار په تعرضیانو کې دی، خو له دې سره سره مې دا تصور هم کاوه چې خالقیار او تعرض؟ ځکه هغه به تل کوښښ کاوه چې په دفاع کې وي. زړه مې بیا دې ته ښه و چې که دا ځل تعرض ته ځم، خالقیار هم راسره دی، که زخمي یا شهید شم، حتمي مې راوړي.

نیم ساعت نور هم ووت، یوې وړې غونډۍ ته ورسېدو، هلته په رسېدو په کلیو کې اذانونه هم پیل شول، خالقیار راته ویل چې هدف همدغه ځای دی او دا مخامخ قرارګاه د اربکیانو ده.

ما وویل:

مخامخ خو څه نه ښکاري!

ـ اوس تیاره ده چې رڼا شي ښکاري.

موږ دلته د ملګرو لپاره یو څه انتظار وکړ چې ټول ملګري ځایونو ته ورسېږي.

د سهار سپېدې چاودلې وې، بلال پر ملګرو غږ وکړ، ځینې کسان په لاره

Download more from Libtoon.com

پاتې وو، خو هغوی ته یې وویل چې موږ پرېکړه کړې وه چې جنګ به د شپې کوو، خو دا دی خبره سهار ته لاړه، لږ بېړه وکړئ.
د سهار په تته رڼا کې له موږ شاوخوا په یو کیلومتر کې یوه ودانۍ لیدل کېده، همدا هماغه قرارګاه وه.
ما خالقیار ته مخ ور واړاوه:
ګوره موږ و تاسې له قرارګاه ډېر لرې یو، قرارګاه ته د کلاشینکوف مرمۍ نه رسېږي، زموږ و تاسې دفاع ده، باید ور نږدې شو، کم از کم قرارګاه ته په دوه سوه متره کې کېنو.
خالقیار غوسه شو:
د جنګ قوماندان ته یې که زه؟
ـد جنګ قوماندان ته یې، خو موږ و تاسې ډېر لرې یو!
ـته بیا مخکې ورشه!
زه غلی شوم، خو له همدې سره د ده په مخابره کې د بلال غږ شو، ویل یې چې ملګري ټول خپلو ځایونو ته رسېدلي هر سړی اماده شئ.
زما په زړه کې بیا تشویش پیدا شو چې خالقیار ته ووایم چې لرې یو، خو بیا مې وویل چې پرېږده اوس جنګ شروع کېږي پخپله به یې ووینې چې مرمۍ ور رسېږي، که نه؟
حافظ بلال په مخابره کې دعا او ورپسې د ناره تکبیر چیغه وکړه، پر پوستو او د اربکیانو پر قرارګاه جنګ شروع شو.
زما په ټوپک کې د لمبې کارتوس وو، قرارګاه ته مې په زخه کړ چې ډز مې پرې وکړ، کارتوس زموږ او د قرارګاه په نیمه ساحه کې ولګېدل. د پامیر په نامه یوه مجاهد د راکټ ډز وکړ چې موږ ته په نږدې مخامخ غونډۍ کې ولګېد.

Download more from Libtoon.com

له هغې خوا يې د زکويک يوه اوږده ضربه راپرېښودله چې کارتوس ټول لمبه‌يي وو، سيده زموږ پر طرف را روان شول، زه ژر څملاستم او پر غونډۍ لاندې را ورغړېدم، د زکويک کارتوس زموږ د غونډۍ له سر سره جوخت تېر شول، دومره تېښت وو چې د لمبې له امله يې زما مخ ګرمي حس کړه.

خالقيار ته مې ور چيغه کړه:

ما نه درته ويل چې زموږ د ټوپک مرمۍ نه ور رسېږي!

د خالقيار غږ مې واورېد:

له تا سره دې يو څو کسان ور مخکې شي!

ما هم ژر پر پامير غږ وکړ، ورته و مې ويل:

مخابره لرې؟

ـ هو!

ـ راځه راکټ هم راوړه!

د دې تر څنګ مې درې نفره نور چې له يوه سره پيکا وه، ملګري کړل، د غونډۍ په څنګ کې په يوه وړه‌کې ناره کې راکوز شوو او لاندې په خوړ کې د قرارګاه خواته ور په منډو شوو، تر يوه اوږد او ستړي مزل وروسته قرارګاه ته مخامخ په کابو درې سوه متري کې يوې غونډۍ ته ورسېدو او هلته قرارګاه ته مورچه شوو. له همدې ځايه مو جنګ شروع کړ.

له قرارګاه سره تر څنګ يوه کوټه وه او په هغه کې يو عسکر و چې د تعرضي ملګرو لپاره خنډ و، د ده د ډزو له امله تعرضي ملګري مخکې نه شواى ورتلاى، ما هغه په نښه کړ، ډز چې مې پرې وکړ د لمبه‌يزې مرمۍ غوټۍ يې وچه په پښو کې ولګېده او له دې سره يې پام موږ ته را واوښت او له موږ سره يې جنګ شو.

Download more from Libtoon.com

پامیر د راکټ ډېر ډزونه پرې وکړل او د پیکا ملګرو مرمۍ پرې چلولې، ما هماغه کوټه د ټوپک په زخه کې پټه کړې وه او جنګ شروع و.

موږ ډېر په ارام سره جنګ کاوه، ځکه ډاډه وو چې اکمالاتي لار د سیمې مجاهدینو بنده کړې، څوک را تېرېدای نه شي. جنګ ډېر اوږد شو او هره ثانیه د دوی د تېښتې سبب ګرځېدله.

تعرضي ملګري دومره ور نږدې شول چې د قرارګاه ختینو دېوالونو ته یې بوشکې ور لاندې کړې او انفجار به یې پرې وکړ. خال خال ډزې روانې وې. جنګ شاوخوا یو نیم ساعت ته وغځېد، لمر هم خپلې تودې څپې را کوزې کړې وې.

تعرضي جګړو به له پنځلسو تر شلو دقیقو وخت نیو، دا جنګ ځکه دومره اوږد شو چې له یوې خوا اوس امریکایانو له داخلي عسکرو سره پخوانۍ همکاري پرېښې وه او له بل پلوه موږ پر لاره ډاډه وو چې کمین نه تري را تېرېږي. درېیمه خبره دا هم وه چې مخامخ دښمن ډېر کمزوری شوی ښکارېده. بېخي پر دې یقیني شوي وو چې تر ماسپښینه دا پوستې زموږ دي.

زما مخابره د کباډ په موټر کې وه، له پامیره مې را واخیستله، غوښتل مې چې له بلال سره اړیکه ونیسم او د فتحې مبارکي ورکړم، خو په مخابره کې له بلال سره تبسم حافظ په رابطه کې و او ورته ویل یې چې شخصي نمبر ته لاړ شه!

ما هم ژر شکاري پسې ولګوله، «شکاري په مخابره کې یو بټن و چې و به دې واهه بیا به چې په کوم نمبر کې څوک غږېدل هغه به یې را نیول.»

د شکاري له لارې مې د تبسم او بلال د مخابرې شخصي نمبر پیدا کړل، غوږ مې ورته ونیو، تبسم بلال ته ویل چې له کمینه شل دقیقې کېږي چې

Download more from Libtoon.com

ټانګونـه را تېـر شـوي دي، کمیـن مـات شـوی، ټانګونـه راغلـل!
زه غلی وم.
حافـظ بـلال ورتـه وویـل چـې سـمه ده پـه مخابـره کـې چـې دا خبـره و نـه شـي، ملګـري بیـا تېښـته ګـډوي او زخمیـان او شـهیدان بـه پاتـې شـي.
دوی لـه دې نمبـره ووتـل او عـام نمبـر تـه راغلـل، پـر تبسـم بانـدې مـې پـه عـام نمبـر کـې غـږ وکـړ او د مخابـرې یـو ځانګـړی نمبـر مـې ورتـه وښـوو چـې هغـو تـه راشـه!
تبسم چې کله هغه نمبر ته راغی، ما پرې غږ کړ:
ټانګونه چېرته دي؟
تبسم حافظ وویل:
نه شته، چېرته دي ټانګونه؟
ما ور غبرګه کړه:
په بل نمبر کې چې تا بلال ته وویل.
تبسم ځواب راکړ:
نه هغه بل ځای وو، دلته څه نه شته!
ما بیا وویل:
ګـوره مـوږ پـه لاره کـې یـو، پـه جنـګ کـې موجـود یـم، کـه ټانګونـه راځـي تـر ټولـو مـوږ ور نـږدې یـو!
تبسم حافظ بیا هم ما ته وویل چې نه دلته هیڅ نه شته، هغه بل ځای دي.
مـا چـې مخابـره بنـد کـړه او شـا تـه مـې وکتـل، و مـې لیـدل چـې پـه دښـته کـې خـړ دودونـه اوچتېـږي او د زغره‌والـو ټانګونـو کاروان پـه دومـره سـرعت زمـوږ پـر خـوا را روان دی چـې د خلاصـون هیـڅ لار تـرې نـه لیدلـه کېـږي.

Download more from Libtoon.com

پر پامیر مې چیغه کړه:
د راکټ مرمۍ را اخله، ټانګونه راغلل!
پامیر چې مخ شا ته را واړاوه، ټانګونه یې ولیدل، ما ته یې ډېر په ډار سره راکټ راښکاره کړ چې دغه دی، خو مرمۍ ټولې ختمې دي او له دې سره مو د خالقیار په طرف منډه ور شروع کړه، خالقیار تر موږ د ټانګونو طرف ته ور نږدې و.
موږ ځکه د ټانګونو په طرف منډه کړه چې بله لار نه وه، یو طرف ته قرارګاه او پوستې وې او بل طرف ته ټانګونه.
د ټانګونو طرف ته لار موږ ځکه غوره وګڼله چې یو خو به له خالقیار دوی سره یو ځای یو او دویم شاید د راکټ مرمۍ هم ورسره پاتې وي چې د ځان دفاع وکړو، ځکه ټوپک هیڅ تاثیر نه پرې کاوه.
زه په وړو غونډیو کې د خالقیار په طرف ور په منډو وم، لږ وروسته ستړي ستومان خالقیار ته ور ورسېدم، دی هم ټانګونو ته حیران ولاړ و، دوه ملګري ورسره پاتې وو او نور ترې تللي وو، په لوړ غږ مې ناره کړه:
د راکټ مرمۍ شته؟
خالقیار وویل:
نه، ختمې دي!
-بیا څه ته ولاړ یې، څه چې ځو!
له دې خبرې سره مو یو په یو په صحرا کې د هغه لرې غره په طرف له شپږو اوو ملګرو سره یو ځای په منډه شروع کړه چې په خوا کې یې موږ موټر درولي وو.
تر شا به مو چې ټانګانو ته وکتل، خومره به چې موږ ته را نږدې کېدل

Download more from Libtoon.com

همدومره به مو منډه تېزوله، بل هيڅ وخت ما دومره منډه نه وه وهلې، په لاره کې زه او خالقيار په بېله لاره برابر شوو او ځينې ملګري مو بېل خوا ته سيخ شول، خو يو نفر چې غالباً د برمل اوسېدونکی و، سور پکول يې پر سر و، هغه له ما او له خالقياره داسې پنځوس متره شا ته پاتې شو، خو وخت ناوخت به مونږ لږ ورته سوکه شوو چې دی پسې را ورسېږي.

په صحرا کې يوازې مونږ په منډه نه وو، نورو مجاهدينو هم منډې وهلې چې ټانګونه په هغو مصروف وو، پر ډېرو مجاهدينو يې ټانګونه وخېژول، مونږ ليدل چې تر ټايرونو به لاندې کېدل.

داسې تر پنځلس دقيقو منډو وروسته د ټانګونو مسير سيده زمونږ پر لوري شو، داسې ښکارېده چې په صحرا کې نور ژوندي انسانان ور ختم شول او خپلې سينې يې پرې يخې کړې، بس وروستي مونږ وو.

ټانګونه په پوره سپيله زمونږ پر خوا را روان شول، مونږ منډه نوره هم تېزه کړه، خو د حوصلې په وروستي حد کې وو، نږدې وه چې ولوېږو. شا ته مې بار بار کتل، ټانګونه وار په وار غټېدل، بالاخره زمونږ تر شا مجاهد ملګري ته را ورسېدل، ما يو نيم وار شا ته ور کتل او منډه مې هم وهله چې زغره‌وال امريکايي ټانګ خپل غټ ټاير مجاهد ته برابر کړ او پرې وخوت، د مجاهد چيغه وختله چې لا مې هم په غوږونو کې پاتې ده، نه پوهېږم چې څه يې وويل، خو ډېره سخته چيغه يې وکړه او شهيد شو.

د مجاهد پر جسد يې بريک ونيو، د خونخوار ټانګ بانټ داسې پرې خوځېده لکه قهرجن او کينه‌کښ اوښ چې يو څوک تر تتې لاندې کړی وي.

مونږ په دې منډو کې د يوه لوی پانې غاړې ته ورسېدو، پر ځای د دې چې لار وګورو، ما او خالقيار دواړو لاندې پانې ته ور توپ کړل، کښته په

Download more from Libtoon.com

خاورو کې ورغړېدلو، پورې مخامخ توت او د شنو اوبو ویاله وه، هغې ته مو منډه کړه، توت ته رسېدلو چې ټانګونو د پاڼې پر سر خپلې پزې را ښکاره کړې او خپل لېټونه یې دوه ځلې را ولګول، زه او خالقیار د توت تر ځنګ په یوه وړه غونډۍ ترې پناه شوو، هغې خوا ته بیا د موټر لاره نه وه، فقط موټرسایکل پرې تلای شوای.

موږ د ویالې پر غاړه په منډه وو، لږ مخکې چې تېر شوو، تر یوې وړې غونډۍ ها خوا د موټرسایکل اواز راغی، زه هم خوشاله شوم چې تر غونډۍ یو موټرسایکل را واوښت، ډیلېکس موټر سایکل و او بندېوان وزیر چې سم یې زده هم نه و، پرې ناست و. زموږ پر لوري ډېر په تېزي سره را روان شو، چې ځنګه را ورسېد له خبرو پرته یې سمدستي موټرسایکل را تاو کړ او زه او خالقیار تر شا پسې کېناستلو او د غره پر لوري مو حرکت پیل کړ.

لږ وخت ووت، د غره په لمن کې هغه کلي ته ورسېدو چې له دښمنه خوندي وو، تر موږ مخکې زیاتو مجاهدینو هم دلته پناه را وړې وه، په کلي کې د یوه جومات تر مخ ودرېدو، له موټرسایکله چې کوز شوم، استفراغ مې وکړ.

وروسته مې لږ بدن راته ارام ابسېده، له بندیوان سره مې ستړي مه شې وکړه، خندل یې، په خندا یې وویل:

نږدې رانه شهیدان شوي وئ، هسې خدای وساتلئ.

سره له دې چې ما د شهادت غوښتنه کړې وه، مګر کله چې سخته راغله، بې له دې چې هغه تمنا را یاده شي، د ځان د ژرغولو هڅه رانه سخته زیاته وشوه.

مسجد ته چې ننوتلو، ډېر مجاهدین راغلي وو او د ستړیا له لاسه په خواره خوب ویده وو.

موږ هم همدلته یو څه د خوب په نیت وغځېدلو، خو خوب نه راته، لږ

Download more from Libtoon.com

وروسته بهر ووتلم، خپل ساده موبایل مې را واخیست، روښن سیمکارت کار کاوه، خو ډېره ټکنده غرمه وه، حاجي زیربادشاه ته مې زنګ وواهه، له سعودي راغلی و او په خوست کې یې دوکان درلود. د مورکۍ پوښتنه مې ترې کوله چې څنګه ده، د معمول په څېر به چې هر وخت پر ما خواري تېره شوه، د مور حال به مې اخیست.

تر څو زنګونو وروسته حاجي صاحب تلیفون اوچت کړ، ما ځان په خبرو کې عادي ښکاره کړ، له ستړې مه شې وروسته مې د مور پوښتنه ترې وکړه، خو په ډېر عجیب غږ کې یې وویل چې مور پرون مړه شوه!

له پښو مې سېک وخوت، پر ځای کېناستم، و مې ویل:

دا څه وایې!؟؟

غږ یې راغی:

ټوکې کوم!

خولې ته مې ډېر څه راغلل، بیا مې کلمه تېره کړه چې مشر ورور دی، رانه خپه نه شي؛ نو مې ځان عادي کړ، ورته و مې ویل:

پوه وم چې ګپ کوې!

موړ چې کېناستلو لږ وروسته حال معلوم شو چې په دې تعرض کې ۲۳ نفره شهیدان شوي وو. ۷کسه په دښته کې د ټانکونو تر ټایرونو لاندې او نور د مخامخ جګړې په ګولیو غلبیل شول.

Download more from Libtoon.com

# نهيلې پرېکړه

موږ په چاریاران کې د سپینه د کلي پر قرارگاه او پوستو تر جنگ وروسته سمدستي وانه ته راغلو، د ځینو ملگرو موټر خراب وو او ځینې زخمیان مو د تداوي لپاره راوړل، طبعاً به په وانه کې د خپلو ضروري شیانو د پوره کولو لپاره دوې میاشتې او یا هم تر دې زیاتې تېرېدې.

په وانه کې زموږ د ډلگۍ د اړونده مجاهدینو بیرویار زیات شو او د امن کمېټې ته دغه رش او گڼې گونې هیڅ خوند نه ورکاوه، بالاخره یوه ورځ زموږ د حجرې نمبر ته زنگ راغی چې د امارت له خوا د قبایلو په نوم یو پلاوی راغلی چې ستاسې او د وانه د کمېټې تر منځ روانه ستونزه حل کړي، دا یې هم وویل چې که د ماښام له ډوډۍ وروسته بازار ته راشئ، هلته به چېرته کېنو او د یوه هوټل ادرس یې هم راکړ چې د زېرزمیني یو اطاق دی.

موږ په وانه کې د خپلو مجاهدینو مرکز ته حال ولېږه چې حافظ تبسم دې د بلال فاتح کور ته راشي.

د ماښام له ډوډۍ وروسته له بلال سره زه او تبسم او یو څو نور ملگري په فیلډر موټر کې کېناستلو، وانه بازار ته روان شوو، دا بازار پنځلس دقیقې لرې و. کله چې ورسېدو د امارت له خوا له را لېږل شویو قبایلي مشرانو سره مو

Download more from Libtoon.com

رابطه وکړه، هغوی ځای را وښوو، د وانه د بازار په منځ کې یو مارکیټ و، همالته د زیرزمیني اطاق ته روان شوو.

موټر مو په پارکینګ کې ودراوه.

په لاره کې یو مجاهدشکله کس ولاړ و، د وانه د کمېټې د یوه قوماندان «تاج» ملګری ښکارېده، هغه مو هرکلی وکړ.

کوټې ته چې ننوتلو یو دنګ او غټ سړی او دوه نور سپینږیري ناست وو، زموږ په لیدلو را ولاړ شول. له روغبړ وروسته دنګ او غټ سړي د ځان له تعارفه شروع وکړه، و یې ویل:

زه مولوي عنایت الله په قوم ځدران او تر ځنګ ملګری مې مولوي عبدالباقي حقاني، همدا ډول دا بل انډیوال مې ملا عبدالقیوم پاچا دی، موږ درې واړه د امارت له خوا د قبایلو د کمېسون اعضا یو.

مولوي عنایت الله پسې زیاته کړه:

موږ ملا شیرین اخوند «د هغه وخت نظامي مسوول» را لېږلي یو او هڅه کوو چې ستاسې او د وانه د کمېټې تر منځ ستونزه حل کړو.

مولوي عنایت الله د کیلې د جوس غټ ګیلاس ته لاس ور اوږد کړ، غړپ یې ترې وکړ او بیا یې خبرې پیل کړې:

موږ د کمېټې د مسوولانو ټولې خبرې واورېدلې، دوی دلته ستاسې له ملګرو ډېر په تکلیف دي او له کمېټې سره د پاکستان د حکومت ارادې هم تاسې ته ښې نه دي. ښه دا ده چې له وانه خپل ملګري او کورونه ځنګ ته کړئ او د ځان د اوسېدو لپاره کوم بل ځای پیدا کړئ.

په دې وخت کې چې ما د خپلو ملګرو حالات را یاد کړل، سخت خپه شوم، زموږ لپاره د اوسېدو بل هیڅ ځای نه و، حافظ تبسم ته مې وکتل، په سترګو کې

Download more from Libtoon.com

یې اوښکې ډنډ شوې، د بلال رنګ تک تور شو، سره له دې چې بلال به د چا سخته خبره نه شوای زغملای، خو په دې وخت کې زه هم پوه نه شوم چې څنګه یې حوصله وکړه، درې واړو ته یې په نرمه لهجه خبرې پیل کړې:

څو میاشتې کېږي چې همدلته په وانه کې زما ځوان ورور حضرت فاروق د پاکستان پوځیانو شهید کړ، زما که دلته مشکلاتو جوړولو ته زړه وای، په هماغه ورځ مې جنګ کولای شوای، حال دا چې زما د ورور جسد یې څلور شپې د وانه په کمپ کې وځنډاوه، همدې پوځیانو نه راکاوه، خو موږ بیا هم په دې خاطر صبر کاوه چې د مجاهدینو د اوسېدلو ځای ورک نه شي، هیڅ مشکل مې جوړ نه کړ. اوس چې تاسې د امارت له ادرسه راغلي یاست او دلته مو هیئتي شروع کړې، پرته له دې چې زموږ ملګرو ته سیمه مشخصه کړئ، د وتلو امر کوئ. د تأسف ځای دی، کاشکې تاسې لومړی زموږ مشکلات هم کتلي وای، ولې چې موږ یو کور یا لس کوره نه یو، دلته په سلګونو ملګري اوسي، دا به زه چېرته ځای کړم؟

مولوي عنایت الله په لاس کې نیولی ګیلاس پر ځمکه کېښود، و یې ویل:

ستاسې خو پکتیکا شته!

حافظ بلال وویل:

هلته د کورونو اوسېدل په ژمي کې نه کېږي، د شپې د امریکایانو عملیات وي، موږ به مجاهدین پټ او که کورونه؟

تر لږ چوپتیا وروسته یې بیا وویل:

وسایط خرابېږي، اکمالاتو ته ضرورت وي، په پکتیکا کې یې له کومه کړو؟

تر ډېرو خبرو وروسته پر دې هوکړه وشوه چې سمه ده موږ به زرمیلنې ته کډه شو.

زارمیلنه د جنوبي وزیرستان لوېدیځه صحرا وه چې د انسان ژوند ښخي پکې

Download more from Libtoon.com

سخت و، ټولې خړې خاورې وې، د ژوند هره اسانتیا پکې صفر وه.

موږ چې کله دلته د زرمیلنې پرېکړه وکړه؛ نو مو راغلي هیئت ته له غوسې دا هم له خولې ور ووتل چې ګوره د وانه د کمېټې وال خو د زرمیلنې په لار افغانستان ته د تشکیلونو لپاره ځي، هغه به هم پوه کړې چې پر موږ نور را نه شي، که نه موږ به یې مخه ونیسو!

مولوي عنایت الله وویل:

سمه ده، هغوی تاسې مه پرېږدئ.

د بلال په غږ کې نهیلي او غوسه ګډه وه، و یې ویل:

ګوره زرمیلنه زما کرښه شوه، د وانه له کمېټې سره که راغلل وژنم یې!

مولوي عنایت الله بیا هم هماغه خبره وکړه:

هو د هغوی مخه ونیسئ!

نور همداسې ترې را ولاړ شوو، لس ورځې وخت مو ترې واخیست چې ټول ملګري به له وانه باسو.

کور ته پر لاره وو، په داسې سخت وخت کې د قبایلو د کمېسیون د اعضاوو سختو پرېکړو ډېر په تشویش کې کړی وم؛ دا فیصله ما ته یوه ظالمانه پرېکړه ښکارېدله، د عنایت الله په لاس کې د کیلې ډک ګلاس مې هیڅ له یاده نه وت، بار بار به مې په سترګو کې ګرځېده، په دې اند وم چې عنایت الله مولوي صاحب چې کومې خبرې کولې، هغه د ده خبرې نه وې، ښځي لکه د وانه د کمېټې مسوول چې راسره مخامخ وي.

زموږ ملګرو ټولو همدا ویل چې دا پلاوی یې د پسونو په خوراک خطا کړی، د وانه د کمېټې وال به چې درسره مخامخ شول، ضرور به یې د مېلمه‌پالنې لپاره پسه درته حلالاوه.

Download more from Libtoon.com

مـا دا فکـر هغـه وخـت ډېـر کاوه چې کاشکې مې د امـارت د مشـرانو غوړونـه د مولـوي عنایـت اللـه پـر دې ظالمانـه پرېکـړه ور خـلاص کـړي وای او ورتـه ویلـي مې وای چې زمـوږ لـه مجاهدینـو سـره دې سـخت ظلـم وکـړ او هغـه هم په داسې وخـت کې چې مجاهدینـو د ځپلکـو پیسـې نـه درلـودې، تـا لـه وانـه همداسې بار کـړل، د لارې لپـاره دې هـم هيـڅ د خـرڅ ترتیـب ور برابـر نـه کـړ.

مـوږ ملګـرو د مولـوي صاحـب عنایـت اللـه پـر دې خبـره هـم نظرونـه وړانـدې کـړل چې څنګـه د امـارت پـه استازیتوب مـوږ تـه امـر راکـوي چې کـه د وانـه د کمېټـې وال زرمیلنـې تـه درتلـل، اجـازه مـه ورکـوئ چې داخل تـه لاړ شـي او حتی د ویشـتلو یـې هـم وویـل، ځکـه لـه لویـه سـره خـو د وانـه د کمېټـې وال هـم پـه یـو ډول لـه امـارت سـره همـکاري کـوي چې د جهاد لپـاره د جنوبـي وزیرسـتان ځوانـان داخـل تـه لېږي.

مـوږ ټـول پـر دې متفـق شـوو چې مـوږ بایـد د وانـه د کمېټـې لـه والـو سـره پـه هيـڅ صـورت پـه فسـاد کې ښـکېل نـه شـو، ځکـه بیا بـه اصلي هـدف رانـه پاتـې وي، همـدا هـدف و چې مـوږ پـه خپلـو کې لـه وانـه څخـه پـر وتلـو همنظـري شـوو او فیصلـه مـو وکـړه چې بایـد وانـه «جنوبـي وزیرسـتان» چې زمـوږ د پکتیـکا د مجاهدینـو وروسـتی مورچـل و، پرېـږدو او د ځـان لپـاره بـل ځـای انتخـاب کـړو.

Download more from Libtoon.com

# اوښلنه موسکا

خپـل ټـول مربوطـه مشـران ملګـري مو را وغوښـتل، په پېښـور کـې زمـوږ د اکمالاتو او همدارنګـه د زخميانـو خدمتـګار رحيـم الله عمـري تـه مـو هـم احوال ولېږه چې نظـر راکـړي چـې ملګـري چېرتـه مېشـت کـړو؟

د ځينـو نظـر دا و چـې د کويټـې او کچـلاک خـوا تـه ځـو او ځينـې پـه زارميلنـه راضـي وو، خـو بالاخـره پرېکـړه دا وشـوه چـې د بـلال کـور بايـد پـه پټـه پېښـور تـه نقـل کـړو او نـور ټـول ملګـري پـه زارميلنـه کـې مرکزونـه خـلاص کـړو، داخـل تـه بـه د تـګ تيـاری ونيسـو او کوښـښ بـه وکـړو چـې پـه خپـل وطـن کـې لـه دښـمنه سـيمه پاکـه او هلتـه د اوسـېدو مېنـه پيـدا کـړو.

مـوږ درې ورځـې وروسـته د کـور د بارولـو لپـاره لاری موټـر را وغوښـتل، زمـا مشـر ورور حاجـي زيـر بادشـاه زمـا بچيـان هـم د فـاروق فاتحـې تـه پـه ډېـره لـرې لاره راوسـتلي او همدلتـه يـې پرېښـي وو، ځکـه چـې د فـاروق تـر شـهادت وروسـته زما او د بـلال نظـر يـو و، هغـه دا چـې بايـد دلتـه پاتـې شـم او د شـهيد فـاروق پـه ځېـر د تنظيـم د ملګـرو خدمـت شـروع کـړم، بچيـان مـې هـم همدلتـه راسـره وي، ځکـه خـو مـې د بـلال پـه کـور کـې ځـان تـه د وړکـي کـور پـر جوړولـو هـم کار روان کـړی و چـې اوس يـې يـوه کوټـه تکميـل وه، مګـر خبـر نـه وم چـې لـه دې ځايـه

Download more from Libtoon.com

به هم په داسې هجرت اړ کېږم لکه په شمالي وزیرستان میرانشاه کې چې جوړ شوی کور په داسې حال کې رانه پاتې شو چې هیڅ شپه مې پکې تېره نه کړه.

موږ کور ټول د بلال د تره زوی حضرت عمر ته وسپاره، ورته و مو ویل چې په پېښور کې یې پالنه پر تا شوه او د اړتیا پر وخت به له موږ سره رابطه کوې. سهار مو ټول د کور وال په یوه موټر کې سپاره کړل او سامان مو په یوه مازدا کې بار کړ، د کورنۍ د غړیو په رخصتولو موږ په زړه کې مطلق په دې فیصله وو چې دا وروستی رخصت دی او بیا به هیڅ وخت یو ځای نه شو، ځکه پېښور ته زموږ تګ د خوب لیدل و. موږ دا خپګان پر څېرو نه را څرګنداوه، پوهېدو چې زموږ تر څنګ پر ولاړو مجاهدینو بد اثر کوي، ځکه خو زموږ ټولو پر شونډو یوه غمجنه موسکا ځغلېده.

مجاهدینو حالات څارل، کله چې د کور له غړو ډک موټر حرکت وکړ او د کور ماشومانو لاسونه جګ کړل، زموږ تر څنګ ولاړو مجاهدینو ځان ټینګ نه شو کړای، په چیغو چیغو یې وژړل، ما په خندا ورته وویل:

ولې څه شوي اخېر خبره څه ده؟

لالو چې په غازي تخلص بانډې پیژندل کېده، د پکتیکا د سروضې ولسوالۍ د مشرانو ملګرو له جملې و، پر هغه بانډې زما خبرې دومره بد اغېز وکړ چې ښکنځل یې وکړل او راته و یې ویل چې ته ماشوم یې؟ الله دې غرق کړه، نن قیامت دی، قیامت!

ما هم له غربوه هیڅ و نه ویل، خو له ملګرو مې ځان جلا کړ او د یو ساعت په مخه یو ګوښې ځای ته لاړم.

Download more from Libtoon.com

# د تیارو لارې

دوې ورځې تېرې شوې، موږ ټولو ملګرو د مرکزونو سامان را ټول او زرمیلنې ته د هجرت تیاری بشپړ کړی و. له وانه تر هغه ځایه پورې یو نیم ساعت مزل و چې پوله یې د پکتیکا له ګومل سره نښته، زرمیلنې ته په رسېدو موږ وار له مخه ځینې زاړه او خاورین کورونه کرایه کړي وو.

(دلته باید د زرمیلنې یو تصویر راوړل شي)

موږ په دغو کورونو کې ځینې اضافي شیان کېښودل او د حفاظت لپاره مو دلته یو څو نفره پرېښودل، ټول ملګري شاوخوا ۴۰۰ سوو ته رسېدل، د ورسک په نوم د پاکستانیو ملېشو پر چېک پواینټ واوښتلو او چارباران ته مو مزل پیل کړ. ورسک د اوښتو را اوښتو وروستی پرانیستې دروازه وه چې بیا دا هم وتړل شوه.

د چارباران له سترې او ستومانه مزل څخه لا دمه نه وو چې بېرته د سپینه پر قرارګاه او پوستو د تعرضي برید پلان جوړ او داسې ورځ هم راغله چې دغه تعرض ته عملاً روان شوو.

په دې تعرض کې زما مسوولیت د ویډیو ریکارډ و، له ما او یو بل مجاهد ملګري «خادم» سره چې وروسته ډلګی‌مشر شو، کوچنۍ سوني کېمرې وې

Download more from Libtoon.com

چې د سپینه لـه قـرارگاه سـره پـه پنځـوس متـري کـې د ویډیویـي ریـکاډ لپـاره کېناسـتلو ، دا ویډیـو بیـا د الامـارة سـټیډیو لـه خـوا د عمـري کاروان پـه پنځـم نمبـر اصـدار کـې نشـر شـوه.

تعرض ښـه و ، ملگـرو جنـگ وکـړ ، خـو شـهیدان هـم وشـول او دښـمن بیـا هـم رابانـدې زورور شـو ، فتـح مـو تـر لاسـه نـه کـړه او بېرتـه خپلـو مرکزونـو تـه را وگرځېـدو ، پـه جنـگ کـې زخمـي ملگـري مـو د زرمیلنـې پـه طـرف روان کـړل.

مـوږ ځینـې ملگـري چـې لـه جملـې یـې زه هـم وم ، لـه زخمیانـو سـره زرمیلنـې تـه روان شـوو او پرېکـړه مـو وکـړه چـې ټپیـان بـه وانـه تـه باسـو ، ځکـه د وانـه لـه کمېټـې سـره د تـړون یـو مـاده دا وه چـې زمـوږ د زخمیانـو تـداوي او د وسـایطو جوړولـو تـه اجازه ورکـوي. شاوخوا پنځـه موټـر وو چـې تـر ټولـو زیـات زخمیـان زمـا پـه موټـر کـې بـار وو ، زمـا د موټـر د سټرینگ بکـس یـوه الـه چـې مـوږ بـه ورتـه لړمـه ویـل ، ماتـه وه او پـه ربـړ مـې تړلـې وه.

مـوږ ورځ او شـپه پـه مـزل تېـره کـړې وه چـې ماښـام ناوختـه لـه زرمیلنـې سـره جوخـت د ورسـک دروازې تـه ورسـېدو ، زمـا د موټـر لېټونـه پـه یـوه ځنځیـر ولگېـدل چـې لاره پـرې بنـده وه. موټـر مـې ودراوه ، خـادم تـه مـې ویـل لکـه چـې پاکسـتاني ملېشـو لاره بنـد کـړې ، تـه ور کښـته شـه وگـوره. خـادم چـې لـه موټـره کښـته کېـده ، د تالاشي لـه پوسـټ څخـه پـرې بیجلـي رڼـه شـوه او د بنـون د مروتـو پـه ژبـه یـې پـرې غـږ وکـړ:

څوک یاستئ؟

خادم ور غږ کړ:

افغان طالبان یو ، زخمیان راسره دي ، وانه ته ځو!

خو د ملېشې والو وویل چې اجازه نه شته.

Download more from Libtoon.com

د دې خبرې په اورېدو زه هم راکښته شوم، ټوپک پر اوږه په زنګېدلو قدمونو ور روان شوم، سپاهي غږ وکړ:

مخ ته مه راځه!

ما په غوسه وويل:

نو څه وکړو؟ دا لس کسه زخميان چې مې په موټر کې بار دي دلته ووژل شي؟

سپاهي بيا وويل:

موږ ته اډر نه شته چې اجازه درکړو!

خو په همدې خبرو خبرو کې د ملېشو ټاپو ته ور نږدې شوم او لاندې ودرېدم، فکر مې وکړ چې که جنجال جوړ کړم او په زور لاړ شو، همدا يوه لاره را پاتې ده، سبا به يې پوځ را نقل کړی وي، دا به هم راباندې بنده وي؛ نو مې نرمه لهجه ورسره شروع کړه:

خير دی، موږ شاخوا اته موټره يو، نن اجازه راکړئ، تاسې هم پښتانه ياست موږ هم، که په اسلام نه وي د پښتو په بنياد خو اجازه راکړئ!

د ملېشې وال وويل:

باووو اتو موټرو ته خو اجازه نه شو درکولای!

ـ ښا څنګه وکړو؟

ـ دوو موټرو ته به اجازه درکړو او له زخميانو يې بار کړئ.

څو چې موږ خبرې کولې، زموږ تر شا د نورو ملګرو موټر هم را ورسېدل، موږ په چاربارانو کې مشوره کړې وه چې که ټولو موټرو ته پر چيک پوانيټ د اوښتلو اجازه نه وه، بايد هغه موټر ولېږو چې خراب وي، زخميان بايد څکه هغوی واړوي چې هلته بيا موټر هم جوړ کړي. ما چې دلته له سپاهي سره

Download more from Libtoon.com

خبره پاکوله او د ټولو موټرو اجازه مې را اخیستله، د ولاړو موټرو له جملې دوو حرکت را وکړ، ما فکر وکړ چې یو زما دی، ځکه چې زما موټر خراب و او په لاره کې تر ټولو بار هم پکې زیات و، شاهین په خپل موټر کې له لارې پوازې دوه زخمیان ورسره را اخیستي وو، نور یې له ما سره له سپرو کسانو یو هم ورسره و نه خېژاوه.

ما مې ډرېور ته ور غږ کړ:

خادمه! خادمه! دومره موټر مه راوله، دلته دا خبره صفا کړم!

خادم مې تر شا غږ وکړ:

زه خو دلته یم!

-بیا هغه څوک دي؟

-نه پوهېږم!

موټر چې زما خوا ته را ورسېدل، یو د قاري مجنون په نوم د سروضې ولسوالي د یوه ډلګی مشر موټر و چې خراب هم و او حق یې هم و چې وانه ته لاړ شي، دویم موټر د شاهین را ورسېد چې د تګ هیڅ حق یې نه و، زما له موټره یې ټول زخمیان اوس راکښته کړي او په خپل موټر کې یې بار کړي وو.

شاهین مې ودراوه او ورته و مې ویل:

دا ظلم نه دی چې ټوله ورځ او شپه مې مزل را وکړ او زخمیان مې را ورسول، په لار کې دې نه رانه اخیستل، خو چې کله دلته له مشکلاتو د بچ کېدو وخت شو، خپل روغ موټر دې زما له زخمیانو را بار کړ او زما نوبت نیسې؟

شاهین غلی و.

بیا مې ورته وویل:

Download more from Libtoon.com

تـر ټولـو زه مخکـې را ورسـېدم او کـولای مـې شـوای چـې تاسـې پرېـږدم، زه موټـر وارووم، خـو بیـا مـې هـم انسـانیت او صبـر وکـړ، خـو تـا هیـڅ مسـلماني او انسـاني مراعـات و نـه کـړ، اخېـر دا څنګـه د مسـلمانانو امیـر یـا یـو جهـادي قومانـدان یـې؟ ډارېږې نـه چـې خـدای بـه پوښـتنه درنـه وکـړي؟

شاهین یو دم غوسه شو، و یې ویل:

پخپله راځه، که راتلای شې راشه، که نه زه درځخه لاړم!

مـا هیـڅ غوسـه کنتـرول نـه کـړه، بې واره مـې لـه خولـې ښـکنځلې ور ووتلـې، خـو شـاهین چـې د سـترې سـینې څښـتن و، هیـڅ یـې و نـه ویـل، موټـر یـې روان کـړ او مـوږ څـو موټـره پاتـې شـوو.

ډېـر خپـه او سـخت مایوسـه شـوم، غوسـه مـې پـه هیـڅ نـه سـړېدله، مـا کـه ډېـر هم پاکسـتانیو ملېشـو تـه وویـل چـې مـوږ تـه هـم اجـازه راکـړي، خـو را یـې نـه کـړه.

مـوږ پـه زور هـم تـر تېرېـدای شـوای، خـو ځکـه مـو څـه نـه ویـل چـې بلـه ورځ بیـا هـم ورتـه اړ کېـدو.

بېرتـه موټـرو تـه راغلـو او ځـان مـو یـوې بلـې لـرې لارې تـه واچـاوه، دا لاره لـه انګـور اډې سـره پـه خـوا کـې وه چـې پـه غـره کـې مـو شـاوخوا اتـه سـاعته مـزل تـه تـکل وکـړ او پـه دې تـوره شـپه روان شـوو.

ټولـه شـپه مـو پـه لاره تېـره کـړه او بالاخـره سـهار شـاوخوا اتـه بجـې لـه انګـور اډې سـره پـه یـوه پټـه لار وانـه تـه واوښـتلو، څـو ورځـې مـو پـه وانـه کـې پټـې تېـرې کـړې، پـه چـا مـو ځانونـه نـه لیـدل او د زخمیانـو تـداوي او د موټـرو جوړېـدل مـو پیـل کـړي وو.

مـوږ پـه وانـه کـې څـو شـپې تېـرې کـړې، بلـه ورځ خبـر راغـی چـې د پکتیـکا د چاربـاران ولسـوالۍ اړونـد د سـپینه کلـي لـه قـرارګاه او پوسـتو عسـکر تښـتېدلي او

Download more from Libtoon.com

سیمه فتح شوې. سپینه کلی ښایسته سیمه وه، ونې او شنه پټي یې درلودل، موږ یو څه خوښ شوو چې د ژوند لپاره مو یوه سیمه پیدا کړه، وانه ته راغلي ملګري اوس ډېر عاجل سپینه ته روان شول، د چا چې کارونه نیمګړي پاتې وو، هغه یې هم ژر ژر بشپړ کړل.

د ورسک په دروازه ګوملې ته را واوښتو او بیا مو د سپینه پر خوا په لوړو ژورو کې شاوخوا یوولس ساعته مزل پیل کړ.

Download more from Libtoon.com

○○○

په چاربـاران کـې د سـپينه د شـنو فصلونـو سـيل هغـه ارمـان و چـې مـوږ پـه افغانسـتان کـې بيـا بيـا کـړی و، مـوږ کلونـه انتظـار ورتـه وګالـه. اوس ۲۰۱۵م کال و چـې لـه خوسـته زمـا د مسـافرۍ ډېـر وخـت کېـده.

مـوږ پـه افغانسـتان کـې هـواره او شـنه دره نـه وه ليدلـې چـې غرونـه دې تـرې لـرې وي او ګـڼ کلـي دې ولـري، ځکـه مـوږ زيـات وخـت د غرونـو پـه څوکـو او يـا لمنـو کـې تېـر کـړی و، د سـپينه د کلـي اوسـېدونکي هـم خـوښ وو، هغـوی پـر دې شـکرونه ايسـتل چـې لـه جګـړو خـلاص شـول، نـور بـه مجاهديـن پـه تعرضـي شـکل پـر قـرارګاه نـه راځـي، خـو داسـې هـم نـه وه چـې دوی په ټولـه مانـا د جنګ لـه خـرپ او ترپـه پـه امـن شـوي وو، ځکـه شـپنيو امريکايـي عملياتـو يـې ډېـر ځوانـان واخيسـتل، زمـوږ هـم د سـپينه فتـح منـزل تـه رسـېدل نـه وو، مخامـخ د اومنـې ولسـوالي قـرارګاه او ورسـره دفاعـي پوسـتې پاتـې وې چـې بايـد د دښـمن لـه شـتونه پاکـې شـوې وای.

مـوږ پـه سـپينه کـې شـاوخوا درې مياشـتې تېـرې کـړې، د وانـه پـه پرتلـه مـوږ تـه ځکـه دا سـيمه ارزښـتمنه وه چـې واک يـې زمـوږ و او ازاد او خپلـواک پکـې ګرځېدلـو.

Download more from Libtoon.com

څلور میاشتې تېرې شوې، يـو ځـل بیـا د بـلال پـه مشـري زرمیلنـې تـه لاړو، هـدف مـو ملگـري پـه ژمنـي توکـو سـمبالول وو، ژمـی را نـږدې شـوی و او بـل لـه پېښـور، بنـون، ټانـک او ډېـره اسـمعیل خـان څخـه وزیرسـتاني او ځایـي ملگـري چې تشـکيل تـه راغلـي وو، وخـت يـې پـوره و، د هغـوی بدلـول هـم لازم و.
مـا بـه کلـه کلـه لـه ځـان سـره فکـر وکـړ چې کاشـکې مـا هـم د دمې ځـای لـرلای، يـوه يـا دوې میاشـتې مـې پـه تشـکيل کـې تېـرولای، نـور کال مـې لـه خپلـو بچیانـو سـره وای، خـو داسـې نـه کېـدل، د خپلـې ډلگـۍ د ملگـرو پالنـه اوس زمـا پـر غـاړه وه، زمـوږ ډلگـۍ ډېـرې زیـات مجاهدیـن لـرل، پـه ختیځـه سیمه کـې بلـه دومـره لویـه ډلگـۍ مـا نـه وه لیدلـې چې تـر څلـور زره ډېـر مجاهدیـن دې ولـري، مـوږ بـه یـوه تشـکيل تـه ان تـر شـپږو سـوو مجاهدیـن هـم پـوره کـولای شـوای، خـو برعکـس نـورو ډلگیـو بـه دا شـمېر تـر شـلو تنـو نـه شـوای اړولای.

Download more from Libtoon.com

# زه یوازې شهید کېږم

موږ یوه میاشت په زرمیلنه کې دمه وکړه او په پېښور کې مو زموږ د ملګري عمري په لاس د تشکیل ملګرو ته کوټونه، بوټونه او همدارنګه د ژمي لباس اخیستی و.
دا ځل مو د تعرضي برید دایره د پکتیکا تر اومنې ولسوالي راګرځېده، د زرمیلنې په مرکز کې د تشکیل په ملګرو پسې د البسې «د ژمي لپاره لباس» وېش زما پر غاړه و، شاوخوا پنځه ډبل سیټه ډاټسنان د ژمي له لباسه ډک وو او پر ملګرو مې تقسیم کړل، څه چې پاتې شول همدلته مو په مرکزونو کې ځای کړل.



Download more from Libtoon.com

مور په سهار بیا د چارباران په طرف مزل پیل کړ، شاوخوا ۲۰ ډاټسنان به وو، ټول له ملګرو ډک وو، چارباران ته څکه روان شوو چې اومنه له چارباران سره نښتې وه، له ډېرو تکلیفونو وروسته ماښام چارباران ته ورسېدو او ځانونه مو ځای پر ځای کړل.

پر اومنه د تعرضي برید د پلان څو شپې نورې هم ووتې، خو بالآخره دا انتظار را لنډ شو او داسې مازدیګر راغی چې ملګري مو د اومنې پر طرف ور روان کړل.

مور د زېړوك ولسوالۍ اړوند ملګري له غلچکي سره شوو، ما ته یې له سیمې په موټر کې د زخمیانو او شهیدانو د ایستلو مسوولیت راکړ، ما موټر بار کړ، غلچکي مې د مخ په سېټ کې کېناوه، په نږدې یو ساعت کې د ماښام لمانځه ته په اومنه کې ټاکلي خاورین جومات ته ورسېدو.

مور د ځایي برحاله قطعې مسوول حاجي حماس ملګرو رهبري کولو، حماس ډلګۍ مشر هم و.

دا دوه کسان چې په جنګ کې یې هم د برخې اخیستو نیت و، یو ځوان او دویم سپین ږیرى و.

سپین ږیرى په زابل مشور و، خو مور به بابا باله.

بابا د جنوبي وزیرستان مسید و، مور به په جومات کې ګپې هم وربانـدې کولې، په خپل منځ کې به مو په خندا خندا اشارې سره کولې چې اوس به بابا څه کوو، خو په نیمه لار کې به یې له ډز سره ساه ووځي.

بابا به هیڅ نه ویل، یوازې موسک به شو او مور ټولو ته به یې وکتل.

راتلونکې شپې ته د جنګ شپه وه، خو د ماښام له اذانونو پس د مخابرې له لارې خبر راکړل شو چې نن شپه تعرض معطل شو او تر سبا مازدیګره پورې

Download more from Libtoon.com

همدلته صبر وکړئ.

د اندېښنو له لاسه خوب نه راته، لکه څه ډول چې د جنګ د کیسو نندارچیان زموږ پر ژوند زړه خوري چې کوم یو به زخمي او کوم یو به شهید وي، همدا ډول موږ بیا هر یوه د ځان په اړه اندېښمن سوچونه کول، د هر ملګري به نرۍ تبه وه چې زما حال به څه وي؟ زخمي که شهید؟

شپه ورو ورو سهار ته روانه وه، نیمه په خوب او نیمه په اندېښنو تېره شوه.

د سهار د چای تر څښلو وروسته زه هم بهر د جومات د سهار تازه پېتاوي ته راووتلم، دا چې زما څنې تازه پر اوږو را اوښتې وې؛ نو مې جېب ته لاس کړ، اینه او ږمنځ مې را وخیسته، سپین چترالی پکول مې پر ګونډه کېښود او د څنو په ږمونځولو مې شروع وکړه، بابا «زابل» هم راووت، زما تر څنګ یې غلی سلام واچاوه، زما له خوابه وروسته ما ته مخامخ کېناست، غلي یې وویل:

ملنګ یاره!

زه حیران شوم چې بابا خبرې وکړې، ما په حیرانتیا ورته وکتل:

وایه بابا څه دي؟

د بابا شونډې وخوځېدې:

زه شهید کېږم!

- الله دې نه کړي، ولې؟

زړه ته مې ولوېده چې سړی شهید کېږي، ځکه ډېر ملګري چې تر جنګ له مخه به یې وویل چې شهید کېږم او په خبره کې به یې صداقت ښکاره شو، هغه شهید به شو.

بابا وویل:

خوب مې لیدلی.

Download more from Libtoon.com

-زه خو درسره نه یم؟

بابا وخندل:

نه نه، زه یوازې شهید کېږم.

ما په تلواره وویل:

بابا خیر دی په جنت کې زما سفارش هم وکړه!

-ولې نه.

پسې زیاته یې کړه:

زموږ د ډلګۍ له ملګرو سره زما یوه کتابچه ده، ما خپل شعرونه پکې لیکلي دي، له تا مې هیله ده چې هغه کتابچه ته درسره وساته!

سترګې یې ورپولې، بیا یې وویل:

ګوره دا د خوب خبره هیڅ ملګري ته اوس و نه کړې.

له دې خبرې سره سم پاڅېد، تر هغې مې په حیرانو سترګو پسې کاته چې د جومات په خړه لرګینه دروازه یې ورووستی قدم هم دننه شو.

له ځان سره په خیالونو کې ډوب شوم:

دا بابا له وزیرستانه زموږ د وطن د ازادۍ لپاره دلته راغلی او خپل کور او بچیان یې پرېښي، موږ به د وزیرستان حق ادا کړای شو؟ موږ به د دوی د همکارۍ لپاره داسې قربانۍ ورکړو؟

Download more from Libtoon.com

ooo

ماښام ترورمی خوره شوه، موږ ته د ورځې په جریان کې ویل شوي وو چې تاسې باید د شپې تر دوولسو بجو ټاکلي هدف یعنې د اومنې لوړې دفاعي پوستې ته ځانونه ورسوئ.

تعرضي برید دلته په اومنه کې د نورو هغو په پرتله ځانګړی او بېل ترتیب شوی و، په نورو تعرضونو کې به موږ یوې پوستې ته شل او یا هم تر دې زیات تعرضیان ځانګړي کول چې شاوخوا پنځه به یې راکټیان وو او بیا به له هر راکټي سره پنځه مرمۍ وې، درې او یا تر دې کم به د پیکا او نور د ټوپکو ملګري وو، په دفاع کې به بیا پته نه لګېده، هر څومره به چې زیات وو، ښه به و.

دلته د مولوي حماس د پلان له مخې تر تیب نوی و، تعرضي ملګري څلور تنه شول چې یو یې قوماندان غلچکی او دویم پخپله بابا و، دریم د زېړوک د ولسوالۍ اړوند د انګار په نوم یو مجاهد او څلورم اوس رانه هېر دی.

په دوی پسې څلور تنه نور دفاعیان شول چې هغوی به نږدې د کومک لپاره ورته ناست وو او بله وروسته ناسته دفاع وه چې په شپږو تنو پوښل شوې وه.

دلته د جنګ ترتیب هم بېل و، د نورو تعرضي بریدونو په څېر به دفاعي

Download more from Libtoon.com

اول دز نــه شـروع کاوه، تعرضـي ملګـري بـه مورچـل تـه غلـي غلـي ور روان وو، ناڅاپه بـه پوسـتې تـه ور داخـل شـول او جنـګ بـه يـې شـروع کـړ. تـر دې مخکـې بـه د ورځـې پـه جريـان کـې ولسـوالي او دفاعـي پوسـتې پـه درنـدو سـلاحګانو (هشـتادودو، هشـتادوپنج او مزايلـو) ځـو ورځـې پرلهپسـې وويشـتل شـوې.

پـه نـورو تعرضـي بريدونـو کـې بـه داسـې و چـې دفاعـي ملګـرو بـه پوسـته ښـه وويشـتله، بيـا بـه تعرضـي ملګـرو پـرې ور منـډه کـړه او جګـړه بـه شـروع شـوه.

پـه دې جنـګ کـې زه او خـادم يې چـې د برمل يو مجاهـد و، زخميانو او شـهيدانو را ايسـتلو تـه ځانګـړي کـړي وو، موټـر مو له ملګـرو بار کړ، له مسـجده مو پـه تياره کې شـاخوا يـو سـاعت د اومنې ولسـوالۍ پر لـوري مزل وکـړ، مخکې رهبـر وويل چې تر دې ورانـدې موټـر بايـد مـزل و نـه کـړي، مـا هم موټر ځنـګ ته کړ، د بريـک بتۍ مو تولـې پـه ختـو «چيکړو» لړلې وې چې روښـنايي يې ښکاره نه شي.

ټـول ملګـري مـو همدلتـه راکښـته کـړل، موټـر مـې لـه کويټـې څخـه د جهـاد لپـاره تـازه راغلـي هلـک تـه پرېښـود، مـا خـادم تـه وويـل چـې تـر پوسـتې پـورې زه او تـه هـم پيـاده ورسـره ځـو چـې لاره ووينـو، کـه خـدای مـه کـړه ملګـري زخميـان شـوي وو چـې بيـا غلـط نـه شـو او ژر ځانونـه ور رسـوو.

د ولسـوالۍ او پوسـتو عسـکر وار لـه مخـې خبـر وو، خـال خـال دزې يـې کولـې او مـوږ پـه دښـته کـې ور روان وو، ځينـې وخـت بـه يـې د پيـکا ضربـه زمـوږ پـر طرف شـوه، هغـه هـم پـه داسـې شـکل لکـه مـوږ يـې چـې ليدلـي يـو. مـوږ بـه پـه دښـته کـې خـواره واره شـوو، يـو ځـل زمـا تـر ځنـګ روان خـادم د پيـکا پـه مرمـۍ پـه مټ کـې ولګيـد، خـو د خـدای فضـل و مرمـۍ لانـدې نـه وه کـوزه شـوې، يـوازې جمپـر يـې ور سـوری کـړ.

مـوږ تـر ښـه ډېـر پيـاده مـزل ورروسـته د پوسـتې د غـره لمنـې تـه ورسـېدو، لـه مـوږ

Download more from Libtoon.com

به پوسته ۱۵۰ متره شاخوا لرې وه، جنګي ملګري غلي ناست وو او یو نیم به پکې اذکار ویل، خو ناڅاپي بابا ودرېد او په فاتحانه غږ یې وویل:

اوس به د نر او ښځې پته ولګېږي!

له دې خبرې سره جوخت یې قسم وخوړ چې که هر څوک وتښتېده، ولم یې، خو که څوک جنګ ته نه ځي اوس دې لا ووايي، واپس دې شي.

بابا ښايي د هغو ټولو تحقیرونو او ټوکو غچ اخیست، خو یوازې زه پوهېدم چې هغه خپل بار او بستره تړلي، د ابدي سفر نیت لري؛ نو وېره ورته نوره مانا نه لري.

ملګرو یو او بل ته وکتل، ټول غلي وو، ښايي هر یوه ته د بابا پخوانی خاموشي ور یادېده. لږ وروسته غلچکی را پاڅېد، بابا ته یې کړه:

ماشاءالله همدا ستا په څېر ملګری مې خوښ و، خدای را نصیب کړ!

غلچکي د بابا خبره نوره هم پسې پخه کړه، ملګرو ته یې مخ را واړاوه او و یې ویل:

د بابا خبره مو واورېدله؟

ځینو سرونه د موافقت په دود وخوځول او ځینو په خوله «هو» وویل.

غلچکي زیاته کړه:

یوازې تاسې به نه ولو، که مور تښتېدلو موږ هم وولئ، درته اجازه ده!

بابا له خوشالي پر غلچکي غېږ وګرځوله، ورته و یې ویل:

یاره منم دې، همدا خبره شوه!

غلچکي ما ته مخ را واړاوه:

ته خپل موټر ته ځان رسوه، خو چې چمتو ولاړ یې!

ما وویل:

Download more from Libtoon.com

ستاسې له غېږ سره به زما موټر ان شاءالله دلته ولاړ وي.

کله به چې په تعرضي بریدونو کې شامل شوې، د زخمیانو ایستل او یا په جنګ کې دفاع به ډېره درته اسانه شوه، خو که به دې په تعرضي بریدونو کې برخه نه وه اخیستې بیا د زخمیانو ایستل څه چې له مجاهد سره تر څنګ کېناستل هم سخت درته تمامېدل.

ما ته هم د زخمیانو ایستل تر ټولو اسانه کار و، ما او خادم له ټولو ملګرو سره مخه ښه وکړه او مجاهدینو ته مې وویل چې په دعا کې مو یاد ساتئ، کله چې مې بابا ته غېږ ورکړه، په غېږ کې یې ټینګ کړم، لکه په اشاره چې یې د خپلې کتابچې د حفاظت احساس راکړ، ما ورته وویل چې ستا خبره مې په یاد ده، بې غمه شه، خو زما خبره «په جنت کې زما لپاره ځای ونیسه» هم هېره نه کړې.

بابا وخندل، پر مټو یې ورو ورو ووهلم او موږ ترې را روان شوو.

زه او خادم په منډه موټر ته راغلو، هلک مو و نه لید، لږ وروسته مو پیدا کړ چې د ګولیو له وېرې په لښتي کې پروت و. انتظار مو وکړ، ځینې ملګري هدفونو ته نه وو را رسېدلي، خو د بلال له خوا شاوخوا د شپې یوه بجه د تعرض امر د ایت شریف په تلاوت وشو.

دا جنګ د نورو جنګونو په څېر وار له واره په درزا پیل نه شو، ځکه ملګري په خاموشۍ پوستو او د ولسوالۍ ودانیو ته ننوتل، لږ منتظر شوو. کتل مو چې په کومه پوسته کې لومړی د جنګ لمبې پورته کېږي، درې دقیقې وروسته د غلچکي په پوسته کې ډزې پیل شوې او شاوخوا یو دقیقه وخت به یې نیولی وي چې غلچکي پر ما غږ وکړ:

ملنګ‌یاره، ملنګ‌یاره، بابا شهید شو!!

Download more from Libtoon.com

د بابا شهادت زور راکړ، دې ته ډېر حیران شوم چې د ده تصور، خوب او احساس څنګه ژر رښتیا وختل. یو شېبه غلی شوم، نظر مې یې کورنی ته لاړ چې کور یې په وزیرستان کې د پاکستاني پوځیانو د ضرب عضب له لاسه کراچی ته بار او پخپله دغه بوډا دلته شهید شو، اوس به یې کورنی ته څنګه لېږو؟ یا به یې اوس کورنی په کوم حال وي؟
رنګارنګ سوچونه وو چې د فکرونو له ټاله د جنګ درز او دروز را وایستم، په ولسوالي او نورو دفاعي پوستو کې هم ډزې شوې، هرې خوا ته ګړزا ختله، پر ولسوالي د راکټ وارونه هم پیل شول.
ما خادم ته وویل چې جنګ شروع شو، راځه چې موټر وروڅو چې بابا را واخلو، موټر مې ژر چالان کړ، په پټو څراغونو مې په داسې حال کې د پوستې په طرف ور روان کړ چې له ښیښې مې سر ایستلی و، دښته وه، ډېر تېز تلم، په دښته کې به خال خال مرمی لګېدلې، ځینې وخت به د راکټ او یا نارنجک مرمی هم راغله، خو تر یو ښه مزل وروسته مې موټر ته پام شو چې ټایر یې پنچر شوی، کله چې راکوز شوم او د موبایل رڼا مې ورته بله کړه، موټر پر ټایر لګېدلې و، پر غلچکي مې غږ وکړ چې زه درسره نږدې یم، د دمې له ځایه په سل متري کې یم، په شفر کې مې ورته وویل چې زما پښې یعنې د موټر ټایر مشکل پیدا کړی، هغه حل کوم نور درغلم.
غلچکي وویل:
موټر پرېږده، زموږ ګارنیټ په کار دي، که را و یې لېږې.
ما وویل:
په موټر کې ګورم، یو بکسه وه، همداسې یې در وړم.
ما د موټر له باډۍ د ګرنېټو بکس راکوز کړ او خادم ته مې وویل:

Download more from Libtoon.com

دا به زه ور وړم، ته موټر ته ژر ژر ټایر ور بدل کړه.

ما ته د هماغسې خونخوارو ټانگونو د راتگ وېرې پر زړه خولې را لگولې.

موږ همداسې وکړل، د گرنیټونو بکس مې اوږې ته کړ، د مورچې په طرف مې منډه ور شروع کړه، تر لږ مزل وروسته غلچکي له دفاعي ملگرو یو کس را لېږلی و، د پوستې د غونډۍ په نیمایي کې مې د گرنیټونو بکس ورکړ، تېز موټر ته راغلم، خادم د موټر تر څنگ ناست و، پرې چیغه مې کړه:

ټایر!

خادم په ناسته پاس را وکتل:

شټپنۍ هم پنچر ده!

-اوس یې خوند وکړ، خو خیر باید وار خطا نه کړو، که موټر و نه باسو شاید همدلته رانه ور پاتې شي.

همداسې مو بېرته موټر په پنچر ټایر را روان کړ، تر ښه مزل وروسته چې د جنگ له ساحې راووتلو، په دښته کې د یوې کلا تر دېوال پناه ودرېدلو.

زه او خادم بېرته په پښو د پوستې په طرف ور روان شوو، مخابره مې په لاس کې وه، غږ وشو چې یوه دفاعي پوسته فتح شوه، له دښتې مو لیدل چې پر پوسته اور بلېږي، له غلچکي سره مې رابطه وکړه:

تاسې څه وکړل؟ د بابا جسد څنگه دی، چېرته دی؟

-زما پوسته فتح ده، بابا د پوستې په یوه کوټه کې لوېدلی او په هغه کوټه کې یو عسکر ژوندی پاتې دی، هر څومره مو چې کوښښ وکړ نه تسلیمېږي، نه کوم شی ورته برابرېږي چې پرې و یې ولو.

ساه نیولی شو، بیا یې خبرې پیل کړې:

انگار هم زخمي شوی، دوو ملگرو در روان کړی، ته هغه روغتون ته رسوه.

Download more from Libtoon.com

لـه همـدې خبـرې سـره ملګـرو زخمـي را ورسـاوه، د ورنونـو پر بنـد لګېدلـی و، ډېر سـخت پـه تکلیـف و، چـې لـږ بـه وښـورېده، سـختې زارۍ به یـې شـروع کړې:
د خـدای لپـاره مـا همدلتـه پرېـږدئ، زه د وړلـو نـه یـم، د الله لپـاره ملنګ‌یـاره مـا ووژنـه، زه د دې دردونـو د برداشـت نـه یـم.
مـا کـه ډېـر ډاډ ورکاوه چـې بـس ورسـېدې، لـږ لاره پاتـې ده، خـو انـګار خبـرې نـه اورېدلـې او مـوږ همداسـې پـه پټکـي کـې اچولـی او د موټـر پـه طـرف پـه منډه روان کـړی و.
تـر ښـه مـزل وروسـته مـو موټـر تـه ورسـاوه او پـه بـاډۍ کـې مـو کېښـود، اوس غـم یـوازې د ټایـر د پنچـرۍ نـه و، پکـې شـته وِیـل مـو هـم خـراب کـړی و، یو سـاعت د موټـر پـه ټایـر پسـې وګرځېـدو، خـو پیـدا نـه شـو، وروسـته مـو انـګار لـه یـوه مجاهـد سـره پـه موټـر کـې د چاربـاران د الیـزو اډې یـوه کلیـوال ډاکټـر تـه ولېږه.
د کلیـوال ډاکټـر عـلاج هـم فقـط سـي سـي ګان او اوریـن اینجکشـنې وې چـې دردونـه بـه یـې کنټرولـول، نـور بـه زخمـي پـه شـپو شـپو د پېښـور پـه طـرف قاچاقـي مزلونـو تـه مجبـوره و او د زیاتـې اوږدې لارې لـه املـه بـه تـر لسـو شـلو ورځـو پـورې د نشـې دغـه زهریلـه اینجکشـنې ور لګـول کېـدې، لـه دې سـره بـه ډېـر زخمیـان معتـاد شـول او د زخمونـو تـر رغېدلـو وروسـته بـه یـې هـم د دې پېچکاریـو بـې لګېـدو نـه کېـدل.
زه او خـادم ببرتـه د غلچکـي خـوا تـه ور روان شـوو چـې د بابـا جسـد را نقـل کـړو، خـو دا داسـې وخـت و چـې نـور سـپېدې پـه چاودېـدو وې، پـه لـرې کلـي کـې د سـهار اذان شـروع شـو، خـادم تـه مـې وویـل چـې بختـور وګـوره څـه لـه ښایسـته خوبـه را پاڅېدلـی، زمـوږ و تاسـې ټولـه شـپه څـه پـه شـوګیر کـې تېـره شـوه، جامـې مـو پـه وینـو ګل وې او پـزو تـه مـو د وینـو بـوی را تـول و.

Download more from Libtoon.com

پـه مخابـره کـې ناڅاپـه غـږ وشـو، لـه کمیـن ځخـه ټانګونـه در تېـر شـول ملګـري دې ځانونـه محفـوظ کـړي، غلچکـي پـر مـا غـږ وکـړ چـې ټانګونـه زمـوږ پوسـتې تـه را نـږدې شـول، مـوږ در ووتلـو او د بابـا جسـد پاتـې شـو.

ما وویل:

دا به بیا څنګه کوو، زه هم در روان یم.

-بلـه لار نـه شـته، مـوږ د پوسـتې د وژل شـوي قومانـدان لـه جسـده سـر را غـوځ کـړی، سـبا بـه یـې د بابـا پـه جسـد ورسـره تبادلـه کـړو.

ما ورته کړه:

بس ځانونه را څنګ ته کړئ.

زه هـم مـخ تـه ور روان وم، پـه لاره کـې مـو سـره پیـدا کـړل، یـوه مجاهـد د قومانـدان را پـرې کـړی سـر تـر وېښـتو نیولـی را اخیسـتی و، تـر روغبـړ وروسـته مـې لـه غلچکـي د ملګـرو د صحـت پوښـتنه وکـړه، هغـه ډاډ راکـړ او پـه لاره د موټـر پـه طـرف روان شـوو.

ما دا ځل بله پوښتنه وکړه:

بابا څنګه شهید شو؟

غلچکي خبرې پیل کړې:

مـوږ چـې څنګـه هـم پوسـتې تـه ور داخـل شـوو، پـه لاره کـې یـوه عسـکر راباندې را منـډه کـړه چـې بابـا سمدسـتي ټوپـک ور ضربـه کـړ او عسـکر یـې ځـای پـر ځـای وویشـت، عسـکر را وغورځېـده، بابـا مخامـخ کوټـې تـه ور منـډه کـړه، داسـې ښـکارېده چـې عسـکر وار لـه مخـې مـوږ تـه مورچـه شـوي او پـوه وو. بابـا چـې څنګـه د کوټـې دروازې تـه ور ورسـېد، د کوټـې لـه منځـه پـرې د ټوپـک د روښـانه کارتوسـو ضربـه ور والوتلـه، د کارتوسـو پـه رڼـا کـې

Download more from Libtoon.com

مې د بابا جسد ولید چې د کوټې په طرف ور غورځار شو.
غلچکي سمدستي پر دویمه کوټه جنګ شروع کړی و، په دویمه کوټه کې وار له مخې یو عسکر په چیغو و او بل ملګري ته یې ویل چې قوماندان صاحب یې په لاره کې وواژه، وروسته غلچکي او ورسره نورو دروملګرو ټوله پوسته فتح کړې وه او عسکر یې وژلي وو، خو یوازې هغه کوټه لا پاتې وه چې د بابا جسد پکې پروت و.
غلچکي ته د جنګ په منځ کې انګار هم ور زخمي شوی و او د دفاع ملګري هم ور رسېدلي وو، په کوټه کې پر ناست عسکر غلچکي چیغې شروع کړې وې چې تسلیم شه، عسکر ورته ویلي وو چې تاسې د چا ملګري یاست؟
غلچکي ورته ویلي وو چې موږ د اسلامي امارت اړوند د بلال فاتح ملګري یو، عسکر له تسلیمېدلو انکار کړی و، شاید وجه یې دا وه چې زموږ ډېرو ملګرو له تسلیمي پس ځینې عسکر په نورو تعرضونو کې ووژل چې له دغو قضیو به دغه عسکر خبر و.
وروسته غلچکي کوټې ته ډېر ګرنیټونه ور شړلي وو، خو عسکر په کوټه کې د ننه په داسې محفوظ شکل ناست و چې هیڅ اثر یې پرې نه و کړی چې وروسته یې له ما سره رابطه ونیوله او د ګرنېټونو بکسه مې ور وړه، د هغې بکسې په شمول یې پر کوټه تر لسو پورې د راکټ ډزونه کړي وو، خو عسکر بیا هم نه و تسلیم شوی.
سره له دې چې افغاني عسکر د امریکایي اشغال تر څنګ ولاړ وو، اشغالګرو یې معاش ورکاوه، وسله او یونیفورم یې پردي وو، خپله هم پوهېدل چې مجاهدین د دوی د کور او کلي خلک دي، د دین او وطن په ننګ جنګېږي، خو دوی افغاني ضد اخیستي وو، سخت جنګونه یې راسره کول. اخلاقي

Download more from Libtoon.com

موقف زمونږ پرې قوي و، خو افغاني غیرت د دواړو یو ډول و. داسې زړوره جګړه یې راسره کوله چې په کراتو به یې مات کړو. د جګړې تناسب د امکاناتو له مخې د دوی په ګټه ړنګ و، خو د دوی مشران خاینان او زمونږ رښتیني او هرې قربانۍ ته تیار وو. دا زمونږ کوټه بخت و چې اشغالګرو راته له خپلو لښکر جوړ کړی و.

غلچکي چې د سیمې په کچه د تعرضي بریدونو ماهر و، ویل چې دا ډول تکړه او باجراته عسکر ما تر اوسه په جنګ کې نه و لیدلی.

وروسته چې کمین مات شو او ټانګونه د ولسوالۍ د دفاع لپاره راغلل، مجاهدین له ودانیو را شا ته شول.

Download more from Libtoon.com

○○○

مور داشپه ډېره سترې ستومانه تېره کړه، سبا سهار به هم هغه ملګري سترې او ستومانه وو کومې ډلې ته به چې شهید او یا زخمي ور شوی و، ځکه هغه کسان به د شهید او زخمي په وړلو راوړلو بوخت وو.

مور سبا د اومنې یوه کلي ته ورسېدو، په کلي کې مو په ولاړه چای وڅښه او د کلي له مشرانو سره مو د سیمې د مجاهدینو په واسطه خبرې وکړې چې دوی باید له پوستې زمور ورپاتې شهید «بابا» راوړي او مور به په بدل کې د دې پوستې د قوماندان سر ورکړو.

د کلي مشران په ډېر مشکله تیار شول او ولسوالی ته ورغلل، تر شاوخوا دوو ساعتونو وروسته یې زمور د شهید بابا جنازه د مشرانو په واسطه د سیمې مجاهدینو ته سپارلې وه او مور سر د سیمې د مجاهدینو په لاس د کلي مشرانو ته وسپاره.

مور به کوښښ کاوه چې په جنګ کې خپل شهید دوی ته پرېنږدو، ځان به مو په تکلیف کاوه، مګر شهید به مو هرو مرو د جنګ له ځایه را ایست.

کله کله به مو په مخابرو کې له عسکرو سره مناقشې تبادله کېدې، یو بل ته به مو سختې له اخطارونو ډکې خبرې کولې. شهیدان چې به رانه ور پاتې

Download more from Libtoon.com

شول، د دوی له مړيو به مو سرونه را غوځ کړل. سره له دې چې امارت بيا بيا ټينګار کاوه چې سرونه تړې غوڅ نه کړو، خو د جګړې د ډګر جذبې او د ملګرو پاتېدو مجبورولو چې دا امر مات کړو.

په ټول جنګ کې يوازې زموږ ملګری انګار نه و زخمي، بلکې نور شهيدان او زخميان هم وو چې له ځينو زخميانو سره زه وانه ته په داسې حال کې روان شوم چې تر دې وړاندې مې د سپينه په تازه فتح شوي بازار کې د موټر ټاير جوړ کړ.

د سپينه په بازار کې وم چې په مخابره کې مې د غلچکي خبرې اورېدې، ويل يې چې د بابا جسد يې راته وسپاره، خو سر يې تړې غوڅ کړی!

Download more from Libtoon.com

○○○

مـوږ پـه دې کال داسـې ډېـر څـه وګالـل، ژمـی تـر نـورو کلونـو څکـه راتـه سـخت او دردنـاك و چـې د دمـې ځـای مـو نـه و، دا ژمـی مـو پـه پکتيـکا کـې ډېـر پـه لـوړو ژورو کـې تېـر کـړ، مـوږ د خپلـو بچيانـو څنـګ تـه هـم نـه شـوای ورتـلای، څکـه هغـوی پـه پېښـور کـې وو. پـه وانـه کـې مـو هـم پـه دې خاطـر ژونـد نـه شـوای کـولای چـې مرکزونـه مـو زرمیلنـې تـه را وړي وو، خـو کلـه چـې بـه پـه زرمیلنـه کـې ډېـر پـه تکليـف شـوو، پکتیـکا تـه بـه را واوښـتلو او د کار تـر بشـپړېدو وروسـته بـه بېرتـه لاړو. پـه پکتیـکا کـې مـوږ خپـل عملیـات تـر نـورو کلونـو څکـه ګړنـدي کـړي وو چـې نـور د اوسـېدو څمکـه راپاتـې نـه وه.
کـه ووايـم چـې تـر ټولـو سـخت کال همـدا و يقينـي بـه وي، څکـه چـې د زرمیلنـې او ګومـل لـه خـړو دښـتو پرتـه مـو نـور هيـڅ نـه ليـدل، اسـمان بـه لـه بنګنـو ډک و او وخـت ناوخـت بـه د شـپنیو چاپـو لـه لاسـه د ګومـل پـه خـړو دښـتو کـې پـه منډو وو او يـا بـه وريـسې پـه منـډو وو.
مـوږ پرلهپسـې دوه کالـه پـه زرمیلنـه او پکتیـکا کـې پـه داسـې حـال کـې تېـر کـړل چـې نـه مـو بچيـان وليـدل او نـه مـو داسـې ښـه دمـه وکـړه، هـره شـپه او ورځ يـوازې منـډې وې.

Download more from Libtoon.com

مـور او پـلار خـو مـې پـه کلونـو و نـه لیـدل، ځکـه هغـوی پـه خوسـت کـې وو، خوسـت تـه تلـل هـم زمـا لپـاره د سـر پـه بیـه و، دا وخـت زه دښـمن تـه ډېـر ښـکاره شـوی وم او وخـت ناوخـت بـه یـې زمـا پـه لټـون پسـې د خوسـت پـر کـور ناڅاپـي عملیـات کـول، کلـه چـې وپوهېـدل چـې سـړی د غرونـو دی، بیـا بـه کـور تـه د تلاشـۍ پـه موخـه ډېـر نـه راتلـل.

پـه زرمیلنـه کـې داسـې خـتـر هـم رابانـدې راغـی چـې یـوازې زه پـه کـټ کـې د مرکز تـر مـخ پـروت وم، یـو شـین اسـمان و او بـل د بنګنـو زړه تلوونکـي اوازونـه. کلـه بـه لـه لـرې د سـپیو غپـا راغلـه...

یـو ځـل پـه سبا ورځ اختـر و، پـه خیـال کـې مـې هغـه ځوانـان ډېـر را تېرېـدل چـې پـه ښـارونو کـې د اختـر د خوښـۍ رنګارنـګ کالـي جـوړوي او د کـور لپـاره شـیان اخلـي، خـو زه او زمـا ټـول ملګـري د داسـې ورک سـفر لارویـان وو چـې د منـزل ځـرک مـو پـه هیـڅ ډول نـه شـو لیـدای.

وخـت ناوخـت بـه د مـور یـاد هـم لـه ځـان سـره یـووړم، هیـڅ بـه پـوه شـوی نـه وم خـو ډېـر وروسـته بـه مـې ځـان تـه پـام شـو چـې چېـرې یـم. بېرتـه بـه واقعـي دنیـا تـه راغلـم، هغـه دنیـا چـې یـوازې د زرمیلنـې دوړې او ګردونـه یـې بلـلای شـو. لـه دعـا پرتـه هیـڅ لاره نـه وه، خـدای تـه بـه مـې د اسـتقامت دعـا وکـړه او بیـا بـه ولاړ شـوم.

د داسـې شـپې ارمـان مـې پـر زړه خولـې لګولـې چـې کاشـکې د بنګنـې لـه غـورا پرتـه سـهار شـي، بـې غمـه خـوب وکـړم او تـر ویـده کېـدو مخکـې پـه اسـمان کـې د تـورو قهرجنـو الوتکـو پـر ځـای د پرکنـده سـتورو رپېدونکـې رڼـا ووینـم.

Download more from Libtoon.com

# له دښتو تر ښارونو

موږ به ځينې وخت پټ پټ وانه ته تلو او شپې به مو هلته له ځايي اوسېدونکو پټې کولې، يو وخت داسې وشول چې پر زارميلنه د پاکستاني پوځيانو د عملياتو خبر راغی، موږ ډېر فکر وکړ چې د پکتيکا په ګومل کې خو ژوند نه کېږي، ځکه ټوله شپه د امريکايي عملياتو خطر وي، بايد بل مناسب ځای پيدا کړو، تر ډېرو مشورو او فکر وروسته هم کوم مناسب ځای پيدا نه شو.

فيصله پر دې وشوه چې ملګري بايد له مرکزونو لرې کړو او هر هغه کس چې په کور کې ژوند کولای شي، ژمی په خپل کور کې تېر کړي او کوم کسان چې شپې نه شي کولای مقاومت دې وکړي، وانه او يا د پاکستان په نورو ښارونو کې دې ځان ته کوچني تجارتونه برابر کړي، موږ څو کسان له بلال سره يو ځای ببرته وانه ته لاړو او هغلته مو د پکتيکا د ارګون ولسوالي له يوه مجاهد «انس» سره په کور کې پټې شپې کولې.

د انس کور د وانه له بازار سره جوخت په وچه خوړه کې و چې زياتره به پکې افغان مهاجر اوسېدل.

انس د پکتيکا د ارګون د پيرکوټي سيمې مجاهد و چې درې ورونه يې مخامخ له امريکايانو سره په جنګ کې شهيدان شوي وو او پلار يې په وروستيو کې

Download more from Libtoon.com

د امریکا د کومې شپې د چاپې په نتیجه کې شهید شوی و.

د انس تعلقات د وانه د مجاهدینو په نامه د کمېټې له غړو سره ښه وو او په وانه کې یې د اوسېدو ځای ورکړی و، انس چې له موږ سره نږدې ملګری پاتې شوی و، د بلال په شمول یې موږ اوو کسانو ته په خپل مېلمستون کې ځای راکړی و.

زما ځنې تر مټو اوښتې وې، وخت ناوخت به د وانه بازار ته په داسې طریقه وتلم چې ګواکې موږ موټر راوستلي، خو وروسته د وانه د کمېټې وال پوه شوي وو، خو بیا یې هم ځان ړوند اچولی و.

یوه ورځ زه د انس په مېلمستون کې ناست وم، فکر مې په دې کې بند شو چې تر کومه به په تشکیل کې پرله‌پسې وخت تېروم؟

که خوست ته د مور او پلار لیدو ته نه شم تلای، پېښور ته خو پټ چانس برابرېږي، باید پېښور ته په یوه قاچاقي لاره لاړ شم. تر ښه فکر وروسته مې ناڅاپه د وانه یو مشر عارف وزیر فکر ته راغی، دا هغه مشر و چې زه شهید فاروق ور شناخته کړی وم، ناڅاپه را ولاړ شوم او په پښو بازار ته روان شوم.

شاوخوا پاو وروسته په بازار کې د عارف وزیر د تېلو پمپ ته ورسېدم، له پمپ سره د خوا ته مارکېټ په دویم منزل کې د عارف وزیر دفتر ته ور وختلم، هلته مې د دوی له ملګرو پوښتنه وکړه چې چېرې دی، هغوی پوه کړم چې همدلته دی راځي.

ما لږ خوله هم پټه کړې وه، تر لږ انتظار وروسته عارف راغی، زما په لیدلو لږ ځیر شو، خو چې خوله مې ښکاره کړه له خندا شین شو، په زوره یې وویل:

ترهګر یې؟

ما ور غبرګه کړه:

Download more from Libtoon.com

هو، خلقي!

ما ده ته څکه خلقي وایه چې په کوټه کې یې د ډاکټر نجیب الله عکس ځړولی و.

عارف ټینګه غاړه راکړه، کوټې ته یې بوتلم، ژر ژر یې یخه پیپسي را وغوښتله، ما بې واره وویل:

پیپسي نه څښم، یوه پټه کیسه مې درسره ده!

عارف په ډاډمن غږ وویل:

خدای به خیر کړي، لږ یخ وڅښه بیا به خبره وکړو.

زما چې د پېښور تګ ته پښې تخنېدلې وې، صبر مې و نه شو، و مې ویل:

ته چې پیپسي را رسېږي، زه او ته به یوازې خبره وکړو.

عارف خپلو کسانو مخ ور واړاوه:

تاسو لږ بهر ووځئ، نږدې انډیوال مې دی، یوه ضروري خبره ورسره کوم.

په دفتر کې څو ناست کسان ټول ووتل، عارف دروازه پورې کړه، د دروازې له بندولو سره یې مخ را واړاوه، په ګپ کې یې وویل:

هلکه! مړ مې نه کړې!

ما ورته وخندل:

له موږ ډارېږه هم، څکه چې نظریه دې د خلقیانو ده!

و یې خندل، زما تر څنګ کېناست، و یې ویل:

څه مشکل دی خالد جانه امر کوه!

ما خبرې پیل کړې:

اشنا ته خو زموږ له مشکلاتو خبر یې چې په وانه کې زموږ د اوسېدو ځای نه شته، په پکتیکا کې هم له بچیانو سره ژوند په دوزخ کې ژوند دی، هره

Download more from Libtoon.com

شپه د امريکايانو چاپې وي، اوس مو کور پېښور ته تللی، ته خو د محمود خان اڅکزي د پارټۍ کس يې، پر ما به دې زيات احسان وي چې پېښور ته مې په داچيک پواينټونو په خپل موټر کې تېر کړې.

عارف له خندا شين شو:

وه ظالمه ما ويل که په وانه کې دې د چا سر په کار دی چې درته را يې وړم، پېښور ته تګ خو نسوار هم نه دی، همدا اوس ځو، که څه وخت؟

دا په وزيرستان کې يو چا ته د ډېر خلوص د اظهار کوښښ و چې ګواکې په هره سخته کې درسره يم.

زه چې سختې تلوارې اخيستی وم، سبا ورځ مې ور وښووه.

عارف وويل:

پېښور ته دې خپل کور ته رسول په ما دي او چې کله په تکليف شې بيا دې دلته راوړل هم په ما، نور څه غواړې؟

ما بله خبره نه لرله، فقط و مې ويل:

ستا ژوند غواړم، بس!

عارف بيا له خندا شين شو:

اشنا په طالبانو کې مې ستاسې له ملګرو سره مينه بې‌کچې ده، د شپې په يو بجه غبر راکوئ زه په خدمت کې يم، خو په دا وانه کې مجاهدين مو در سمبال کړئ، سخت يې خلک په تکليف کړي.

ـ عارفه دا مجاهدين نه دي، د حکومت اربکيان دي، ته مجاهدين مه ورته وايه!

عارف غلی شو، راته و يې ويل:

بس سبا اته بجې دلته راځه، زما فيلډر موټر دی، په هغه کې به ځو.

لږ وروسته د انس په کور کې وم، بلال هم په مېلمستون کې ناست و، د

Download more from Libtoon.com

پېښور د تګ مې ورته ووېل، هغه هم خوشاله شو او ډاډه یې کړم چې عارف دې رسولای شي. د لارې یو څه خرڅ یې هم راکړ او په سبا له عارف وزیر سره یو ځای په سپین فیلډر موټر کې کېناستلم، په داسې حال کې چې له وانه روان کړم چې څنې مې په پټکي کې پټې کړې وې.

عارف د یوه بل ملګري شناخته کارډ راکړ، د لارې په پوځي چیک پواینټونو یې ډېر په ماهرانه شکل تېر کړم، هیڅ پوځي پوه نه شو چې دا څوک دی او شناخته کارډ یې اصلي دی، که جعلي.

غرمه ډېره اسمعیل خان ته ورسېدو او هلته حضرت عمر له پېښوره په خپل موټر کې مخې ته راغلی و، محمد هم ورسره و، د دوی لباس تر ډېره د پېښوریانو په څېر شوی و، د ځان لپاره یې ځایي شناخته کارډونه هم جوړ کړي وو، څکه خو پر لاره تر دې ځایه هیڅ په تکلیف شوي نه وو.

موږ عارف وزیر بېرته وانه ته رخصت کړ، له ډېره اسمعیل خانه له عمر سره په سپین رنګه پریمو موټر کې پېښور ته روان شوم.

موږ له ډیره اسمعیل خانه شاوخوا شپږ ساعته مزل وکړ، په لاره کې مې له منظرو زیات خوند اخیست، کلونه وروسته لومړی وار و چې پر داسې عصري پاخه سړک مې مزل کاوه او ښارونه مې لیدل، د بنون له ښکلي ښاره په وتلو مې هغه خاطره ذهن ته راغله چې زه څو کاله پخوا له پلاره بنون ته د تلو په بهانه له کوره راووتلم او بیا په وزیرستان کې له فاروق سره تر ملاقات وروسته همالته پسې تم او مجاهد شوم.

ما ته مې پلار سخت مخې ته ودرېده چې اوس به څنګه په یوازې ځان په دوکان کې بوخت وي او زما یادولو به یې زړه څنګه ناکراره کړی وي...

همدې سوچونو په مخه کړی وم چې پر مخ مې له ښې سترګې ګرمه اوښکه

Download more from Libtoon.com

د ړیړې په طرف وڅڅېدله او ګرمي يې په حال راوستم، بېرته مې سترګې پاکې کړې او ځان مې له عمر او محمده په شا سيټ کې لږ څنګ ته کړ، هغوی پر دې پوه نه شول.

Download more from Libtoon.com

○○○

نـري بـاران و، د ماښـام تيـارې ارامـې ښـکارېدې، د پېښـور پـه جوماتونـو کـې اذانونـه وشـول، د ژمـي نـري بـاران ښـار پرېمنځلـی و او د موټـر او سـړک د غـاړې رڼـاوو تـه يـې څاڅکـي زېړبخـون ځلـول. د رکشـو پـه شـور کـې مـې ارام ليـد، زه څـو کالـه د دښـتو غمجنـې چوپتيـا خوړلـی وم، د ښـار شـور او ځـوږ مـې زړه را ژونـدی غونـدې کـړ.

عمر راته وويل:

دا مينه بازار دی، هغه موټربم چې پکې شوی و.

-کوم موټربم؟

-هغه حکيم الله امير صاحب چې پکې کړی و.

مـا شـاوخوا وکتـل چـې دا خـو بـازار دی، پـه دې کـې اوس څـه لاس تـه راوړنـه او هـدف دی چـې موټربـم دې پکـې وشـي؟ کـه اوس وشـي زه بـه شـهيد يـم کـه مـردار؟ ورپسـې د مولـوي صاحـب هغـه خبـرې را يـادې شـوې چـې ويـل يـې:

پـه دې موټربـم کـې وژل شـوي خلـک ټـول شـهيدان دي او چا چـې کـړی ظلـم يـې کـړی دی...

هغـه وخـت مـا د مولـوي صاحـب پـر خبـرو ډېـر بـاور و نـه کـړ، خـو اوس مـې دا

Download more from Libtoon.com

فکر تـه راغلـل چې د جهـاد پـه کارونـو کې څـوک یـوه ورځ هـم درنـه مشـر وي، خبره یې بایـد پـه ځمکـه و نـه غورځـول شـي.
لمونـځ مـو د لارې پـه یـوه جومـات کـې وکـړ او بیـا کـور تـه روان شـوو، عمـر کـور د پېښـور پـه سـي ټـي ټـاون کـې نیولـی و، دا مـې لومـړی وار و چـې له خپلـو بچیانو سره دلتـه مـخ کېـدم، د بـلال پـه کـور کـې وو، خـو دا کـور مـې هـم تـر خپلـه کوره کـم نـه و، ځکـه چـې څـوک مـې پکـې ورېرونـه وو او څـوک خوریونه.
د کـور پـه دروازه ور ننوتلـم، ټولـو ماشـومانو داسـې رامنـډه کـړه لکـه مـړی چـې ورتـه را ژونـدی شـوی وي او کـور تـه راشـي، مـوږ پـه وانـه کـې داسـې مخـه ښـه کـړې وه چـې تـر ډېـره د بیـا لیـدو تمـه نـه پکـې ښـکارېده، خـو دا دی تقدیـر یـو وار بیـا مـوږ پـه خـواږه شـور او ځـوږ سـره مـخ کـړو.
بچیـان مـې واړه وو، خـو بدرالدیـن او خالـد تـه مـې پـه دې زړه تـم شـو چـې پـه ښـوونځي کـې داخـل شـوي وو، خوشـاله شـوم او پـه خیـال کـې مـې یـې راتلونکی تـر ځـان ښـکلی لیـد.
پـه کـور کـې یـې د بـلال د راتلـو پوښـتنه هـم وکـړه، مـا ډاډ ورکاوه چـې څنګـه زه راغلـم، هغـه بـه هـم خـدای راولـي.

Download more from Libtoon.com

# د جوماتونو وطن

پیر محمد کاروان صاحب یو ځای ویلي وو:

**پېښور د جـــوماتونو وطـن بويه**

**دنگې دنگې منارې يې ستا په شان**

که څه هم په پېښور کې شپې د ډرون له غورا او د جېټ له شوره خالي وې، خو پر کور به د پاکستاني پولیسو او پوځیانو له چاپو هره ثانیه په خطر او ډار کې وو، مور به هره ورځ خبرېدو چې پلانی ملګری یې په داسې موټرو کې له کوره یووړ چې پلېټ یې نه درلود او یا د پلاني پر کور د پوځیانو هغسې او دغسې چاپه وه او داسې او هغسې وشول.

زموږ ملګرو که څه هم ځانونه د ښار د پېښوریانو په موډ جوړ کړي وو، خو بیا هم حکومت د پاکستان و، ضرور به یې معلومات تر لاسه کولای او چاپه اچولای شوه.

د نیول کېدو بل مشکل دا و چې د خلاصون، سزا او موقعیت دقیقه پته نه لګېده.

ډېرو ملګرو کلونه زندان تېر کړ، خو ځینې داسې هم وو چې په دریو یا اتو میاشتو کې را خوشې کړل شول.

زه چې یو ځل پېښور ته راغلم او په هلته له اوسېدو سره بلد شوم، بیا مې

Download more from Libtoon.com

همدلته ژوند غوره وباله، که څه هم په ځينو وختونو کې پوليسو ونيولم، خو هغوی به و نه پېژندلم چې ګواکې زه افغان مجاهد يم.
په پېښور کې افغانان او پښتانه زيات وو چې اکثريت يې زموږ ملاتړي وو، د خطر په وخت کې به يې په ورين تندي شپې راکولې او هيڅ د ډار احساس به مو نه کاوه.
ما په پېښور کې يوازې ژوند پيل نه کړ، بلکې له دې ځايه مې هم تشکيلونه کول، څو واره موږ بېرته زرميلنې ته لاړو او هلته به اوسېدو، د تشکيل له ملګرو سره به تلو او د جنګ پلانونه به مو جوړول.
موږ په پېښور کې ورو ورو بلد شوو، اخېر بلال ته هم د راتلو زمينه مساعده شوه او له خپلې کورنۍ سره يو ځای شو، دا داسې نه وه چې پاکستان حکومت دې په خوښه وخت ورکړی وي، بلکې د خپل تکتيک او زياتې بلدتيا له مخې مو ژوند پيل کړ.
ډېر وخت داسې هم راغلي چې د پوځيانو په چيک پواينټونو به ودرول شوو او د تعارف غوښتنه به يې وکړه، خو موږ به په جعلي کارډونو د ای ايس ای د مېجرانو او يا افسرانو په نامه تېرېدلو.
په دره ادم‌خېل کې به د ای ايس ای جعلي کارډونه جوړېدل او استفاده به مو ترې کوله.
زه دلته په لويه کې د افغانستان په اړه د پاکستان پر پاليسۍ نه غږېږم، بلکې د يوه کوچني مجاهد له نظره مې خپلې خبرې ليکلې دي.
د پېښور ژوند که له خطرونو ډک و، خو بيا يې هم کچه تر هغه کمه وه لکه څومره چې په افغانستان او زرميلنه کې اور راته ګرځېدلی و.
دلته زه د پېښور پر ژوند ډېر نه تم کېږم او شايد اوس يې وخت هم نه وي

Download more from Libtoon.com

چې داستان یې بشپړ بیان شي، که ضرورت و بیا به مو په یو بل کتاب کې ترې خبر کړم، اوس یوازې دومره وایم چې پاکستان باید مجبور شي چې یو قوي او خپلواک افغانستان ته غاړه کېږدي او وجود یې ومني.

ما له پېښوره پکتیکا ته زیات تشکیلونه وکړل او دا تشکیلونه مو تر وروستیو پورې د زرمیلنې له لارې کول، په وروستیو کلونو کې د ورسک دروازه هم راباندې بنده شوه او پاکستاني پوځیان پکې ځای پر ځای شول. موږ به پر ډېورنډ فرضي کرښه له اغزن تاره په ځینو ځایونو کې په پټه تېرېدو. دا اوښتل داسې اسانه نه وو لکه دلته چې لیکل شوي، داسې وخت راغلی چې د زرمیلنې په غرونو کې مو ۱۷ ساعته مزل هم کړی دی.

کله چې په پکتیکا کې بلال له مسوولیته لرې او د کونړ والي شو، هلته مې هم په تشکیل کې برخه واخیستله، عملاً له داعشیانو سره په مخامخ جنګ کې شریک شوو او بیا بالاخره له کونړه د خوارجو داعشیانو تغر ټول شو.

Download more from Libtoon.com

## په پرېږ کړي سر پسې روان خلک

موبایل ته مې ساده زنګ راغی، که څه هم په دې وختونو کې مې ساده تلیفون نه کاراوه، خو دا چې افغاني نمبر وو او زموږ ملګري هم کونړ ته پر لاره وو؛ نو مې تلیفون اوچت کړ، له هغې خوا د غلچکي غږ راغی:

السلام علیکم...

-وعلیکم السلام!

-ملنګیاره! موږ توري بوړې ته ورسېدو، ۲۵۰ ملګري په لاره کې در واپس شول، موږ ۳۵۰ ملګري پاتې شوو.

-دا نور ولې را واپس شول؟

-د دوی تشکیل همدلته پوره شو، دا ټول د مروت او بېټنیو د سیمې د مدرسې شاګردان وو، رخصتي یې همدومره وه، دوې میاشتې یې له پکتیکا توري بوړې ته مزل را وکړ.

-کاشکې خو مو دومره په جریان کې کړې وای چې دوی در واپس کېږي، دا دومره خرڅه او ستړیا فقط دې ته وه چې په افغانستان کې څو عکسونه واخلي او په لوګر رابدل شي او په ټل دې بېرته پاکستان را وپس شي؟

-ملنګیاره دلته مزلونه ډېر سخت وو، له موږ سره دوه ملګري دي عصاب یې

Download more from Libtoon.com

لـه لاسـه ورکـړل، پـه جومـات کـې مـو تړلـي دي، لېونيـان شـوي، د هغـوی طريقـه را جـوړه وه چـې در و يـې لېـږم!

ـ اللـه «جـل جلالـه» دې رحـم وکـړي، سـمه ده، مشـکل نـه شـته، مـوږ هـم ان شـأالله د باجـوړ پـه طـرف در اوړو، عمـري ويـل چـې لار جوړېـږي...

ټليفون بند شو.

غلچکـی دوی هـم ملامت نـه وو، کافي دوې مياشـتې مزل يې له پکتيـکا د لوګر، پکتيا او ننګرهـار پـه لارو راکـړی و، داسـې هم نـه وه چې لار ډېـره اوږده وه، لويه مسـاله دا وه چې لـه پکتيکا يـې د مجاهدينـو داکاروان د ډرون له وېرې په پټـو لارو او احتياط روان کـړی و، بيـا مجبـور شـوو مـازدا موټر مـو ورته واخيسـتل چې دغـو موټرو ډېـرش ډېرش نفـره لوګـر ته پـه امن ورسـول. هلته رسـېدلو ملګرو بـه پاتې ملګرو ته شـپې کولې.

دوی لـه ډرون سـره ډېـر احتيـاط کاوه، پـه دې وختونـو کـې پـه ننګرهـار او کونـړ کې داعشـيانو پـه پراخـه کچـه نفـوذ کـړی و، امـارت د نابودۍ تصميـم ورتـه درلود.

ننګرهـار تـه د کندهـار والـي پيـر اغـا مقـرر او د کونـړ والـي بـلال ګومـارل شـوی و.

د بـلال مرسـتيال د کونـړ اوسـېدونکی مشـهور قومانـدان قـاري ضياءالرحمـان و. موږ کونـړ تـه دا تشـکيل لـه ۷۰۰ نفـرو جـوړ کـړی و چـې څـه کسـان پـه لوګـر او ۲۵۰ نـور پـه تـوره بـوړه کـې تـرې را واپـس شـول.

د دې تشـکيل ډېـری ځوانـان د لکي مـروت او ټانـک اوسـېدونکي وو، دوی مـو د پکتيـکا پـه لار ځکـه لېږلـي وو چـې زمـوږ د قوماندانانـو ټولـه وسـله پـه پکتيـکا کې وه، دا مـو کونـړ تـه د تبديلـی لومـړی وار و.

غلچکـی او ملګـري لـه تـورې بـوړې څخـه د کونـړ «چپـې درې» پـه شـلو ورځـو کـې پيـاده ورسـېدل، دوی دا مـزل ډېـر پـه دمـه دمـه ځکـه کاوه چـې د داعشـيانو لـه کميـن او مقاومـت سـره مـخ نـه شـي.

Download more from Libtoon.com

په کونړ کې ځايي مجاهدينو په وټه‌پور ولسوالي کې له داعشيانو سره سخته جګړه شروع کړې وه. هر ځای چې به ولیدل شول ځای پر ځای به وژل کېدل، په ډېرو سيمو کې يې کورونه وسوځول شول او همدا قاطعيت د دوی د ماتې اصلي سبب هم شو.

که څه هم موږ بايد له بلال سره تر روژې مخکې کونړ ته تللي وای، خو د ضروریاتو د نيمګړتيا له امله وځنډېدو، روژه چې راغله بيا خو د مزل هيڅ دمه را پکې نه وه.

کوچني اختر ته څو ورځې پاتې وې چې د عمري په همکاري زه، بلال، بنديوان، حنظله او سپين طالب د باجوړ د ځايي قومي مشرانو او مجاهدينو په مرسته د نواپاس د لوړ غره په لاره د کونړ سرکانو ولسوالۍ ته واوښتلو.

د نورو تشکيلونو په پرتله د کونړ تشکيل سخت و، موږ نه وو او مزل په غرونو کې و.

موږ ټول تشکيل په کونړ کې تېر کړ. مجاهدين له داعشيانو سره په شيګل، چپه دره، وټه‌پور او څوکۍ ولسواليو کې په ګرمو جګړو لګيا وو.

په کونړ کې د مجاهدينو سيمه‌يزو مسوولانو له جمهوري رژيم سره اوربند کړی و، له ډېرو جزئياتو يې ځکه بې خبره يم چې د بلال تر مسووليت مخکې شوی و.

يوازې دومره مې اورېدلي وو چې د جمهوريت د والي عبدالستار ميرزکوال او د امارت د مرستيال والي قاري ضياءالرحمان پر اوربند هوکړه شوې وه.

جمهوريت يوازې له موږ سره اوربند نه درلود، له داعشيانو سره يې هم راشه درشه درلوده، لار يې دوی او موږ دواړو ته خلاصې پرېښې وې.

د دوی ګټه زموږ او داعشيانو تر منځ په جنګ کې وه چې دوی د خير پر

Download more from Libtoon.com

غونډۍ ناست نندارچیان وو.
شاوخوا یوه میاشت تېره شوه، داعشیان په ډېر لنډ وخت کې له ماتې سره مخ شول، ځیني مړه او ځیني وتښتېدل.
موږ له سخت تکلیف سره مخ وو، هیڅ شی نه را رسېدل. ښه مو وګڼله چې پېښور ته واوړو. له عمري سره مو اړیکه ونیوه چې بېرته زموږ د تګ لاره جوړه کړي.
عمري ویل چې په اغزن تار باندې د تحریک طالبان پاکستان له خوا برید شوی، پاکستاني پوځ ته تلفات اوښتي، ځکه خو یې ټولې لارې تړلې، تاسې چې لږ صبر وکړئ ښه به وي!
موږ ته د کونړ ځایي مجاهدینو هم راپور راکړی و چې پلان درته جوړ شوی دی، شپني عملیات دربانديې کېږي؛ نو د عمري د خبرې په اورېدو نور هم په تشویش کې شوو او داګومان مو وکړ چې پاکستان لاره لاسي راباندې بنده کړې ده، په دې ډول غواړي چې شپني عملیات راباندې بریالي شي.
موږ له نواپاس څخه د مرورې ولسوالۍ یوې ډېرې لرې لارې ته راغلو چې د سلیم ټو په نامه مشهوره وه، هلته مو پنځه شپې انتظار وکړ، خو له عمري سره چې به مو هر ځل رابطه وکړه، د لارې په اړه به یې معلومات منفي وو.
په شپږمه شپه ما عمري ته زنګ وواهه، راته و یې ویل چې یو چانس شته!
ما ورته وویل:
څنګه چانس؟
-ټي ټي پي (تحریک طالبان پاکستان) چې پر ډېورنډ کرښه کوم جنګ کړی دی، په هغه کې یې د اغزن تار کارګران هم ژوندي بېولي، خو مهمه دا ده چې د یوه پوځي سر یې هم غوڅ کړی دی او ورسره وړی دی. که له

Download more from Libtoon.com

ټي ټي پي سره طریقه جوړولای شئ او سر ترې د یوې معاملې په بدل کې اخیستلای شئ، زه به په پوځیانو لاره درته خلاصه کړم.

ما په بېړه وویل:

څنګه؟

عمري ځواب راکړ:

زه به دا ورته ووایم چې زما ملګري پېښور ته راځي، سر به ورسره راوړي؛ نو لاره به هم خلاصه کړي.

ـ والله دا خو دې ښخي ښه خبره وکړه، خو دا د دې خوا لېونیان (ټي ټي پي والا) به څنګه قانع کوو؟

ـ زه کوښښ کوم، شاید پیسې هم پرې ورکړي. له ټي ټي پي سره د پیسو د اندازې خبره هم وکړئ؛ نو به طریقه سره جوړه کړو.

ـ دا خو ډېره ښه شوه، نن به زه کوښښ وکړم چې له ټي ټي پي سره وغږېږم.

له غره راکوز شوم، لاندې هغه کور ته راغلم چې موږ پکې منتظر وو، خبره مې له بلال سره شریکه کړه، خوښه یې شوه.

په دې وخت کې ټي ټي پي په کونړ کې مرکزونه لرل، نه زموږ له خوا کوم بندیز پرې لګېدلی و او نه د جمهوري حکومت.

له جمهوریت سره د اړیکو لپاره د دوی یوه اووه کسیزه شورا وه چې نوم یې دولتي شورا پرې ایښی و، له هغې لارې به یې خپلې ستونزې له جمهوریت سره شریکولې.

موږ چې په کونړ کې د داعش له فتنې سره تازه په جګړه اوښتي وو؛ نو تر ډېره د سیمې مدیریت رانه پاتې و.

بېرته د تلیفون ځای ته لاړم، دا د غره یوه غونډۍ وه چې انټن به کار ورکاوه.

Download more from Libtoon.com

شېر اعظم اکا مسید و او د تې ټي پي لـه مهمو قوماندانانو ګڼل کېده، لـه ده سره زمـوږ شناخت پـه وزیرستان کـې پیدا شوی و او د مولـوي سنګین په مشري یې د افغانستان پـه ډېرو تعرضونـو کـې برخـه اخیستې وه. ده تـه مې تلیفـون وکـړ.

شېر اعظم اکا څو ورځې مخکې هـم همدلتـه زمـوږ سلام تـه راغلی و، تر سلام کلام وروسته مې مشخص د دې سر پـه هکلـه ورتـه وویـل چـې تاسې اوس څه وربانـدې کـوئ؟ کـه غـواړئ چې د یـوه توافـق لـه لارې دا سر دوی (پاکستان) تـه وسپارئ، مـوږ مـو تـر منـځ جوړجاړی کـولای شـو.

اکا د ملګرتیـا او غیـرت سړی و، د مسیدو قـوم بیـا هسې هـم لـه مـوږ سره ښې اړیکـې درلـودې؛ نـو یـې راتـه کـړه چې تـر تاسې مـوږ نـور ښـه خلـك نـه غـواړو چې پـه دې معاملـه کـې داخـل شي، مګـر دومـره وخـت راکـړئ چې لـه مفتي صاحـب ګل محمـد سره خبـرې وکـړم.

مفتي ګل محمد د تې تي پي له خوا د باجوړ مسوول و.

ما ورته وویل:

خوښـه مـې ده، خـو ګـوره د تاسې خـرڅ هـم پـه پـام کـې نیـول شـوی دی، زه عمـري تـه وایـم چـې درتـه تیـار یـې کـړي.

اکا په خپله لهجه په ګپ کې وویل:

یاره ملنګ یاره داسې و ونکې چې مو ته و دې پوخ کور جوړ وي!

مطلب يې دا و چې «داسې به و نه کړې چې ما ته یو پوخ کور پرې جوړ کړې.»

ما ورته وخندل:

ان شاءالله که پوخ کور پرې جوړ نه شي، خو د جبب خرڅ به دې برابر کړي.

تلیفون مو قطع کړ.

مـا سپینـین بېرتـه دې غونـډۍ تـه راغلـم، د شـېراعظم اکا تلیفـون کار کاوه، څکـه

Download more from Libtoon.com

هغه په کونړ کې حکومتي سيمې ته نږدې اوسېده.

اکا چې تلیفون اوکې کړ، سمدستي یې په خندا وویل:

ملنګ‌یاره لکه چې پیسې مې په نصیب نه وې!

ـ خیر شه، ولې؟

ـ مفتي صاحب ویل چې د انسان د سر په بدل کې موږ ته پیسې نه روا کېږي، خو دا چې دوی ته لاره نه خلاصوي، موږ سر ورته سپارو چې ځان ته لاره پرې خلاصه کړي!

ما پوښتنه وکړه:

تاسې ته څه پته ده چې موږ ته لار نه راکوي؟

ـ د قاري ضیاءالرحمن ملګرو مفتي صاحب ته ویلي وو.

ـ ښه ډېره ښه ده، اکا ته خو زما ملګری یې، زه عمري ته وایم چې تا ته له خپله جیبه خرڅه درکړي، خو ګوره هغه شی «سر» سم وساته چې ضایع نه شي.

ـ له پیشو مې پاس ایښی خوندي ځای ایښی دی، ورته متوجه یم، فقط یو کس پسې را ولېږئ.

له ده وروسته مې عمري ته زنګ وواهه، ورته و مې ویل چې سر خو راته سپاري، اوس څنګه وکړو؟

عمري وویل چې زه سبا پخپله سلیم تهو ته در خېژم، تاسې ته به لاره خلاصه شي او دوی ته به سر وسپارو.

سبا ځینې ملګري اکا ته ورغلل او هغه سر ورته وسپاره او مازدیګر هغوی «سلیم‌تهو» ته ورسره واخیست چې مازدیګر ورسېدل. عمري هم همالته د ملېشو له پوستې سره ورته منتظر و.

ماښام موږ هم ور روان شوو، د شپې شاوخوا لس بجې «سلیم تهو» ته په داسې

Download more from Libtoon.com

حال کې ور نږدې شوو چې پوځیانو ډزې هم کولې، شاوخوا سیمه یې ویشتله، خو عمري راته ویلي وو چې تاسې ته کوم مشکل نه شته، ازاد راځئ.

کرښې ته ورسېدو، ځینې کلیوال ناروغان هم راغلي وو، هغوی هم غوښتل پېښور ته واوړي. دغه راز له موږ سره خپل زخمیان هم وو چې له داعش سره په جنګ کې لګېدلي وو.

دوې لارې وې، د تي تي پي مجاهدین په یوه او موږ په بله لاره غره ته ور ختلو، له هغې خوا عمري دوی ته لاره ور کړه کړه، همالته یې سر ورته سپارلی و، موږ چې ور رسېدو، یوازې لاره راته خلاصه وه او له نور جریانه نه یو خبر شوي، خو وروسته عمري ما ته وویل چې د تي تي پي مجاهدینو ته مې خرچه ورکړه. ما ورته وویل، څومره دې ورکړه؟ ده وویل چې درې لکه کلدارې مې پرې ووېشلې.

عمري له کرنیل څخه د سر په بدل کې ۵ لکه کلدارې اخیستې وه.

Download more from Libtoon.com

## مطبوعاتي مبارزه

زما هيڅ له مطبوعاتو سره جوړه نه وه، په فيسبوک کې مې د خالد افغان په نامه يوه ايډي درلوده چې کله کله به مې فقط تصويرونه ترې نشر کړل.

يوه ورځ چې په افغانستان کې له انګرېزي ښکيلاکه د استقلال د اخيستو ورځ نمانځل کېده، ټولو خلکو په خپل ډول يادوله او افتخار يې پرې کاوه، زه له ځان سره په فکرونو کې ډوب وم او په زړه کې را تېرېدل چې په داسې ورځو کې چې عملاً موږ افغانان د امريکايي اشغال تر چتر لاندې ژوند کوو، د ازادۍ ورځ څه مانا؟

په همدې فکرونو کې مې د فيسبوک د ازادۍ ورځې د نمانځلو په اړه پوسټونه کتل او تېرول چې د يو چا پر پوسټ سترګې ولګېدې: «ازادي نه شته په خوله لاس کېږده!»

نه پوهېږم چې دا د کوم شعر نيم بيتي وه، که همداسې چا ليکلې وه، خو پر ما يې زيات اغېز وکړ او کاپي مې کړه پر خپله فيسبوک پاڼه مې نشر کړه، يو ساعت پس يې چې ګورم خلکو خوښه کړې وه، په يوه حجره کې مېلمه وم، زموږ د نماينده عمري تر څنګ ناست وم، د ازادۍ د ورځې اړوند بحث شروع و چې عمري يو چا ته په خپلو خبرو کې هغه جمله ياده کړه او زه

Download more from Libtoon.com

یې ورتـه وښـووم چـې نـن یـې پـه فیسبوک کـې دا جمله نشـر کـړې وه چـې ازادي نـه شـته پـه خولـه لاس کېږده، عمـري وویـل چـې دې جملـې پـر مـا تاثیـر وکـړ، رښـتیا هـم مـوږ و تاسـې ازادي نـه لـرو، همـدا ډول یـې خپلـې خبـرې پسـې اوږدې کـړې، خـو پـه دې صحنـه کـې چـې زمـا پوسـټ پـه خبـرو کـې یـاد شـو نـور هـم متاثـر شـوم، پـه ځـان کـې مـې یـو څـه ولیـدل چـې زه یـو څـه لیـکلای شـم او هغـه درد بیانـولای شـم چـې خلکـو تـه د ذوق د خړوبولـو سـبب گرځـي.

لـه دې وروسـته مـې پـه فیسبوک کـې مطالعـه شـروع کـړه او وخـت ناوخـت مـې خیالـي لیکنـې کولـې چـې د «نـن ټکـی اسـیا» لـه لارې بـه نشـرېدې، همـدا ډول مـې وخـت ناوخـت شـاعري هـم کولـه خـو نشر مـې رانـه بېرتـه شـاعري واخیسـتله.

۲۰۱۷م کال را ورسـېد، مـا لـه ځـان سـره فیصلـه وکـړه چـې بایـد خپلـې خاطـرې کتـاب کـړم. زه سـم نـه پوهېـدم چـې لـه کومـه ځایـه او څـه ډول یـې پیـل کـړم، خـو وروسـته ذهـن تـه راغلـل چـې د برگـډال لـه کیسـې بـه یـې پیلـوم. لـه دې سـره سـم مونیـکا لـي را پـه یـاد شـوه چـې مـا یـې برگـډال تـه د معلوماتـو د ورکولـو وعـده هـم ورکـړې وه، خـو سـره لـه دې چـې زمـا خپلـه وعـده هېـره نـه وه، مگـر احـوال مـې نـه وو.

پـه پېښـور کـې مـا انټرنیـټ تـه ښـه لاس‌رسـی درلـود، د برگـډال پـه اړه مـې پلټنـه کولـه چـې پـه نیوزویـک مجلـه کـې مـې د سـمیع یوسـفزي پـه نامـه د یـو خبریـال پـر تحقیقـي راپـور سـترگې ولگېـدې. راپـور مـې پـه گـوگل ترجمـه کـړ چـې ښـه مـې سـر پـرې خـلاص شـي، د برگـډال پـه اړه یـې ځینـې معلومـات بېخـي دقیـق وو. د یوسـفزي ټویټـر مـې پیـدا کـړ او شـمېره مـې تـرې وغوښـتله. د کتـاب د لیکلو خبـره مـې ورسـره شـریکه کـړه او د برگـډال پـه اړه مـې د تـازه معلوماتـو پوښـتنه تـرې وکـړه. یوسـفزي وخـت وغوښـت. اوونـی تېـره شـوه، بلـه ورځ یـې راتـه وویـل

Download more from Libtoon.com

چې برګډال له چا سره په اړیکه کې نه دی، نه پوهېږم بندیزونه دي او که بله مساله ده، خو له پلار سره یې په اړیکه کې شوم. هغه راته وویل چې برګډال په کور کې دی، خو مونیکا لي د ده تر راتګ وړاندې لا له بل چا سره کوژده وکړه.

یوسفزي چې خبرې خلاصې کړې، زه په سوچ کې لاړم. برګډال د بند په ټوله موده کې مونیکا لي تر کورنۍ هم ډېره یادوله. بیا هغه مجاهدین را یاد شول چې ان تر فدایي حملو وروسته یې هم مېرمنې د دوی په یاد او نامه ناستې وې.

د پېښور په راحت اباد کې د بلال د کور په دویم منزل کې اوسېدم، لومړنۍ توري مې په هماغه ځای کې پیل کړل. حنظله هم راسره ناست و، ور ښکاره مې کړل:

ان شاءالله دا به زه مکمل کوم!

حنظله وویل:

خدای دې وکړي!

د اشرف غني په وخت کې له اسلامي امارت سره د حکومت لومړۍ اوربند و چې زه له ملګرو سره یو ځای د پاکستان ښایسته سیمې، کاغان ناران ته د سیاحت لپاره روان وم، په فیسبوک کې مې د عسکرو او طالبانو ګډو عکسونو زړه پرې کاوه، په زړه کې مې ویل چې کاشکې نن زه هم په وطن کې وای چې له همدې ورځې په استفاده به مې خپله مورکۍ، په کور کې ماشومان او نور دوستان لیدلي وو.

زه ډېر لرې راغلی وم، زړه مې ډېر غوښتل چې واپس شم، خو لار هغه شان برابره نه وه، ځکه چې پر فرضي کرښه اوښتلو افغانستان ته شاوخوا

Download more from Libtoon.com

شل ورځې وخت نیو، په لاره کې مې مورکۍ هم زیات تلیفونونه راوکړل چې ورشم، خو هیڅ امکان یې نه و، مور مې په دې ډاډه کوله چې ان شاءالله داسې ورځې را روانې دي چې تل به په وطن کې اوربند وي او زه به ستا تر څنګ یم.

د زړه پر سپېره دښته مې د کورنۍ لیدل هغه باران و چې زه یې لکه تږی فصل زرغونولم، خو زه پخپله هم نه پوهېدم چې دا باران به کله وربږي.

پلار به مې هم وخت ناوخت زنګ راته واهه، خو نور داسې ښکارېده چې په وجود کې یې دومره توان نه شته چې خوشکه راته وکړي، بلکې یوازې د دې تږی دی چې و مې ویني او کلکه غاړه راکړي.

زه په پېښور کې وم چې د قطر د مذاکراتو تاوده بحثونه روان وو، زما فکر تر پخوا ډېر نرم شوی و، ښاري ژوند پر ډېرو مسایلو بلد کړی وم او د تعامل ځانګړتیا راپکې پیاوړې شوې وه، له خپلو همفکره ملګرو سره مې مجلسونه ورځ تر بلې غځېدل او د یوې داسې سولې په لټه کې وو چې ټول افغانان په افغانستان کې سره وګورو او امریکایي اشغال پای ته ورسېږي. له هر مشر سره مو چې لیده کاته کېدل د هغوی هم همدا نظر و چې باید خپل افغانان یو او بل سره ومنو او امریکا دې خپل پوځیان وباسي.

امریکا د مذاکراتو پر مهال له ډېرو فشارونو کار اخیست، ځینې وخت به یې په افغانستان کې په نظامي میدان کې فشار راووړ او کله به یې په پاکستان کې د مجاهدینو پر کورنیو د پاکستان په لاس فشار زیات کړ. یوه داسې ورځ چې مذاکرات په وروستیو پړاوونو کې وو، د امریکا خاص استازي زلمي خلیلزاد په اسلام اباد کې پرلت کړی و او پاکستان ته یې ویل چې طالب مشران باید په زور خبرو ته راسره کېنوي!

Download more from Libtoon.com

د پاکستان خو نور څه په وس پوره نه وو، ناممکن کار ته یې لاس اچولی و چې زموږ د ټیټې کچې مجاهدین یې نیول، خو په دې وختونو کې موږ له دوی سره په تلو راتلو کې هغه د چا خبره ماسټري کړې وه.

چیک پوائنټونه سخت شوي وو، په هر موټر او هره لاره د افغان مجاهدینو په نیولو پسې لټون شروع و، ما هم د پاکستان یو جعلي شناخته کارډ جوړ کړی و، خو په دې ورځو کې زه ټل ته په چکر راغلی وم، خبر شوم چې پوځیانو په چیک پوائنټونو کې په موږ پسې تالاشي سختې کړې وې.

یو څو ورځې مې صبر وکړ خو په ټل کې مې زړه تنګ شو، په دې وخت کې زما له مالي اړخه یو څه لاس چلېدلی و ښه شوی وم، خپل پرېمو ډوله جاپانی موټر مې پیدا کړی او د تورو شیشو جواز مې هم په رشوت ورته اخیستی و، تکل مې وکړ چې څو به په ټل کې د لارو د اسانی انتظار کوم، نن باید ووځم.

زما د وېښتانو د لنډولو اوس یو کال وتلی و، خو دوه مجاهدین راسره وو چې اوس هم څنېور وو. زما څېره اوس له پېښوریانو سره ډېره ورته وه، دا کار مې په دې خاطر ځان ته ور ښنلی و چې له نیول کېدو بچ شم او په خدمت کې تاخیر پېښ نه شي. له څنېورو ملګرو سره یو ځای پېښور ته روان شوم، دوی یو مرحبا او بل عمر نومېدل، مرحبا د پکتیا ځدراڼ او عمر د خیبر افریدی و.

موټر ما چلاوه، پېښور ته پر لاره د تونل تر مخ د پوځیانو د تالاشي پوسټ ته ورسېدو، پوځیان د شخصي موټرو په تالاشي بوخت وو او په کومه لاره چې حکومتي افسران تلل، هلته پولیس ولاړ وو. ما هم وار خطا نه کړ، په حکومتي لاره مې موټر زړور ور وځغلاوه، پولیسو ته مې هارن وکړ، پولیس تر یوه ښه عسکر سلام وروسته په ډېر احترام شیشې ته خوله را برابره کړه:

Download more from Libtoon.com

سر که لږ کارت راته ښکاره کړئ؛ نو اجازه به درکړو، ولې چې پوځیان بیا مونږ ته غوسه کوي، څو ورځو راهیسې افغان طالبان او خاص بیا د حقانیانو په نیولو پسې عملیات پیل شوي.

څوک چې به سراج الدین حقاني ته نږدې وو، هغوی یې حقانیان بلل. ما په تروشه تندۍ ورته وویل:

تاسې ته مونږ له دفتره نن څوومه ورځ ده چې لېټهر جاري کړی، تر دې دمه مو څوک نیولي که نه؟

پولیس په خواره خوله وویل:

دا کابلیان زیات هوښیاران دي، ځانونه یې پټ کړي خو کوښښ کوو، سر! تاسې بې فکره شئ.

له دې سره مې په ډېر جرأت له جیبه شناخته کارډ ورته را وایست، چې څنګه مې ور ښکاره کړ، پولیس منډه واخیسته او سمدستي په لاره کې لګولی مانع ایسته کړ، ما موټر په تېزۍ روان کړ او ترې تېر شوم.

مرحبا له خندا شین و، ښکنځلې یې کولې:

د تاسې د کلونو ټرینینګونه مونږ ته هیڅ نه دي...!

Download more from Libtoon.com

## د انس حقاني غوسه

د روژې لومړی سهار و، په ټویټر کې د اوربند خبرې ګرمې وې، یوه ټویټري فعال لیکلي وو چې طالبان دې د مبارکې روژې په خاطر اوربند وکړي، د افغانانو وینه تویول دې بند کړي... نور شیان یې هم لیکلي وو، ما څکه و نه زغملای شوای چې په دې وخت کې امریکا له موږ سره توافق کړی و چې پنځه زره بندیان مو را خوشې کړي، مګر اشرف غني خبره ځنډوله، دا ځنډ موږ ته د جنګ د دوام په مانا ایسېده.

دا وخت ما د خالد ځدراڼ په نامه فعالیت کاوه او لوستونکي مې هم زیات شوي وو. دا داسې وخت و چې موږ له ډېره صبره کار اخیست او په قطر کې په خبرو اترو بوختو مشرانو هم کوښښ کاوه چې نور په افغانستان کې د جګړې بل اور ګل کړي، خو برعکس ما ولیکل چې په روژه کې یو عبادت په ۷۰ عبادتونو بدلېږي، یعنې ۷۰چنده ثواب زیات لري؛ نو غازیانو پر دښمن د خپلو ټوپکو شپېلۍ را تېتې کړئ او د یوه غلام د وژلو په بدل کې د ۷۰غلامانو د وژلو ثواب وګټئ.

ټویټ مې وکړ، موبایل مې بند کړ او په خواږه خوب ویده شوم. کله چې ماسپښین را پاڅېدم ټویټر ته لاړم، زما پر لیکنه ډېرو خلکو تبصرې کړې وې،

Download more from Libtoon.com

چا چې منفي تبصرې کړې وې، هغوی ته مې له ډېر تحمله کار اخيست، نه مې غوښتل داسې خبرې وکړم چې د افغانانو تر منځ د نفرتونو سبب وګرځي، خو د اشرف غني د ځينو پلويانو په فيسبوکي او ټويټري اکاونټونو کې به سړی دې ته مجبوره شو چې سخت غبرګون ورته ښکاره کړي.

حافظ انس حقاني هم تازه له زندانه ازاد شوی او د قطر په مذاکرتو کې د مهم غړي په توګه موجود و، دوې ورځې پس يې پرلهپسې دوه د واټساپ پيغامونه را ورسېدل او ما ته يې پکې خوشکه کړې وه:

خالده! ته خوک يې چې په ټويټر کې د نفرت خبرې ټويټ کوې؟ ګوره مونږ لګيا يو چې دلته يو جوړ جاړی وکړو، تاسې پر بل شوي اور بېرته پيټرول اچوئ، نور له داسې ټويټونو تېر شه چې د نفرت سبب ګرځي، که نه ټويټر پرېږده!

نه پوهېږم چې ما په خواب کې څه ورته وويل، خو د انس په خبرو کې مې درک کړه چې د کلونو زندان وهلی ځوان هم د عقدې او حسد پر ځای د سولې او امن تږی او د افغانانو د تلپاتې خوشالۍ د لټون لالهاند دی.

سره له دې چې هغه وخت په مذاکراتو کې په دغه ډول خبرو باندې اعتراضونه کېدل چې تاسې دلته د مذاکرې او اورکم خبرې کوئ، خو د جګړې په ډګر کې موجود وياندويان او ملاتړي د ډېرو وژلو امرونه کوي.

له دې وروسته زه نور هم متوجه شوم چې مشرانو په نرمۍ کې ګټه ليدلې، ما ته هم د خپل اوسني او پخواني ذهنيت تر منځ د نرمي د کرښو د زياتېدو احساس کېده. يا به خبره دا وه چې پردي مو له هېواده وتلو ته نږدې کېدل، زمونږ غوسه طبيعي مخ په کمېدو وه.

Download more from Libtoon.com

## وروستۍ ورځې

په زېړوک ولسوالۍ کې د بلال په مشري له سلګونو مجاهدینو سره یو ځای په تشکیل کې وم، د پکتیکا لپاره د اسلامي امارت نظامي مسوول ملا عیسی اخوند و. غالباً ملا عیسی د کندهار و، په زېړوک کې هغه کمپ محاصره و چې د امریکایي اشغال په لومړیو کې د شهید ملا سنګین فاتح د ورور عبدالوارث حیدري شهید تر څنګ لسګونه ځوانان وربانديې شهیدان شوي وو، وروسته په نورو تعرضي بریدونو کې هم شهیدان زیات وشول چې شمېر یې ۲۵۰ ته رسېده، دا هغه کمپ و چې موږ یې د فتحې په ارمان وو.

دا وخت چې په افغانستان کې د طالبانو رعب زیات شوی و او ګوزارونو یې له دښمنه لاره او لوری ورک کړي وو؛ نو د زېړوک د کمپ د فتحې شېبې مو هم شمارلې، زموږ ډېر ملګري د منځکۍ په لاره کې په کمین کې ناست وو چې اکمالاتي قوه را تېره نه شي، دوی له شدیدې لوږې سره لاس و ګرېوان وو، ځایي کلي ته تولې اکمالاتي لارې بند وې، خو کلیوالو بیا هم د دوی پالنه په وریځ تندي کوله او سپینې وریژې به یې ورته پخولې.

ملګري ستړي او ستومانه وو، د غلچکي په مشرۍ په منځکۍ کې په عملیاتو بوخت وو چې بلال پر ما غږ وکړ:

Download more from Libtoon.com

د افغانستان په سطح د امر بالمعروف مسوول شیخ خالد حنفي راغلی او وایي چې نظامي ملګري دې د مازدیګر لمانځه ته د نصرې کلي جومات ته را ټول شي، یو مهم پیغام ورته لرم.

ما وویل:

دلته خو د نظامي ملګرو را وستل ډېر تکلیف دی، هلته په غرونو کې شاوخوا شپږ ساعته مزل دی، ملګري زیات دي او شیخ صاحب یو نفر دی، شاید څو ملګري ورسره وي، زه به یې رهبري کړم، د جنګ په ډګر کې به مجاهدینو ته خپله خبره وکړي، د مجاهدینو حالات به هم له نږدې ووینې چې ډوډۍ او شپې یې څنګه دي؟

- زه بیا حال درکوم!

لږ وخت ووت، بیا مې د بلال غږ واورېد:

وایي موږ نه شو ورتلای ملګري دې دلته راشي.

بیا یې پسې زیاته کړه:

که ملګري رانه شي مشران به خپه شي، وایي به چې امر نه مني؛ نو عاجل دې راشي!

ما له غلچکي سره اړیکه ونیوله، د راتلو مې ورته وویل، هغه وویل چې دا خو ظلم دی، که تاسې زموږ خوا ته راشئ ډېره به ښه وي، ځکه یو خوا ملګرو په نیمه خېټه ډوډۍ خوړلې، له لوړې مزل نه شي کولای او بل لور ته دلته اوس د جنګ حالات دي، که موږ درغلو او کمپ ته اکمالاتي قوه تېره شوه او عسکر یې اکمال کړل، بیا به یوه میاشت محاصره کوو؟

ما ورته وویل چې هر څه چې کېږي قطعي امر دی، باید راشئ.

غلچکي پرته له دې چې نور مخالفت راسره وکړي، و یې منله. سترې

Download more from Libtoon.com

مجاهدین سم له سهاره په مزل سر شول چې د مازدیگر لمانځه ته د نصرې کلي جومات ته را ورسېدل، هلته د جومات له لمانځه وروسته شیخ خالد تقریر شروع کړ، تقریر ډېر رانه هېر دی، خو خبرې یې د ځینو پر لنډولو وې:

تاسې باید سرونه جوړ کړئ او امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخوندزاده امر کړی چې مجاهدین باید وېښتان لنډ کړي...

لږ وروسته یې خپلې خبرې را لنډې کړې او د نکې په لور یې د تللو رخصت واخیست.

موږ ته هم عجیبه وه چې دا ستړي مجاهدین چې دې دغو خبرو ته را غوښتل دا خو دې د مخابرې له لارې هم ورته کولای شوای او یا باید مخامخ هلته ورته راغلی وای چې دا لسگونه مجاهدین دې د جنگ له صحنې ستړي تر دې ځایه را سرگردانه کړل.

Download more from Libtoon.com

# د خوني کمپ فتح

د زيړوک کمپ زموږ د ډېرو ملګرو قاتل و، دلته د ملي اردو کسان مېشت وو، اوس د محاصرې شاوخوا يوه مياشت وتلې وه او د تسليمۍ پر درشل ولاړ و، دغه کمپ ته څېرمه په يو کيلومتري کې د سرې قرارګاه په نامه يو مرکز و چې يوه دفاعي پوسته يې لرله، يوه ورځ دا سره قرارګاه فتح شوه، دويمه شپه وه چې غلچکي وويل چې نن په کمپ کې مېشتو عسکرو ما ته حال را لېږلی چې موږ د تسليمي لپاره درځو. د وخت له والي سره په مشوره بلال غلچکي ته وويل:

عسکرو ته پنا ورکړه، سبا به يې بيا رخصت کړو.

د شپې دوولس بجې وې، موږ د نکې ولسوالۍ پر يوه غونډۍ ولاړ وو، په مخابره کې د غلچکي په شمول د جنګ د ډګر له ملګرو سره په تماس کې وو، غلچکي ته د ولسوالۍ شاوخوا ۲۵ عسکر ورسېدل او تسليم شول، په کمپ کې فقط ملي اردو پاتې عسکر پاتې شول، هغوی ته مو هم د مخابرې له لارې دعوت ورکړ چې ټوپک پر ځمکه کېږدي او تسليمي ومني، خو دوی هيڅ غږ نه کاوه.

دا شپه له خوشاليو ډکه وه، بندېوان وزير هم زموږ تر څنګ ناست و او خپل

Download more from Libtoon.com

يو شعر يې چې د امريکايي اشغال په لومړيو وختونو کې يې ليکلی و، په خونـد زمزمه کاوه:

بيا له سنګره کړنګهار د راکټونو راځي

چې طالب جان اشنا مې څه کړي دي؟

له پکتيکا نه اوازې د تکبيرونو راځي

چې طالب جان اشنا مې څه کړي دي

ځينو ملګرو د شکر سجدې لګولې او ځينې بيا پر کمپ د پخوانيو شهيدانو ملګرو په ياد په ژړا وو.

بنديوان وويل:

عجيبه وخت دی، داسې وخت و چې زه په تشکيل کې وم، د زېړوک د کمپ خبر راغی چې امريکايان راغلي کمپ جوړوي او اوس داسې شپه ده چې د همدې کمپ د فتحې نارې راځي.

مور ټولو ملګرو يو بل ته مانداره کتل.

زېړوک کمپ داسې نه و چې په اسانه تسليم شو، پر دې کمپ يوه مياشت مسلسل جنګ روان و او لاره پرې بنده وه، د دې په منځ کې په ارګون کې ځای پر ځای د KPF په نوم د امريکايانو خاصو قطعاتو څو ځله د محاصرې د ماتولو هڅه وکړه، خو بريالي نه شول، په داسې حال کې چې يوه ورځ يې د شپې پر ملګرو ټانګونه راوستل او مخامخ جنګ شروع شو چې د سخت درد له امله د KPF ځواکونو زمور د غلچکي يو شهيد ملګری په تبرونو ټوټه ټوټه کړی و.

له دې څه موده وروسته زمور ملګرو ته په جګړه کې د دريو وژل شويو عسکرو مړي په لاس ورغلي وو، زه بل ځای وم چې په مخابره کې مې د

Download more from Libtoon.com

غلچکـي غـږ واورېـد:

تبرگی راوړئ، تبرگی...

ما پر غلچکي غږ وکړ:

ته چېرې يې، زه درځم!

ـ څه وايې، همدلته په مخابره کې راته ووايه!

ـ ضروري کار مې دی.

غلچکی تېنګ شو:

نه همدلته راته ووايه، زه مصروف يم.

ما ورته کړه:

ـ گوره چې له مړو سره غرض و نه کړې!

غلچکی غوسه شو:

تا خپل شهيد هېر کړی دی؟ ها؟

څو ورځې وړانـدې چې کله لـه ارگـون څخـه د شـاهين وزير پـه مشـري د کمپاين عسـکرو د ژېـړوک کمـپ تـه اکمالاتـي قـوه را روانـه کـړې وه، د منځکـی پـه سـيمه کـې د غلچکـي پـه مشـري تـر سـختو گوزارونـو لانـدې شـوه. لـه غلچکـي څخـه دوی تـه يـو شـهيد ملگـری ور پاتـې شـوی و چـې بيـا دوی پـه بـارودو الوځولـی و، ځکـه خـو اوس غلچکـي غوښـتل چـې د دوی مـړي پـه تبرونـو ووهـي.

ما وويل:

بيا زموږ او د دوی فرق څه شی شو؟

غلچکي تر ډېر ډېر تېنگار وروسته راسره ومنله.

د ژېـړوک لـه کمپـه د عسـکرو د وتلـو اوازې راتلې، کـه څـه هـم سـم معلومـات لا راتـه نـه وو شـوي، خـو بيـا هـم شـپه ډېـره پـه خوښـي تېـره شـوه. ځينـو ملگرو تـه لـه

Download more from Libtoon.com

خوشالي خوب نه ورته، ځینې بیا د سبا په تمه تر سهاره ناست وو. زه هم د سهار له لمانځه وروسته ویده نه شوم، که څه هم په پېښور کې په دې نشه اموخته شوي وو، خو په تشکیل کې به مو نه کاوه.

سهار پر چای ناست وو چې حنظله په مخابره کې غږ وکړ:

زه د زېړوک له کلي سره نږدې یم، دلته کلیوال وایي چې له کمپ څخه د ملي اردو وال تللي دي، هیڅوک پکې نه شته!

ما حنظله ته وویل:

له ځان سره فکر کوه، ته لږ ور نږدې شه، که حقیقت وي ځان ورسوه او د کمپ دروازه بنده کړه، هیچا ته د ننوتلو اجازه مه ورکوه. حنظله همداسې کړي وو، شل دقیقې وروسته یې په مخابره کې د خوښۍ چیغه کړه:

د زېړوک کمپ فتح دی او پر دروازه مې یې سپین بیرغ نصب کړ!

د دې غږ په اورېدو په مېلمستون کې منډه شوه، هر نفر موټر چالان او د کمپ پر طرف یې حرکت پیل کړ.

موږ په نکه کې د کباډ په مېلمستون کې ناست وو، کباډ بېرته د پکتیکا د ډرېوري یاد تازه کړ او خپل موټر یې چالان کړ، زه هم ورسره کېناستلم، موټر تول له مجاهدینو راپسې ډک شو او د کمپ پر لور په ډېره تېزي روان شوو.

لس دقیقې ووتلې، موږ کمپ ته ننوتلو، تر مخکې هم مجاهدین را رسېدلي وو او د خوښۍ ډزې یې پیل کړې وې.

کباډ موټر څنګ ته ودراوه، په دې وختونو کې زه په رسنیز ډګر کې هم ډېر فعال شوی وم، ملګري ته مې ایفون ۱۱ موبایل ورکړ چې زما له خبرو ویډیو ثبت کړي. د زېړوک د کمپ تر مخ مې په داسې حال کې خبرې شروع

Download more from Libtoon.com

کړې چې زما تر شا مجاهدینو د خوښۍ ډزې کولې، د خبرو پیل داسې و:
«دا د پکتیکا ولایت زېړوك ولسوالي ده، طالب ځواکونه د زېړوك کمپ ته رسېدلي!»
دې ویدیو ته مې په ډېره سختۍ د نیټ ساحې ته ځان ورساوه او د خپل ټویټر له ادرسه مې نشر کړه، خو چې څو ورځې پس کله انټرنیټ ته برابر شوم او ویډیو مې وکتله، لکونو کسانو زما پر وال کتلې او زرګونو کسانو شییر کړې وه...

Download more from Libtoon.com

○○○

د زېړوک تـر فتحې یـو څـو شـپې وروسـته مـا او بندیـوان دا پرېکـړه وکـړه چـې پيښـور تـه څـو، څکـه چـې پـه تشـکیل کـې مـو شـاوخوا درې میاشـتې وتلـې وې، مـوږ لـه نکـې ولسوالۍ څخـه موټـر دربسـت ونیـو، د پکتیـا تعمیـر بـازار تـه ورسـېدو، تـازه فتـح شـوی و، کچـه سـړکونه یـې هـم مـوږ تـه لکـه «هـای وې» داسـې ښـکارېدل. د مجاهدینـو پـه یـوه قاچاقـي لاره لوګـر تـه لاړو او بیـا څاڅـي اریـوب تـه روان شـوو، یـوه شـپه او یـوه ورځ مـزل مـو وکـړ.

لـه حکومتـي سـیمې مـو لـرې پـه یـوه کلـي کـې شـپه وکـړه، سـهار چـې کلـه څاڅـي اریـوب تـه ورسـېدو، لـه هغـه وروسـته پـه دې ډول لومـړی وار و چـې لـه زه لـه سـعودي راغلـی وم چـې د افغانسـتان پـه داخـل کـې مـو پـر پاخـه سـړک مـزل پیـل کاوه، څکـه دا سـیمه هـم تـازه فتـح شـوې وه.

مـوږ شـاوخوا د لارې مجاهدیـن ۶۰ ډاټسـنونه وو چـې ځینـې مجاهدیـن څاڅـي اریـوب او ځینـې بیـا پاکسـتان تـه خپلـو کورونـو تـه تلـل، پـه لاره کـې هیـڅ تکلیف نـه و، څکـه هـر مجاهـد د خوښـي احسـاس کاوه، افغانسـتان د ازادۍ درشـل تـه ور نـږدې شـوی و، د قطـر لـه مذاکراتـو د بریـا د زېـرو تـر څنـګ پـه داخـل کـې د فتحـو زېـري هـم راتلـل.

Download more from Libtoon.com

موږ بیا هم یوه ورځ مزل وکړ، شپه مو د شهرنو بازار ته ورسوله، همدلته پاتې شوو، سهار له شهرنو څخه د یوه رهبر په ملتیا سپینې شګې ته ورسېدو چې د سپین غر پر لوړه څوکه پاړه چنار ته واوړو، کله چې سپیني شګې ته ورسېدو زموږ تر مخ هم زیات مجاهدین چې شاوخوا پنځه سوه کسان او اکثریت یې د لکي مروت او افریدو ځوانان وو، پر غره اوښتلو ته منتظر وو، په دې کې د مدرسې طالبان هم وو، مجاهدینو به خپلې وسلې تر کرښه ها خوا نه اړولې.

د خوب ځای هم نه و، کومې کوټې چې د مجاهدینو د اوسېدو لپاره جوړې وې، ټولې له مجاهدینو او د مدرسې له طالبانو ډکې وې، دا کوټې د هماغې سیمې مجاهدینو د همدا ډول مسافرو مجاهدینو لپاره جوړې کړې وې، موږ همدلته واړول او دې ته سترګې په لاره وو چې ماښام لاره خلاصېږي، بالاخره ماښام غره ته ور وختلو، هلته په لاره کې د پاکستانیو ملېشو پوسته وه.

موږ استازی درلود چې له پوستې سره زموږ د اړولو په اړه وغږېږي، مخکې له دې چې هغوی اجازه ورکړي، موږ په دې فکر چې لاره خو هسې هم خلاصېږي، د پوستې په طرف مو په غره کې یو اوږد کتار جوړ کړ.

په کتار کې زما تر مخ بندیوان ولاړ و، مخ یې را واړاوه:

هی هی زه دې ته په سوچ کې یم چې یوازې د کرښې دې خوا ته زمریان یو، ګوره تازه مو د زېړوک کمپ فتح کړی، خو دلته زاری کوو. د زېړوک کمپ خوشې خبره نه ده.

ما ورته خندل.

دا انتظار عبث و، لاره خلاصه نه شوه، د شپې یوه بجه وه چې بېرته لاندې د کوټو طرف ته را روان شوو. کوټو ته چې را ورسېدو، دوې بجې شوې وې.

Download more from Libtoon.com

کله چې ور ننوتلو، کوټې د مدرسې له طالبانو ډکې وې، داسې ښکارېده چې دوی مخکې را واپس شوي او په دې خاطر یې ځانونه ګړندي را رسولي چې کوټې ونیسي، حال دا چې په دې کوټو کې اوسېدل یوازې زموږ حق و.
له ما او بندیوان سره د دې کوټو خوا ته کابو شل ملګري راغلي وو، ډېر فکر مو وکړ چې څنګه ځای ترې ونیسو.
بندیوان ته مې غلي وویل چې داسې چل به وکړو، دوی ویده دي، وخت ترې هېر دی. په خپل منځ کې به خاموش شور سره جوړ کړو چې هله بندیوانه بکس راواخله، دا هلکان مه را ویښوه، ډېر خلک نه پرېږدي، دوی هوسا دي تر موږ مخکې کېږي.
له دې پلان سره سم مو پیل وکړ چې د دوی څو کسانو زموږ د خبرو له اورېدو سره خېز وهل او له ځایونو برستني او توشان یوې او بلې خوا ته غورځېدل، په منډه منډه یې خپل بکسونه کشول او مخ پر غره یې د ختلو تابیا ونیوه.
ما پر غږ کړ:
پرېوځئ، لاره نه ده خلاصه شوې.
هیچا هم غوږ و نه نیو، په تلواره یې ځانونه چمتو کول. ما بیا غږ وکړ:
ښه نو نور څوک مه خبروئ، د همدې کوټې ملګري راځئ!
دوی ګړندي روان وو، دلته یې هم هڅه دا وه چې تر موږ ځانونه مخکې واړوي. تر یو ځایه موږ هم ورسره ولاړو، خو یو یو ترې را ګرځېدو او پټ پټ مو خندل.
موږ دوی په زور هم پورته کولای شوای چې دا خو زموږ ځای دی، مګر موږ زور نه ورسره کاراوه، یوازې همدا لوبه مو ښه وبلله.
لږ وروسته په کوټه کې ارام پرېوتلو، خو نه پوهېږم څومره وخت به تېر

Download more from Libtoon.com

شـوی و چـې د دوی پـه ښـکنځلو را ویـښ شـوم:

الله مو تباه و برباد کړه، دومره ظلم څوك كوي؟ دا خو لا مجاهدین هم یاست!

موږ غلي وو، خو وروسته مې د بنديوان غږ واورېد:

اوس خـو غوسـه یاسـت، خـو درې کالـه وروسـته چـې دا خبـره در یـادوئ تاسـې بـه هـم خانـدئ.

له دې سره ما هم پخ وهل، ښه مې وخندل.

دلتـه پـه سپینه شـگه کـې شـاوخوا اووه ورځـې منتظـر پاتـې شـوو، اتمـه ورځ لـه پېښـوره يـوه ملگـري رابطـه وكـړه او مـا او بنديـوان تـه يـې وويـل چـې د اوزگـړي پـه لاره بانـدې د کمـو ملگـرو د اوښـتلو ترتيـب برابرېږي، هغـه پوسـته نرمـي كـوي، دواړه هغـې لارې تـه څانونـه سيخ كـړئ.

لـه سـپينې شـگې څخـه اوزگـړي تـه بيـا پـوره يـوه ورځ او يـوه شـپه مـزل و، د سـيمې د مجاهدينـو پـه رهبـري مـو حرکـت ور وکـړ چـې د شـپې ناوختـه ورسـېدو، كربنـې تـه څېرمـه د ملـي اردو تـازه فتـح شـوې پوسـته وه چـې هلتـه ورغلـو. د سـيمې مجاهدينـو راتـه وويـل چـې مـوږ د دې پوسـتې لـه فتحې خبـر نـه وو، خـو د ملـي اردو كسـان تـرې وتلـي وو، کلـه چـې ورتـه راغلـو پاكسـتاني عسـكر پكـې ناسـت وو، بيـا مـو تـرې وايسـتل.

دې تـه مخامـخ د کربنـې هـا غـاړه د پاكسـتان د ايـف سي يـوه پوسـته وه، لـه هغـوی سـره مـو خبـرې پيـل كـړې، ورتـه و مـو ويل:

لار څنگه ده پرېږدئ يې که نه؟

-مشر مو ويده دی چې را ويښ شي، خبره به ورسره وكړو، موږ ته اجازه نه شته.

د ملگرتيـا غونـدې خبـرې مـو پيـل كـړې چـې د كـوم ځـای ياسـت، څومـره وخـت مـو كېـږي او...

Download more from Libtoon.com

دوی راته وویل:

له دې خوا څه طالبان در اوړي، کېدای شي مشر هغوی ته اجازه ورکړي چې په دې کې به تاسې هم دې خوا ته را واوړئ، خو زیاتو کسانو ته اجازه نه شو ورکولای.

د سهار له سپېدو سره له هغې خوا د مجاهدینو یو لوی کتار را ورسېد، د سیم خاردار د دروازې قلف یې خلاص شو. مجاهدین چې را اوښتل له هغوی سره مو وپېژندل، اکثره خوست ته روان وو. د سیم جوړښت داسې و چې د دوې موازي لیکو په منځ کې نور سیم خاردار غورځول شوی و، دروازې مخامخ په دواړو لیکو اینښودل شوې وې، د تنګي له وجهې یو یو مجاهد وربانـدې راوت، دا چې شمېر یې تر سلو هم اوښت، ناوخته شو بېخي رڼا شوه. د پوستې مشر نارې وهلې:

ژر ژر کوئ خدای مو غرق کړه، پاس ډرون ګرځي، امریکا مو راباندې خبره کړه!

ما بندیوان ته کړه:

سړی غوسه شو، دروازه بندوي، هله چې ور اوړو!

موږ حرکت ور وکړ، مجاهدینو ته مو وویل تاسې خو ډېر یاست، یوه لاره به ورسره یوسئ، موږ دوه کسه یو، لاره راکړئ.

بالاخره د تېل پر طرف واوښتلو، په هغو ډاټسنانو کې مو ځان تېل ته ورساوه.

د پېښور په موټر کې کېناستو، وېرېدم چې عسکر مې و نه نیسي، خو په همدې کې پېښور ته سلامت ورسېدو.

Download more from Libtoon.com

## له امریکایي اشغاله د افغانستان ازادي

یو څو شپې په پېښور کې په خپل کور کې پاتې شوم، دا د خوندونو شپې وې، ځکه له کلونو کلونو ستړي مزل وروسته مې منزل ته د ور رسېدو ستړي قدمونه شمارل. له افغانستانه د امریکایي عسکرو قدمونه بهر کېدل او زموږ د زړه درزا هره شېبه زیاتېده.

لومړی زېری د نیمروز د ولایت و چې پر موږ وشو، نیمروز د مجاهدینو لاس ته ولوېد.

زه په پېښور کې د الحرم په ټاوون کې په خپل کور کې مسلسل څو شپې ټویټر ته ناست وم او د افغانستان حالات مې څارل، په دې ورځو کې مې د فتوحاتو د ګرمو زېرو له امله په یوه ورځ دوه سوه ټویټونه وکړل او هر ټویټ د نوي زېري و.

ولایتونه وار په وار د حکومت له لاسه وتل او فتح کېدل. یو فکر را پیدا شو، موبایل ته مې لاس کړ، یو وخت مې په ارګون کې د امریکایانو د خاصې قطعې له قوماندان وزیر شاهین سره رابطه کړې وه، ورته ویلي مې وو چې موږ ته وسله پر ځمکه کېږده، که نه یې منې ارګون په زور درځخه نیسو، خو دی ډاډه و، ویل یې چې دا ارمان به دې پوره نه شي، امریکایان له تاسي

Download more from Libtoon.com

سره په مذاکراتو کې چل کوي، تاسې د امریکا سیاست ته نه شئ رسېدلای، هیڅکله به اورګون درته تسلیم نه کړم.

د زېړوک د فتحې په ورځ هم ما شاهین ته له یوې لارې احوال ور ولېږه چې اکمالاتي قوه مه را لېږه، هسې هم ارګون ته در روان یو، امریکایان په وتلو دي، موږ و تاسې باید نور سره و نه وژنو، خو شاهین په غړیز پیغام کې بشکنځلې را لېږلې وې، دا یې هم ویلي یې وو چې په وجود کې مې یو څاڅکی وینه وي، تاسې به ژوندي پرېنږدم.

اوس مې شاهین ته زنګ وواهه، شاهین ډېر ژر تلیفون پورته کړ، له سلامه وروسته مې ورته وویل:

تا زما نه منله، څنګه شوې؟

شاهین وویل:

هو والله وخت بدلېږي!

ما ور غبرګه کړه:

اوس هم وخت لرې، زه خو وایم چې تسلیم شه، ملګري در رسېدلي تول به ووژل شئ!

-زه خو تسلیمېږم، خو زما د امن اطمینان که راکړل شي!

-زه به خبره جوړه کړم او هر رنګه د امن تضمین چې غواړې در به یې کړو.

شاهین راسره ومنله.

حافظ بلال په ګیان کې و، عاجل مې تلیفون ورته وکړ، ورته و مې ویل چې له شاهین وزیر سره مې خبرې شوې، هغه تسلیمۍ ته تیار دی، که ژر اورګون ته لاړ شي چې اورګون درته تسلیم کړي.

حافظ بلال چې ګیان ولسوالۍ ته یوې فاتحې ته تللی و، سمدستي یې

Download more from Libtoon.com

راسره ومنله.

تر ماښامه منتظر وم، شاهین به ژر ژر تلیفون راته کاوه، ساه یې ډوبه ډوبه کېدله، داسې ښکارېده چې ډېر وارخطا و.

کله به مو هسې ورته وویل چې مجاهدین در نږدې شوي، جنګ شروع کوي، خو زه په خبرو ورسره لګیا یم.

کله به مې ورته وویل چې تاسې پلانی او پلانی پوسته خالي کړئ چې هلته زموږ ملګري خبره نه مني، ورځي. حال دا چې هیڅ مجاهد اورګون ته نه و رسېدلی، خو شاهین وزیر هسې خدایي ډار اخیستی و، د دې پر ځای چې سیمه وګوري چې رښتیا هم څوک راغلي که نه، په پټو سترګو یې هر څه راسره منل.

د بلال زنګ راغی او اورګون ته د رسېدو ډاډ یې راکړ. ما هم شاهین او بلال مستقیماً سره په تماس کې کړل او په سبا یې بلال ته ارګون تسلیم کړ. شاهین وزیر په الوتکه کې کابل ته تللی و او ملګري یې په بېس کې پرېښي وو چې وروسته د اسلامي امارت د ځایي مسوولانو په مشوره ټول عسکر کابل ته په امن ولېږدول شول.

Download more from Libtoon.com

## د غرمې ډوډۍ له منظور پښتين سره

د ولايتونو سقوط ګړندی روان و، داسې هم نه وه چې جنګ دې پرې زيات شوی وي، ټولو ته د شاهين وزير په خبر په زړونو کې وېره ور لوېدلې وه. د ۲۰۲۱ د اګسټ په اوومه او اتمه جوزجان او سرپل د جمهوريت له لاسه ووتل. له دې وروسته طالبان کندوز، تخار، بدخشان او سمنګان ته ننوتل. دغه فتحې داسې وې لکه په غنمو کې لګېدلې اور چې وار په وار پسې تېزېږي. د اسد په ۲۱مه چې د اګسټ ۱۲مه وه، غزني او هرات زموږ لاس ته ولوېدل. تر دې يوه ورځ وروسته کندهار، هلمند او غور هم ونيول شول. په دې ډېری ولايتونو کې زموږ له ملګرو سره مقاومت هم و نه شو. رسنۍ هم غلبلو اخيستې وې او څوک چې په نظامي قرارګاوو کې ناست و، مکمله يې د دفاع روحيه بايللې وه.

د اسد په ۲۳مه بلخ، فارياب، لغمان، پکتيا، پکتيکا او کونړ هم موږ ونيول.

په دې لړ کې موږ دا هم اورېدل چې ځينې پخواني جنګ سالاران له طالبانو سره د جګړې ليکو ته ځي يا تللي دي. له دې جملې عبدالرشيد دوستم او عطا محمد نور د افغانستان په شمال کې را پورته شول، خو ډېر ژر اوازه راغله چې ازبکستان ته تښتېدلي دي. اسماعيل خان په هرات کې د جګړې ناره

Download more from Libtoon.com

پورتـه کـړې وه چـې تـر څـو ورځـو خـال خـال ډزو وروسـته زمـوږ ملګـرو ونیـو.
د فتحـو تسلسـل پـه ۹ ورځـو کـې د ۲۸ ولایتونـو پـه نیـول کېـدو و نـه درېـد، زمـوږ
موبایلونـو تـه د ملګـرو درګـرده میسـجونه او زنګونـه را روان وو، ټـول دومره خوشـاله
وو چې مـوږ دغسـې خوشـالي هیڅکلـه نـه وه تصـور کـړې.
کله چې خوسـت د فتحې پـر درشـل ودرېـده، کـور تـه مـې تلېفـون وکـړ، ټولـې
کورنـۍ مـو لـه خوښـۍ ژړل، زمـا د ورتلـو خواسـتونه یـې کـول، مـا هـم پـر ځـان
ګوتـې ووهلـې او پرېکـړه مې وکـړه چې عاجـل بـه ځـان خوسـت تـه رسـوم چـې
د ورکـې کورنـۍ دیـدن وکـړم.
مازدیګـر و چـې ګیلهمـن وزیـر تلیفـون راتـه وکـړ، تـر سـلام وروسـته یـې اولـه
پوښـتنه دا وه:
چېرته یې؟
ګیلهمن چې اصلي نـوم یـې محمـد نعیـم و، پـه پښـتونخوا کـې د پښـتون ژغورنـې
غورځنـګ یـا PTM مخکښـ غـړی او اصـلاً د شـمالي وزیرسـتان د رزمـک د
سیمې اوسـېدونکی و، پـه پیـل کـې زمـوږ مجاهـد و چـې زمـوږ د ډلګـۍ لـه یـوه
قومانـدان احسـان سـره یـې د پکتیـکا پـه سـروبي ولسـوالي کـې عمـلاً تشـکیلونه
کـړي او پـه جنـګ کـې برخـه اخیسـتې وه.
ما ورته وویل:
په کور کې یم!
ګیلهمن وویل:
صمد لالا هم راسره دی، نن غواړو چې نږدې درشو او لږ ګپ ولګوو.
حاجي صمد هم د دغه غورځنګ مخکښ غړی و.
ماښام ګیلهمن، صمد او یو بل ملګری ورسره راغلل.

Download more from Libtoon.com

ما په خبرو خبرو کې ګیله‌من ته وویل:
تاسې خو نه منله، سبا و بله ورځ دا دی زه هم کور ته روان یم!
ګیله‌من سر ځوړند کړ:
هو والله اوس مې ومنله.
ما خبره پسې وغځوله:
ګوره سم مجاهد وې، څو ځله مې تا او منظور پښتین ته وویل چې زموږ له مخالفته لاس واخلئ، یو ورځ به راځي موږ به د افغانستان حاکمان یو. که تاسې په دې سخت وخت کې زموږ مخالف پاتې شئ، دا داغ به زموږ د ملګرو په زړونو د تل په مخه پاتې وي او ګیله مو ځکه له تاسې زیاته کېږي چې د وزیرستان پښتانه یاست، یعنې زموږ د وجود غړي یاست، د پنجابي په دښمنۍ کې موږ مه سوځئ، خو تاسې نه منله.
ګیله‌من وزیر شاعر هم و او ډېر ټوکي هم، زما خبرې یې بدلې کړې، و یې ویل:
زه چې کله په بحرین کې وم، پاکستان ته مې راتلل نه غوښتل، د اشرف غني د حکومت له غټو چارواکو سره مې رابطه وکړه چې ما ته تذکره او پاسپورټ جوړ کړي، هغوی راته جوړ نه کړل، اوس چې تاسې موږ خپل ګڼئ تاسې یې راته جوړ کړئ.
ما ورته وخندل:
کاشکې تاسې او منظور دوی لکه څنګه چې مو د اشرف غني ملاتړ وکړ، داسې زموږ ملاتړ وکړئ، پاسپورټونه او تذکرې څه چې شاید سرونه هم درباندې ځار کړو، موږ داسې لېونی قوم یو. تاسې ته ما بار بار په مجالسو کې وویل چې د اشرف غني په وعدو مه غولېږئ، موږ هم ستاسې په څېر مظلومان یو، پر کور مو یرغل شوی او موږ یې پر ورانډې را پاڅېدلي یو،

Download more from Libtoon.com

خو تاسې نه منله.

کله چې د پښتون ژغورنې غورځنګ جوړ شو، ډېرو پښتنو پکې خپل غږ واورېده او د ملاتړ لپاره یې ور ودانګل، موږ هم ځینو ملګرو په شخصي توګه هغه وکړه چې د دوی له رهبرۍ سره کښېنو چې خدای مه کړه څوک یې زموږ په خلاف استعمال نه کړي.

له پښتون ژغورنې غورځنګ سره یوازې پښتنو نه، بلکې زموږ مجاهدینو هم زیاته مینه لرله، په پېښور کې چې منظور پښتین جلسه وکړه، موږ هم پټ ورغلي وو. هلته ما تر څلوېښتو کسانو زیات هغه مجاهدین ولیدل چې پټ ورته راغلي وو، دا خو یوازې هغه وو چې ما پېژندل، خو د پېښور په جلسه کې یې چې «ښه او بد طالب» یاد کړل، بیا یې د دغو توضیح او فرق هم و نه کړ او په خلاف یې پخپله منظور پښتین چیغه ووهله، ما ولیدل چې هغه مجاهدین مایوسه شول، په سبا ما کوښښ وکړ چې له منظور پښتین سره کښېنم او ورته ووایم چې داسې مه کوه او د داسې خلکو خبرې مه منه چې پر اسلام باور نه لري.

د منظور نږدې ملګري ادریس ته مې میسج وکړ او ورته و مې ویل چې زه یو ځل درځم، غرمه یې زنګ راته وواهه چې تاجاباد ته راشه او هلته یې د یوې حجرې ادرس راکړ، دوی په ډوډۍ ناست وو، زه هم کښېناستم او ګډه ډوډۍ مو وخوړله.

له منظور سره مخکې هم ما ملاقاتونه شوي وو، دا چې موږ په وزیرستان کې وخت زیات تېر کړی و، له هغې وجې زموږ رابطه سره برحاله وه.

له ډوډۍ وروسته زه او منظور یوه بېل اطاق ته لاړو، څنګه چې ننوتم هغه ته مې وویل:

Download more from Libtoon.com

پرون دې سخت بد وکړل چې زموږ په خلاف دې شعار ورکړ!
منظور وويل:
ما خو هيڅ د تاسي په اړه غلطه خبره نه ده کړې، ما ورته وويل چې له ګوډ او بد طالبانو څخه ستا هدف څه دی؟
منظور ډيپلوماسي وکړه، زياته يې کړه:
ـله ګوډ «ښه» طالبان څخه هغه د امن کمېټې والا مراد دي چې د پاکستان له حکومت سره په قبايلي سيمو کې کار کوي او بد «بد» طالبان د تحريک طالبان پاکستان ګوند يادوم.
ما ورته وويل:
دا خو ډېره ښه شوه؛ نو دا وضاحت په يو بيان کې ورکړه چې زموږ ملګري او دنيا پوه شي چې د منظور هدف څوک دي؟
منظور وويل:
همدا نن به دا کار وکړم او پر خپله فسبوک‌پاڼه به وضاحت ورکړم.
خو منظور دا وضاحت ور نه کړ.
همدلته ما د محسن داوړ په اړه هم خبرې ورسره وکړې، داوړ هغه وخت د دوی د غورځنګ دويم مشر يادېده، ما وويل:
دا سړی دې زموږ دښمن کوي، نور دې پر سپين ميدان پرېږدي، پښتنو يو داسې مشر ته ضرورت درلود چې پر هغه ملايان او اميان ټول راټول شي، خو محسن تا د ملا پر خلاف د ابم پي پارټي په څېر دروي، داسې مه کوه. که په دې کې کاميابي وای بيا به ايم پي پارټي کامیابه وای يا چې د همدې هدف لپاره موجوده ده، تا ته څه ضرورت و؟
منظور په خواشيني غږ وويل:

Download more from Libtoon.com

محسن دردېدلی دی، هغه ته د شک په سترګه مه ګوره، خو نظر به یې ورو ورو سم کړم.

منظور په مخامخ مجلسونو کې د اشرف غني د حکومت په شمول د امریکایي اشغال هم کلک مخالف و.

یوه ورځ اشرف غني د خپلو انتخاباتو په وخت کې د منظور په ملاتړ ټویټ وکړ، پاکستان ته یې وویل چې د قبایلو غږ باید واوري او ظلم دې پرې نه کوي، منظور یې په خلاف ټویټ کاوه او لیکل یې چې خلک دې زموږ پر سرونو سیاست نه کوي او زموږ له ملاتړه دې په خپلو انتخاباتي کمپاینونو کې ګټه نه اخلي، خو بیا منظور له دې کاره خپلو ملګرو منع کړ.

له منظور پښتین سره وخت ناوخت ما ناستې کړې وې، له دې مجلسونو زموږ مشران خبر وو. د دوی په هدایت به ورسره مخ ته تلم او کوښښ مې کاوه چې څوک یې زموږ پر خلاف استعمال نه کړي. منظور پښتین داسې نه و چې په مخامخ مجلس کې به یې توافق درسره وکړ او بیا دې پر خپله خبره ولاړ وي، چې ترې لاړې به ستا خبره به یې له یاده غورځولې وه.

یوه ورځ یې د ډاکټر نجیب د تلین له هغه سره د همدردۍ ټویټ وکړ، له ما هېر دي چې په تلیفون کې مې ورته وویل او که مخامخ، چې دا کار دې سم و نه کړ، خو ده وویل چې زه یې د ظلم طرفدار نه یم، فقط یې د پښتونوالې له اړخه ملګری یم او ټویټ مې کړی.

ما ورته وویل چې بیا خو ملا عمر هم پښتون و، د هغه تلین به ونمانځې؟

منظور په ډېر جرات وویل چې څنګه به یې نه نمانځم، ته ما خبر کړه چې په هغه ورځ لایف راشم.

خو کله چې د لوی ملا صاحب ملا محمد عمر مجاهد د تلین ورځ راغله،

Download more from Libtoon.com

منظور تلیفون نه ځواباوه.

بیا چې کله د محسن داوړ یو څه جنجال ورسره راغی، زه له منظور سره په پېښور کې د رنګ روډ پر سر د موټرو د پرېمنځلو په سروېس کې چې د یوه وزیرستاني و، کېناستم او منظور ته مې وویل چې زما خبرې دې نه منلې، څنګه شوې؟ اوس هم وخت شته لږ ځان وپېژنه.

منظور مایوسه و او راته ویې ویل چې یوازې تا نه، ډېرو خلکو راته ویل، خو محسن اوس خپل ځان ښکاره کړ.

ما ورته وویل:

محسن څه وایي؟

ـ محسن وایي چې خپل ګوند د پاکستان په حکومت کې رسمي کوو او بیا به فعالیت پیل کړو.

منظور غلی شو، ساه یې واخیسته، بیا یې وویل:

ما ورته وویل چې دا خبره خو کال مخکې ای ایس ای ما ته وکړه او تا ته د ای ایس ای کوم کرنېل کړې وه، خو تا «محسن داوړ» نه منله، پرېکړه مو وکړه چې د دوی غوښتنې نه منو، نن محسنه ته د ای ایس ای کرنېل شوی یې که څنګه داخبره کوې؟

منظور پسې زیاته کړه:

محسن ته مې وویل چې که دا خبره ومنو د بره افغان په حق کې هم ظلم دی چې دوی ته موږ د لوی افغانستان وعدې ورکوو، ایا دا به بره افغانانو ته منافقان ښکاره نه شو؟

ما وپوښتل:

نو د محسن دلیل څه و، ځواب یې څه و؟

Download more from Libtoon.com

منظور ما ته وکتل، شونډې یې وخوځېدې:

د محسن خواب دا و چې بېره افغانان خره دي! د غازي امان الله خان یوه کلیزه ور مبارک کړه، بیا به تر شا درپسې روان وي.

ما ورته وخندل:

ګوره منظور صاحب محسن داوړ له تا سره هغه کار وکړ لکه څه ډول چې یې له موږ سره ځینې جاسوسان د ملګرتیا په جامو کې کوي.

منظور په حیرانۍ را وکتل:

هغه څنګه؟

ـ موږ دا هر څه تجربه کړي، موږ چې ځینې وخت له دښمن سره د جنګ پلان ونیسو، ځینې کسان چې اصلاً زموږ د دښمن ماموران وي، خو عملاً زموږ تر څنګ ولاړ وي، هغوی بیا په خپل جنګ کې د مایوسی او یا هم د مسیر د بدلولو اوازې واچوي او د مجاهدینو مورال ضعیف کړي، د دوی هدف همدا وي چې د مجاهدینو مورال ټیټ کړي او له جنګه یې زړه مات کړي، په دې توګه خپل هدف ته ورسېږي. اوس چې محسن داوړ ستا تر څنګ شهرت او نوم پیدا کړ، غواړي چې ستا ګوند دوې ټوټې او پښتون ژغورنې غورځنګ ضعیف کړي او دې هدف ته محسن نور رسېدونکی دی، هغه و چې یو بیا محسن لاره ترې جلا کړه او بېل ګوند یې اعلان کړ.

Download more from Libtoon.com

## افغانستان ته زما تګ

د ۱۴۰۰ کال د اسد د میاشتې ۲۳مه ماښام ناوخته و، ما خپل موبایل هره لحظه کوت چې اوس کوم ولایت فتح کېږي. له کور او ملګرو سره هم په اړیکه کې وم او د معلوماتو تبادله شېبه په شېبه کېده. په زړه کې ما هم کور ته د تګ تیاری نیو، خو لا معلومه نه وه چې د اشرف غني په مشر به له ارګه څه خبره راوځي. دا چې اوس زه د رسنیو په سرلیکونو او کارونه کې ډېر ننوتی وم، هر څه مې له رسنیزې سطحې هم ارزول او څارل.

له ما سره د منبع الجهاد سټوډیو مشر عبدالله ریحان حال ونیو چې په اړیکه کې به یو، ممکن افغانستان ته په لېږل کېدونکي رسنیز ګروپ کې بیا ته هم یې. د خلیفه صاحب نظر دا دی چې د حالاتو تصویر خلکو ته وړاندې کړو.

د شپې ناوخته د جلال اباد له نیول کېدو خبر شوم. دغه شي زموږ روحیه نوره هم لوړه کړه. د سفر ټول وسایل چې کیمرې او مایکونه هم پکې وو، تیار شول او د تورخم په لور مې حرکت وکړ.

کور مې په پېښور کې پرېښود، ځکه ما غوښتل چې اوضاع سمه راته معلومه شي بیا به یې په اړه تصمیم نیسم. د تورخم دروازه تړل شوې وه، پوځیانو له ډېر ټېنګار سره سره اجازه را نه کړه، سره له دې چې موږ ورته ویل چې افغان خبریالان یو.

Download more from Libtoon.com

لـه اجـازې چـې مـو شـک وخـوت، لـه تورخـم دروازې سـره نـږدې پـر یـوه غـره مـو د اوښـتلو تـکل وکـړ، هلتـه مـو ولیـدل چـې سـلګونه نـور مجاهدیـن هـم اوړي. تـر اغـزن سـیم چـې واوښـتلو، ننګرهـار تـه مـو پیـاده مـزل شـروع کـړ.

لـه یـوه کلیـوال موټـر سـره مـو ځانونـه ښـار تـه را ورسـول. د اګسـت ۱۵مـه وه چـې لـه کابلـه د اشـرف غنـي د تېښـتې خبـر مـې واورېـد.

پنځـه سـاعته وروسـته مازدیګـر خپـل کلـي تـه ورسـېدم، زمـوږ د ملګـرو او بدرګـې د کلیوالـو ټـول موټـر زمـوږ د کـور تـر مـخ ودرېـدل، د مېلمسـتون خلاصـه دروازه مـې ولیـده، ور ننوتلـم، پکـې ناسـت کلیوال ټول ولاړ شـول، خـو چـوپ وو. زه چورتمن شـوم چـې دا ولـې داسـې غلـي دي؟ خو چـې د کور کوڅې تـه مې پام شـو، هلته مې مورکـۍ پـه داسـې حـال کـې ولاړه وه چـې پـه مـلا کړوپـه وه، اوښـکې یـې پـر مخ د بـاران پـه څېـر بهېدلـې، لاسـونه یـې رپېـدل او د لاسـونو موټـي یـې له خـوږو ډک وو چـې د پښـتنو د دود لـه مخـې یـې زمـا پـر سـر وشـیندي او صدقه یـې کړي.

د مـخ رنـګ یـې تـک سـور و، مـا هـم هیـڅ د شـرم احسـاس و نه کـړ، ور منـډه مې کـړه، ټینګـه غـاړه مـې تـرې راتـاو کـړه. د مهربانـۍ پـه سـمندر کـې لـه ډوبېـدو سـره سـم مـې پـر مـخ د ګرمـو اوښـکو ردونـه را مـات شـول.

پای

Download more from Libtoon.com

# خالد ځدران

# د عکسونو البوم

Download more from Libtoon.com



له شهید حضرت فاروق دیوانه سره په وانه کې، د دوی په کور کې. ۲۰۱۴م کال.



۲۰۱۷ کال دی، په چهارباران ولسوالي کې له شهید فدایي حبیب الله سره یو ګډ انځور.

Download more from Libtoon.com



دا د حافظ بلال فاتح د فدایانو ټولی ده.



۲۰۱٦ کال دی ، د پکتیکا د چهارباران ولسوالی سیمه ده او دا ټانګ زموږ ملګرو له ملي اردو څخه نیولی و.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۳م کال پـر شـمالي وزیرسـتان د ضـرب عضـب عملیاتو لومړۍ میاشـتې دي چې مـوږ د جنوبـي وزیرسـتان رزمـک سـیمې څخه د پکتیـکا په طرف په دغـو غرونو کې پیاده راغلـو. پـه عکس کې راسـره قومانـدان هدایت خان شـاهین دی.



۲۰۱۳م کال پـر وزیرسـتان د ضـرب عضـب د عملیاتـو لومړی کال و، زه بیـا پکتیـکا زیـړوک ولسـوالی تـه راغلـی وم. تر څنـګ ولاړ کس مې شـوقي خـان «مرحبا» دی.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۴ کال دی. د جنوبي وزیرستان زارمیلنې په مرکز کې مو عکس اخیستی، چې
خوا ته راسره ولاړ کس قوماندان عادل او دا نور دوه یې ملګري دي.



۲۰۱۵ کال دی، د پکتیکا پر ومنه ولسوالی د تعرضي برید څخه یوه ورځ مخکې د
همدې ولایت د قطعې مسوول حاجي حماس راته وینا کوله.

Download more from Libtoon.com



عکس د پکتیکا زیړوک ولسوالۍ د دیرکې په سیمه کې زما د کور تر مخ مازدیګر مهال اخیستل شوی، ۲۰۱۵ کال دی.



دا عکس مو په ۲۰۱۴م کې د جنوبي وزیرستان په وانه بازار کې اخیستی. تر څنګ مې ولاړ پامیر او متقي شهیدان شوي. دوی دواړه یو ځای په پکتیکا کې د باغي ډلې پر خلاف د جنګ په یوه بمبار کې شهیدان شول.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۶ کال و، د پکتیکا پر ومنې ولسوالۍ د تعرضي عملیاتو شپه را روانه وه، مازدیگر موږ ولسوالۍ ته په ۲۰۰ مترۍ کې غټه سلاح ولګوله چې همدلته مو موټر هم ځای پر ځای کړل او د ماښام له اذان سره سم د غټې سلاح عملیات شروع شول.



۲۰۱۶ کال دی، په چهارباران کې یو. موټر ته زه ناست یم او راسره ملګري ټول فدایان دي. موټر مو د ډرون او یا هم د الوتکو د کشف له وېرې په خاورو ککړ کړی.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۵م کال دی. د پکتیکا ولایت، گومل ولسوالۍ مرکزي بازار کې مو د موټر تېل پوره کول.



پېښور سیټي ټاون کې زموږ کور او ۲۰۱۸م کال، چې په لومړي ځل مې د کتاب د لیکلو لپاره د یادښتونو کتابچه را واخیستله.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱٦ کال دی، په جنوبي وزیرستان، په وانه کې زموږ د ډلگۍ د وزیرستاني جنگي قوماندان حافظ محب الله تبسم مرکز دی. د روژې ماښام دی، په عکس کې راسره خپله تبسم او تر ځنگ مو قوماندان حضرت الله بندیوان، مجنون او نور ملگري د روژه ماتي دعاء کوو.



دا ۲۰۱۴ کال دی، په دې ورځ زموږ درې ملگري حکم خان «غمخوار»، انس او توکلي د پکتیکا په زیروک ولسوالی، منځکی سیمه کې د ډورن په برید کې شهیدان شوي وو او یو بل ملگری زخمي شوی و.
په دې وخت کې زه د شهید غمخوار سر ته ولاړ وم چې عکاس عکس اخیستی دی.

Download more from Libtoon.com



دا هم ۲۰۱۵ کال دی، د ومنې ولسوالۍ پر ودانۍ مو تعروضي برید ته پلان جوړاوه. له همدې غونډې وروسته چې مشري یې حافظ بلال کوله، ملګري تقسیم شول او یوه ورځ بعد تعروضي برید وشو.



دغه عکس په ۲۰۱۲م کال کې په زېړوك ولسوالۍ کې تر یوه چریکي برید مخکې اخیستل شوی دی.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۴ کال دی، په وانه کې یو او په عکس کې راسره حافظ بلال «فاتح»، حضرت الله «بندیوان»، شهید حزب الله او یو بل ملګری ولاړ دي.



۲۰۱۷ کال دی، چې سپینه سیمه د دښمن له شتونه پاکه شوې او دا د شمالي وزیرستان د ضرب عضب له عملیاتو وروسته لومړی ځل و چې موږ دا ډول شنه او لویه سیمه لیدله، د ازادۍ احساس مو کاوه او د خوښۍ وزرې مو رپولې.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۷ کال. د پکتیکا د زېړوک ولسوالۍ د دیرکې په نوم سیمه کې زما مرکز دی چې مشري یې زما وه او په دغه مرکز کې ټول د حافظ بلال فاتح مربوط فدایان اوسېدل. تر ځنګ دواړه ملګري چریکي فدایان او ژوندي دي.



پکتیکا ولایت چهارباران ولسوالۍ څخه د غره له خوا زموږ قاچاقي لار ده، چې سپینه ته تللې ده. ۲۰۱۵ کال دی. ښي ځنګ ته ولاړ کس شهید فدایي سعد دی چې په همدې کال کې یې په سروبي ولسوالۍ موټربم حمله وکړه او چپ لاس ته ولاړ کس ډلګۍ مشر خادم دی چې هماغه وخت کې به یې له سره د مرستیال دنده اجرا کوله.

Download more from Libtoon.com



دا ۲۰۱۴ کال د جنوبي وزیرستان په وانه کې د حافظ بلال فاتح د کور تر مخ ولاړ یو، زما تر څنګ ړیره خرېيلی څوان جهانګیر «کباډ» ورپسې ټيپوګل مروت چې زموږ د ډلګی جنګي قوماندان و او دریم کس زموږ ماما ګل سادین چې له زېړوک ولسوالۍ څخه مېلمه راغلی و.



دا تصویر په ۲۰۱۴م کې د ګیان ولسوالۍ د ولې واست پر کمپاین د تعرضي برید د پلان جوړولو پر مهال اخیستل شوی دی چې د هماغه وخت نظامي مسوول حافظ بلال فاتح موږ ته خبرې کولې.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۶ کال. پر تېره شوې شپه مو د گومل په ولسوالۍ تعرضي برید کړی و، په تعرض کې مو تر دېرشو پورې شهیدان لرل، همدومره زخمیان هم. زما چپ لاس ته ناست کس حیات الله غلچکی دی چې پر پوسته یې زموږ د تعرضي برید مشري کوله.



۲۰۱۳م کال. د پکتیکا اورگون ولسوالۍ د درې سیمه ده، چې په همدې مازدیگر مو په زېړوک ولسوالۍ کې پر یوه پوسته تعرضي برید ته تیاری روان و او بیا په همدې شپه وشو. حیات الله غلچکي د جنگ مشري کوله او زه په دغه جنگ کې د دفاع ټولي مشر وم.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۹ کال پــه کونــړ کــې د داعشــې خوارجــو پــه خــلاف جنــګ کــې وو چــې یــو ســهار مــې د چــای پــر مهــال یــادګاري عکــس اخیســتی. پــه عکــس کــې راســره مجاهدیــن ملګــري دي.



د جنوبي وزیرستان وانه سیمه ده او ۲۰۱۴ کال دی، دې وخت کې زما د نږدې ملګري شهید فاروق دیوانه د شهادت یو څو شپې وتلې وې او موږ ټیک همدغه وخت د پکتیکا د چهارباران ولسوالۍ تشکیل ته روان و، زموږ تر مخ د ملګرو موټر ولاړ دی. زه او حضرت الله بندیوان د ونې تر خوا سیوري ته ناست یو!

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۱ کال دی چې په لومړي وار ما او شهید فاروق دیوانه زیړوک ته تشکیل وکړ، په دې ساعت مو یو څو دقیقې تر مخ د زیړوک د کمپ پر پوسته تعرضي برید وکړ چې وروسته مو د دې پوستې سره جوخت لاندې کلي کې چای وڅښه. په تصویر کې ناست کسان شهید فاروق دیوانه، حاجي ظالف جان، حیات الله غلچکی، هدایت خان شاهین، شهید حکم خان غمخوار او یو بل د فرضي کرښې هغې غاړې ته بیتني ملګری دی.



دا په ۲۰۱۲م کال د پکتیکا په زیړوک ولسوالۍ کې د ملي اردو پر کمپ د یو لوی تعرضي برید ماښام دی. حافظ بلال فاتح چې د پکتیکا نظامي مسوول و، زه ورسره د همدې تعرض پر مهال د ملګرو رابط وم او د یوه لوړ غره څوکې ته ختلو چې د تعرض پر مهال ملګرو ته قومانده ورکړو.

Download more from Libtoon.com



۲۰۱۴ کال دی. دا ځای د پکتیکا گیان ولسوالي ده، د همدې ولسوالۍ په ولې واست کمپ باندې د تعرضي برید تیاری روان و. موږ په دې ځنګل کې سره را ټول وو چې وروسته د دښمن له ډرون څخه کشف شوو او یو موټر چې موږ ته د مجلس لپاره را روان و، وویشتل شو، پکې ۱۱ نفره شهیدان شول او موږ همدلته د ډورن له خوا محاصره او بیا په شپه کې ووتلو. دا عکس د ډورن تر حملې لږ شیبې وړاندې اخیستل شوی.



۲۰۱۹ کال دی، په کونړ کې د داعشیانو پر خلاف جنګ ته راغلي وو. تر ځنګ مې ناست کس د دې وخت د کونړ نظامي مسوول حافظ بلال فاتح، دویم زموږ جنګي وزیرستانی قوماندان حضرت الله بندیوان او د شهید استاد یاسر زوی حمزه یاسر او نور ملګري ناست دي.

Download more from Libtoon.com



... پر یو دنګ چنارقده ځوان مې سترګې ولګېدې چې د ملي اردو پتلون یې اغوستی، پړانګي رنګ نری بلوز یې پر تن او د اوږده کارمیلي توپک پر ماشه یې ګوته نیولې وه.

وخت حساس شو، مخ مې شا ته نه شوای اړولای چې ملګري چېرې دي او نه مې د راکټ مرمۍ پر ځمکه غورځولای شوای، ډارېدم چې له کړپ سره به مې ووېني، ګوته یې تیاره پر ماشه ایښې ده په یوه ثانیه کې مې بلې دنیا ته لېږلای شي.

ځای پر ځای ودرېدم، شا ته ملګرو ته مې په لاس کې د راکټ نیولې مرمۍ وښوروله چې یو څوک یې رانه واخلي او زما لاس دز کولو ته ور خلاص شي.

په دې وخت کې د مصطفی په نامه د دیرکې اوسېدونکی یو ملګری خوا ته راغی، فکر کوم لومړی جنګ یې و.

عسکر ته موږ نه ور ښکارېدو، ښی څنګ یې موږ ته و. لاندې د نورو ملګرو د پښو څرپا ته داسې ترهېدلی څیر و لکه پر مخ چې یې کورکمن پاشلي وو.

د مصطفی سترګې چې پر عسکر خښې شوې، سمدستي یې چپه ګونډه ورته ماته او چپه سترګه یې د توپک زخې ته پټه کړه، په یوه برش کې یې عسکر داسې وشاړه لکه باد چې یې یوسي...

Download more from Libtoon.com